NANGARHAR UNIVERSITY

ننګرهار پوهنتون

شرعیاتو پوهنځی

اسلامي ثقافت څانګه

# د اسلام اعتقادي نظام

(د لوړو زده کړو وزارت د نوي نصاب له مفرداتو سره سم
د عصري پوهنځیو لپاره درسي کتاب)



Ketabton.com

مؤلف

پوهنوال مولوي محمد شریف رحماني

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

سلام
Salam
خپرندویه ټولنه
۱۳۹۰

د کتاب ځانګړنې

کتاب نوم: داسلام اعتقادی نظام
مؤلف: پوهنوال مولوي محمد شریف رحماني
کمپوز الحافظ المهندس جمیل الرحمن
ډیزاین: رحماني
خپرندوی: مولوي رحماني
چاپ شمېر: سلام خپرندویه ټولنه - جلال آباد
چاپ وار ۵۰۰ ټوکه
چاپ کال: لومړی
۱۴۰۲ هـ . ش/ ۲۰۲۳م

دچاپ حقوق له مؤلف اوخپرندویه اداري سره خوندي دي

دفکري ملکیت دقوانینوپربنسټ دکتاب دچاپ نشراوتوزیع ټول حقوق دمؤلف اوخپرونکي اداري پروړاندی خوندي دی هېڅوک حق له دغه کتاب اودکتاب څنې برخې کاپي کړي اويايي په خپرولولاس پوري کړي

والسلام

د تر لاسه کولو ځای:اصلاح افکار کتاب پلورنځی
اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پوړ، لومړی دوکان، جلال آباد
اړیکشمېرې: ۰۷۹۰۲۰۶۲۶۱

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

ketabton.com: The Digital Library



# لړليک

سرليک ---------- ص
سريزه ---------- ۱

## لومړی څپرکی

## دثقافت مفهوم اوداسلام اعتقادي نظام

**لومړی بحث** ---------- ٤
**اسلامي ثقافت** ---------- ۴
لغوي پېژندنه ---------- ٤
اصطلاحي معنی ---------- ٤
داسلامي ثقافت پېژندنه ---------- ٥
داسلامي ثقافت اهميت ---------- ٥
داسلامي ثقافت مضامين ---------- ٥
سرچينې يې ---------- ۱
موخې يې ---------- ۱
دمضامينوتاريخي مخينه يې ---------- ۱
داسلامي ثقافت لرليد (VISION) ---------- ۱
داسلامي ثقافت خانگې رسالت ( MISSION ) ----------
روزنيزې موخې يې ----------
ترلاسه شوې پايلې ----------
خانگړتياوې يې ----------
داسلامي ثقافت پروړاندې پراته گواښونه ----------
دفکري يرغل اغېزې ----------
چېلنجونو اوگواښونو سره دمقابلې لار ----------

## دويم بحث

## داسلام اعتقادي نظام

دعقيدې لغوي پېژندنه ----------
دعقيدې اصطلاحي معنی ----------
اهميت يې ----------

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

داسلامي عقايدو ډولونه
دايمان اساسات ---- ۱۵
موضوع يې ---- ۱۵
غايه او مصلحت يې ---- ۱٦
رامنځته کېدل يې ---- ۱٦
دزده کړې حکم يې ---- ۱٦
مصادراو سرچيني يې ---- ۱۷
قران عظيم الشان داسلامي عقيدې داثبات ستر پيغام ---- ۱۷
دعقيدې په اثبات کې قراني تګلاره ---- ۱۷
ځانګړتياوې يې ---- ۱۷
موخې اواهداف يې ---- ۱۸
دغه علم ته دمسلمانانو پاملرنه ---- ۲۱
دزده کړې پړاونه يې ---- ۲۱
په عقيده کې دخلکو درجې ---- ۲۱
اسلامي عقيدې ته دبشرارتيا ---- ۲۲
دعقيدې دعلم نومونه او اصطلاحات ---- ۲۲
داهل سنت والجماعت پېژندنه ---- ۲۲
اصطلاحي پېژندنه يې ---- ۲۴
لقبونه يې ---- ۲۴
خصوصيات يې ---- ۲۴
اعتقادي بنسټونه يې ---- ۲۴

## دويم څپرکی

## نړۍ ليد اود اعتقادي نظام برخې

**لومړی بحث** ---- ۲٦
**نړۍ ليد** ---- ۲٦
معياري نړۍ ليد ---- ۲۷
دنړۍ ليد ډولونه ---- ۲۷
الف-سمي (اسلامي ) نړۍ ليد ---- ۲۷
داسلامي نړۍ ليد پېژند ---- ۲۸
موضوع يې ---- ۲۸
الله جل جلاله داسلامي نړۍ ليد په رڼاکې ---- ۲۸

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

...l Library



انسان دالهي نړۍ ليد په رڼا کې ---------------------------- ۲۹
دزده کړې حکم يې ---------------------------- ۲۹
سرچينې يې ---------------------------- ۳۰
اهداف او موخې يې ---------------------------- ۳۰
اهميت يې ---------------------------- ۳۱
فکري پولې يې ---------------------------- ۳۱
ځانګړتياوې يې ---------------------------- ۳۲
په بشري ژوند يې اغيزې ---------------------------- ۳۳
دنه اهميت ناوړه پايلې يې ---------------------------- ۳۵
ب: فاسد(جاهلي نړۍ ليد ) ---------------------------- ۳۶
۱-تجربوي ---------------------------- ۳۶
۲- فلسفي نړۍ ليد ---------------------------- ۳۶
الف ـ عقلاني نړۍ ليد ---------------------------- ۳۶
ب-حسي نړۍ ليد(ماتريالېزم ) ---------------------------- ۳۶
مشخصات ---------------------------- ۳۷
نيمګړتياوې يې ---------------------------- ۳۷
ج-شرک ---------------------------- ۳۷
مشخصات يې ---------------------------- ۳۷
د-رهبانيت ---------------------------- ۳۷
نيمګړتياوې يې ---------------------------- ۳۸
هه- تيوکراسي ---------------------------- ۳۸

## دويم بحث

## داسلام داعتقادي نظام برخې

دالله تعالی،انسان اوکايناتو پېژندنه ---------------------------- ۳۸
الله جل جلاله ---------------------------- ۳۸
د(اله) معنی ---------------------------- ۳۹
دالله تعالی پېژندنه ---------------------------- ۴۰
دالله تعالی دپېژندنې وسايل ---------------------------- ۴۰
لومړی- عقل ---------------------------- ۴۰
دويم -وحی (اسماء اوصفات) ---------------------------- ۴۰
انسان دالهي قدرت بله ستره نبه ---------------------------- ۴۱

د انسان مقام

د انسان د ژوند معنی ---------- ۴۱

د مذهبي برخې لید به رڼا کې انسان ---------- ۴۲

د انسان د انحادي برخې لید په تیاروکي ---------- ۴۳

په کېدونکې بېچ خانګړې ---------- ۴۳

د انسان اړتیاوې ---------- ۴۴

د انسان مسئولیتونه ---------- ۴۵

د انسان د تحلیق موخه ---------- ۴۵

دنیا دوسېلي په حیث ---------- ۴۶

دنیا دهدف په توګه ---------- ۴۶

دنیا دهدف په توګه د انتخاب پایلې ---------- ۴۶

د انسانانو دولونه ---------- ۴۶


## دریم څپرکی

## طبیعت ،کاینات اودایمان ارکان


**لومړی بحث** ---------- ۴۷

**دطبیعت حقیقت** ---------- ۴۷

دطبیعت اوانسان مقایسه ---------- ۴۷

طبیعت دانسان په خدمت کې ---------- ۴۷

درامنخته کېدو لاملونه یې ---------- ۴۸

نړۍ دانحادي تصورپه تیاروکې ---------- ۴۸

کاینات اونوی ساینس ---------- ۴۸

دسترانفجاردنظریې تاریخچه ---------- ۴۹

کاینات اوقران کریم ---------- ۴۹

دتصادف دنظریې درد دلایل ---------- ۵۰


## دویم بحث

## دایمان ارکان


دایمان پېژندنه ---------- ۵۳

لغوي معنی ---------- ۵۳

اصطلاحي پېژندنه یې ---------- ۵۳

په ایمان کې دخلکو یوپربل فضیلت ---------- ۵۳

داسلام لغوي معنی ---------- ۵۴

په شرعي اصطلاح کې ---------- ۵۴



PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

داسلام حقيقت ---------- ۵۴
دقانوني اوحقيقي اسلام ترمنځ توپير ---------- ۵۵
داسلام اصلي معيا ر ---------- ۵۵
دا يمان او اسلام فرق ---------- ۵۶
دايمان قوت اوکمزورتيا ---------- ۵۶
دايمان دقوت اسباب ---------- ۵۷
دايمان ضعف(کمزورتيا) ---------- ۵۸
دايمان دضعف اوکمزورتيا نښې ---------- ۵۸
دايمان دضعف اوکمزورتيا اسباب ---------- ۶۰
دايمان دضعف دعلاج لارې چارې ---------- ۶۰
دايمان غوښتنې ---------- ۶۱
دالله تعالی دوجوداثبات دلايل ---------- ۶۲
دالله تعالی دمعرفت پروړاندې پردې ---------- ۶۹

## څلورم څپرکی

## توحيد اودالله تعالی صفات

**لومړی بحث** ---------- ۷۰
**توحيد** ---------- ۷۰
دتوحيد معنی ---------- ۷۰
دتوحيدارکان ---------- ۷۰
دتوحيدموخه ---------- ۷۱
دتوحيدحکم ---------- ۷۱
دتوحيداهميت ---------- ۷۱
دتوحيدشرطونه ---------- ۷۱
دتوحيدډولونه ---------- ۷۱
۱-دربو بيت توحيد ---------- ۷۲
الف-دربو بيت په توحيد کې دشرک نښې ---------- ۷۲
۲-دالوهيت توحيد ---------- ۷۲
الف-دالوهيت دتوحيدغوښتنه ---------- ۷۳
ب-دعبادت ډولونه ---------- ۷۳
ج-دالوهيت په توحيد کې دشرک اثا راو نښې ---------- ۷۳
داسماؤ اوصفاتو توحيد ---------- ۷۳

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

لنډ مفهوم يې ---------- ۷۳
شرطونه يې ---------- ۷۴


## دويم بحث

## دالله تعالی صفات اودصفاتو ډولونه


لومړی - ثبوتي صفات : ---------- ۷۴
دويم سلبي صفات ---------- ۷۵
دتوحيد مراتب ---------- ۷۷
په بشري ژوندد توحيد دکلمې اغيزې ---------- ۷۷


## پنځم څپرکی

## دالله تعالی داسماؤ اوصفاتو په هکله داهل سنتو اونوروډلو باورونه اوپه ملايکو ايمان


**لومړی بحث** ---------- ۷۹
دالله تعالی داسماؤ اوصفاتو په هکله داهل سنتو اونوروگمراه ډلو باورونه ---------- ۷۹
دالله تعالی داسماؤاوصفاتوپه اړه داهل سنت تگلاره ---------- ۷۹


## دويم بحث

## دايمان داساساتو دويم رکن په ملايکو ايمان


ملا يکې داسلام په رڼا کې ---------- ۸۱
-په ملايکو دايمان مفهوم ---------- ۸۲
په ملا يکو دايمان دلا يل ---------- ۸۲
-دملايکو دپيدايښت ماده ---------- ۸۲
-دملا يکو حقيقت او صفات ---------- ۸۲
دملايکو خويونه ---------- ۸۳
دملايکو دندې ---------- ۸۳
په ملا يکو دايمان اغيزې ---------- ۸۴
پيريان او شيطانان ---------- ۸۴
دجن مفهوم ---------- ۸۴
دپېژندلولارې چارې يې ---------- ۸۴
ددوی دوجود دليل ---------- ۸۵
دپيري او ملکې ترمينځ فرق ---------- ۸۵
دپيريانو حقيقت اوصفات ---------- ۸۵
ابليس او شيطان ---------- ۸۶
دابليس او شيطان معنی



PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشیطان دتخلیق (پیدایښت) ماده ---------- ٨٦
دشیطانانو ډولونه ---------- ٨٧
دشیاطینو پروړاندې دانسانانو ډولونه ---------- ٨٧
دشیطانانو خانګړتیاوې ---------- ٨٧
دشیطان اهداف اومقا صد ---------- ٨٨


## شپږم څپرکی

## په اسماني کتابونو اوپیغمبرانوایمان


**لومړی بحث** ---------- ٨٩
**په اسماني کتابونوایمان** ---------- ٨٩
انسان دوه اړخیزموجود: ---------- ٨٩
قانون ته اړتیاولې؟ ---------- ٨٩
دقوانینو ډولونه ---------- ٩٠
دکتاب پېژندنه ---------- ٩٠
لغوي معنی ---------- ٩٠
اصطلاحي پېژندنه ---------- ٩٠
شرعي معنی ---------- ٩١
ډولونه يې ---------- ٩١
دارتیا حکمت یې ---------- ٩١
دایمان حکم یې ---------- ٩١
دایمان دلایل یې ---------- ٩٢
دنز ول موخه یې ---------- ٩٢
داسماني کتابو نو اتفاقي ټکي ---------- ٩٢
په اسماني کتابونو دایمان ګټې ---------- ٩٢
په قران کریم کې ذکر شوي اسماني کتابونه ---------- ٩٣
قران عظیم الشان ---------- ٩٤
دحقانیت اودعدم تحریف دلایل یې ---------- ٩٦
ایمان غو ښتني یې ---------- ٩٨


## دویم بحث

## دایمان دارکانو څلورم رکن په پیغمبرانوایمان


نبوت اورسالت ---------- ٩٩
رسالت لغوي معنی ---------- ٩٩


Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

...com: The Digital Library



نبوت لغوي معنی ---------- ۹۹
نبوت شرعي حيثيت ---------- ۹۹
نبوت خاصيتونه ---------- ۹۹
نبي اورسول فرق ---------- ۱۰۰
شريت ته دالهي لارښوونودرسېدواحتمالات ---------- ۱۰۰
په پيغمبرانو دايمان مطلب ---------- ۱۰۰
په پيغمبرانو دايمان راوړلو اهميت ---------- ۱۰۰
نبوت اهداف او مقاصد ---------- ۱۰۰
پيغمبرانو ته دبشرارتيا ---------- ۱۰۱
پيغمبرانوته دارتيا تکي ---------- ۱۰۱
دنبوت ضرورت داسلامي پوهانوله نظره ---------- ۱۰۱
پيغمبربشپړلارښود ---------- ۱۰۱
دنبوت ارکان ---------- ۱۰۲
دپيغمبرانوخصوصيات ---------- ۱۰۲
دپيغمبرانوصفات ---------- ۱۰۲
دپيغمبرانو مسئوليتونه ---------- ۱۰۳
دبلني ځانګړتياوې يې ---------- ۱۰۴
اولوالعزمه پيغمبران ---------- ۱۰۴
دپيغمبردپېژندلودلايل ---------- ۱۰۴
په قران کريم کې ذکرشوي پيغمبران ---------- ۱۰۵
دپيغمبرانو پرورانديې زموږ مسؤليتونه ---------- ۱۰۶
په پيغمبرانودايمان غوښتني ---------- ۱۰۶
معجزه اوکرامت ---------- ۱۰۷
لغوی پېژندنه ---------- ۱۰۷
اصطلاحي پېژندنه ---------- ۱۰۷
دمعجزې شرطونه ---------- ۱۰۷
دمعجزې هدف ---------- ۱۰۷
دمحمد صلی الله عليه وسلم ستره معجزه ---------- ۱۰۷
درسول الله مبارک اودنوروانبياؤدمعجزوترمنځ مقايسه ---------- ۱۰۷
دکرامت پېژندنه ---------- ۱۰۷
دکرامت هدف ---------- ۱۰۷


PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

دمعجزي اوكرامت فرق ---------------- ۱۰۸
دكرامت مثالونه ---------------- ۱۰۸

## محمدصلي الله عليه وسلم دنړۍ والو سردار

دنړۍ وال لارښود صفات ---------------- ۱۰۹
دده مبارک درسالت عقلي ثبوت ---------------- ۱۱۱
دنبوت د پاى دلايل ---------------- ۱۱۴
دنبوت څوخصو صيات يې ---------------- ۱۱۴
په امت باندې درسول الله حقونه ---------------- ۱۱۵
داصحابوکرامومقام اوپه اړه يې داهل سنت عقيده ---------------- ۱۱۵
مقام اومرتبه يې ---------------- ۱۱۶
دوى ته دښکنځلوکولواوبدوردوويلوحکم ---------------- ۱۱۶
ددوى په هکله داهل سنت والجماعت تګلاره ---------------- ۱۱۶

## اووم څپرکی

## په اخرت، قضاء اوقدر ايمان

**لومړی بحث** ---------------- ۱۱۷
**په اخرت ايمان** ---------------- ۱۱۸
داخرت دورځې پېژند نه ---------------- ۱۱۷
په اخرت دايمان مفهوم ---------------- ۱۱۸
په اخرت دايمان اهميت ---------------- ۱۱۸
داخرت دورځې نومو نه ---------------- ۱۱۸
دقيامت درامينځته کېدو دلايل ---------------- ۱۱۹
داخرت په هکله داسلام تصور ---------------- ۱۲۰
دماده پالوپه نظرياتوعلمي نيوكه ---------------- ۱۲۰
دقيامت ساينسي او عقلي ثبوت ---------------- ۱۲۱
په اخرت دايمان غوښتني ---------------- ۱۲۲
په اخرت دايمان اغيزې ---------------- ۱۲۴
دقيامت علامې ---------------- ۱۲۵
دقيامت دنښانو ډولونه ---------------- ۱۲۵
دقيامت کو چنۍ علامې ---------------- ۱۲۵
دقيامت لويې نښې ---------------- ۱۲۷
روح ---------------- ۱۲۸

دروح لغوي معنی ---------------- ۱۲۸

دنفس معنی ---------------- ۱۲۸

دروح اجمالي بېژندنه ---------------- ۱۲۸

روح دقرانکریم په رڼا کې ---------------- ۱۲۸

دانسانیت اساس په روح دی ---------------- ۱۲۹

ایاروح قدیم دی؟ ---------------- ۱۲۹

دروح پیدایښت ---------------- ۱۲۹

انساني اوحیواني روح ---------------- ۱۲۹

دمخلوقاتو دولونه ---------------- ۱۲۹

دروح مرتبه ---------------- ۱۳۰

دروح مړینه ---------------- ۱۳۰

دمرگ سبب ---------------- ۱۳۰

مرگ ناڅاپه راځي ---------------- ۱۳۰

ملک الموت اودارواحو اخیستل ---------------- ۱۳۱

له مرگه وروسته دانسان حالت ---------------- ۱۳۱

دروح حالت ---------------- ۱۳۱

دقبرسوال اوځواب ---------------- ۱۳۱

دقبرپه عذاب اوثواب لد کیفیته پرته ایمان ---------------- ۱۳۱

دقبردعذاب شمول ---------------- ۱۳۲

په روح اوبدن دقبرعذاب اوراحت ---------------- ۱۳۲

دقبردعذاب دمنکرینوشبهات ---------------- ۱۳۲

مړوته دژوندیو دگټې رسېدل ---------------- ۱۳۲

دقبردعذاب اسباب اونجات ---------------- ۱۳۳

دبرزخ نړۍ ---------------- ۱۳۳

دبرزخ مفهوم ---------------- ۱۳۳

دقبردعذاب دوام ---------------- ۱۳۳

دارواکانو ځایونه ---------------- ۱۳۴

دانسان دژوندپړاونه ---------------- ۱۳۴

دمرگ یاده لواغېزې ---------------- ۱۳۵

دقیامت نداروي ---------------- ۱۳۵

په تبلیغ کې بوکی ----------------

بعث ( له قبر ونو راپورته کېدل ) ---- ۱۳۵
قیامت ---- ۱۳۶
دعرش تر سیوري لاندې ---- ۱۴۷
حساب ---- ۱۳۷
تله ---- ۱۳۸
دعملنا موخپرېدل ---- ۱۳۹
دکوثرحوض ---- ۱۳۹
دصراط پول ---- ۱۴۰
جنت ---- ۱۴۱
دوزخ ---- ۱۴۲

## دويم بحث

## په قضااو قدر رايمان

قدر ---- ۱۴۳
لغوي معنايې ---- ۱۴۳
اصطلاحي معنى يې ---- ۱۴۴
دقدرمفهوم دالهي کلام په رڼا کې ---- ۱۴۴
دقدرمفهوم دنبوي احاديثو په رڼاکې ---- ۱۴۴
په تقدير دايمان راوړلو اهميت ---- ۱۴۴
په تقديردايمان معنى ---- ۱۴۴
دتقدير مراتب ---- ۱۴۴
قضاء ---- ۱۴۵
دقضاء لغوي معنى ---- ۱۴۵
اصطلاحي معنى ---- ۱۴۵
قضاء دقرانکريم په رڼاکې ---- ۱۴۵
دقضاءاوقدرترمينځ فرق ---- ۱۴۶
دقضاءډولونه ---- ۱۴۶
دالله تعالى اراده اوډولونه يې ---- ۱۴۸
دالله تعالى اراده اورضاءاودبنده اراده ---- ۱۴۸
دانسان خپلواکي ---- ۱۴۹
دانسان دارادي کړو وړو حيثيت ---- ۱۵۰
دانسان داختيارساحه ---- ۱۵۰

دانسان مسؤلیت ---------- ۱۵۱
دتقدیر په اړه دبېلابېلو ډلو افکار ---------- ۱۵۱
دالهي ارادې په هکله داهل سنت والجماعت اودمخالفینونظریات ---------- ۱۵۲
په قضاء اوقدردایمان غوښتنې ---------- ۱۵۲
دقضاءاوقدردعقیدې اغېزې ---------- ۱۵۲

## اتم څپرکی

## دایمان نو اقض ( له مینځه وړونکي )اهل قبله اواحکام یې

**لومړی بحث** ---------- ۱۵۳
**د نواقضو معنی** ---------- ۱۵۳
دایمان دنواقضو ډولونه ---------- ۱۵۳
۱-دایمان اعتقادي نواقض ---------- ۱۵۳
۲-دایمان قولي نواقض .......... ۱۵۵
۳-دایمان عملي نواقض ---------- ۱۵۶
زندیق ---------- ۱۵۶
لغوي معنی ---------- ۱۵۶
اصطلاحي معنی ---------- ۱۵۶
حکم یې ---------- ۱۵۶
دزندیق دتوبې قبولتیا ---------- ۱۵۷
تکفیر ---------- ۱۵۷
پېژندنه ---------- ۱۵۷
دتکفیرپه هکله دپخوانیوعلماؤویناوې ---------- ۱۵۷
دتکفیرډولونه ---------- ۱۵۷
دیوچادکافرگرخولو شرطونه ---------- ۱۵۸
دتکفیرموانع اوخنډونه ---------- ۱۵۸

## دویم بحث

## اهل قبله او احکام یې

دمسلکونواومذهبونوترمنځ فرق ---------- ۱۵۸
لویوګناهونودخښتنانوپه اړه داهل سنت والجماعت اونوروګمراه ډلوباورونه ---------- ۱۵۹
دتکفیر په قضیه کې داهل سنت تګلاره ---------- ۱۵۹

# لومړی څپرکی

## دثقافت مفهوم اوداسلام اعتقادي نظام

**پیلیزه**

هريوملت خانته معتقدات ،فکري ،ټولنيزاواقتصادي ارزښتونه لري او په خپل ثقافت اوکلتور وياړي .ولسونه خپل اوسنی حالت خپلې ماضي پورې تړي که داسې ونه شي نويوقوم به په نوروکلتورونوکې ورډوب نوم اونښان به يې پای ته ورسيږي اوس مهال چې نړی ديوکلي بڼه غوره کړې له نورو ولسونو سره مخامخ کېدواوسنی وخت دتمدني شخړوموج دی که لږغفلت صورت ونيسي په لږ وخت کې به ټول ملت الله دې نه کړي په نابودی محکوم شي موږ په بشپړايمان اوپياوړي شخصيت سره په دغه تمدني شخړه کې برياحاصلولی شو .

## لومړی بحث

### اسلامي ثقافت

په اوس وخت کې چې دشراوطغيان شيطاني لښکرو بشريت په تورتم کې راايسارکړی دی مسلمان ته لازمه ده چې دشردټولو سرکښه ځواکونو په وړاندې دهدايت ځلانده مشال په لاس کې واخلي خپل عقل اوفکرداسماني وحی په وسيله پاک اوسوتره وګرځوي دګمراهی ،انحراف ،هوی اوهوس له غلامی څخه بشريت ته نجات ورکړي .داسلام رسالت له بشري سپېڅلي فطرت سره اړخ لګوي په همدغې الهي نګلارې سره موږداوسني متجاوز، باغي اووحشي ناوړه تمدن سره مقابله کولای شو.

**لغوي پېژندنه**

په عربي ژبه کې دثقافت لفظ په ګڼومعنو راغلی چې ځينې يې معنوي اوځينې يې مادي دي ،په معنوي چاروکې دزېرکتيا ،ذکاوت ،هوښيارتيا ،ژرترژره دعلم د لاسته راوړلوپه معنی سره ده ،په حسي اومادي چاروکې دکاره دسمولو ،برابرولو ،غلبې اواصلاح په مفهوم سره هم راغلی دی.[1]

**اصطلاحي معنی**

Culture په فرانسوي ،الماني اوانګليسي ژبوکې کې دزراعت مفهوم افاده کوي ؛البته دټولنپوهنې دپوهانوپه تعريف کې لاندې شيانوته شاملېږي.

- فنون ،علوم ،معارف ،فلسفه اوعقايد

[1] ابن منظور ،محمدبن مکرم ،لسان العرب ،ج ۱ ،ص ۵۰ ،دار احياء التراث العربي ،بيروت لبنان

- دافرادوسلوک اوتصرفات اودټولنيزواړيکولارې چارې [1]

**داسلامي ثقافت پيژندنه**

اسلامي ثقافت داسلامي عقايدو ،افکارو ،احکامو ، قوانينو ، اساساتو ،علومو ،اختراعاتو ، ژبې ،تاريخ ،ارزښتونو ،وياړونواودمشترکواهدافوله مجموعې څخه عبارت دی . په لنډ ډول يې داسې هم تعريفولی شو :اسلامي ثقافت د قران کريم اونبوي سنتو په رڼاکې عملي چلند ته ويل کيږي [2]

**داسلامي ثقافت اهميت**

هرکله چې اسلامي ثقافت دالله جل جلاله په سترکتاب اودپيغمبرصلى الله عليه وسلم په نبوي سنتو ټينګ اوکلک چلند ته ويل کيږي ،نواهميت يې څرګندی داځکه چې په قران کريم اونبوي سنتوټينګ عمل خيني مهال په فرض اوځنې وخت په دمستحب بڼه غوره کوي چې بايد دعباداتو ، اخلاقواو معاملاتوسره اړيکه نيسي ـ لکه لمونځ ،روژه ،زکات ،حج له موراوپلارسره احسان اونيکي ،له خپلوې ميرمن سره سم چلند ،صله رحمي اودګاونډي دحقوقورعايت کول احسان ،صبرشجاعت ،سخاوت ،ترحم ،عاطفه ،کورنی نظام ،اقتصادي چارې اخيستل اوبيرودل ،پوراجاره ،شرکت اومضاربت ، شوری ،دملي اماناتوساتنه ،دعدل اوانصاف ټينګښت ، بين المللي اړيکې دجګړې اوسولې دقواعدواواصولومراعاتول اوداسې نور... درسول الله مبارک اودراشدينوخلفاؤدورې ته په کتني سره موږ ته څرګنديږي چې اسلامي شريعت له عقيدې ،عباداتو ،اخلاقو ،ټولنيزاواقتصادي نظام اوسياست څخه ترکيب موندلی و ،مګرپه راوروسته دوروکې دين يوازې شخصي ژوند اخلاقو اوعباداتوپورې منحصر پاتې شو دنيوي چارې اومعاملات له دين څخه جلاشوې نوامت دزوال کندې ته ريبووت کچيرې اسلامي امت دوباره خپل تيرپرم ته ستنيدل غواړي نولازه يې په اسلام بشپړ عمل کول دي .

**داسلامي ثقافت مضامين**

داسلام اعتقادي نظام ،تلاوت اوتجويد ،داسلام عبادتي نظام ،نبوي سيپخلي سيرت اواسلامي تاريخ ، داسلام اخلاقي نظام . داسلام ټولنيزنظام ،فکري پوهنه ،اديان اومذاهب ،داسلام سياسي اواداري نظم ،داسلام اقتصادي نظام ،قران عظيم الشان اومعاصرعلوم ،اسلامي تمدن دي

**سرچيني يې**

دوحی لومړی بيل په قراءت علم اوپوهې سره شوی دبشريت لومړي بلارادم عليه السلام ته الله تعالی علم ورکړی و قران عظيم الشان اسلامي ثقافت په درې بنسټونودروی ، توحيد ، رسالت اواخرت داچې الله تعالی ديولوکايناتوخالق ، مالک ، حاکم بادارراوساتندوی دی اودمحمد صلی الله عليه وسلم روسا نه

[1] [illegible] ١٩٩٠ [illegible]

[2] [illegible] ١٩٩٠ [illegible]

وخلاند ه شخصیت ترقیا مته پورې دټول بشریت لیاره رهبر، لارښود ماډل اودبېلګه په حیث دی .
داسلامي ثقافت دغه درې واړه بنسټونه ( توحید ، رسالت اواخرت ) فرداوټولنه دمادي ژوند له پستیو څخه
راوباسي دحقیقي خوشالي کمال ، اخوت ،
عدالت ، شرافت ، تعلق بالله اواطاعت رسول دکمال لوړوپوړیو ته بې رسوي په همدې توګه اسلامي
ثقافت دژوند ټولو برخو ته شامل دی لکه ټولنیزاوکورنی نظام ، اقتصاد ، سیاست جګړه سوله اونورې وال
مسایل اوداسې نور...[1]

## داسلامي ثقافت سرچیني

اسلامي ثقافت دوه ډوله سرچینې لري لومړی اصلي سرچینې دویم فرعي سرچینې

## لومړی- اصلي سرچینې

اسلامي ثقافت اصلي دوه سرچینې لري

**الف- قران عظیم الشــان** قرانکریم داســلامي ثقافت لومړی سرچینه ده چې الله تعالی یې له تحریف اوتبدیـل څخه دســاتنې ضــمانت کړی دی دټول بشرـیـت لیـاره بشـــرالهي پیغـام او قانون دی چې دټولوانســانانودنیااواخرت دکامیابی ضمانت کوي چې کوم خاص قوم ، نســل ، ســیمې ، هیواد ، وخت اوزمان پورې مربوط نه؛ بلکې ترنیامته دملتونو لارښود اودټول ژوند قانون دی چې ټولو تعصباتو ته دپای ټکی ږدي بشرـیـت دفکري وحدت په مزي تړي اویوه ســتره ټولنه جوړوي چې دنړۍ هیڅ یوه مفکوره اوتهذیب ورسره په دغه برخه کې سیالي نه شي کولی

**ب- نبوي ســنت** :دویمه اصــلي سرچینه یې نبوي ســنت دی چې ټولوقولي ،عملي اوتقریري احادیثوته شاملیږي رسـول الله صلی علیه وسلم دقران عظیم الشان مفسراومعلم ؤ څه دالله تعالی اسماني پیغام تطبیق کړی دی اوهغه دقران مجیدعملي ژوندی بېلګه شــخصــیت ؤدمؤمنانوله مورحضرـت عایشــې رضــی الله عنهاڅخه دهغه داخلاقویه هکله پوښــتنه شــوې ده هغې ورته په خواب کې ویلي ؤچې دهغه اخلاق قران عظیم الشــان ؤ نبوپردې اســاس د حرایه غارکې دوحی نزول بیادام المؤمنین ترحجرې پورې چې هلته دده مبارک ساه وتلې ده تقریبادنبوت دروېشت کاله ژوندسنت رسول تشکیلوي.

## دویم -فرعي سرچینې

داسلامي ثقافت فرعي سرچینې لاندې برخوته شاملیږي

**۱- اجماع**:داصــول فقهي دعلماؤپه اصــطلاح کې دپیغمبرصــلی الله علیه وســلم له وفاته وروســته داسلامي امت دمجتهدېنوعلماؤپه یوه شرعي حکم باندې اتفاق کولوته اجماع ویل کیږي .البته اجماع هلته صــورت نیسي چې په قرانکریم اونبوي سنتوکې صریح حکم شتون ونه لري.اجماع داسلامي فقهي له مصادروڅخه

۱- حسن ( ۱۹۸۰ م ) مبسوط العقائد، ص ۵ الاتحادالعالمي للمنظمات الطلابیة

يوه سرچينه اودشرعي احكامولپاره دليل اوشاهدګڼل كيږي په اوس وخت كې دنويوراپيښوشويوقضاياؤپه هكله دامت نامتوعلماءبه دې هكله سترول لوبولى شي .دنويووسايلوپه ايجادسره خودانلاين مجازي نامتوله لارې دغه كارډېراسانه شوى دى .[1]

**۲- قياس:**قياس :قياس په لغت كې موازنې ته وايي اوپه اصطلاح كې په حكم كې غيرمنصوص مسئله منصوصي مسئلې سره پيوست كولوته وايي ددواړوواقعاتودعلت داشتراک له امله دمشترک حكم جښت غوره كوي[2]

**اسلامي تاريخ** :تاريخ دملتونواساس اوپيل تشكيلوي كه نورملتونه تاريخ لري؛ نواسلامي امت هم دمجداوعظمتونودوياړتاريخ څخه برخمن دى زموږافتخاراودتاريخ پيل داسلام دځلانده لمرله ځركې پېليږي په همدې اساس نبوي سيرت داسلامي امت معلم اولارښوددى

داسلام دلومړي نسل تاريخ داسلام دتطبيق يوښه تصويردى چې دابوبكرصديق رضى الله عنه څخه ترحم اوعاطفه . دعمرفاروق رضى الله عنه څخه دعدالت دحضرت عثمان رضى الله عنه څخه دحياء دحضرت علي رضى الله عنه څخه دشجاعت اوميړانې دحضرت عمار رضى الله عنه څخه دثبات اواستقامت دصهيب بن سنان رومي رضى الله عنه څخه دقرباني دخالد رضى الله عنه څخه داتلولې دابوذرغفاري رضى الله عنه څخه دزهد.دحضرت حمزه رضى الله څخه عنه دميړانې درسونه زده كولى شو.

**۴-اسلامي ميراث** :داسلامي ميراث څخه مطلب اسلامي فقه . اصول فقه . صرف نحوه اوبلاغت .قراءاتو. تفسيراوداصول تفسيراوداصول حديث علم دى.

**۶- انساني كتورې پوهنې او تجربې**:په اموي دوركې دګټورويوهنوداساس ډيره كښېنودل شوه اوپه عباسي كې دوركې خپل اوج ته ورسيده دمامون بيت الحكمت يې سترة بېلګه ده چې هلاكواوجنګيزدجلې په سيندلاهوكړه په دغه دوركې دګټو ملتونودفنونواومادي علوموڅخه استفاده وشوه اوپه نوې بڼه دعلومواساسات كښېنودل شوه لكه دطب ، جغرافيې ، فلكياتو. حساب .الجبر .هندسې .كيميا، تاريخ رياضي . فزيک اوداسې نور.....

**۷-ژبه**:ژبه دملتونوترمنځ دتفاهم وسيله ده اوداسلامي ثقافت فرعي سرچينه تشكيلوي په همدې توګه دژبوتنوع اوبېلتون دالهي قدرت نښه ګڼلى كيږي قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ كې فرمايي ﴿ وَمِنْ ءَايَٰتِهِۦ خَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱخْتِلَٰفُ أَلْسِنَتِكُمْ وَأَلْوَٰنِكُمْ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ

[1] ...عبدالكريم (۱۲۹۲) ...اصول الفقه ۲۰۰ مخ مسلم ...
[2] همدغه ماخذ ۱۱۱ مخ

لِلْعَـٰلِمِينَ ﴿ الروم ژباړه: او دهغه جل جلاله دقدرت له نښانو څخه داسمانونو اوځمکي پيدايښت اوستاسي دژبواو ستاسي درنګونو بيلابيلوالى دى په باوري ډول په دې کې دپوهانو لپاره ډيرې نښانې دي داسلامي امت مشترکه ژبه عربي دقران کريم ژبه ده .دقران مجيد زيات الفاظ له انسان سره اړيکه نيسي ليکن دغه سترکتاب دبلاغت. فصاحت اوادب له حيثه يوه ستره معجزه ده دقرانکريم هر لفظ اغيزه ناک دى چې دکايناتو له اصلي حقيقت څخه يي پرده پورته کړې هره موضوع اوهرمضمون يي دژبې اوادب لوړمعياراوستراعجازدى چې هيڅوک ورته نه شي رسيدلى قران مجيد عربي ژبې ته همېشه ژوند وبخښه دنړۍ هيڅ يوه ژبه ورسره مقابله نه شي کولى دنړۍ په نوروژبوکي وخت پروخت بدلون راځي ديووخت ژبه دبل وخت سره بشپړتوپيرلري قران عظيم الشان عربي ژبې ته نړۍ وال حيثيت په برخه کړ ځمکي په ټوله کره کي مسلمان ولسونه دالله تعالى اسماني پيغام ښه اوورځ لولي اودحوماتونو له مناروڅخه يي دتوحيد .رسالت اواخرت انګازې پورته کيږي. دقران کريم له امله دډيروعجمو هېوادونودژبې دالفبا زياتره توري عربي وکرزيدل لکه .فارسي .پښتو .اردو. تاجکي .ازبکي ترکمني .ملايي اوداسې نور.. زياتره عجم هېوادونه په عربي ژبه بدل سول لکه عراق .مصر. سوريه .لبنان فلسطين .الجزائر .تونس .مراکش المغرب .سوډان .اونورافريقايي هېوادونه دوداخله دوی داصحابوکرامو سره دزياتي راشه درشي اوتعامل له امله عرب وګرزيدل .

**۸: شعراوادب**:دقران کريم له نزول نه دمخه دعرب قوم شعرپه زلفو . خط . خال .شونډو .رخسار اوعاشقي مشتمل ؤاوس دالله تعالى په ثنا اوصفت .درسول الله په نعت .اخلاقي ښکلا. حکاياتو .سلوک اومعرفت بدل شو. قران عظيم الشان دشرم. حياء اوپاک لسني تصورات وړاندې کړل له شکه پرته قران کريم نه شعراونه نثر بلکي جلا مقام لري الهي معجزکلام دی په خپل اسلوب بلاغت .فصاحت .محاورو. تشبيهاتو اواستعاروکي ساری نه لري.

**۹ -رسم اورواج**: قران عظيم الشان بخوابي رسمونه او رواجونه له منځه وړې ډول پوازې هغه عرف يي برخاى پرېښود چې داسلام له اصولو سره يي ټکرنه ؤاوله بشري فطرت سره يي سمون درلوددمثال په توګه په عرب قوم کي دغم پرمهال دوښتوښکول اودګريوان څيرول دخپل مخ اوښندي وهل اودغم لپاره دوېرکرونکو په کرايه نيول .دحج په موسم کي ځان برښډ ول .دسخينه ؤ په سيګار ژوندل اونور .. شامل ؤ

قران کريم بردغه ټولو دبطلان کرښه راوويستله اودپنه يي دتبرج جاهليت نوم کېښود همدارنګه دسادي سر . مهال دشان اوشوکت .دريا .اظهار.قومي تعصب .نه ژبه اورنګ فخر .تمسخر .ملنډ ي .سب .جعلي . عرباني .فحاشي .اوبې حيايي دغه ټول بې منکرات وبلل اوددې برځای يې معروفات په ګوته کړل

[illegible]

قران عظیم الشان دمسلمانانو لپاره دالله تعالی اوپیغمبر طریقه ترقیامته دایمي اوتلپاتې تګلاره وګرځوله او به همدې توګه یې زمور دتمدن اوتهذیب لپاره څلورخواوې وټاکلې

**۱۰-ټولنیزاوکورنی نظام**: قرانکریم دکورني . نظام لپاره دحلالې رشتې دحدودوپه ټاکلو . دمیره اومیرمن دحقوقو په مشخص کولو زورواچاوه، حرامې رشتې یې په ګوته کړې په جنسي برخه کې یې دډیریوسپیڅلي نظام دبنسټ دبره کیښوده دمسخرو . ملنډ و، عیب لټوني . بدګوماني . تهمتونو اوبد نامی دروازې یې دتل لپاره وتړلې کورني ژوند یې دهررنګه شکونو . شبهاتو اواختلافاتو څخه پاک کړ . کورونوته دننوتلو پرمهال بې اجازه غوښتل لازمي وګرځول دافرادودتشخص لپاره یې قبیله ضروري اوتقوی یې ورته دبهترۍ معیار وټاکله په انساني حقوقو اومسؤلیتونوکې یې ټول خلک یوشان وبلل .

داروپا طبقاتي دغلامی نظام یې رنګ کړاودانساني حقوقود مساوات اعلان یې وکړ، البته په اسلامي فقه کې چې دغلامانو کوم ذکر راغلی هغه دجګړې بندیان دي ددوی دخلاصون لپاره یې هم مناسبې لارې چارې سنجولي دي په فحش ویناؤ اوسکنځلو یې بندیزلګولی دمور اوپلار اودلویانو په درناوي او په کشرانو دشفقت تاکید یې کړ ی دی دغه ټول دقران عظیم الشان برکت دی .

**۱۱- دخوراک اوڅښاک طریقه اولباس**: خوراک اوڅښاک دانسان بنسټیزه اړتیا ده قران عظیم الشان بشریت ته یوازې روحاني غذانه دی ورپه ګوته کړې ،بلکې دخوراک اوڅښاک طریقه یې هم وربښودلې ده قرانکریم خواړه اودڅښلو شیان په دوو برخووېشلي دي رواواونارو ا.رواهغه دي چې انسان ته ګټوراوناروا هغه شیان دي چې انسان ته زیان رسوونکي دي.

قران مجید دحلالواوحرامو دایره دژوند ټولو معاملاتو ته پراخه کړه برابره خبره ده که هغه فردي . اجتماعی . اقتصادي اوسیاسي واوسي دغه یې معروف اومنکر ( ښواوبدوته ) وېشلي دی ،نوپردې اساس حرام اوحلال یوازې په خوراک اوڅښاک کې نه ؛ بلکې ژبې . غوږونو . لاسونو اوپښو ټولوته شامل دي لنډه داچې دحلالواوحراموپربنسټ دیواخلاقي تهذیب دوجود ډبره اواساس یوازې اویوازې دقران عظیم الشان کارنامه ده داسلام دخلانده لمرترځرک دمخه عرب قوم دمردارو حیواناتو غوښې خوړلې ،وینې به یې څښلې اوبخولې . بربندیه ګرزېدل په همدې توګه ځنې خوراکونه نارینه و پورې مختص و شراب ځښل . غلا . لوټ تالان اوزنا ددوی عام رواج و دلباس په هکله داسلام لارښوونه داده چې دبدن پټونکی . پاک لباس اغوستل یې ناروااوکرزول دجامو په ټاکنه کې داب اوهوا اوولسي رواج بشپړدخل وي ،مګرموږ وینو کم چې به هغه کې دساده ګې اوپاکیزګۍ نظام له عبادت سره تړاؤ لري په همدې توګه ذوقي سکلا اوسلیقه به کې ځانګړی ځای لري .

**۱۲- فنون:** داسلامي مفسرينو په خيال په قران كريم كې دټولو فنونو بنستونه اېښودل شوي دغه عظيم الشان الهي پيغام دغوراوفكردخېړنې اوتحقيق لورته هڅونه كوي كه لږ فكر وكړو پوازې په قرانكريم كې دټولوعلوموااوفنونو لپاره اصول شته لكه دقراءت فن، دتجويد فن، دكتابت فن، دكاغذ جوړلوفن، مينا توري اوهندسي خطونه، دجلد سازي فن، په خوش اوازى سره دقرانكريم دلوستلو فن اوداسې نور...

قران كريم دبت يا لنې. لهولعب اوهر رنګه شرک نفی کړي ده دتصويرونو جوړول. مجسمه سازي دعرب قوم مهارت ؤ اسلامي ثقافت دذي روح شيانو تصوير وېستل منعه كړل؛مګرد.ونو. بوټو. اوګلانو تصويرونه يې رواوبلل

**موخې يې**

داسلامي ثقافت سترهدف دصالحي ټولنې اومتوازن فرد جوړول اوله مرګه وروسته په اخروي ژوند كې برى. دجنت حصول اودالله تعالى رضاء ترلاسه كول دي.

**دمضامينوتاريخي مخينه يې**

دامير حبيب الله خان دسلطنت په دوردهبوادپه پلازمينه كې دحبيبې ليسه امريكايانو جوړه كړي وه چې ښوونكې يې ټول خارجيان ؤپه ولاياتوكې يوازې ترشپږم ټولګې پورې ښوونځيوشتون درلود؛مګرلوړې زده كړې په ظاهرشاهي دوركې پيل اوپه (۱۳۲۵) هجرى لمريز كال دكابل پوهنتون داساس ډبره كېښودل شوه دپوليتخنيک پوهنځى روسانوجوړكړ اوروسي متخصصين په كې استادان ؤدانجنيري اوزراعت پوهنځي امريكايانوچلولې په دبارلس سوه اوه پنځوسم هجري لمريزكال دغوايي دمياشتې په اوومه نېټه دكمونستي عسكري كودتاپه نتيجه كې دهبوادډلوړوزده كړومؤسساتوته روسي ژبه اودماركسيزم كمونستي فلسفه دټولوعصري پوهنځيودنصاب برخه وګرځېده .په( ۱۳۷۱ )هجري لمريزكال داسلامي انقلاب په بري سره دكمونستي مضامينوپرځاى دهبوادپه ټولوتحصيلي مؤسسوكى داسلامي ثقافت مضامين ځاى پرځاى شول .په افغانستان دصليبي يرغل (دناټواوامريكايي) لښكرودرانئوتلوپه نتيجه كې دوخت دامريكايي تالي ختي وزيرله خوادغه مضامين له دووساعتونوڅخه يوساعت ته راټيټ كړى شول اوپه تدريجي توګه يې ختمول غوښتل ؛البته داسلامي ثقافت دځنومخلصواستادانودهلوځلواودوخت دستري محكمې دمشرتابه له خوادغه توطئه شنډه شوه اوس دشكر ځاى دى دغه څانګه پياوړې متخصيصين پوهاندان اوډاكتران لري دامريكايي لښكرو په ماتې اودمجاهدينو په غلبې سره نوره وغوړېده اوپياوړې شوه الحمدلله.

**داسلامي ثقافت لرليد** (VISION)

دمنځښتواسلام ته ژمنواومعتدلوكدرونودرلودل چې وكولى شي داسلامي سالمې روزنې په نتيجه كې ماډل شخصيتونه ټولنې ته وړاندې كړي چې په دنيا اواخرت كې بشردسعادت ترپېژاوه رسوي.

**داسلامي ثقافت څانګې رسالت** ( MISSION )

داسلام دسپېڅلي دين په لارښوونوباوراويقين داڅغان ولس ستره څانګرتياده دديني اعتدال، دايمان اوتقوى دټينګښت، دقانون دحاكميت، عدالت اورحم اوپه هېواد كې دسالمې اداري [illegible] دى، دغه ضرورت هلته پوره رامنځته كولو په موخه دلوړه زده كړو [illegible] داسلامي [illegible]

...tion.com: The Digital Library



کبري چي له اسلام څخه صحيح فهم اوله اسلامي عقيدې څخه دقيقه پوهه موجوده واوسي ترڅوددیني متخصصوکدرونو اومسلکي اشخاصو په وسیله دژوند دبېلا بېلو برخو لپاره ماډل اونمونه شخصیتونه تیولنې ته وړاندې کړی شي..

**روزنيزې موخې يې**

دشرعیاتوپوهنځیوپه چوکاټ کې داسلامي ثقافت څانګه دهېواد په بېلابېلودولتي اوخصوصي پوهنتونونوکې ولس اوټولنې ته دخدمت په منظورداسلامي فرهنګ دترويج په خاطردلاندې اهدافودتحقق لپاره کارکوي .

۱-په بېلابېلوتحصیلي رشتوکې داسلامی عقید ي داساساتوپوهاوی.

۲-اسلامي اساساتواوارزښتونوته په التزام دځوان نسل روزل ..

۳-دمعتدلواومتعهدوکدرونوروزل چې له افراط اوتفريط څخه لېرې وي اوددنيا اواخرت دسعادت ترمنځ يووالی رامنځته کړي .

۴-داسلام دکلي مسايلو دتوضيح په خاطر دنقلي اوعقلي دلايلو وړاند ې کول اوهمدارنګه دهرحکم اوهرې موضوع حکمتونه توضيح کول .

۵-دمحصلينوددیني فهم دسطحې لوړول ترڅودټولنې په فردي اوټولنيزه وده کې اغيز من واقع شي .

۶-دعلمي تحقيقاتي مهارتونو وده اودسالم اسلامي فکرپراختيا اوله الله تعالی سره دانساني اړیکو سم تنظیم اودنړی دارزښتناکه نعمتونه څخه سالمه ګټه اخيستل

**ترلاسه شوې پايلې**

۱- داسلامي ثقافت دبشپړ مفاهيمو سره اشنايي داسلامي نړی لید پېژند نه اودهغو اياتونواونبوي احاديثو بيان چې داسلامي عقيد ې په هکله راغلي دي .

۲-دعباداتو داحکامو ډولونو . شرطونو . حکمتونو اومصلحتونو پوهه

۳-داسلامي دټولنيز نظام دحکمتونو اومصلحتونو پوهاوی اوپه همدې توګه دنکاح اوطلاقو داحکامو اودښځي اومېړه دحقوقوڅرګند ونه

۴-داسلام داخلاقي نظام دمفاهيمو زده کړه اوهمدارنګه داسلامي اخلاقو دبنسټونو . فضايلو اورزايلو بيان اوتوضيح اوپه همدې توګه له عقايد و اوعباداتو سره داسلامي اخلاقو اړيکه ...

۵-دسياست له مفهوم سره دخلکو بشپړه اشنايي همدارنګه داسلام سياسي نظريه اوداسلام دسياسي نظام دبنسټونو درعيت اواسلامي حاکم دحقوقواومسؤليتونو شرحه اوتوضيح

۶-داسلام داقتصادي نظام دمفاهيمو اوبنسټونو اود اوسنيومعاصرو اقتصادي نظامونو سره داسلام داقتصادي نظام دبرتلېزې څېړنې بيان

۷-دقران عظيم الشان دکلي مباحثوپېژندل اودقران کريم دعلمي اعجاز پوهاوی

...an.com: The Digital Library

۸- داسلام دخلانده لمرتر څرک دمخه تمدنونو ته لنډه کتنه اوداسلامي تمدن بشپړه پېژندنه . خصوصيات . اثاراودمسلمانانو دپر مختګ اسباب اوعوامل اودزوړتيا او زوال لاملونه يې اوبياخلي هغه مقام ته دخان رسولو معيارونه

**خانګړتياوې يې**

- اسلامي ثقافت رباني اوالهي سرچينه لري چې له وحې څخه خړوبېږي
- دهرځاى اوهروخت دولسونو درهبرى صلاحيت لري
- لارښووني يې شاملې دي دژوند ټول اړخونه ترپوښښ لاندې نيسي
- عقايداو قوانين يې ثابت او غير متزلزل دي
- له علمي حقايقو سره سمون لري اوورسره په ټکر نه دي
- له هرعيب څخه سپېڅلتياچې هيڅ رنګ نقصان په کې په سترګو نه ښکاري [1]

## داسلامي ثقافت پرورانديې پراته ګواښونه

دتاريخ په اوږدوکې مسلمانان له ګڼو ګواښونو سره مخامخ شوي دي چې مهم يې

**۱-فوځي يرغلونه**

اسلامي امت له پيله له پوځي يرغلونو څخه رنځ وړي .د( ۴۹۰ هـ ) کال نه تر ( ٦٦١ هـ ) کال پورې صليبيانو په شام اومصر يرغل وکړ .دغه دصليبي جګړوپه نوم يادېږي بيايه اوومه هجري پېړى کې په عراق اوشام دتاتاريانواوچنګېزيانو يرغل .چې دعباسي حکومت په ړنګېدلو .دبغداددسوزېدلو .دزرګونوعلماؤپه وژلواودميليونونوکتابونوپه له منځه تللومنتج شو .بيااروپايانود(۱۷۷۸)م نه تر ( ۱۹٦۲)م پورې په اسلامي هېوادونودوام داره يرغل راوړ .چې په نتيجه کې يې دمسلمانانو ثقافت له منځه وړوړاودمسلمانانوماديشتمنى يې چوراوتالاترغه کړې .مصر .شام .اوهندوستان دانګليس له لورې تونس .مراکش او الجزايردفرانسې له خوااولبيادايتاليې اواندونيزيادلګزامبورک له خوامستعمره شوې.

په همدې توګه دمرکزي اسياپه هېوادونواوافغانستان دروسانو پوځي تېرى په مرکزي اسياکې يې اوولس ميليونه اوپه افغانستان کې يې ددوه ميليونومسلمانانووينې وبهولې دمسلمانانودين .ناموس .شته اومال يې تالاکړل داسلامي امت په زړه فلسطين کې ديهودانو مېشت کېدل اوورسره دانګلستان .فرانسې اوامريکا مالي .سياسي اوعسکري مرستې په عراق اوافغانستان پوځي يرغل له يوغم نه وروسته په دوام داره توګه لړ غم په کې شامل دي.

---

[1] سامي مصطفى (۱۹۸۰م).اسلامي تهذيب او ثقافت ... ۱۲ ...
... (۱۱۰۵هـ ش). ... اسلام ... ۱۰۳

**۲-فکري يرغلونه**

دغه يرغل غيرمسلح دی چې افکاراوخيالات تربريدلاندې نيسي— په نتيجه کې دين،ثقافت،اخلاق اوافکارله منخه وړل کېږي چې وسايل يې په لاندې ډول دي:

**الف-اعلام:** دخپروني وسايل راډيو،تلويزيون،سينما، تياتر،مجلې،اخبارونه بروشرونه، اوانترنيټي منحرف لادينه سايټونه اوداسې نور....چې په اسلامي معتقداتو پسې بدپروپاګندکوي ددين اودينې احکامو په اړه شکونه اوشبهات راپاروي اوهمدارنګه فسق،فجور،بې حيايي ،برېښند توب، موسيقي،اختلاط،زنا،لواطت،نڅا،عياشی اوفحاشی ته بلنه کوي اوس مهال زياتره فضايي شبکې باطل افکاراوداسلام په هکله شکونه اوشبهات خپروي.

**ب- استشراق:** دلويديځ پوهانويوه ډله ده،چې دختيځ علوم( عربي ژبه اوقران کريم )يې زده کړي دي داسلام په هکله دخلکوپه زړونوکې شکونه اوشبهات اچوي په علمي ډول داسلام مقابله کوي اوهمدارنګه په بې خايه اوناروا پروپاګندلاس پورې کوي اسلام هم په بت پالو دينونوکې شمېري اووايي،چې دوی کوټې ته عبادت کوي؛په داسې حال کې چې اسلام سراسر توحيددی ددوی زياتره ليکنې له بې خايه تعصب اودښمنۍ څخه ډکې دي زياتره مستشرقين داستعمارلاسپوڅي اوجاسوسان دي په اسلامي هېوادونوکې هم اکاډميک شخصيتونه ددوی مرسته کوي په منځني ختيځ کې يوزراوشپږسوه مستشرقين په کاربوخت دي

سره له دې چې لويديځوال په خپله له نصرانيت څخه بېزاره دي؛مګردوی دمسلمانانو په نصراني کولوکې زياړباسي اوهلې خلې کوي چې په اسلامي هېوادونوکې کليساګانې ودانې کړي ددغه کارلپاره په ملياردونو ډالربوديجه ټاکي دتنصيرمهم وسايل :تعليم،روغتيا،راډيو، تلويزيون،مجله،اخباراودفقيرانواوسيلاب ځپلولاس نيوی دی.

**۳-سيکولريزم:** په اسلامي هېوادونوکې دسيکولريزم اوبې ديني لورته دخلکو بلنه اودسياست ،اقتصاد،قانون،ټولنې او تعليم څخه دشريعت ګوښه کول شامل دي

**۴-لادينه ډلې ټپلې:** دوی دلادينه ډلوټپلو،نړۍ والوکنفرانسونواودخپروني دبېلابېلووسايلوله لارې دغرب فرهنګ ته وده ورکوي چې دغوکنفرانسونومحوري ټکي کورنۍ اوسخه،جنسي— حقوق داولاد غورځول،هم جنس بازي،دښځينه اونارينه دحقوقوبرابري،په ميراث کې مساوات،دزنااو لواطت حوازاودزوجاتو دتعددمخنيوی شامل دی

**دفکري يرغل اغېزې**

- په قران کريم،نبوي سنتو،اسلامي عقيدې اوداسلامي شريعت په اړه شکونه رامنځته کول.
- په مسلمانانوکې قومي اومذهبي اختلافات ايجادول.
- [illegible] خرافاتواوباطلو مذاهبواوتګلاروپه بسودرول.

[illegible] ۱۱۰۵۱ [illegible] الاتجاهات [illegible] المعاصرة ص ۱٦ [illegible]
[illegible] ۲۰۱۱ [illegible] ص ۹ [illegible]

Afghanistan.com: The Digital Library



- دمسلمانانوروحي شكست اودلويدبخ په فاسد فرهنگ وياړاوافتخار .
- دعربي ژبې كمزورتيا،او دنورو لهجو پياوړتيااويه استعماري ژبو وياړ .
- دواک له ساحې دشريعت گوښه كول. تعليمي فساد.اودمختلط تعليم ترويج.
- ښځينه فساد.دكورړنگېدل اودښځينه ؤبې پردګي اوبې حيايي .

## له چېلنجونو اوګواښونو سره دمقابلې لار

له ثقافتي اوفرهنګي چېلنجونو اوګواښونو سره مقابله ګڼ اړخونه رانيسي چې موږ ورته په لاندې توګه کتنه کوو .

۱-به اسلامي عقيدې اواخلا قو دخوان نسل روزل له الله تعالى سره مضبوطه اړيكه اودهغه په مرستې باور .

۲-داسلام دشمولي اونړۍ والي تګلارې څرګندول اوپه خپل فرهنګ اوخلا نده تاريخ وياړ .

۳-په ديني،فرهنګي، سياسي، اقتصادي اوپوهي برخه كې پرمختګ دوروسته پاتې والي له ټولواسبابوسره مقابله اودجهل، ناپوهي اوبېسوادۍ سره بشپړه مبارزه .

۵-دمسلمانانو ترمنځ ديووالي اتحاداواتفاق هلې ځلې كه په ولسي سطحه وي اوكه په بين المللي .

٦-راډيو اوتلويزيون ته بشپړه پاملرنه اودخپل هويت ساتنه .ددعوتي اوخيري ټولنو مادي اومعنوي ملا تړ .

## دويم بحث

### داسلام اعتقادي نظام

انسان دژوند په دګرارته نړۍ لمر .سپوږمۍ .ستوري .په ځمكه كې ځيانده سيندونه .دنګ دنګ غرونه اورنګارنګ حيوانات اوژوې ګورې.په دغه ارته نړۍ كې خپل ځان ددغوموجوداتو پروړاندې كمزورى احساسوي خنې وخت لمر .سپوږمۍ .اوستوري په الوهيت نيسي .ځنې وخت بياوار .سيندونه.غرونه.وحشي ژوي اوكبرجن انسانان خپل معبودان ګڼي :مګركله چې دانسان دمعرفت اوپوهې ساحه لږارته اوپراخه شي ددغو ټولوشيانوپه ناتوانۍ پوهيږي .

انسان ته الله تعالى درې ډوله ځواكونه وركړي دي :حواس ، عقل اووحى .په حواسو كې دانسان اوحيوان كوم فرق نشته دانسان لوى امتياز په عقل دى :مګرعقل دښواوبدو دخيراوشر په انتخاب كې مستقل نه دى دانسان دلارښوونې لپاره دبشريت له پيله دوحي نزول پيل شو دبشريت دلومړي پلارادم عليه السلام له وخته په ګنو ملتونوكې ديبغمبرانواواسماني پيغامونولړى روانه شوه چې پاى يې په محمدصلى الله عليه وسلم اوقران عظيم الشان سرته ورسيد .

دعقيدې مسايل هغه شيان دي چې زړونه پرې ډاډه كيږي اوپه داسې يقين بدلون مومي.چې هيڅ رنګه شک اوتردد ته په كې ځاى پاتې نه شي.عقيده علمي اړخ تشكيلوي اوشريعت عملي برخه رانيسي - داسلامي عقيدې له اساساتو موږقرانكريم اونبوي سنتوخبركړي يو.

---

ځمادنه اثر ص ۳٦١

PDF ترتيب كوونكى: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

The Digital Library



**دعقيدې لغوي پيژندنه**

عقيده دعقد له مادې څخه اخيستل شوې ده په لغت کې مضبوطې غوټې، ژمنې او تړون ته ويل کيږي د عربي ژبې په محاوره کې راغلي دي عقدالحبل : يعنی رسۍ يې کلکه وتړله په همدې توګه لزوم کلکوالي سختوالي تاکيداوټينګښت ته هم ويل کيږي په قران عظيم الشان کې ټينګې ژمنې او تړون ته عقد ويل شوی هلته چې فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوۡفُواْ بِٱلۡعُقُودِ﴾ المائده(زباړه) اې مؤمنانو !عهدونه اوتړونونه موپوره کړئ.[1]

**اصطلاحي معنی يې:** عقيده په غيبي اموروټينګ باور تصديق اواقرارته ويل کيږي چې په قران عظيم الشان اونبوي احاديثوکې يې مورته خبرراکړل شوی ،نوپردې اساس اسلامي عقيده دهغومنل شويوقضاياوڅخه عبارت ده چې عقل زړه اودبشرسليم فطرت يې مني.

اويابه اصطلاح کې عقيده هغه علم دی چې په عقلي ،نقلي اويقيني دلايلو ددينې عقايد واثبات اودشکونواوشبهاتو له منځه وړل ترڅېړنې اوبحث لاندې نيسي .

دغه علم دکافرانو له شکو نواودرواغوڅخه پرده پورته کوي زړونه يرې ډاډ اواطمينان ترلا سه کوی څرنګه چې دالله تعالی توحيد ددغه علم له مهمومو موضوعاتو څخه دی ،نوځکه ورته دتوحيدعلم هم وايي ،پردې اساس عقيده نظري اړخ دی چې ترهرڅه دمخه له انسان څخه دداسې ټينګ او مضبوط باوراو يقين غوښتنه کوي چې شک تردد او اشتباه ته په کې ځای نه وي په دې هکله دومره څرکند نصوص موجود دي او دغه دټول اسلامي امت اتفاقي قضيه ده همدغه دپيغمبر صلی الله عليه وسلم او دټولو پيغمبرانو ددعوت دلومړي پړاواساسي او بنسټيزمسايل دي[1]

**اهميت يې**

عقيده ددين اساس ،بنسټ اوداسلام لومړی رکن تشکيلوي داځکه کچېرې دين په صحيحوبنيادونوټينګ شي الله جل جلاله ته به دقبول وړوي ،البته که عقيده فاسده اوله اضطراب سره مخامخ وي ،نودانسان ټول اعمال به فاسداوغيرمقبول وي کوم انسان چې اسلامي عقيده نه لري او خپل خالق نه پيژني په نړۍ کې به دړانده په څېرژوند ترسره کوي هغه په دې نه پوهيږي چې دڅه شي لپاره پيداشوی په همدې توګه دخپل ژوند په رازونو به نه پوهيږي قران عظيم الشان په دې هکله داسې فرمايي ﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَتَمَتَّعُونَ وَيَأۡكُلُونَ كَمَا تَأۡكُلُ ٱلۡأَنۡعَٰمُ وَٱلنَّارُ مَثۡوًى لَّهُمۡ﴾ محمد (زباړه): اوکافران ددنيامزې اخلي اودخاروپوپه شان خوراک څاک کوي دهغوی اخرنی هستوګنځي اوردی .[2]

---

[1] [illegible] ۱۲۲۹ [illegible] التوضيحات الجلية على العقيدة الطحاوية اول ټوک ص ۱۰ [illegible]

[2] [illegible] ۱۹۸۰ [illegible] الاتحاد العالمي للمنظمات [illegible]

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

ketabton.com: The Digital Library


دتوحيددعلم مثال دزړه دی که زړه روغ وي؛نوټول بدن به جوړوي هغه څوک چې الله تعالی نه پېژني نه دژوند هدف اونه دژوند وروستی پړاو( اخرت ) پېژني نه حلال پېژنی اونه حرام دغسې انسان څنا وراوله څاورو بتروي همدغه حقيقت ديومثال په توګه څرګند وو:

يوه پردي باغ ته يو شخص راوستل شو هلته يې ميوې اونورخوراکي توکي ترستر ګوشول دغه شخص دباغ مالک هم ونه پېژاند اونه يې دهغه لارښووونوته پام وکړ دمالک له اجازې پرته يې هلته تصرفات پيل کړل يوه ونه له بيخه باسی بله کري نه ګټوره ونه پېژني اونه مضره ؛مګردده پرخلاف بل شخص باغ ته راوستل شو ترهرڅه مخه يې دباغ څښتن اودهغه اوامروپېژ ندل دهغه دلارښووونو سره سم يې په تصر فاتو پيل وکړ ګټورې اومضرې ونې يې وپېژندلې.

ددغه مثال په رڼاکې الله تعالی دځمکې څښتن اوپيغمبران دالله تعالی استاز ي اواسماني کتابونه دهغه پيغامونه دي چې ښه اوبد حلال اوحرام په کې په ګوته شوي دي . مؤمن مسلمان هغه دی چې خپل خالق پېژني اودلارښوونو سره يې سم چلېږي دده پرخلاف کافر هغه دی چې نه خپل خالق نه دژوند مقصد اونه منزل اونه ښه اونه بد. نه حلال اونه حرام پېژني په خپل سرکارونه کوي دالله تعالی اودهغه دپيغمبرانو څخه په مخالفت اودښمنی لاس پورې کوي .

داسلامي عقيدې زده کړه له خوړو.اوبواوهوا څخه هم زيات مهمه ده؛ ځکه چې دخوړودنشتوالی له کبله به ديوشخص ژوندپای ته ورسېږي؛ مګردعقيدې دخرابتيا له امله به يې اخروی ژوند تباه اوبرباد اوتل به په دوزخ کې پروت وي .څوک چې خپل خالق ونه پېژني هغه به دړانده په څېر په نړی کې ژوندترسره کوي نه به پوهېږي چې دڅه شي په خاطر پيداشوی اودځمکې پرمخ يې دپيدا ښت موخه څه ده؟ژوندبه پای ته رسېږي نه پوهېږي چې دژونديپيل يې دڅه په خاطر وو؟اوله نړی نه دتللوپه صورت کې به يې دسفر مسيرکوم لوري ته دی ؟ددنياپه لږ ژوند اونعمتونوبه دوکه کېږي اوټول غم اواندېښنه به يې په دنيوي وسايلو منګولې لګول وي

څوک چې داسلامي عقيدې څښتن نه وي هغه د دنيا په ژوند دوکه کېږي ټول غم او قصد به يې ددنيوي سامانونو لاسته راوړل وي په دې نه پوهېږي چې داحلال دي او که حرام ټولې هلې ځلې به يې د شخصي ګټو دلاسته راوړلو لپاره وي په دی کار سره به ټولنه کې انانيت وده کوي ټولنيزژوند له مينځه ځي او ټول معاملات فاسدېږي په همدې توګه ټولنيز ژوند دشخړواو اخ اودب ډګر ګرځي هرکله چې ټولنه له اسلامي عقيدې څخه پرته په اعتقادي فسا داخته شي اعمال به فاسد او ګناهونه به ډېر شي په دغه مهال الله جلت عظمته به هغو مسلمانانو دعذاب دنازلولو پرېکړه کوي چې خپل دين يې ضايع کړی دی الله پاک دغه مطلب ته داشاری په ترځ کې فرمايي :﴿ ظَهَرَ ٱلْفَسَادُ فِي ٱلْبَرِّ وَٱلْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي ٱلنَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ ٱلَّذِي عَمِلُواْ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾ ١١ الروم ژباړه:دهغوبدیولـه کبله چې خلکوپه خپلولاسونوکړي دي په وچه

---

١- داني عبدالمجيد (١٣٩٥) كتاب الوحدة ٢١ مخ حامد رسالت ناشل افغانستان

اولمده کې فسادښکاره شوی دی ترڅوالله پاک دخپنوکړنوخوند.وروڅکي کېدای شي چې هغوی حق ته راوګرځي.

له همدې امله اسلامي علماءوعقیدې ته ډېرارزښت ورکاوډاصحابوعقیده په کتاب الله اودرسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثوایستواره وه چې په لاندې نکاتوکې ښودل کېږي.

١_نول پیغمبران دصحیحې اوسالمې عقیدې دښودلواوټینګښت په خاطراستول شوي و

٢_دټولواعمالوقبولتیاترسمې عقیدې پورې ارتباط نیسي

٣_عقیده دبنده اورب ترمینځ اړیکې تنظیموي

٤_ددنیوي نېکمرغی اساس دالله عزوجل معرفت دی داډ،سکون،اطمینان اوراحت له الهي معرفت نه پرته شتون نه پیداکوي

٥_اسلامي عقیده دبشرتولوذهني پوښتنوته مثبت ځواب وايي

٦_اسلامي عقیده په دنیااواخرت کې دبري اوکامیابی وسیله ده

٧_قران عظیم الشان اونبوي سنتودعقیدې اوایمان موضوعات په بشپړه توګه واضح کړې دي

## داسلامي عقایدوډولونه

اسلامي عقاید په څلوروبرخووېشل شوي چې هره برخه یې ځانګړي شاخونه لري .

**لومړی برخه** : الهیات ، چې موضوع یې دالله تعالی ذات ، صفات ، اسماء اوافعال دي

**دویمه برخه** : نبوات ، دغه برخه پیغمبرانو پورې اړوند وشیانو ته شامله ده لکه دپیغمبرانو صفات عصمت اوسپېڅلتیا ، دنده، اورسالت ته اړتیا ،معجزات ، کرامت اواسماني کتابونه ددې برخې ملحقات دي

**دریمه برخه** : روحانیات ، چې ددې مبا حث ترغیرمادي نړی پورې تړاو لري لکه ملایک پیریان اوروح

**څلورمه برخه** : سمعیات ، چې ددې برخې مسایل تربرزخي اواخروي ژوند لکه دقبرحالات دقیامت نښې، حشر اوله قبرونو دوباره راپاڅېدل دمحشرحالات ، حساب اوجزاء پورې اړیکه نیسي [١]

## دایمان اساسات

موږ هم دقران عظیم الشان اونبوي سنتو دترتیب مطابق دایمان پورتني بنسټونه په ترتیب سره ذکرکووقران عظیم الشان دایمان بنسټونوته داشارې په ترڅ کې فرمایي

﴿ ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥﴾ بقره .ژباړه:پیغمبر صلی الله علیه وسلم برهغه هدایت ایمان راوړیدي چې د هغه درب له خوا پر هغه نازل شویدی او څوک چې ددې پیغمبر منونکي دي. هغوی هم دا هدایت د زړه په مینه منلی دی دوی ټولو الله ، د هغه پرښتې ، د هغه کتابونه او د هغه پیغمبران منلي دي او د هغوی وینا داده چې :" موږ د الله په پیغمبرانوکې یو له بله توپیر نه

---

[١]امام حسن البناء العقاید الاسلامیة ص ١٠٠

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

کوو ، موږ حکم واوربده او اطاعت مو ومانه زموږ بخښتنه ! مونږ ستا خخه د گناه دبخښني غوښتونکي یو او
همدا ستا لوري ته زمونږ درتگ دی ."
په دغه ایات کریمه کې دایمان څلور بنستونه بیان شوي دي په الله تعالی . ملایکو اسماني کتابونو او
پیغمبرانو ، دوه نوریې دقرانکریم په گنو سورتونوکې ذکر شوي دي دهغو دجملې خخه ﴿ وَبِالْآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ ﴿٤﴾ ﴾ ژباړه او پراخرت باور لري
﴿ وَكُلُّ شَيْءٍ عِندَهُ بِمِقْدَارٍ ﴿٨﴾ ﴾ الرعد ژباړه: د هر شي له پاره یې یوه اندازه ټاکلې ده.
له پیغمبر صلی الله علیه وسلم خخه دایمان په اړه پوښتنه وشوه چې (ماالا یمان ؟ قال ان تؤمن بالله وملا ئکته وکتبه ورسله والیوم الاخروالقد رخیره وشره من الله تعالی والبعث بعدالموة . یعني ته یعنې چې ته په الله تعالی . ملایکو . اسماني کتابونو . پیغمبرانو . داخرت په ورځ اودخیر اوشر په تقدیر ایمان او په بیاخلې ژوندون باورولرې

**موضوع یې**

اسلامي عقیده اودتوحید علم له یولړموضوعاتوخخه بحث کوي چې په لاندې توگه دي :
۱ - په الله تعالی ایمان دهغه ذات اوصفات اودهغه جل جلا له توحید اوله شرک نه پاک اوسو چه اومخلصانه عبادت
۲ - په ملایکودایمان لرلو اوددوی له کارونو ، وظیفواوله موږ سره یې په دنیا اواخرت کې داړیکو څرنگوالی
۳- دبشري تاریخ په اوږدوکې دانسان دلارښو ونې لپاره دالله تعالی له خواپه را استول شویوکتابونوایمان
۴ - دالله تعالی په پیغمبرانو ایمان ددوی په رښتینولی . امانت داری . معجزاتو اوددوی دنبوت ددلایلواو په ځانگړې توگه دمحمد صلی الله علیه وسلم دنبوت دڅرگندودلایلو پېژندل .
۵ - داخرت په ورځ اوپه دغه ورځ دمؤ منانواوکافرانو لپاره په برابرې شوې جزااوسزا په ( جنت اودوزخ ) ایمان
۶- دالله تعالی په تقدیرایمان [1]

**غایه او مصلحت یې** :داسلامي عقیدې نهایي موخه اومصلحت په لاندې ټکوکې راخلاصه کوو
۱- داسلامي عقیدې صحت اوددارینونېک بختي ترلاسه کول .
۲-ددین داساساتوساتنه اودمنکرینودشبهاتو اوشکونوخخه ځان ژغورل .

**رامنخته کېدل یې** :دقران عظیم الشان دنزول سره سم داسلامي عقیدې دعلم دبنسټ ډبره کېښودل شوه او نبوي احادیث یې دشرحې په توگه رول لوبوي دپیغمبر صلی الله علیه وسلم مبارکه زمانه چې داسلامي قانون اواسلامي عقیدې دبنسټ ایښودلودورۀ .

---

[1] - زندانی عبدالمجید (۱۳۹۵) کتاب التوحید ۱۵ مخ حامد رسالت کابل افغانستان

رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې علم بشپړ تفصيل داسلام مخالفينو او هم خپلو ... دپوهستودخوابونوپه ترڅ کې بيان کړي ؤ دنبوت دخلافت دورې څخه وروسته دراشدينو خلفا ... ګانواودلويواصحابودوره هم دغسې تېره شوه تردې پورې چې اسلام ختيځ اولويديځ .شمال اوجنوب ... وغځيداوګڼوملتونواوولسونوداسلام خلانده دين ومانه اودېرغيرعرب قومونه داسلام غېږې ته رانوتل دګڼوملتونو. علوماو تمدنونو سره داسلام اشنايي ددې لامل وګرځېده چې په ديني علومو دبحث او استدلال لړی پراختيا ومومي او دعقايدو علم هم له هغه څخه بې برخې پاتې نه شي ددويمې هجري پېړۍ په لومړيوکې ددې علم دپراختيادبنسټ ډېره کېښودل شوه .

**دزده کړې حکم يې**

داسلامي عقيدې اودتوحيد دعلم زده کړه په هرمسلمان نارينه اوښځينه تردې بربده فرض عين دی چې ددين په هکله يې په اجمالي توګه قلبي اوعقلي قنا عتونه حاصل کاندي. ددې علم په اصولواوبنسټونوچې په امنت باالله کې ذکرشوي بيله شک اوترديد څخه ايمان عيني فريضه ده قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ ﴾ ١٩ محمد.زباړه: نوای پيغمبره !ښه وپوهيږه چې له الله تعالی نه پرته بل هيڅوک د عبادت وړنشته .

په دغه ايات کريمه کې په علم اواګاهانه پوهې ترکيز شوی دشک او وسوسې په صورت کې بايد مسلمانان علماؤ ته مراجعه وکړی او خپل شکونه او شبهات دې معالجه کړي ;البته کوم وګړي چې دعلم او پوهې له نعمت څخه برخمن دي دتوحيد دعلم په بشپړو تفصيلاتو پوهه لاسته راوړل يې عيني فريضه تشکيلوي ددغې سترې دندې په سرته رسولو سره دعامو خلکو له غاړې څخه مسؤليت ساقطيږي .

دډېر افسوس ځای دی چې زياتره مسلمانان په بېلابېلو برخوکې تخصصي- پوهه لري البته په اعتقادي او ديني مسايلو کې چې دمسلمانانو ددنيوي اواخروي ژوندبرياليتوب وربورې مربوط دی ناپوهان دي .

**مصادراو سرچينې يې**

داسلامی عقيدې سرچينه قران عظيم الشان اونبوي سنت دي.داسلام دلومړي دورمسلمانانو خپله عقيده اودژوند نظام له قرانکريم اونبوي سنتوڅخه اخيستې ؤ نو ځکه دټول بشريت سرداران وګرزېدل.

**قران عظيم الشان داسلامي عقيدې داثبات سترپيغام**

دتوحيد علم دقران کريم بنسټيزه موضوع ده هريو سورت يې په الله تعالی . ملايکو .پيغمبرانو . تقدير اواخرت په اړوند ومسايلوراخرخي په ځانګړې توګه مکي سورتونه چې محوري موضوع يې همدغه توحيد. رسالت. اخرت. تخويف اوبشارت تشکيلوي.

**دعقيدې په اثبات کې قراني تګلاره**

قرانکريم دتفکرلپاره ځانګړی پروګرام وړاندې کوي . عقل راوبښوي اودکايناتو پراخه ډګرورته مخې ته ږدي داچې قران عظيم الشان عام انسانان رابولي ;نودکايناتو نظام . ځمکه . لمر. سپوږمی . ستوري .

وربخي . دانسان نفس اودخمكې اودسمندر په تل كې بې شمېره مخلوقات دالهي قدرت په توګه معرفي كوي

**خانګړتياوې يې**

ــلامي عقيده په علم او پوهه ولاړه ده دحس ،عقل او وحي څخه كاراخلي اوحقيقت ته يې خان رسوي يونوكاينانو د خالق ،مدبراوتنظيموونكى ثابتوي او مهمه خانګړتيايې توحيددى دانسان تخليق باهدفه بولي والله تعالى دقانون جوړولو ،داقتداراعلى اولوړحاكميت حقداربولي اوله انسان څخه دحاكميت صلاحيت ،حلي دالله تعالى پروړاندې دانســـان حيثيت دخليفه اونوكربولي .علم اوعقل ته درناوى كوي دحس ،عقل ووحى لپاره جلا حدودټاكي اودزوندټول اړخونه په نظركې نيسي -اسلامي عقيده يولړخواص لري چې له نورو معتقداتواوافكاروڅخه يې جلاكوي اوهغه دادي :

**١-ربانيت او الهي سرچينه درلودل**

داســـلامي عقيدې سرچينه الهي وحي او دبشر دافكارومجموعه نه ده قران عظيم الشــان دغه مطلب ته داشارى په ترڅ كې فرمايي :﴿ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَيَّ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ

﴾ يونس ژباړه: زه پواځې په هغه څه پســـې تلونكې يم چې ماته يې وحې كېږي اوكه زه له خپل رب نه سرغړوم نودلويې ورځې له عذاب نه وېرېږم.

نوبردى اساس داسلامي عقيدى سرچينه دالله تعالى سپېڅلى ذات دى چې دايمان لوړته يې دهغه پيغام په وسيله موږ ته لاړسوونه كړې چې دجبريل امين په وسيله په محمد صلى الله عليه وسلم نازل شوى رسول الله صلى الله عليه وسلم ټول بشريت ته ددغې سپېڅلې عقيدې معلم او مبلغ ؤ .

**٢-له بشري فطرت سره سمون**

داســلامي عقيدې امتيازي شــان له انســاني فطرت سره ســمون دى دغه عقيده هغه احســـاس ته چې انسان عبادت او بندګى ته هڅوي مثبت ځواب وايي .هغه احســـاس چې دانسان په زړه كې ځاى لري اوددې دبدن مهمه برخه تشــكيلوي چې هم دې ته انساني فطرت ويل كېږي هركله چې په الله تعالى باوردښتو په فطرت كې ځاى لري نو پردې اساس داسلامي عقيدې ټول حقيقتونه له بشري فطرت سره برابر او هيڅكله ورسره په ټكر نه دي .

(١) ده [illegible] (١٣٩٥ هـ) [illegible] ٣٥٣ مخ [illegible]

[illegible]

﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ
قران عظيم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي
النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَٰلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (٣٠) الروم
ژباړه: نواې محمده! په دانګ ېيلې توګه خپل مخ ددغه دين په لوربرقراروساته اودالله په هغه فطرت كلک
شه چې ټول خلک يې برې پيداکړي دي دالله پيدايښت بدلون نه مومي همداسم دين دى خودېرخلک نه
پوهېږي.

**۳- معقوليت (له عقل سره سمون)**
اسـلامي عقيده بشري عقل مخاطب ګرځوي اودمكلفيتونو محوريې بولي اودکايناتودعجاياتوتدبراو
تفكرته يې رابولي قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارى په ترڅ كې فرمايي ﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ
وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ (١٩٠) الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ
وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَٰذَا بَاطِلًا سُبْحَانَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ (١٩١) ﴾ آل
عمران. ژباړه: بې شـكه چې داسـمانونواوځمكې په پيدايښـت اودشـپې اوورځې په اختلاف كې عقل
لرونكيوتـه ډېرې لويې نښـې دي. دعقل څښـتنان هغه كسـان دي چې الله پاک په ولاړه، ناسـته اواړخ
وهلويادوي داسـمانونواوځمكې په پيدايښـت كې فكركوي اووايي اى زموږربه! داڅيزونه تابابېزه نه دي
پيداكړي ته پاک يې داورله عذاب څخه موږژغوره
كه چېرې كله هم انسـان په خپل عقل سره په دغوموجوداتوكې غوراوفكر ته ادامه وركړي اروموبه يوې
نتيجې ته ورسـېږي چې هغه دالله تعالى جلت عظمته له لويي او عظمت څخه عبارت ده ،نواروموبه
دشهادت په كلمه اقراركوي چې داسلام راوړلو عنوان تشكيلوي.
داسلامي عقيدې دامتيازاتود جملې څخه كايناتو ،انسان اوژوند ته يوه شامله كتنه ده دانسان بشپړه پېژندنه يې
وړاندې كړې دانسان اصل ، پيدايښت دژوند بېلابېل پړاوونه مرګ اوژوند اوله مرګه وروسته به چې انسان له
كومو پړاوونوتېرېږى تردې پورې چې وروسـتني منزل جنت او يا دوزخ هم ور ته ګوته كوي په همدې
دكايناتواصـل اوحقيقت ظاهراو وروسـتنى غايه انسـان ته وربښـيي په همدې توګه ددغې عقيدې يو امتياز
داهم دى چې ددنيا اواخرت حقيقت يې انسـان ته وربښـودلى او دواړوو ترمينځ يې موازنه سـاتلې ده قران
عظيم الشان دغه مطلب ته داسى اشاره كوي
﴿ وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ
وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ (٧٧) ﴾ القصـص ژباړه: اوكومه شـتمني چې الله دركړې
ده په هغې سره اخرت خپل كړه اوددنيوي ژوند برخه هم مه هېروه اوښـېګڼه كوه لكه څنګه چې الله پاک
ښېګڼه كړې ده په ځمكه كې دفسـاددراپورته كولوهڅه مه كوه بې له شـكه چې الله پاک فسادكوونكي نه
خوښوي

The Digital Library



### ۴-اسانتیا او وضاحت

داسلامي عقيدې بله ځانګړنيا اسانتيا او ځرګندوالی دی داځکه چې هرڅوک کولی شي چې دبلابلو عقلي ،علمي او اجتماعي مسـوواکانو سره سره يې په زده کړيې لاس بورې کړي اسـلامي عقيده په ځرګندو حقايقو ولاړه ده چې بنسـټ يې توحيد تشـکيلوي دانسان او دده دخپـل ترمنځ اړيکه تنظيموي داسلامي عقيدې اسانې او ځرګندې نښې نښانې په لاندې توګه دي .

**الف**-دغه اړيکه چې اسـلامي عقيده يې دبنده او خپل څښـتن ترمنځ ټينګوي ځرګنده اړيکه ده خپل څښتن ته دبندګی او عبودت مراتب برخای کړل چې په هيلو . دعاء . زاری او غوښتني سره يې وروړاندې کړي .

**ب**-دتاريخ په بېلابېلو اوږدو کې ډيرو خلکو مثلې په ډير لږ وخت کې دجلاجلا رنګونو او ژبو خلکو دزړو و ناوتريخوالی نه برته ورته غاړه ايښې .

**ج**-په لږ وخت کې يې په ټوله حمکه کې خپرېدل په دې دلالت کوي چې دغه عقيده ډيره اسانه او له هرډول پېچلتيا څخه پاکه ده

**د**-په هسې اساس دغه کوم پېچلي رموز او اشارات نه دي چې وضاحت نه اړه ولري او نه تشي عقلي او فلسفي فرضيې دي چې لږ خلک يې درک او پوهې احساس وکولی شي

**۵-له بشري غوښتنو سره يې سمون** داسلامي عقيدې يو امتياز دا هم دی چې دبشريت غوښتنو ته مثبت ځواب وايي او په ډيرو ښو لارو چارو دغه غوښتنې سره کوي ددې عقيدې دمثبتو مظاهرو له جملې څخه: دغه عقيده چې بوخل زړه ته ورسيدله په وجدان کې ځای نيسي او داعمالو په توګه يې اغيزې دانسان په ټولنيز ژوند کې ځرګندېږي

- ددغې عقيدې دمثبتو اغيزو له جملې څخه يو دا هم دی چې د انسان او کايناتو تر منځ پردې لرې کوي په دې توګه چې دکايناتو قوانين او حقيقت انسان ته ځرګندېږي .
- دغه عقيده دژوند په ډګر دانسان ټولې پوښتنو ته ځواب وايي او ټولې ستونزې يې حل کوي .

### ٦- ثبات او ټينګښت

دبشري عقيدې حقيقتونه کوم داسې نظريات او افکارنه دي چې بشريې داساس ډيره ايسې وي او نه يې په هدامو ،اټکلونو او تخمينونو بـسـت اسـودل شـوي دغه عقيده دالله عزوجل له لوري نازله شوې دعقيدې ثبات ددې په هريو رکن کې ځرګندېږي ځوددې عقيدې دثبات مفهوم دانه دی چې ټول بشري فعاليتونه ....دې بلکې دلته هرڅه په ثابته اندازه دي داسـلام په ثابتو حقايقو کې اسـان کولی شي دژوند ....... ته وده لاس برسې کړي داد الله عزوجل فضل او مهرباني ده چې خپلو بندګانو ته ....... ډکې دي ....... په ټوله او هرځای کې ټول انسانی فعاليتونه ....... .

...ton.com: The Digital Library

**۷- وسطیت**

اسلامي عقیده به دغې خانکړنیاسره دالله عزوجل دمنکرینو او ماده پالونکو او دهغه چاسره چي به گنوخدایانو باوري دي بنسبېره مبارزه کوي اودیو ذات بندگۍ ته یې رابولي او همدغه دتوحید اساس او نسب دی هلته چي فرمايي ﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۞ اللَّهُ الصَّمَدُ ۞ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۞ وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ ۞ الإخلاص ژباړه:ای محمده ووایه!الله یودی.الله بې پروادی.نه یې څوک زیږولي اونه له چانه زیږېدلی.اونه یې څوک سیال اوبرابردي.

**۸- واقعیت**

اسلامي عقیده یوه واقعي عقیده ده په خیال او اټکل یې اساس نه دی ایښودل شوی دانسان له واقعیتونو سره خنگ په خنگ حرکت کوي او تطبیق یې دانسان له وسې وتلی کار نه دی هلته چي فرمايي:

البقرة

ژباړه:الله په هیڅادغه له توان څخه بورته بارنه ږدي هرچانه هسغه څه دي چې گټلي يې دي اودهغه څه مسؤلیت یې په غاړه دی چې کړي یې دي.

**۹- په دلایلو استحکام**

اسلامي عقیده په دلایلو اواستند لال ولاړه ده دالوهیت په قضیه کې مور ته قران عظیم الشان له کایناتو ,بشري نفس او له تاریخ څخه دالله جلت عظمته په وجود باندې دلایل راوړي په همدې توگه بعث بعد الموت (له مرگه وروسته ژوند)او نور ټول قضایا اومسایل په ډېرولو رو علمي اومعقولو دلایلو سره مطرح کوي .

**موخې اواهداف یې**

دغفلت له درانه خوبه دانسان راويښول ترڅو دخپل وجود په ستروحقايقوکې فکروکړي

**دغه علم ته دمسلمانانو پاملرنه**

داسلام لومړي دور په قران کریم رونزل شوی ځارنسل و نور له همدغه مسلمانان دنړۍ دملتونو سرداران و مکرڅه وخت يې چې قران عظيم الشان اواسلامي عقيدې ته یې شاوکړزوله ددوی په عملونو يې ناوړه اغیزه پرې وښسته فساد اوبې دیني پراخې ساحې ونیولې په نتیجه کې استعمار ددوی خمکې اشغال کړې اوبه دلت محکوم شول

**دزده کړې پراونه یې**

په اسلامي امت کې دتوحید اواسلامي عقیدې په علم کې پړاونه تېر شوي چې موږ ورته په لاندې ډول نسه کړو.

۱- درسول الله مبارک سپېڅلی قراني دورچې د وحی له رڼې سرچينې څرګېده قران عظیم الشان دسترو کايناتو براخه ذکر دالهي قدرت دنښانو په توګه وړاندې کاوه اودبشر ـ وجداني اوفطري احساس يې راويښولو

۲ دفلسفې اوجدل دور هغه چې بېلابېل ملتونه په اسلام کې داخل شول کښې فلسفې دامت افکاروته داخلې شوې او سرچينه رڼه پاتې نه شوه او امت په بېلابېلو ډلو ټپلو ووېشل شو.

۳- دجمود دور هغه چې علمي څېړنې په ټپه ودرېدلې دحق اوباطل فرق جانښو کولای اسلامي امت نور په کډوډيو اواختلافاتو سر شو.

۴- اوسنی داسلامي ويښتابه قراني حلانده دور چې نوی ساينس اودين دواړه سره اوږه په اوږه پرمخ بيايو

**په عقيده کې دخلکو درجې**

خلک دعقيدې په قوت اوکمزورتياکې توپير لري دغه حقيقت ديومثال په ترڅ کې څرګند وو:يوشخص ديوهېواديه اړه چې ليدلی يې نه وي ،مګرله يوريښتيني شخص څخه خبرواوري، نواروموږه ورباندې باورکوي ،مګرکه جېرې داخبردمتنوله خولې واوري باورېې نورهم زياتېږي اوکه جېرې دهغه ځای عکس ووينې ،نودشک لپاره ځای نه پاتې کېږي اوکه په خپلو سترګو يې ووينې اودهغه هېواد په جادو اوسرکونوکې وګرځي نومحال دی چې له هغې څخه واوړي

ددې مثال نه درک اويوهې سره دالله تعالی دوجود دقضيه اوداسلامي عقيدې بنسټونه ديولک خلبرويشت زره انبيا ؤله خولې بيان شوې دي، نړۍ ملتونه له الله تعالی سره اشادې لوی مشکل يې شرک دی عرب قوم هم دالله تعالی څخه منکر نه ؤ دااوس هم نصرانيان ،يهوديان،هندوان اوبوديان الله تعالی مني مګر ديولولويه ستونزه شرک دی نودټولې نړۍ دملتونواجماع شک ته مجال نه پرېږدي .دکايناتو هره ذره دالله تعالی دوجوددليل دی نوپردې اساس دعلم اوپوهې دخښتنانوايمان له ناپوهانوفرق لري .

**اسلامي عقيدې ته دبشراړتيا**

په داسې حال کې چې دټولوپيغمبرانوزېږې .هېوادونه اوخټونه سره جلا ؤمګردټولو يو پيغام ؤ او يوې خبرې ته يې خلک رابلل .دااوس مېمال چې دعلم او پوهې دوږدی لوی لوی ملحدين او بوهان يې اعلانوي چې له دين څخه پرته ږوند امکان نه لري داردابوحني اونولنبوهانوځخه غوښتنه کوي چې مور ته يودين جوړکړی ترڅو انساني نفس ته سپېڅلتيا په برخه اواخلاقي نظام بنسټيزکړی شي .البته چې داوامرواونواهيو څخه ازاد دين وي امانه اساسات اوقوانين ولري .

څوحقيقت دادی چې دبشرپه لاس جوړشوی دين او عقيده هېڅکله نه شي کولی چې احلاقونه سمون ته برخه کړي او دنفسونو داصلاح لامل وګرځي دوی ناپوه او دوکه شوي مغرورخلک دي دغه يو ثابت علمي حقيقت دی چې انسان تل ايمان او عقيدې ته اړو عقيده او ديانت دسري ژوند دضروورياتو د جملې څخه دی له دمانې امله دحسکې پرمخ هېڅ قوم له عقيدې پرته ژوند نه دی نرسره کړی هرقوم ته الله پاک

[illegible] المنهج [illegible] ۳۰۰ [illegible]

Digital Library

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

Ketabton.com: The Digital Library

پیغمبران رالیږلي قران عظیم الشان فرمایي: ﴿ وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ ﴾ فاطر ۲۴ زباړه: او هیڅ داسې امت نه دی تېرشوی چې هغوی ته وېروونکي نه وي راغلی.

په پورتني ایات کې له وېروونکي خخه مقصد نبي، رسول اویا ددین عالم او پوه مراددی چې ددین دوارث په توګه رول ترسره کوي چې خپل ولس دشرک، کفر، معصیت، انحراف، شرک، ظلم او فساد له عواقبو خخه وېروي دژوند په ډګر انسان قوانینو او اصولو ته اړتیا لري ترڅو دبشر- غوښتني کړه وړه او سلوک تنظیم کړي له همدې امله بشرد خوراک او څښاک خخه زیات عقیدې ته اړدی .دغه یوڅرګندحقیقت دی چې دبشر سترګې له رڼا خخه پرته لیدل نه شي کولی په همدې توګه بشري عقل دوحي له رڼاخخه پرته سه او بد درک کولی نه شي مادي علوم دبشر مادي اړتیا وې پوره کوي .البته روحي اړخ له الهي وحي پرته امکان نه لري وده وکړي.

**عقام اوفضیلت یې**

دهرعلم شرف اوارزښت دهغه دموضوع ترمحتوی پورې مربوط وي مثلا د طب علم له ترکانۍ خخه ښکه غوره دی ښکه چې دبحث موضوع یې انسان دی داسلامي عقیدې علم غوره او بهترعلم دی ښکه چې دبحث اوڅېړني موضوع یې دالله تعالی ذات ،نومونه او صفات او دپیغمبرانو درسالت ،نبوت اواخرت موضوعات دي ،دنورو علومو په تناسب ددې علم مثال په بدن کې د سردی ،دغه علم ددین اساس اوبنسټ تشکیلوي ،نو پردې اساس یو شخص ترهغه مؤمن نه ګرځي ترڅوچې یې د توحید علم نه وي پېژندلی.

**نومونه او اصطلاحات یې**

دغه علم ګڼ نومونه او القاب لري چې موږ ورته په لاندې توګه کتنه کوو

**۱- توحید**

دغه علم ته دتوحید علم هم وایي ښکه چې په دې کې دالله تعالی دتوحید خخه بحث کېږي.

**۲- ایمان**

چې له دې نه دعقیدې مسایل مقصد دي له همدې امله دجبر یل په مشهور حدیث کې دپیغمبر صلی الله علیه وسلم نه دایمان په باره کې یو ستنه شوې هغه ورته دعقیدې اساسا ت وربه ګوته کړي ؤ په قران عظیم الشان کې هم دعقیدې دبشپړو اساساتوذکر راغلی دی

**۳- فقه اکبر**

دعقیدې علم ته لویه پوهه ویل شوې ښکه چې عقیده د ددین اصل او بنسټ جوړوي او احکام ددین فروع تشکیلوي

---

الحمیس محمد عبدالرحمن (۱۴۲۹ هـ ق) التوضیحات الجلیة علی العقیدة الطحاویة اول توکی ص ۱۰۰ دارالمی حوزة دعاه المملکة العربیة السعودیة

(c) ketabton.com: The Digital Library

## داهل سنت والجماعت دعقيدي امامان

په دي کې هيڅ شک نشته چې داهل سنت والجماعة دعقيدي لومړی پيشوا،قايداولارښودمحمدصلی الله عليه وسلم دی ترده مبارک وروسته خلورواړه راشدين خليفه ګان اووده ملګري اواصحاب کرام دي تردوی وروسته امام ابوحنيفه ، امام شافعي ، امام مالک ، امام احمدبن حنبل اوشيخ الاسلام تقی الدين ابن تيميه ، امام بخاري اوکې شمېرنورفقهاء اومحدثين اوترقيامته ددوی ريښتيني پيروان دامت رباني علماء،پوهان اوداسلامي دعوت ستوري دي

### داهل السنة والجماعت پېژندنه

دغه مرکب لفظ دی سنة په لغت کې لارې ته وايي دلته ورڅخه درسول الله مبارک ، ويناوي ، افعال اوتقريرات جسمي اواخلاقي صفات مراددی ،جماعت کثرت اوزياتوالي ته وايي .

### اصطلاحي پېژندنه يې

داصحابوکرامو ،تابعينو ، فقهاؤاودمسلمانانوټولګي ته ويل کېږي چې ديوامام اوقايدترمشرتابه لاندې اسلامی شريعت اوحدودنافذ اوجاري کوي[1]

### لقبونه يې :

اهل سنت والجماعت دغه القاب لري ۱ ـ ناجيه ډله ۲ ـ منصوره اوغالبه ډله ۳ ـ السلف الصالح ډله

### خصوصيات يې

داهل السنة والجماعة عقيده خنې امتيازات لري چې نوري ګمراه ډلې ورڅخه برخمنې نه دي هغه دادي :

۱ - **دسرچينې وحدت** : دوی قرانکريم اونبوي سنت اودسلفواجماع دخپلوعقايدوسرچينه بولی قياس اورايه په دې کې اعتبارنه لري .

۲ - **صحت**:په صحيحو،فطري ،عقلي اونقلي دلايلو يې عقيده استواره شوي ده

۳ - **څرګندتيااواسانتيا**: په دې توګه چې عام اوخاص ، ښځي اونر ،لويان اوماشومان ټول پرې پوهېږي

۴ - **ثبات اواستمرار** :په دې توګه چې په هيڅ صورت کې نه په کې زياتې اونه په کې کمی شوی دتل لپاره په ثبات اودوام ولاړه ده .

### اعتقادي بنسټونه يې

اهل السنة والجماعت درسول الله مبارک اودصحابوکرامودتګلاري تسلسل دی بنسټونه يې دا دي :

۱ - بردې خبره اقراراوباورچې الله تعالی واحداولاشريک دی له ده نه پرته بل حقيقي معبودشتون نه لري .

۲ - بردې خبره ټينګ يقين چې الله تعالی داسماء حسنی اوکاملوصفاتوخښتن دی چې له تحريف ، تعطيل ،تشبيه ، تمثيل اوتکييف نه پرته ورته ثابت دي

---

[1] ابن حزم ، الملل والنحل دوېم ټوک ۲۷۱ مخ

...ton.com: The Digital Library

۳ ـ پردې خبره ټینګ ایمان چې محمد صلی الله علیه وسلم دالله تعالی پیغمبراوهغه خاتم الانبیاء
اودپیغمبرانوسرداردی ترقیامته پورې دټول بشریت دلارښوونې لپاره استول شوی دی .
۴ ـ په ملایکو . پیغمبرانواواسماني کتابونوباور اودخیراوشرپه تقدیریقین
۶ ـ پردې بشپړیقین چې قرانکریم دالله تعالی کلام دی چې په محمدصلی الله علیه وسلم دوحی په ترځ
کې نازل شوی دی .
۷ ـ په کرام کاتبینوایمان چې دبندګانوکړه وړه اوویناوې ثبتوي . په ملک الموة اوعذاب قبر . په قبرکې
دنکیراومنکرپه سوال اوځواب باورچې درب . دین اونبي صلی الله علیه وسلم په هکله به پوښتنه کوي
۸ ـ داخرت دورځ په دوباره ژوندون . حساب . ثواب . عذاب . پول صراط اودمیزان په تلې ایمان
۹ ـ دجنت اودوزخ په شتون په حوض کوثراوشفاعت ایمان
۱۰ ـ پردې خبره یقین چې مؤمنان به په اخرت اوجنت کې الله تعالی ویني .
۱۱ ـ کامل ایمان له اقرار . تصدیق اوعمل څخه عبارت دی
۱۲ ـ دامت دکبیره ګناهونوخښتنان چې عقیده یې روغه رمته وي تل ترتله به په دوزخ کې نه وي
۱۳ ـ دمسلمانانومشران چې دالله تعالی په کتاب اونبوي سنتوپرېکړې کوي پرخلاف یې وتل روانه دي
۱۴ ـ درسول الله مبارک له اصحابوسره مینه به له افراط اوتفریط څخه خالي وي .
۱۵ ـ پردې خبره باورچې درسول الله نه وروسته دخلافت لومړی مستحق ابوبکرصدیق رضی الله عنه دی
۱۶ ـ پردې خبره یقین چې یوپیغمبردنړی دټولواولیاؤ څخه غوره دی
۱۷ ـ دقیامت په علامو . ددجال په راوتلواوله اسمانه دعیسی علیه السلام په راکوزېدلواوله لویدیزه دلمرپه
راختلو . اوله ځمکې ددابة الارض په راوتلواوداسلام په حقانیت اوله اسلامه پرته دټولواديانوپه بطلان باور

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دويم څپرکی
## نړی‌لید اود اعتقادي نظام برخې

**پيليزه**

انسان دځمکې پرمخ ژوندکوي ارته نړی‌لمر،سپوږمی،ستوري ،په ځمکه کې ښانده سيندونه دنگ غرونه اورنگارنگ حيوانات اوژوي گوري،په دغه ارته نړی کی خپل ځان ددغو موجوداتو پر وړاندې کمزوری احساسوي ځيني وخت لمر،سپوږمی،اوستوري په الوهيت نيسي ــ ،ځيني وخت بيااور،سيندونه،غرونه،وحشي ــ ژوي اوکبرجن انسانان خپل معبودان بولي مگرکله چې دانسان دمعرفت اوپوهې ساحه لږه پراختيا ومومي ددغو تپولوشيانوپه ناتوانی پوهېږي.

انسان ته الله تعالی درې ډوله ځواکونه ورکړي دي :حواس ، عقل، وحی ،په حواسو کی دانسان اوحيوان کوم فرق نشته دانسان لوی امتياز په عقل دی ،دانسان دعقل دلارښوونی لپاره دبشريت له پيله دوحی دنزول لړی پيل شوې ده.

### لومړی بحث
### نړی لید

دځمکې پرمخ گڼ ملتونه دبېلابېلوافکاروولگړي دي اوهرڅوک يوه مفکوره لري هرفکري مکتب که هغه اسلامي وي اوکه غيراسلامي دنړی اوځان په اړه يوه نظريه لري همدغې مفکورې ته نړی‌ليدوايي،ددې په خاطرچې حق له باطل څخه بېل کړای شوموږاسلامي نړی‌ليدلولو، ددې بحث ترلوستلو وروسته به لوستونکي وکولی شي په لاندې ټکو پوهه ترلاسه کړي.

**۱-دنړی لید پېژندنه:** دکايناتوپه هکله دانسان طرزفکرته نړی‌لید ويل کېږی[۱]

**ايډيالوژي او نړی لید:**ديودين بشپړ سيستم اوعملی احکاموته ايډيالوژي اواعتقادي سيستم ته يې نړی ليد وايي ايډيالوژي دنړی ليدڅخه رامينځته کېږي.نړی ليد دانسان،کايناتو،ټولنې اوتاريخ په اړه تحليل اوتفسيرکوي نړی ليددی چې ايډيالوژي رامينځته کوي که نړی ليدونه مختلف وي نوهلته به ايډيالوژی مختلفې وي.

**دانسان اوحيوان فرق:** نړی پېژندنه فکراوعقل پورې اړيکه نيسي.ددې پرعکس حيوان يوازې محسوسه نړی گوري ډېرحيوانات دي چې له انسان څخه پرمختللي حواس لري دعقاب باصره قوه اودمېږی اوسپې شامې (بويولو)ځواک اودموږک دسامعې ( اورېدلو )قوه ډېره پياوړې ده ؛مگراحساس اوپوهه جلا شيان دي چې ترانسان پورې ارتباط نيسي.

---

[۱] - محمد مسعود(ب ت):بينش اسلامي،ص ۵۰ خيابان داروبخش تهران ايران

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

ketabton.com: The Digital Library


**معياري نړۍ ليد:** دنړۍ په اړه بايد انســان داســې طرزفكرانتخاب كړي چې جامع اوهراړخيزوي موږ بايد ديو نړۍ ليد دحقانيت لپاره يوه تله ولرو موږ لاندې يوڅو ټكي ذكركوو چې ديو معياري نړۍ ليد په غوره كولوكې به له موږ سره مرسته وكړي.

**ديومعياري نړۍ ليد ټكي**

دلاندې معيارونو نړۍ ليد دانسان غوښتنو ته مثبت ځواب ويلى شي

- له كايناتو باهدفه دقيق معلومات
- روښانه ،سم عقلي اومنطقي ملاتړ
- ستراولوړهدف
- دكمال په لوري دانسان رهبري
- دنني وجداني اجرايي ضمانتونه

كه چېرې دكايناتو په هكله اســاسي اودقيقه پوهه اوهدف و نه لرو پردې باندې نه يو بهترين نظام ټينګښت مومې او نه انسان دكمال لوړو پوړيو ته رسېدلى شي.[1]

كه موږ دمثال په توګه مادي لادينه تګلارې ترڅېړنې لاندې ونيســو هغوى دالله تعالى څخه انكار كوي او ژوند بې هدفه بولي انســان غير مسؤل او ژوند هم تردنيا پورې محدودګڼي اويواځې دانسان مادي اړتياوې په نظركې نيسي-له همدې امله هلته اســتبداد حاكم اودوينوتويولو بازارګرم وي .له اسـلامه پرته هېڅ يونړۍ ليد نه سـپېڅلى هدف لري اونه انســان دكمال لوړو پوړيو ته رســولى شي هلته دانســان بنه دبشر-؛ مګرپه حقيقت كې لوى ځناور وي[2]

## دنړۍ ليد ډولونه

۱:سهي (اسلامي )نړۍ ليد ۲:فاسد (جاهلي )نړۍ ليد

**الف-سهي (اسلامي ) نړۍ ليد**

سمه عقيده هغه ده چې په هروخت كې پيغمبرانووړاندې كړې او سرچينه يې وحى او دكايناتوڅښتن دى له اسـلامي عقيدې پرته ټول عقايد اومذاهب باطل دي اعتقادي ســمون نه په يهوديت نه په نصرانيت او نه دفلاسفه ؤ په ويناؤ كې موندلى شو.

**ب-فاسد(جاهلي) نړۍ ليد**

فاسدنړۍ ليد هغه دى چې دبشري افكاراودودونومجموعه اوسي اودهماغه چاپېريال دخلكودخيال څخه نمايندګي وكړي دعقيدې فساد دتحريف،تبديل اوتغيرڅخه هم رامينځته كېږي لكه ديهوديانواونصرانيانو عقيده چې په پيل كې په توحيد ولاړه وه؛مګروروسته په كې بدلونونه رامينځته شوه

---

۱- معيني جيم(۱۳۶۱هد ش) اشنايي با فرهنگ اسلامي ص ۵۲ تهران ايران
۲-همدغه ماخذ ۵۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**داسلامی نړۍ لید پېژندنه**

اسلامی نړۍ لید دحس،عقل اووحی په څواک داالله تعالی،انسان اوکایناتو دپېژندني څخه عبارت دی.[۱]

**موضوع يې**

داالله تعالی ذات،اسماء اوصفات،دانسان اوکایناتوڅېړنه ده .کاینات اوانسان داالله جل جلاله دقدرت اثاراونښي دي[۲]

## ۱-الله جل جلاله داسلامي نړۍ لید په رڼاکې

**الله تعالی جل جلاله**

- دټولوموجوداتوخالق،مالک،حاکم،پالونکی،واجب الوجود،ازلي او ابدي ذات دی.
- له ده پرته بل حقیقي معبود نشته تل اوهمیشه ژوندی دی،فنا نه لري
- د ټولوکایناتومنتظم دی خوب اوپرکالي پرې نه راځي
- د اسمانونو اوځمکوواکمن
- په حال ماضي اومستقبل دعلم څښتن
- د لوړاوپراخه اقتداراوسلطنت خاوند
- په ذات اوپه صفاتوکې تنها،بې نیازه ذات
- نه مور،نه پلار،نه اولاداونه سیال لري.
- په ښکاره اوپټورازونوعالم
- خورا لوړمهربان ذات اوسپېڅلی بادشاه دی.
- له هرعیب نه پاک،د بندگانو ساتندوی دی
- عزتمند،دکایناتواو ساکښانو خالق،رازق اومصوردحکمت خاوند
- د اسمانونواوځمکوخالق
- د بارانونواوروونکی،د باغونواونباتاتوراټوکونکی،دویالو بیونکی.
- د غرونو پیدا کوونکی
- داړتیاؤپوره کونکی
- دکړاؤنولرې کونکی
- په ځمکه کې دانسانانو اوسوونکی
- د بادونوالوزونکی
- ټولوساکښانوته روزي رسوونکی

---

[۱] محمد مسعود(ب ت)بینش اسلامي،ص ۵۰ خیابان داروبخش تهران ایران

[۲] الاشقر سلیمان(۱۹۷۹م)العقیدة فی الله،ص ۱۰ مکتبة الفلاح الکویت

(c) ketabton.com: The Digital Library


- په خپل اقتدارکي چاته اړنه، ټول ورته محتاج
- په هرڅه د علم اوقدرت،دمرګ اوژوند،دعزت اوذلت واکمن
- يواځي د عبادت اواطاعت لايق ذات دی

لازمه ده چې قانون يې ومنل شي هيلې اواميدونه ورپورې وتړل شي له داسې ستراوسپيڅلي ذات څخه انکار،کفر،شرک اولويه تباهي او بربادي اوپه کفراخته وګړي دځمکي د مخ لعنتي خلک دي.

**۲-انسان**

په ذاتي ډول دکمال لوړو پوړيو ته درسېدلو فکر ورکړ شوی،بېلابېلې مادی اوروحاني اړتياوې لري ديو پروګرام، قانون او پلان غوښتونکی دی [1]

**انسان دالهي نړۍ ليد په رڼا کې**

- اشرف المخلوقات دی
- الله جل جلاله پيدا کړی اوبېرته دهماغه سپيڅلي ذات په لوري وردرومي
- پيدايښت يې پوچ نه ؛بلکې دسترارزښتناکه هدف په خاطردی
- دانسان مقام دخليفه اودالله تعالی پروړاندې دمسؤل دی
- دبندګانو له بندګۍ څخه ازاد اوسرلوړی دی
- حاکميت دالله تعالی حق دی

**۳-نړۍ داسلامي نړۍ ليد په رڼا کې**

- ازلي نه ده ؛بلکې حادثه (رامنځته شوې) ده
- دنظم او حکمت څخه برخمنه ده
- دخوځښت اوبدلون په حال کې ده
- له وحدت اونظم څخه برخمنه ده
- دتفکراوتدبر سرچينه ده
- ديو هدف په لوري روانه ده [2]

**دزده کړې حکم يې**

داسلامي نړې ليدزده کړه اوپوهه په هرمکلف مسلمان (نارينه اوښځينه) عيني فريضه ده کوم وګړي چې دعلم او پوهې له نعمت څخه برخمن دي ددې علم په بشپړو تفصيلاتو پوهه لاسته راوړل پرې لازمي دي کې بيغمبرصلی الله عليه وسلم پوره ديارلس کاله دفکراو عقيدې په جوړولو تېرکړي و ډېردافسوس خای کي ديو شخص ترداخلېد و وروسته دتوحيد زده کړه په لومړي توب کې قرارلري په مکه مکرمه

[1] ... ۵۱ ... تهران ايران
[2] ... ۵۷ ... تهران ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی چې زیاتره مسلمانان په بېلابېلو برخوکې تخصصي پوهه لري؛مگر په اعتقادي او ديني مسايلوکې چې دمسلمانانودنيوي اواخروي ژوندبرياليتوب وربورې مربوط دی ناپوهان دي[1]

**سرچينې يې**

داسلامی نړۍ لید سرچینه قران عظیم الشان اونبوي سنت دي،داسلام دلومړي دور مسلمانانو خپله عقیده اودژوند نظام له قرانکریم اونبوي سنتوڅخه اخیستي ؤ؛نوځکه دټول بشریت سرداران وگرزېدل[2]

**اهداف اوموخې يې**

دغفلت لـه درانـه خوبـه دانســان راويښــول اودې تـه يې هڅول چې خپل حواس اوعقل په کارواچوي ترڅودخپل وجودپه سـتروحقايقوکې فکروکړي داسـلامي نړۍ لید موخه دغوپوښـتنوته مثبت ځواب ویل دي :

- له کوم ځايه راغلی ؟
- دڅه په خاطر؟
- پيداکونکی يې څوک دی ؟
- صفات يې څرنگه دي ؟
- دغه کاينات څنگه رامينځته شوي دي؟
- دانسان دپيدايښت موخه څه ده ؟
- په کايناتو کې يې مقام څه شی دی ؟
- ددغې څرگندې نړۍ څخه پرته بل دغيبو عالم شته اوکه نه ؟
- له انسان نه پرته بل عاقل مخلوق شته ؟
- ولې په مړينه محکومېږي ؟
- تر مړينې وروسته بل ژوند شته ؟
- له مرگه وروسته به ورسره څه کېږي ؟
- نبوت ته اړتیادڅه په خاطر؟
- پيغمبرانوله ځان سره څه راوړي ؟
- دهغوی دصداقت اوريښتينولی دليل څه شی دی ؟
- حق او باطل کوم شیان دي ؟

له اسلامي نړۍ ليده پرته بله هېڅ يوه نظريه نشته چې دغوپوښتنو ته مثبت ځواب ووايي ترڅودانسان دقناعت وړ وکرزي.

[1] جهیاد عبدالواحد(ب ت) عقايد اسلامي ص ۱۷،اصلاح افکار کابل افغانستان
[2] محمد مسعود(ب ت) بینش اسلامي ص ۱۷ خیابان داروبخش تهران ایران

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اهميت يې**

اهميت يې لږ يو جزيات ډېر هم څخه لـه اوبواوهوا ډ انسان لپاره لـه لري له دې نه پرته انسان په اسلامي نړۍ ليد دانسـان لپاره لـه اوبواوهوا څخه هم ډېرزيـات اهميت لري له دې نه پرته انسان په حيرانتياكې ژوندسرته رسوي نه پوهېږي چې له كوم ځايه راغلى اودځه په خاطر راغلى .اساسي دنده يې څه شى ده اوكوم لوري ته به درومي ؟

دغه علم دعباداتو،اخلاقواو معاملاتو لپاره دبنياداوتهداب حيثيت لري داسلامي نړۍ ليد علم يوشخص له شرک الحاداوگناهونوڅخه ژغوري اويه انسـان كې دالله جل جلا له وېرې ته وده وركوي اودشبهاتوله فتنوڅخه يې ساتي اوله جهل څخه نجات وريه برخه كوي اودباطلوافكاروپروړاندې يې مقا بلې ته تياروي

**فكري پولې يې**

اسلامي نړۍ ليدانسان ته فكري خط وركوي چې په هغه كې درې شيان اساسي رول لري ۱- حس ۲- عقل ۳- وحی[1]

**الف -دحواسـو رول:** داسـلام سـپېڅلي دين حواس سـتر الهي نعمت بولي په ډېروا ياتونو كې دكايناتو واقعيت بيان شـوى اوله هغه څخه گټه اخيسـتنه هرمؤمن ته وړاندې شـوې ؛البته اسـلامي نړۍ ليددحواسـو دناتوانۍ په صورت كې عقل ته رجوع كوي.

**ب-دعقل رول:** اسـلامي نړۍ ليدعقل دانسـان لويه پانگه اودټولومكلفيتونومحوربولي له همدغه امله يې انسان ته په څارويوفضيلت په برخه كړى دى پردې اساس عقل يوه پوله لري چې هلته په ټپه ودرېږي نوله همدې كبله اسلامي نړۍ ليددريم شى (وحى) دژوند لارښودگڼي .موږدغه حقيقت ديومثال په ترڅ كې داسې روښانه كوو:په بازار كې مودموبايل ټېلفون واخيست ډېرښايسته ؤپه سترگومې دموبايل دټولي ښكلا ننداره كوله عقل راته وويل چې څومره هوښـيارانجينر ډيزاين كړى دى مايه خپلو سـترگو نه هغه انجينر ليدلى اونه هغه كارخانه. عقل ماته وايي چې دغه مصـنوع اورومرويوصـانع لري اوس چې له عقل څخه پوښـتنه كوم څواب نـه شي راكولى دډېرغوراوفكر پـه نتيجـه كې ددغـه موبـايل دكمپنۍادرس اوكتلاک موترلاسه كړدهغه په كتنې سره مو دهغه دسم استعمال لارې چارې زده كړې.

موږ چې كله ارته نړۍ په سـترگو گوروعقل راته وايي چې دغه ښايسـته نړۍ اومنظم نظام ارومرو بوخالق لري چې دغه نظم يې رامينځته كړى دى اوس عقل راته وايي چې زه ښـه اوبد نه پېژنم چې ښـه كوم دي اوبدكوم دي ؟ دكايناتو څښتـن انسـان په تياره كې نه دى پرې ايښـى دښـواوبدودخيراوشرښـوونه دالهي استازواواسـماني پيغامونوپه وسيله شـوې ده وروستنى الهي پيغام(قران عظيم الشان) مې ولوست څان مې پرې پوه كړاوحقيقت تـه ورسـېدلم دكاينـاتو خـالق. ښـه اوبـد.خيراوشراودژوند هدف اودژونداوړده سفرواټنونه يې راته په گوته كړل.[2]

۱. الجزائري جابر ابوبكر (۲۰۰۱م) عقيدة المؤمن ص۷ دار السلام للطباعة والنشر والتوزيع

۲. شلتوت محمد احمد (ب ت) دراسات في العقيدة الاسلامية ص ۱۰ دار العلم جده

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ج -دوحی رول**:داسـلامي نړۍ لید دسـتروامتیازاتو دجملې څخه دوحی دنعمت څخه ګټه اخیسـتل دي ځکه دبرخلک حس اوعقل په نیمه لارکې پرې ایښې دي اسلامي نړۍ لیدپه غیبي امورو کې دحس اوعقل دناتوانۍ په صـورت کې وحی ته رجوع کوي محسـوسـات دحواسـوپه وسـیله معقولات دعقل په وسـیله اوغیبیات(زموږ له سـترګو پټ شیان)دوحی په وسیله درک کوو په دې توګه هغه پوښتنې چې ماتریالستان اوفلاسـفه ورڅخه لاځوابه پاتې اوبې لارې شـوي په اسـلامي نړۍ لیدکې دوحی پراساس ورته ځواب ویل شوی دی[1]

## داسلامي نړۍ لیدځانګړتیاوې اوخواص

اسلامی نړۍ لید له نورو افکارو اوباورونو سره توپیر لري چې په لاندې ټکوکې یې وړاندې کوو

**۱-ربانیت**:داسلامي نړۍ لید سرچینه د الله تعالی سپېڅلی ذات دی چې داسما نې وحی په وسیله یې خپل پیغمبرصـلی الله علیه وسـلم ته ورښودلې ده :نو پردې اساس دپلرونو او نیکونو دافکا روڅخه نه خړوبېږي داسلام څخه پرته ټول عقاید،نظریات اوافکاراو دژوند نظامونه دانساني او بشري فکرڅخه سرچینه اخلي[2]

**۲-ثبات**:داسلامي نړې لید اساس اوبنسټ الهي وحی ده دپیغمبر صلی الله علیه وسلم په وفات سره یې لړۍ بنده شوې ده :نوداسلامي عقیدې اوبشپړدین احکام ثابت دي چې هېڅکله بدلون نه مومي.

**۳-دبشر له ذاتي او فطري غوښتنو سره سمون**

دانسـان زیاتـه پوهـه ذاتي ده دمثـال په توګه داولاد په وړاندې دمورعاطفه ،لوږه اوتنده ،ګرمي اویخني ، شهواني احساس اوپه بدن کې روح ،مینه اومحبت ،کینه اوعداوت ،غم اوخو شالي اوپه الله تعالی باور ټول فطري احسـاسـات دي چې زده کړې او تعلیم ته اړتیا نه پیداکوي دکایناتو رنګارنګ نړۍ له سـتوروډک اسـمان ،لمر،سـپوږمی،ځمکه اوپه ځمکه کې رنګارنګ نباتات ،سـیندونه ،غرونه په زرګونه ډوله حیوانات دبدلون منظم نظام دکایناتو بشـپړنظم اودهغې ذره ذره قوانین دانسـان خیالي بلند پروازي اوعملي ناتواني دغه ټول شـیان انسـان دیوصـانع اوخالق په وجود مجبوروي ددغه تک شـنه اسـمان چت اودځمکې تک شین فرش دشپې اوورځې منظم بدلون دیوخالق اوپیداکونکي ادرس راښئي[3]

**۴-وضا حت**: اسلامي نړۍ لیددنوروملتونو دمعتقداتو په تنا سب څرګند دی اودنورومذهبونوپه څښتردیني رهبرانوپه واک کې قرارنه لري دلته یې هرڅوک دبېلابېلو عقلي ،عملي اوا جتماعي مستواګا نو دبېلتون سره سره په زده کړه لاس پورې کوي دغه نړۍ لید په پټوسترګوخلک نه رابولي بلکې په بشپړاوپوره بصیرت سره خلکوته بلنـه ورکوي دتـاریخ پـه بېلابېلواړخونوکې دبروخلکومنلې په دېرلږ وخت کې دجلاجلارنګونواو دژبوخلکو دزوراوتاوتریخوالی نه پرته ورته غاړه ایښې،په لږ وخت کې په ټوله ځمکه کې خپره شوې ده[4]

---

[1] همدغه ماخذ،ص ۱۱

[2] خطیب محمد احمد،( ۱۹۹۰) دراسات في العقیدة الاسلامیه ص ۹مکتبه الفلاح اردن

[3] محمد الغزالي او حبنکه عبدالرحمن (ب ت)الثقافة الاسلامیه المستوی الاول ص ۲۰

[4] خطیب محمد احمد دراسات في العقیدة الاسلامیه ص ۷،مکتبه الفلاح اردن

Kitabton.com: The Digital Library


ساتي او د مقاومت، ستړيا او تصورونو د سپړلو زيار کوي، تر څو پوري چې عقيده او پوهه د اسلام په رڼا کې، د اسلامي نړۍ ليد پراسانه اوله هررنګ پېچلتيا څخه پاک دی په همدی اساس دغه کوم پېچلي

**۵-اسانتيا :** اسلامي نړی ليد پراسانه اوله هررنګ پېچلتيا څخه پاک دی په همدی اساس دغه کوم پېچلي رموزاواشارات نه دي چی وضاحت ته اړه ولري او نه تشې عقلي او فلسفي فرضيې دي چې لړ خلک يې ددرک او پوهې احساس وکولی شي بلکې هر څوک پرې پوهېدی شي.

**۶-شمول :**اسلامي نړی ليد فرد اوټولنې،دنيا اواخرت،ژونداومرګ،روح اومادې ته شامل دی [۱]

**۷-وسطيت (ميانه روي)** اسلامي نړی ليددالحاداوشرک ترمينځ موقعيت لري ملحدين اوماده پال وګړي دمحسوسوکايناتوڅخه وراخواپه يوذات باوري نه دي ددوی پرخلا ف بت پالونکي،غوا،خو سی،ونې،بوټې ،سيندونه اوغرونه انساني اوغيرانسا ني ځواکونه په الوهيت کې شريک بولي اسلام له دواړوسره مبارزه کوي اوديوسپېڅلي ذات بندګی ته يې رابولي په همدې توګه اسلامي عقيده دتعطيل او تشبيه دګمراه ډلوترمينځ مينځنی مقام لري دتعطيل دعقيدې څښتنان دالله تعالی داسما ؤاوصفا تو څخه انکار کوي او دتشبيه دعقيدې پيروان يې له مخلو ق سره مشا به ګرځوي ؛مګراهل سنت والجماعت دالله تعالی ټول اسماء او صفات له تعطيل ، تشبيه اوکيفيت څخه پرته مني [۲]

**۸-په دلا يلو ټينګښت :** اسلامي نړی ليدپه څرګند ودلايلو ولاړدی هېڅاته هم په پټو سترګودعوت نه ورکوي قران عظيم الشان چې کله هم خلک دعقيدې اساساتوته رابولي دکايناتواودانسان په نفس کې عقلي دلايل وړاندې کوي اوهېڅکله بې دليله ،ړندې او کنې پيروی ته څوک نه رابولي ؛بلکې ټول قضايا اومسايل په ډېرولوړوعلمي او معقولودلايلوسره مطرح کوي [۳]

## په بشري ژوند داسلامي نړی ليد اغيزې

اسلامي عقيده اوباورونه دبشر په انفرادي اواجتماعي ژوند اغيزې لري چې په لاندې تو ګه ورته کتنه کوو:

### الف -په فردي برخه کې

**۱-اخلاص :**اخلاص دعمل دقبولتيا لپاره اساسي شرط دی مؤمن مسلمان دالله او بنده ګانو سره په اړيکو کې مخلص انسان وي.

**۲-دالهي تائيد احساس:**دلته مودمرستې څخه موخه الهي تائيد او ساتنه ده که دښمن هرڅومره او ځواکمن او زور اور وي مؤمن مسلمان دالله تعالی په مرسته او نصرت بشپړباوري وي په پوره ډاډاو اطمينان اومېړانې سره ددښمن مقابله کوي [٤]

**۳-دعلم هڅې:** مؤمن مسلمان دجهل پربنسټ دالله تعالی په بندګی لاس نه پورې کوي ددين او ددنيا په چاروکې جهل او ناپوهي رنځ دی په ټولوچاروکې به يې هڅې دپوهې پراساس وي [۵]

---

۱. همدغه ماخذ، ص ۱٦

۲. خطيب محمد احمد( ۱۹۹۰) دراسات فی العقيدة الاسلاميه ص۸ مکتبه الفلاح اردن

۳. همدغه ماخذ، ص ۱۰

٤. ياسين محمد نعيم (ب ت).التربية الاسلاميه ص ۱۸ اردن عمان

۵. همدغه ماخذ، ص ۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۴-له خرافاتوڅخه لېرې والی** :اسلامي نړی لیدعقل ته لارښوونه کوي اوله ړندو میراثي افکارو اوعاداتو څخه یې ازادوي اوانسان په کایناتوکې غوراوڅېړنې ته هڅوي.

**۵-ازادي** :اسلامي نړی لید له مؤمن څخه غواړي چې دالله عزوجل څخه پرته به دهېچا بندګي او غلامي نه کوي او نه به دبل چا قانون ته سرټیټوي.

**٦-دعزت احساس**:اسلامي نړې لیدانسان په خپلې روزی اودمرګ په نېټې ډاډه کوي دغه باورله انسان څخه اتل جوړوي دالله تعالی په لارکې دمسلمان مړینه شهادت او تبعید(له وطنه شړل) یې سیاحت او زندان یې ریاضت(دالله ذکراوفکر) دی[1]

**۷-شجاعت** : مؤمن مسلمان پردې پوهېږي چې مړینه اوژوند یې دالله تعالی له خوا دي چې هغه جل جلاله دیو چا دمرګ پرېکړه نه وي کړي څوک یې په وژلونه شي محکومولی.

**۸-دسرښندنې حس**:داسلامي نړی لید له کبله انسان خپل ځان ،مال ،اولاد ټول دالله تعالی په لاره کې قربانوي داسلام دلومړي دور دلښکرو اعلی سر قومندان خالد بن ولید رضی الله عنه دروم امپراتورته دیوپیغام په ترڅ کې ویلي ؤ:زه دداسې یولښکر په ملګرتیا ستاسیمې ته راغلي یم چې هغوی دالله په لارکې مړینه ترژوند غوره بولي[2]

**۹-ژوند دهدف پېژندل**:په نړی کې مؤ من مسلمان په سمه لاره ژوند تیروي اوکافرسرچپه ژوندته ادامه ورکوي قران عظیم الشان فرمایي:﴿ أَفَمَن يَمْشِى مُكِبًّا عَلَىٰ وَجْهِهِۦٓ أَهْدَىٰٓ أَمَّن يَمْشِى سَوِيًّا عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢٢﴾ ﴾ الملك، ژباړه: څوك چې پرمخې روان وي هغه د زیاتې سمې لارې میندونکی دی او که هغه چې هسکه غاړه سم په یوهوارسرك باندې وي؟

**۱۰-دمسؤلیت روح**: اسلامي نړیلید دانسان کړه وړه دالهی او امرو په چوکاټ کې تنظیموي په دی صورت کې انسان خپل ځان او نفسي غوښتنې په قابو کې ساتي.

**۱۱:ډاډ او اطمینان** :داسلامي نړی لید په رڼاکې دمؤمن روح اوزړه ډاډه وي او پردې پوهېږي چې په دنیا اواخرت کې ورڅخه الله تعالی راضي دی څوک چې په اسلامي نړی لید باوري نه وي هغه به حلال اوحرام څنګه وپېژني له اسلامي عقیدې پرته انسان هغه حیوان ته ورته دی چې دځمکې په سرژوند کوي په دی نه پوهېږي چې دڅه په خاطرځمکې ته راغلی له دنیا څخه به خالي لاس اوناکام درومي[3]

**ب-په ټولنیزه برخه کې**

**۱-اعتقادي تړاو**:داسلامي نړی لید پیروان خپلې اړیکې دعقیدې پر بنسټ ټینګوي هلته دجنس،رنګ، ژبې ، سیمې اومادي ګټو ټولې اړیکې له منځه ځي

---

[1] - افغاني شمس الحق (١٣٦٥م) علوم القران ص ١٠مکتبه ډهکی نعلبندی پشاور پاکستان
[2] - همدغه ماخذ ص ١٠
[3] همدغه ماخذ ص ١١

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


شرافت اوعدالت سينګاره، صداقت امانت، داسي فاضله تولني ايجادول چې په سپېڅلتيا،

**۲-صداقت** :دداسې فا ضله ټولنې ايجادول چې په سپېڅلتيا،صداقت امانت، شرافت اوعدالت سينګاره وي هلته چې وګړي يې له الله جلت عظمته څخه وېرېږي

**۳-اتفاق اواتحاد**:داسلامي نړۍ ليد په لړکې به دخلکو زړونه په يوذات، يوه کتاب يوه پيغمبر او يوې قبلې راجمع شي ،ايماني و رورګلوي تحقق پيداکوي ؛نوددې ايات کريمه مصـــداق به وګرزي ﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ﴿١١٠﴾ ﴾ آل عمران،زباړه:تاســې دامت غوره ډله يې چې دخلکودښــېګنې لپاره راوېستلي شوي ياست [1]

**۴-محبت**:داسلامي عقيدې امت دمحبت ، يووالي اوورورګلو ی دفولادين اواوسپنيز دېوال په څېرمضبوط دی چې دځمکې پرمخ دعدل اوانصاف دقيام لپاره مبارزه کوي.

**۵-عدل** :داسـلامي امت سـتر هدف دځمکې پرمخ دعدل اوانصــاف اقامه اوددظالمانوله ناولومنګولوڅخه دملتونوازادي ده .

**٦-سـوله**:دطواغيتواوسرکښـانودغلامۍ څخه دخلاصـون په نتيجه کې به مسـلمانان دامن او امان درشـل ته ورسېږي په اسلامي هېوادونو کې بدامني ،جګړې او بې اتفاقي ددوی دناوړه دسيسونتيجه ده

**۷-نجات**:دغه امت دخپلو شـخصي ـ ګټواومصـالحو لپاره ژوند نه ترسره کوي ؛بلکې هدف يې دبشرـيت نجات،هدايت اوددنيا اواخرت نېکبختي ده [2]

### اسلامي نړې ليد ته دنه اهميت ناوړه پايلې

**۱-تنګ ژوند**:چې ژوند ی بېلګه يې او سـنی مادي تمد ن دی چې له هر رنګ مادې اسـا نتيا ؤ سره هلته خلک ځان وژني

**۲-ځان پا لنه**:په دې توګه چې هرڅوک دخپل ځان ګټو پسې ګرزي اګر که بل چا ته زيان ورسېږي

**۳-جرمونه** : داځکه چې هلته انسان غيرمسؤلا نه ژوند تېروي ؛نو په وحشت اوجناياتو لاس پورې کوي

**۴-ځان وژنه**:په لويديزو هېوادونو کې ځان وژونکي نيستمن نه ؛بلکې شتمن خلک دي

**۵-تباهي اوبربادي** :دغسې انسان دروحي سکون او ډاډ څخه برخمن نه وي ژوند يې هم له بد بختۍ ډک او مړينه يې هم په سپکه او ذليله تو ګه وي [3]

---

[1] - افغانی شمس الحق (۱۳٦٥م) علوم القران ص ۱۵ مکتبه ډهکی نعلبندی پشاور پاکستان
[2] - همامغه ما خذ ص ۱۹
[3] - افغانی شمس الحق (۱۳٦٥م) علوم القران ص ۲۵ مکتبه ډهکی نعلبندی پشاور پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library


## فاسد(جاهلي نړۍ ليد )

جاهلي نړۍ ليد ګڼ ډولونه ډولونه لري موږ ورته په لاندې توګه کتنه کوو

**۱-تجربوي:** دغه نړۍ ليد دهرې ستونزې دحل لپاره يولړحل لارې وړاندې کوي او بيايې تجربه کوي اوحقيقت ته پرې ځان رسوي دمثال په توګه يو ساينس پوه لومړۍ په يوه فرضيه فکرکوي بيايې په لابراتوارکې تجربه کوي اويوعلمي حقيقت په لاس راوړي ؛البته دغه حقيقت ترهغه داعتباروړ وي ترڅوپه دې هکله قوي اونوې تجربه نه وي رامينځته شوي دغه نړۍ ليد دژونداهداف ښه اوبدخير اوشرانسان ته نه شي ورښودلی.

**۲- فلسفي نړۍ ليد** :چې بېلابېل فلسفي مکتبونه لري چې په لاندې توګه يې څېړو:

**الف ـ عقلاني نړۍ ليد**

دوی په فلسفي چاروکې عقل اساسي محوربولي چې ددغه مکتب زياتره وګړي ديونان پخواني فلاسفه اوله پنځلسمې ميلادي پېړۍ نه تر ننه پورې دلويديز معاصر پوهان دي.دعقلاني نړۍ ليد نيمګړتيا داده چې دوی يوازې په عقل اعتماد کوي عقل هم يوه پوله لري چې له هغې نه تجاوز نه شي کولای موږ دغه مطلب ديومثال په ترڅ کې خرګندوو:يوڅوک ستادکور دروازه درټکوي عقل درته وايي چې ددروازې ترشا څوک شته داچې څوک دی لوی دی اوکه کوچنی ښځه ده اوکه نرعقل تاته دقناعت وړځواب نه شي درکولی دلته لازمه ده چې دغه شخص دوه کاره وکړی چې يوددروازې خلاصول اوبل دشخص ليدل دي خوعقل تاته دده دخالق ادرس نه شي درښودلی دابه دوحې به وسيله صورت نيسي.

**ب-حسي نړۍ ليد(ماترياليزم)**

ددغې فلسفي ښوونځی په اتلسمه ميلادی پېړۍ کې ديهودي کارل مارکس او انګلز په وسيله رامينځته شوافکاريې په لاندې توګه خلاصه کولی شو:

- دوی دمحسوساتو نه پرته بل هيڅ شی په رسميت نه پېژني
- نړۍ له نظم اوانضباط سره ټاکلی هدف نه لري
- دتصادف په توګه رامينځته شوېده
- دغه نړۍ خالق نه لري اوپخپله رامينځته شوې
- انسان يوحيوان دی غوښتني لرې دپوره کولو لپاره يې بايدله هرې وسيلې څخه کاروا خلي
- انسان دهېڅاپروړاندې مسؤليت نه لري دژوندپه ټولوقضاياؤکې ازاداودقانون سرچينه ده .
- ژوندـيوازې په دنياکې دی اخرت له سره شتون نه لري

نودماترياليستي مفکورې لناډيزدادی : له هيڅ نه پيدايم ژوندمې پوچ اوبې هدفه.دژوندهدف مې دنفسي خواهشاتو پوره کول اودهېڅ په لوري تلل دي[۱]

[۱] علی جريشه(۱۴۰۵هـ ق) الاتجاهات الفکرية المعاصره ص ۵۰ جامعة الدعوة والجهاد

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب كوونكى: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

Ketabton.com: The Digital Library



**مشخصات یې**

- سیاسي نظام په دکتاتورۍ ،زور،زیاتي اودبشردحاکمیت پراساس ولاړوي.
- قوانین دحاکمې طبقې ګټې په نظرکې نیسي.
- دټولنې رهبري دچلبازو،فریبکارواووینه څښونکواوفاسدوخلکو په لاس کې پرېوزي.
- ټولنیزژونددشهوت پالنې اوځان غوښتنې پراساس ټینګښت مومي
- ګوندي حاکمه طبقه دژونددټولومزایاءوڅخه برخمنه ؛مګرټیټه طبقه یوه مړۍ ډوډۍ نه شي ترلاسه کولی

**نیمګړتیاوې یې**

ډېرماده پال خلک له دې امله په ګمراهۍ اخته شول چې داشیاؤپه وظایفوکې یې اختلاط رامینځته کړ مورنه شوکولی عقلي اموریه لابراتوارکې په پنځه ګونوحواسو سره ثابت کړو پردې اساس دالله تعالی،ملایکو،اسماني پیغامونو موضوع عقل اووحی پورې اړیکه نیسي_ په داسې مسایلوکې دمادي اومشاهداتي امورو داخلول دګمراهۍ سبب ګرزي.

**ج-شرک**

دجاهلې نړۍ لیدبله کثیفه اوناولې څېره شرک دی چې بنستونه یې په تخمین،اټکل او ګومان باندې ولاړدي لکه یوسړی لمر،سپوږمۍ اواورګوري اوهغه ته دمعبود نسبت وکړي اوخپل ځان یې پروړاندې خواراوذلیل وبولي دغه فکري تګلاره دبلابېلو خدایانو په شتون باوري ده.

**۱-مشخصات یې**

- عقیده یې له هرشي نه په وېرې،ګومان او اټکل جوړه شوې ده
- دذلت په حال کې ژوند تېروي کله قبر،کله بت ته اوکله دانسان پښوته لوېږي
- دخس اوخاشاکو په څېر ذلیل ژوندکوي اودحوادثو پروړاندې داستقامت څخه لاس په سرکېږي
- دمیراثي رواجونو په بندکې ژوندتېروي.
- دغه طرز فکرټګانواودجالانوته دخلکو پرژوندد لوبوزمینه برابروي

اوس مهال دمشرکانه جاهلیت استازولي نصرانیت،بودېزم او هندوئېزم سرته رسوي.[1]

**د-رهبانیت**

دجاهلي نړۍ لیدناولې څېره رهبانیت دی چې دژوندنعمتونه دبدبختۍ سبب ګڼي دژوندله دګره غارونواوسمڅوته تېښته کوي په یوکنج کې کښېني اوله ټولنې خپلې اړیکې غوڅوي اوله ټولنیزو دندو څخه ځان ساتي اوله خلکوسره په خوشالۍ اوغم کې ګډون نه کوي.

---

[1] فاضل فضل الرحمن(۱۳۶۹ هـ ش) اسلام او جاهلیت .ص ۳۲نشر مکتب الخدمات پشاور

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


نیمګړتیاوې یې

- تولنه له بېکاره خلکو ډکېږي دغه فکر دټولنې د وروسته پاتې والي سترعامل ګڼل کېږي.
- دالله تعالی ښه بندګان له ټولنې ګوښه کېږي دټولنې چارې دبدکاروخلکولاسونوته ورځي.
- دغه طرزفکرستمګرواوظالمانو ته دظلم زمینه برابروي خپل غیرانساني اقتدارپرې ټینګوي.[۱]

**هه- تیوکراسي:** په دغه نړۍ لید کې عقل ته ځای نه وي په پتواوړندوسترګو دپاپ پیروي کېږي دوی دعقلانیت اوعلم پرضدپالیسي غوره کړه هلته دوه غبرګونه مارکسیزم اوسیکولریزم رامینځته شول

## دویم بحث

## داسلام داعتقادي نظام برخې

### دالله تعالی،انسان اوکایناتو پېژندنه

**۱-الله جل جلا له**

الله تعالی په خپل عظمت،لویې،واکمنې اوپه خپلوښایسته نومونواولوړوصفاتو کې له هېڅ مخلوق سره مشابهت نه لري اونه مخلوق له الله تعالی سره مشابه کېدای شي ذات یې ازلي اوصفات یې قدیمي دي او د کمال دصفاتو څښتن داسبابو خالق دخاص اوکامل وجود خاوند چې سپېڅلی ذات یې په هېڅ صورت دحس وړ نه ؛بلکې پېژندنه یې په مخلوقاتوکې صورت نیسي_ څرګنده خبره ده چې په دغو ټولو صفاتو موصوف یوازې دالله جل جلاله سپېڅلی ذات دی بشري فطرت پردې باوري دی چې داشیاؤخالق دمخلوق په شان نه وي [۲]

دالله تعالی په نومونوکې جامع نوم الله دواجب الوجود ذات نوم دی چې دالوهیت دبشپړوصفاتوڅښتن په خپل حقیقي وجودکې یواځینی ازلي اوابدي ذات دکمال دبشپړو صفاتو خاوندی دعربي ژبې ځینې پوهان یې مشتقي اود(الاله)څخه یې ماخوذبولي همزه ورڅخه حذف اولام په لام کې مدغم ددواړو لامونو څخه مشدد لام اوالله ورڅخه جوړشوی[۳]

**واجب الوجود**

واجب چې ذات یې لازم اوضروري، مطلق ،تل ترتله، همېشه مستقل چې چاته اړ،ونه اوسي هغه دالله جلت عظمته سپېڅلی ذات دی.

**ممکن الوجود**

ممکن هغه شي ته وایي چې شتون او نه شتون یې دواړه سره برابروي.؛معنی داچې په خپل ذات کې یو بل ته اړ وي. دمادي نړۍ هېڅ شی مستقل اوازاد نه دی ؛نودممکناتو لپاره واجب الوجود مطلق ذات په کاردی چې هغه الله تعالی دی.

---

[۱]- مصباح الله عبدالباقی(۱۳۹۳م)غربي تمدن شالید حقیقت او فلسفي بنستونه ص ۴۹
[۲]- مولنا ګوهر رحمان(ب ت) توحید اورسنت ،ص ۱۶۵مکتبه دار العلوم تفهیم القران مردان
[۳]- جوهري(ب ت) مختار الصحاح ج۲ ص۱۳۳بیروت لبنان

ketabton.com: The Digital Library



**د(اله) معنی**

په عربي ژبه کې (اله )معبود ته ويل کېږی که هغه حق وي اوکه ناحق د(اله )کلمه په عربي ژبه کې لاندې معناګاني لري

۱-أَلَهَ يَأْلَهُ دعبد يعبد په معنی يعنې عبادت يې وکړدلته( اله) د معبود په معنی سره ده انسان دهغه چا عبادت کوي چې دغيبي ځواک اود مافوق الاسباب اختياراتو څښتن وي دلغت او تفسير له کتابونو څخه معلومېږي چې د( اله) اصل مفهوم په هغه غيبي ذات باندې کېږي چې کارساز،حاجت روا،پناه ورکوونکی اود بشپړواختياراتوواکمن وي.[1]

۲-اِلهَ يأله( اذاتحيّرلان العقول تأله فی عظمته )دغه اصطلاح هلته رايادولی شي چې يوځوک دڅا په لويې اوعظمت کې اريان شي.

۳-اله يأله ای لجأيلجأ:معنی داچې پناه يې ورته وې وړله

۴-الهت الی فلانٍ (ای سکنْت اليه )يعنې دفلاني پروړاندې مې ارام او ډاډ حاصل کړ

۵-الِهَ الفصيل بأمه:يعنې داوښې جونګی خپلې مورپورې کلک ونښت

۶-(لاه يليه ليهاً اذاحتجب وارتفع )کله چې يوځوک په پردوکې پټ اود لوړشان څښتن وي[2]

**په اسلام کې دحق( اله )مفهوم**

دپورتنيومحاوروپه نتيجه کې حق (اله)هغه ځوک وي چې عبادت يې کېږي اودعبادت کوونکي خالق،رازق مدبراودلوړاقتدارڅښتن وي دحوادثواوستونزوپرمهال ورته خلک پناه وړي او خپل حاجتونه ورڅخه غواړي[3]

همدارنګه ريښتينی( اله) هغه ځوک وي چې خلک ورسره مينه محبت لري تعظيم اوعاجزي ورته کوي او ويره ورڅخه لري اوانسان يې پروړاندې سکون اوډاډترلاسه کړي دامن ،پناه،مينې اومحبت،دهيلواواميدونو ،بندګی اوتعظيم مرکزدتولې نړۍ څښتن ټول هغه ته محتاج اوپه مرستې غوښتلو مجبور،له بشري حواسوپټ،دذات په پېژندلوکې يې عقل اريان ،خالق،مالک،رازق، دغيبي علم څښتن بشپړواکمن،کارساز،حاجت روا ،قانون ورکوونکی دعظمت اولو يې اودالوهيت دبشپړوصفاتوڅښتن تل ترتله لامثاله ذات واوسي

[1] - مولنا کوهر رحمان(ب ت) توحيد اورسنت ص ۱۷۲مکتبه دار العلوم تفهيم القران مردان

[2] - ابن منظورمحمد بن مکرم(ب ت) لسان العرب ج ۳۱ص ۴۸۴مکتبة الرسالة بيروت لبنان

[3] - قرطبي(ب ت)الجامع لاحکام القران ج۱ ص ۱۵ بيروت لبنان

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دالله تعالی پېژندنه

دالله دذات په موضــوع باندې دبحث نه دمخه پردې خبره پوهېدل ضروري دي چې دالله عزوجل وجود مادي نه ،بلکې له مادي نړۍ وراخوا يو حقيقي ذات دی په عام ډول ديوشي دوجود پېژندنې لپاره چې له موږسره چې کوم وســايل دي هغه حواس دي دکايناتو علم دحواســو په وســيله معلومېږي ،البته دماوراء طبيعت دپېژندنې لپاره حواس کافي نه بلکې په عقل سره پېژندل کېږي.[١]

دماده پالو ساينس پوهانو ترټولو لويه غلطي داوه چې هغوی دساينس حدود.ونه پېژندل گومان يې وکړ چې ساينس هره مسئله حل کوي دالله تعالی سپېڅلی ذات له دې خورا ډېر لوړدی چې بشري عقل ورته ورســېږي اويا يې انســاني افکاردرک کړي که دانســان عقل هرڅومره پر مختگ وکړي اودانســان خيال اوفکرهرڅومره پرمخ ولاړشي دالله تعالی دادراک څخه دهغه صــلاحيت ډېرلېراومحدوددی دالله ذات خو لا پرېږده بشري عقل دموجوده اشياءوله کشف څخه هم ناتوانه اوناخبره دی دانسان خپل بدن ورته مجهول او نامعلوم دی.

## دالله تعالی دپېژندنې وسايل

### لومړی- عقل

لکه څرنگه چې دټولو اســلامي احکامو سرچينه وحی(قران کريم اونبوي ســنت)دي په همدې توگه داسلامي عقايدوبنسـټ هم په پورته دووشيانوايښودل شوی ؛مگرله دې سره سره سليم عقل دټولواسلامي عقايدو دصحت تائيداوملاترکوي له همدې کبله الله تعالی عقل ته دخطاب شرافت ورکړاوانسان يې دعقل په سيله په خپلو احکاموماموروگرځاوه.[٢]

دانســان دبـدن هريوغړی جلا دنـده لري دعقـل دنـده تـدبراوتفکردی ټول کـاينـات لـه اتوم نه واخله تر لويوکهکشـانونواوله حجري نه بياتر لويو اجسـامو پورې دعقل اوفکر ارت ډگرتشکيلوی قران عظيم الشان دانسان فکردکايناتوارتې نړۍ ته په کتلودغوراوفکرلورته رااړوي اوداسلام دښمنو ملحدوخواکونوپروړاندې دپيغمبرانو داســتـدلال يـادونـه کوي هغوی دالـلـه تـعالـی دتوحيـد پـه دلايلوکې کاينات وړاندې کول لکه لمر،سپوږمی اوســتوري. ابراهيم اوموسی عليهـم السلام دوخـت دطواغيتواوسرکښانو پروړاندې له همدغه اسلوب څخه کاراخيستی ؤ.

### دويم -وحی (اسماء اوصفات)

دالله تعالی په ســپېڅلو نومونوموږقران عظيم الشـان اونبوي ســنتوپوه کړي يو.الله اســم ذات دی اونوربې صفتي نومونه دي دغوته اسماء الحسنی هم وايي هغه چې په نبوي احاديثو ثابت دي اونهه نوي نومونو ته رسېږي (عن ابی هريرة رواية قال لله تسـعة وتسـعون اسما مئةالا واحدا لايحفظها احد الا دخل الجنةوهو

---

[١] سيد سابق(١٩٨٧م)العقايد الاسلامية ص ١٩دار الكتاب العربي بيروت لبنان
[٢] سيد سابق(١٩٨٧م)العقايد الاسلامية ص ٢٠دار الكتاب العربي بيروت لبنان

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


وتريحب الوتر) يعنې دالله تعالى نهه نوي نومو نه دي چاچې دغه نومونه حفظ اويادکړل هغه ارومروجنتي
دی اوهغه به جنت ته ولاړشي الله تعالى طاق دی اوطاق خوښوي
په دغه مبارک حديث کې د(وتر)څخه مراد توحيددی يعنې الله تعالى لا مثاله اوبې ساری ذات دی
چاچې دغه نومونه زده کړل اوخپل ذهن ته يې وسپارل او باور يې پرې وکړ الله به يې جنت ته داخل کړي.

**انسان دالهي قدرت بله ستره نښه**

دبشري سترو ستونزو دجملې څخه دانسان پېژندنه ده نه يوازې داچې روحاني برخه يې ناخرگنده ده بلکې دفيزيالوژيکي اړخ ډېرې برخې يې نا معلومې دي،په نړۍ کې چې څومره فکري مکتبونه دي دانسان دپرمختگ ،سوکالۍ،ازادۍ او سرلوړۍ دعوه کوي ايا کېدای شي درنځوردلړتياؤ دپېژندنې څخه پرته ورته يوه نسخه وليکو له همدې کبله ډېر فکري مکتبونه دانسان په هکله نيمگړې پوهه لري په نتيجه کې يې ټولې هلې ځلې برباد شوي دي.
په دغه برخه کې به موږ په اسلام او نورو فکري مکتبونوکې په پرتليزه توگه پردې بحث وکړو چې انسان څوک دی؟يوازې مادي اړخ لري اوکه روحاني هم ؟ايا انسان بې هدفه او دمادي اسانتياءو دلاسته راوړلو لپاره پيداشوی دی؟ ايا انسان ازاد او خپلواک دی اوکه ترجبر او زور لاندې قرار لري؟راتلونکی به يې څنگه وي،چېرته به درومي،مقام ،حقوق اومسؤليتونه يې کوم دي؟ اوداسې نور...[1]

**دانسان دلفظ معنى**

انسان دانس څخه دی دملک اوپېري پرخلاف دليدلووړاوياخوېي معنا مينه اومحبت دی ،دانسان فطرت ټولنيزاواجتماعي دی دحجرات په سورة کې دانساني پرگنوپرمختلفوډلودوېشلومقصديودبل سره پېژندگلوی ښودل شوی الله تعالى فرمايي

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ ﴿١٣﴾ ﴾ الحجرات ژباړه:ای خلکو! مونږ تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې نه پيدا کړئ او بيامو تاسې قومونه او قبيلې وگرځولئ ترڅوچې تاسې يوتر بله سره وپېژنئ په حقيقت کښې دالله په نزد له ډول الله په هر څه پوهيدونکی او باخبره دی . تاسې نه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوک دی چې په تاسې کښې ترټولو زيات پرهيزگار وي . په باوري
تعارف دانس اومحبت بنسټ دی اوهمدې ته تمدنې ژوندويل کېږي[2] اوياخودانسان لفظ له نسيان څخه اخيستل شوی اونسيان هېرولوته وايي دانسانانوپلارادم عليه السلام څخه هم دالله تعالى وعده هېره شوې وه انسان هم ځينې وخت خپل اصل هېروي چې په نتيجه کې ورڅخه لوی ځناورجوړشي په جناياتولاس پورې کوي الله تعالى فرمايي﴿ وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ نَسُواْ ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمۡ أَنفُسَهُمۡۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ﴿١٩﴾ ﴾

[1] - قرضاوي يوسف (١٣٧١هـ ش ) دالله جل جلاله دوجود اثبات ص ١٧ لجنة الدعوة الاسلامية
[2] - ابن منظورمحمد بن مکرم(ب ت) لسان العرب ج ١٩مکتبة الرسالة بيروت لبنان

(c) ketabton.com: The Digital Library


الحشر ژباړه: دهغوکسانو په څیرمه کیږئ چې الله یې هیرکړ :نوالله پر هغوی دهغوی خپل ځانونه هیرکړل همدغه خلک فاسقان دي .
اوسنی مادي وحشي تمدن زموږ ددغې ادعاء څرګنداوروښانه دلیل اودپورته ایات کریمه مصداق دی[1]

**انسان داسلامي نړۍ لید په رڼا کې**

- ښه صورت اوښه ښایسته مخ،عقل او فکر لري
- ښایسته اخلاق او ځیانده احساسات لري
- له شرافت او کرامت څخه برخمن دی
- سلیم منطق اوفصیحه ژبه لري
- دالله تعالی دبندګۍ لپاره پیداشوی دی
- باهدفه ژوند لري
- په تصادفي ډول نه دی رامینځته شوی
- وجود یې نیمایي ملکوتي او نیمایي مادي دی ماتریالستان یې یوازې مادي بولي
- فطرت یې له الله تعالی سره اشنا دی
- الله تعالی پوهه اودپوهې دتبادلې ځواک ورکړی
- ازاد اود اختیار څښتن دی
- دځمکې او اسمان مخلوقات ورته تابع او دده دخدمت لپاره دي
- دخیراوشردواړه ځواکونه لري
- دالهي وحی امین دی
- له ضعف نه یې وجود پیل شوی درشد اوکمال په لوري درومي
- دځمکې دخلافت او ابادولو لپاره ګومارل شوی
- دالله تعالی په ذکرسره ارام مومي
- دعلم او عمل ظرفیتونه یې نامحدود دي
- له فاني نړۍ نه په تللو ورته دتلپاتې نړۍ دروازه پرانستل کیږي
- په اخروي نړۍ کې یې ژوند تل ترتله دی
- دهغه یوکوچنی عمل هم له مینځه نه ځي ؛بلکې ترمرګه وروسته یې عوض ورکول کیږي
- دښه عمل نتیجه یې ښه اود بد عمل یې بده نتیجه ده
- که ایمان ته لاس رسی پیداکړي دځمکې خلیفه اوامین دی
- مګرددې پرعکس لوی ځناوراو وینه څښونکی ګرځي

[1] - ابن منظورمحمد بن مکرم(ب ت) لسان العرب ص ۸۰۷ مکتبة الرسالة بیروت لبنان

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


په اسماني مکتب کې يې مقام له ملايکو هم لوړدی

- په اسماني مکتب کې يې مقام له ملايکو هم لوړدی
- په مادي مکتبونوکې له ځناورواووحشي ژويو هم بتر حيثيت لري
- بشري حقونه ورته په برخه دي
- انسان کولی شي په مستقيمه توګه له خپل رب سره اړيکه ټينګه کړي اودخپلو ستونزواوحاجتونو دحل غوښتنه ورڅخه وکړي.

که چېرته ونه روزل شي اوترځارنې لاندې ونه نيول شي او دايمان په رڼا روښانه نه شي دتورې شپې په څېر تياره منجمد اوبې روحه اوله هېڅ انســاني فضــيلت څخه برخمن نه دی حريص،ځان پالونکی،جاهل به اوسي

**انسان دالحادي نړۍ ليدپه تياروکې**

لومړی انسان ځناوراوبيايه شادي اودميليونونوکلونووروسته په انسان بدل شوی انسان دلومړي ځل لپاره په تياره کې دنياته راغلی لومړی انسان وحشي-اوغيرمهذب ؤاووروسته يې بيا پرمختګ کړی دی.همدارنګه يې ماتر يالستي نظريه يوازې مادي پېژني اوله روح څخه انکارکوي اوهم يې دغرايزو اوجنسي تمايلاتوتر ســلطې لاندې مجبور بولي ،دغه نظريه مردوده اوپه هېڅ يوعلمي ارزښـــت تکيه نه لګوي دطب دعلم په پرمختګ سره په دغې نظريې پورې ټول ساينس پوهان اوعلمي شخصيتونه خاندي.

**په کايناتوکې يې ځانګړنې**

انســان دځمکنيو موجوداتوله جملې څخه نا اشــنا مخلوق دی بدني منظم ترکيب اوجوړښـــت يې سړی حيرانوي د بدن ځېرنه يې اوږد عمر په خپل برکې نيسي- دټول بدن په غړوکې يې تخصـص ديوشخص لپاره ناشونی کاردی البته دروحاني برخې پېژندنه اوتحليل يې دلوی سمندر حيثيت لري[1]

په کايناتوبې ځانګړنې په لاندې توګه دي

- مقام يې دخليفه ټول کاينات يې دخدمت لپاره پيداشوي دي
- دالله تعالی پروړاندې مکلف مخلوق دمکافاتواو مجازاتوورګنلی شي
- په دوه کټه ګوريومؤمنانواوکافرانوويشل کېږي
- مؤمنان مسؤليت لري چې کافران دالله تعالی واکمنی ته تسليم کړي
- کافران په درې ډوله دي ۱-اهل ذمه ۲-معاهدين ۳-محاربين
- دمسلمان ستره موخه دالله رضا او داخرت برې او دنيايي دوسيلې حيثيت لري او دکافر ستر هدف دنيا ګڼلی شي

[1] سعيد حوی (۱۳۹۰) هه ش (اسلام دفطرت دين ،ص ۲۱۸ داصلاح دارالترجمه کابل

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024


(c) ketabton.com: The Digital Library


## دژويو وېش

موږ کولی شو مکلف اوغير مخلوقات په لاندې برخو ووېشو

| لکه حيوانات | لکه انسان | لکه ملايک |
|---|---|---|
| غريزه يي | وظيفه يي + غريزه يي | وظيفه يي |

په بل عبارت په انسان کې دوه متضاد ميلانات شتون لري کېدای شي چې پرمخ ولاړشي اودانسانيت لوړو پړاوونو ته ورسېږي اويا سقوط وکړي او په حيوانيت کې غرق شي




دادانسان انتخاب دی کوم چې کوم يو خانته غوره کوي [1]

## دانسان اړتياوې

انسان درې ډوله ضرورتونه لري .فردي .اجتماعي .عالي

**۱-شخصي-اړتياوې**: مادي اومعنوي دي دانسان مادي ضرورتونه هغه دي چې په فردي توگه په مادي برخه کې ورته انسان اړتيا لري اوهغه په څلوروکټه گوريووېشل کېږي:

۱:مايعات ۲:جامدات ۳: گازات ۴:جنس

**۲-معنوي اړتياوې**: له خپل ځان سره اړيکه (لوړشخصيت درلودل) له خپل خالق سره اړيکه اوله خلکوسره اړيکه.

**۳-اجتماعي اړتياوې**: کورنی اړيکي ،مکتب ،مدرسه ،پوهنتون ،قانون اوعدالت ،امنيت ،سياست اواقتصاد.

**۴-عالي او عقلي اړتياوې**: له کوم ځايه راغلی يم؟چېرته به ځم؟دنياد څه په خاطر ده؟ پای به يې څه وي؟چا پيداکړی يم؟دغو پوښتنوته ايمان مثبت ځواب ورکوي اوبس ؛څکه چې دايمان په نتيجه کې انسان:د روحي ارامتيا څخه برخمن گرځي.دژوند هدف پېژني.دخپل مسير (اخرت)اودژونددسفرپه پېژندلوبريالی کېږي

[1] معيني جيم(ب ت) اشنايي بافرهنگ اسلامي ص۳۳ تهران ايران

PDF ترتيب كوونكى: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دانسان مسئولیتونه**

انسان ګڼ مسؤلیتونه لري موږ ورته په لا ندې توګه کتنه کوو

**۱-دالله تعالی پروړاندې**

هغه سپیڅلی ذات چې دانسان دنیک بختۍ ټول مادي اومعنوي وسایل یې ورته برابرکړي دي .دغه مسؤلیت دوو برخوته وېشل کېږي :

- دالله تعالی علمي اواګاهانه پېژندنه .
- دهغه جل جلاله بندګي،د اوامرواطاعت اوله نواهیوڅخه یې ځان ساتل .

**۲-دخپل ځان پروړاندې**

- جسمي مسؤلیتونه : دجسم پاکه تغذیه ، پاک ساتل ، له رنځونو وقایه اومعالجه ده .
- روحاني اومعنوي مسـؤلیـت : دغـه ډېره درنـه ذمه واري ده .که چېرته په دې کې نیمګړتیا رامنځته

شي روح پـه رنځ اخته کېږي اوانســان پـه ځنـاوربـدلون مومي. پـه ټولنـه کې دظـالمـانو اوجنایت کارانوشتون دانسان دروحانیت دمړینې له امله دی

**۳-دټولنې پر وړانـدې:** انســان ټولنیزمخلوق دی ،پـه یوازې توګه ژوند نه شي ترسره کولی کورنۍ دټولنې لومړی یونټ تشــکیلوي .دکورنۍ دشــتون نه پرته به دانســان وجود ممکن نه وي اوکه وي نوهغه به دځناوروپه څېروي. ټولنیزمسؤلیتونه په دوو برخوووېشل شوي دي

- کورنۍ پورې اړوند : لکه دموراوپلار ،مېرمن ،اولاداودنوروخپلوانوپروړاندې
- دټولنې دنوروانسانانواودنظام پروړاندې:چې په بشپړ تفصیل سره زموږ دیني لارښوونې ورڅخه ډکې دي .پردې اساس که چېرې موږ دالهي ارزښـتناکه مادي اومعنوي نعمتونو درناوی ونه کړو ژوند به مو پوچ اوبې ارزښته وي اوهېڅکله به دانسانیت د سترمقام درشل ته ونه رسېږو

**دانسان دتخلیق موخه**

دانسـان جوړښـت اوبنه دالله تعالی دقدرت دسترونښانودجملې څخه ده هېڅکله نه شي کېدای چې دغه ســترمخلوق دی بې هدفه اوعبث پیداشـــوي اوسي الله تعالی دانســـان تخلیق مقصـــدپه خپل ســـپیڅلي پیغام کې په ګوته کړی دی هلته چې فرمایي ﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ الذاریات ژباړه:ما پېریان او انسانان له دې پرته د بل څه کار لپاره ندي پیدا کړي چې هغوی زما بندګي وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


په اسلام کې دبنده ګۍ حس يوازې دعبادت خانې په ګوټ کې ناسته نه ؛بلکې په ټول ژوندکې له خپلې خپل سرۍ نه لاس اخيستل اوپه بشپړه توګه خپل ځان الله جل جلاله ته سپارل دي دالهي لارښوونوپه رڼاکې دټول ژوندتنظيمولوته عبادت ويل کېږي.[۱]

**دنيا دوسيلې په حيث:** هرکله چې دنياداخرت اودالله تعالى درضاءدحصول ذريعه جوړه شي ؛نوبهترين شي دی دنيا اواخرت کې بشريت ته سوکالي اوکاميابي راوړي؛ مګر کله چې هدف جوړه شي فتنه ورته ويل شوېده

**دنيا دهدف په توګه:** داسلامي شريعت په اصطلاح کې دنيا اندک ،ټيټ اوپست ته ويل کېږي هرکله چې دنيادهدف په توګه غوره شي انسان له ذلت او بدبختۍ سره مخامخ کېږي پرهمدغه اساس قراني څرګندو لارښوونوددنيادمحبت څخه منعه فرمايلې ده[۲]

**دهدف په توګه دانتخاب پايلې:** دزرګونوانسانانوقتل،دښارونو ورانول دجګړواوربلول دانسانانواوملتونوخرڅول،چوراوچپاول دمخدراتوانتشارداخلاقي فساداودبلابلورنځونوخپرېدا ددنيادمينې اومحبت له امله دي

**دانسانانوډولونه:** قران عظيم الشان يې مورته څرګندوي چې هرکله انسان درشداوبلوغ پړاوته ورسېږي په خپل اختياراوارادې سره په دووډلووېشل کېږي يوه ګمراه اوبل په سمه لارروان اويا په بل عبارت مؤمن اوکافرقران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي:﴿ إِنَّا هَدَيْنَٰهُ ٱلسَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ۝٣﴾ الإنسان ژباړه:مونږهغه ته لاره وښودله ،يابه شکرکوونکي شي اويا کفرکوونکی.[۳]

---

۱- جوهري(ب ت) مختار الصحاح ص ۱۵ بيروت لبنان

۲- جريشه على(ب ت)حرمات لاحقوق دمام المملكة العربية السعودية

۳- عثمان رأفت (۱۹۹۱م) الحقوق والواجبات فى العلاقات الدولية فى الاسلام ص ۱۰۲ دارالضياء القاهره مصر

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(...)com: The Digital Library



## دريم څپرکی

## طبيعت اوکاينات

**پيليزه**
کاينات اوفضايي ساکنه.بې دشلمې پېړۍ ترپيله ساينس پوهان دنيوټن اودکارت په نظرياتو متکي وو. نهايته اوازلي ګڼله.باوريې درلودچې دمادې څپرې ذرې له ازله په فضاکې دتکامل په حال کې دي .دهمدغو ناسمونظرياتوپه نتيجه کې ماترياليستانو ماده پرشعورمقدمه وګڼله؛مګردکايناتودقيق نظام ماده پال وګړي دېته اړکړي دي،چې دکايناتوپه سترځواک اعتراف وکړي.دوی دغه سترځواک دطبيعت په نوم يادوي.کله چې له دوی څخه دکايناتو داسراروپه هکله پوښتنه وشي؛نواريان ولاړوي اووايي طبيعت پيداکړي يودکارل مارکس اوانګلز په څېراشخاص چې ساينس پوهان هم نه ؤ،دغه نظريات يې دځپلې مدعااثبات لپاره په کارول اوباوري ول،چې دغه کاينات هېڅ خالق نه لري ماده پخپله ازلي اوابدي ده.دکايناتوشتون يې تصادفي باله اوويل به يې،چې موږ طبيعت پيداکړي يو،له هېڅ نه پيدايو،ژوندموبې هدفه اودهېڅ په لوري درومو..[1]

### لومړی بحث

### دطبيعت حقيقت

اوس پوښتنه داده چې ښه نوطبيعت څه شی دی؟طبيعت همدغه خومحسوسه نړۍ ده؛لکه لمر،سپوږمی،ستوري،ونې کانې،بوټې،هواګانې،حيوانات اوبه،سمندرونه اوداسې نور...ماده پال وګړي پردې باوري دي چې انسان دکېمياوي تعاملاتوپه نتيجه کې منځته راغلی دی اودغه تعاملات په تصادفي ډول پخپله سرته رسېدلي دي.[2]

**دطبيعت اوانسان مقايسه**

طبيعت خوله محسوسوکايناتوڅخه عبارت دی،دماترياليستانومعبودطبيعت نه عقل ،نه اراده،نه پوهه اونه علم لري انسان عقل اوپوهه لري؛.انسان اراده لري؛طبيعت اراده نه لري.انسان غوږونه لري؛طبيعت غوږونه نه لري .انسان سترګې لري؛طبيعت سترګې نه لري انسان احساسات لري؛مګرطبيعت احساس نه لري[3]

**طبيعت دانسان په خدمت کې**

ساينس پوهان طبيعت دڅلوروشيانو څخه جوړبولي:اوبه ، هوا، خاوره،چې نباتات ورڅخه راتوکېږي.اور(چې انسان يې دتودوخې لپاره په کارراولي)الله تعالی طبيعت انسان ته تابع ګرځولی دی حقيقت دادی چې دملحدينواوماده پالو زړونه ړانده دي.اياعقل ته داخبره دمنلو وړده چې کايناتونه دې

[illegible] ... تهران ايران
[illegible] ٢٠٠٧م [illegible] ٣٩٣ المکتبة العصرية صيدابيروت لبنان
[illegible] ٢٠٠٧م [illegible] ٢٩٢ المکتبة العصرية صيدابيروت لبنان

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړونداوکوڼ طبیعت شتون ورکړي؟هېڅ یوعاقل انسان ته دغسې بې ځایه له خرافاتو ډکې افسانې دقبول وړنه دي[1]

پرهمدې اساس ماتریالستان له جاهلوبت پالوبتردي؛ځکه چې دوی دمادې هرې ذرې ته دالوهیت مقام ورکوي.لمر،سپوږمی،ستورې،ځمکه،معدنونه،نباتات اوحیوانات دانسان دګټې لپاره پیداکړی شوي دي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمایي ﴿ أَلَمْ تَرَوْا۟ أَنَّ ٱللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُۥ ظَٰهِرَةً وَبَاطِنَةً ۗ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُجَٰدِلُ فِى ٱللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَلَا هُدًى وَلَا كِتَٰبٍ مُّنِيرٍ ﴿٢٠﴾ لقمان: ژباړه:ایا تاسې نه وینئ چې الله تعالی داسمانونواوځمکې شیان ستاسې له پاره مسخرکړي دي اوخپل ښکاره اوپټ نعمتونه یې پرتاسې تمام کړي دي؟خوحال دادی چې له انسانانوڅخه ځینې خلک دي چې دالله په باب شخړې کوي بې له دې چط له هغوی سره څه علم وي.یا هدایت یاکوم روښنایي ښودونکی کتاب.

### درامنځته کېدو لاملونه یې

ددغه ناسم فکردرامنځته کېدوعوامل اواسباب چې په اروپایي ټولنه کې یې دالحاد اولادینه مسلک په خپرېداکې مرسته وکړه مهم یې په لاندې توګه دي :

- دکلیسادديني رهبرانوظلم اوددين تحريف اوبدلون.
- په غیرمعقول شکل خپل فکرپه خلکوتحمیلول اوورته دیني رنګ ورکول .
- خلکوته ګناهونه بخښل اوورته دجنت ټکسونه لیکل.
- په مسیحیت کې بت پالنه اوشرک رانوتل
- دکلیسااوعصري پوهانوترمنځ ټکر
- شهوت پالنه اوله دیني قیودوڅخه پرته ژوندسره دخلکومینه[2]

### نړۍ دالحادي تصورپه تیاروکې

الحادي نړۍ لیدماده پرستانه تصوردی.چې دالله جل جلاله وجود نفی کوي اوژوندبې هدفه ګڼي .ژوندتردنیا پورې محدودګڼي اوانسان غیرمسؤل بولي.دغه طرزفکردنړۍ وجوددتصادف پربنسټ ګڼي لنډه داچې دماتریالیزم فلسفه داده.چې له هېڅ نه پیداېم ژوندمې پوچ اوبې هدفه اودهېڅ په لوري ځم؛ نوژوند=هېچ=پوچ= هېڅ

**کاینات اونوی ساینس:** په شلمه پېړۍ کې بشریت دیوه سترعلمي بدلون شاهدؤدځمکې،فضاء اوانسان په اړه ژورې څېړنې وشوې،چې تردې وړاندې یې چاتصورهم نه شوکولی.دهغودجملې څخه یوه دبیګ بینک( BigBAng په نامه یاده شوه.بله دعالم دسریع اومسلسل پراخېدوپه اړه اودریېمه یې دبلیک هول په

---

[1] همدغه ماخذ،ص ۹۵

[2] الجزایري جابر ابوبکر ( ۲۰۰۱م ) عقیدة المؤمن ، ص۱۳.دارالسلام للطباعة للنشر والتوزیع القاهره مصر

Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

ketabton.com: The Digital Library



نوم يادېږي داسې لوی ستوري ومونډل شول چې دجاذبې قوه يې دومره زياته وه چې نورورڅخه نشي-وتلی دلومړی نظريې په باب اوسني ساينس پوهان وايي چې دغه عالم دستري چاودنې په ترځ کې راپيداشوی،اسمانونه اوځمکه سره نښتي اويوه وړه کتله وه،چې لويه چاودنه وشوه بيا وروسته عناصراومرکبات پيداشوه دغه نظريه پرتخمينونو ولاړه نه ده ددې لپاره په (۲۰۰۱م) کال داروپادپرمحققين راغونډشول اوپه فرانسه کې يې دهمدغې نظريې پربنسټ ديوعملي تجربې کارپيل کړپه يوه تونل کې چې نيږدې دېرش کيلومتره ؤداسې نسبي شرايط برابرکړل چې دبيګ بينګ( BigBAng ) هغې چاودنې ته ورته چاودنه ترسره کړي دماده پالو اوکمونستانونظرياتواوافکاروته يې په رسمي توګه دپای ټکی کېښود[۱]

## دسترانفجاردنظريې تاريخچه

دسترانفجاردنظريې دکشف افتخارساينس پوهان ښاغلي ا ډوان هبل امريکايي ساينس پوه ته بخښي هغه په خپل مجهزتلسکوب سره دکايناتوانبساط په ثبوت ورساوه؛البته زيات بريالي مشاهدات په (۱۹۹۲م) کال دناسادستلايټ په وسيله امريکايي ساينس پوهانو ديوګروپ په وسيله سرته ورسول.ددغومشاهداتونه وروسته ټولوساينس پوهانو په بشپړاتفاق سره دغه نظريه ومنله اونړی والورسنيوراواخيسته[۲]

## کاينات اوقران کريم

قران عظيم الشان دعالم دپيدايښت په اړه فرمايي ﴿ أَوَلَمْ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ ٱلْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ ﴿٣٠﴾ ﴾ الأنبياء

ژباړه:اياهغه کسان چې(دپيغمبردخبرې له منلونه يې)انکارکړی دی؛غورنه کوي چې دغه ټول اسمانونه اوځمکه يوله بل سره نښتي وو،بيامونږدوی دواړه بيل کړل.اوله اوبو نه مو هرژوندی شی پيداکړواياهغوی(زمونږدغه خلاقيت)نه مني؟

دسترانفجاردنظريې کشف اوپورتني ايات داسلامي اوغيراسلامي ساينس پوهانوپام ځان ته راواړولواوسني محققين اوساينس پوهان دکايناتوپه هکله هماغه څه وايي چې څوارلس پيړی مخکې قران عظيم الشان ويلي دي له سترانفجارنه وروسته ددرې دقيقو په جريان کې هايدروجن اوهيليم دعناصرولويه برخه جوړه کړه .داځکه چې نن ټول ستوري اولمردهمدغودووغازونودهستوي تعاملاتو په نتيجه کې خلېږي؛البته دسترانفجارنه لږوروسته بشپړه فضا تشکيل شوه هغه مهال کهکشانونه،ستوري،سيارې،سپوږمکی اوهېڅ يوه سماوي کتله نه وه ټول عناصرچې زيات مقدارېې هايدروجن دګازي کتلو په بڼه ؤقران عظيم الشان همدغه مطلب ته داشارې په ترځ کې فرمايي ﴿ ثُمَّ ٱسْتَوَىٰٓ إِلَى ٱلسَّمَآءِ وَهِىَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ٱئْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ ﴿١١﴾ ﴾ فصلت ژباړه:بيا هغه

[illegible] (۱۳۹۰هـ ش) [illegible] او دوران علمی اعجاز ص ۱۱ دميثاق ايثار خبرندويه اداره
[illegible] (۲۰۰۱م) [illegible] ص ۱۰ دارالسلام للطباعة للنشر والتوزيع القاهره مصر

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمانو خواته متوجه شوچې په هغه وخت کې محضې لوګی ؤهغه اسمان او ځمکې ته وويل ( منځته شئ،که تاسې وغواړئ اوکه ونه غواړئ دواړو وويل موږرامنځ ته شودفرمان منونکو په توګه دغي نظريې ځرګندونه چې کاينات ساکن نه ؛بلکې دپراختياپه حال کې دي يو لوی انقلاب رامنځته رهمدغي فلسفي نظريې دقران عظيم الشان سره مطا بقت درلود هلته چې فرمايي ﴿ وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَـٰهَا بِأَيۡيْدٍ إِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴾الذاريات :ژباړه :اواسمان موږ په خپل قدرت سره جوړ کړی دی او موږ ددې پراخه کوونکي و. امريکايي نامتوساينس پوه اډوان هبل دخپل مجهزتلسکوپ په وسيله خپل معلومات اعلان کړل اوهغه اچې کاينات دپراختياپه حال کې دي هغه يوه شپه چې اسمان صاف ؤپه خپل مجهزتلسکوپ سره دکهکشانونونداره وکړه ګوري چې کهکشانونه يوله بل نه فاصله نيسي همدغه چټک انبساط دفراردقوې په حيث دکايناتو دلغزش مخه نيولې ده،که نه تراوسه به د کايناتوجاذبې قوې اوهستوي قوې په کې سقوط کړی وای قران عظيم الشان فرمايي﴿ وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلۡمِيزَانَ ۝٧﴾ الرحمن: ژباړه :اسمان يې اوچت کړاوتله يې کېښودله.[1]

## دتصادف دنظريې درد دلايل

دلته موږ دکائناتودقيق تنظيم په باره کې چې دتصادف دنظريې له منځه وړونکي دي يوڅو مثالونه وړاندې کوو:

۱:دکايناتومنظم نظام دتصادف نظريه ردوي هېڅکله کېدای نشي– چې په تصادفي ډول په کايناتوکې ددومره کېمياوي عناصرودجملې څخه دې داوبودجوړښت لپاره دوه اتومه هايدروجن اويواتوم اکسيجن انتخاب اوپخپله دې سره يوځای شي .

۲:پروټين دژونديو حجراتواساسي مرکب اوله پنځوعناصرويې جوړښت موندلی دی،کاربن،هايدروجن،نايتروجن،اکسيجن اوګوګړ.پروټين کېمياوي توکی دی چې ژوندپه کې شتون نه لري ؛مګردغه دغيبي ذات دتدبير نتيجه ده چې له مړو موادوڅخه يې ژوندی موجودجوړکړ،چې عقل ورته اريانېږي[2]

۳:دهرنبات اوحيوان جلاجنيتکي جوړښت په علمي توګه دتصادف نظريه ردوي

۴ :پوستکی د بدن دفاعي ځواک او معده په نړۍ کې ستره کارخانه او مغزستر ټېليفوني سنترال دی،چې سل زره مليونه عصبي تارونه ورته راغلي دي. داکارناڅاپه اودتصادف پر اساس نه شي کېدای[3]

۵:که دلمرشعاع داوس په نسبت دنيمايي په اندازه وای ؛نودځمکې هرڅه به کنګل اوکه زياتې وای دځمکې هرڅه به ايره شوي وای.

---

[1] - فيض خليل الله(ب ت) ساينس جديد وقران ازخلقت تاعدم کاينات ص ۳۰ مؤسسه انتشارات خاور
[2] - عابدنجيب الله (۱۹۹۴م)کاينات له تحت الثرى نه تر عرشه ص ۳۰ددار الکتب چاپخای پشاور
[3] - معيني جيم(ب ت) اشنايي بافرهنګ اسلامي ص۸۶ تهران ايران

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

ketabton.com: The Digital Library

سره به ټول ځنګلونو باندې د ۲۱ پرخای ۵۰ وای نو په یوې برېښنايي جټکې سره به ټول ځنګلونه
۶:که په هواکې داکسیجن سلنه د ۲۱ پرخای ۵۰ وای نو په یوې برېښنایي جټکې سره به ټول ځنګلونه سوځېدل.
۷:که اوبه تبخیرکېدای اوفرارېږي کولی اوله هوانه سپکې وای ؛ژوندبه له سره شتون نه درلود[1]
۸:که چېرې داتوم الکترونونه له پروتونونو سره پیوست وای ؛ نو دځمکې کره به دیوې هګۍ په اندازه وای.
۹:که عناصرویوتربله سره پیوستون نه کولی ؛نونه به خاوره وه ،نه به اوبه وې نه ونې اوبوټي نه حیوانات
۱۰.که دځمکې محوري حرکت په شپه اوورځ کې څلېرویشت ساعته نه یازیات اویاکم وای ژوندبه ممکن نه ؤ.
۱۱:که دفضاء لوړوالی له اوسنۍ اندازې څخه ټیټ وای ؛نودملیونونو په شمېرکې هغه شهابونه چې په خارجي هواکې له منځه ځي ،یوه برخه به یې دځمکې له کرې سره ټکرکېدای اودسوځېدوړځیزونه به یې لمبه کول.
۱۲:که لمرځپلې نیمایي هغه شعاع چې لرې یې ،له لاسه ورکړې موږبه ټول له یخه کنګل (منجمد) شو
۱۳:که شپه لس ځلې له ځپلې اوسنۍاندازې نه اوږده وای ؛نوداوړې سره لمربه دځمکې دمخ ټول نباتات سوځول اودشپې له خوابه ټول نباتات کنګل ( منجمد ) کېدل.
۱۴:که دسمندرونواوبه خوږې وای ،ټوله نړۍبه بدبویي په سراخیستې وه اودځمکې پرمخ به ژوندممکن نه ؤ ؛څکه همدغه ددریابونومالګه ده چې داوبودخرابېدواوبدبویې مخه نیسي ـ اوکه کلورین له سودیم سره نه یوځای کېدلی مالګه به منځ ته نه وه راغلې اوکه مالګه نه وای ژوندبه نه ؤ.
۱۵:که ځمکه دعطارددکرې غوندې وای ،چې یوازې یوطرف یې لمرته دی ؛نو هېڅا ژوندنه شوکولی.
۱۶:که چیرته ځمکه دلمرپه اندازه لویه وای ،دجاذبې قوه (۱۵۰) برابره لوړیده په دغه صورت کې بیاپه ځمکه کې په هېڅ صورت دژوندشرایط نه برابرېدل.
۱۷:که چېرې په اوبوکې اکسیجن نه وای ټول بحري حیوانات به تس نس شوي وای[3]
۱۸:که چېرې نباتاتوکاربن ډای اکسایدنه اخستلی اوپه اکسیجن یې نه بدلولی ؛نوټوله فضابه ککړه شوې وای

## دویم بحث

### دایمان ارکان


رکن دیوشي قوي اومضبوط لوري ته ویل کېږي چې دیوشي وجودورپو رې مربوط وي ،چې په نشت سره یې هغه شی نشت وګڼل شي .اسلامي عقایدڅلوروبرخوته شاملېږي چې له

........ (۱۹۸۲م) کیف ندعوا الی الاسلام ص ۱۱۷ مؤسسة الرسالة بیروت لبنان
........ (۱۹۸۱م) العقائد الاسلامیة ص ۲۲ دار الکتاب العربی بیروت لبنان
........ (۱۹۹۰م) مبسط العقائد. الاتحاد العالمي للمنظمات الطلابیة ص ۲۳ .دارالقران الکریم للعنایة ونشره

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


الهیاتو،نبواتو،روحانیاتواوسمعیاتوڅخه عبارت دي دالهیاتوپه برخه کې دالله تعالی دذات،صفاتو،نومونواوافعالواودنبواتوپه برخه کې دپیغمبرانو،ددوی له صفاتو،پاکوالي،اړتیاوو،دندو،کرامت،معجزواواسماني کتابونوڅخه یادونه کېږي اودروحانیاتوپه برخه کې غیرمادي مخلوقات؛ لکه ملایکې،پېریان اوروح اودسمعیاتوپه برخه کې د برزخ،اخروي ژوند،دقبرحالاتو،دقیامت علامو،بیا ځلي ژوند،حساب،سزا،جنت او دوزخ په هکله بحث کېږي دایمان ارکان په لاندې شکل کې ښودل کېږي:




ایمان ډېرلوی نعمت دی دالله تعالی پروړاندې عزتمندانسان مؤمن مسلمان دی دخلکودرجات اومراتب هم دایمان دقوت اوکمزورتیاپربنسټ دي همدارنګه دایمان په عظمت اولوړتیاهغه څوک پوهېږي چې داخرت په ورځ ایمان ولري ؛نوپه همدې اساس یوه ذره ایمان ددنیااومافیهاڅخه غوره دی داځکه چې یوڅوک دذرې په اندازه ایمان څخه برخمن وي که هرڅومره ګناهونه یې کړي وي دتل لپاره به په دوزخ کې ونه اوسي ؛نوپرهمدې اساس یوڅوک چې دایمان اومؤمن په فضلیت پوه شي هڅه به یې داوي چې دایمان په زده کړه اوپه نېک عمل اوپه حق دصبراوتوصیې اودایمان له ښښتنانوسره په مذاکرې اوناستې پاستې لاس پورې کړي عبدالله بن رواحه رضی الله عنه به چې درسول الله مبارک داصحابوکراموسره مخامخ شو،ورته ویل به یې ( تعال نؤمن ساعة ) یعني راشه یوڅه وخت دایمان مذاکره وکړو

دایمان مثال دتخم دی چې تخم نه وي دفصل شتون له امکانه وتلې خبره ده دایمان نه پرته اسلام شتون نه پیداکوي چې تخم هرڅومره اصیل وي بوټي به په هماغه اندازه پیاوړي اوښېرازه وي همدارنګه دایمان مثال دتاداوړدی اوس مهال په تعمیراتوکې دتاداؤپوخوالي ته ستراهمیت ورکول کېږي نوموږهم دخپل ملت ایماني تربیې اوجوړونې ته بایدزیاته پاملرنه وکړو.

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دايمان پېژندنه

**لغوي معنی** ايمان دمصدر صيغه اود(ا،م،ن)له توروڅخه جوړشوی اودوه مفهومه لري ۱-دزړه باوراوتصديق ۲-دامن اوحفاظت په معنی، ايمان دبنده کړه وړه دي پردې اساس هرچاچې په مؤمن به شيا تو( په الله جل جلا له ، ملايکو ، اسـماني کتا بونو ، پيغمبرانو ، داخرت پـه ورځ او دخيراو شر په تقد ير)ايمان راؤړځپل ځان يې دکفر ،بې دينی اودالله تعالی دغوسې اوغضب څخه په امن وګرځاؤهمدارنګه يې خپله وينه مال اوځان هم محفوظ وګرزول له همدې امله مؤمنان يودبل په حفاظت اوساتنه کې دي ،مؤمن دالله تعالی صفتي نوم هم دی معنـايې دادی چې له خپلوبندګانو سره خپلې ژمنی رينبـتينی ګرزوي اوپه اخرت کې له عذابه نجات ورپه برخه کوي ،په توحيد او رسـالت باندې داقراراو تصديق نوم ايمان دی په همدې سره سړی داسلام په دايره کې داخلېږي.

**اصطلاحي پېژندنه يې**

ايمان داچې يوشـخص اقرار او تصـديق ولري چې دلته يو لوی ذات شـته چې له هر عيب نه سـپېڅلی اودټولوکايناتوخالق مالک حاکم باداراوسـاتندوی دی ،اهل سـنت والجماعت دايمان په تعريف کې ګڼ اراء او نظريات لري چې مو ږ ورته په لا ندې توګه کتنه کوو

**لو مړی ډله محدثين اوجمهورفقهاء**

لکـه امام مالک ، شـافعي ، احمد بن حنبل ، امام بخاري داؤد ظا هري او امام اوزاعي يې له درې شـيانو مرکب بو لي

۱:دشهادت دکلمې اقراراواعلان چې داپه حقيقت کې داسلامی شريعت دمنلو اوعمل اظهاردی په دې سره دغه شـخص داسلامي ټولنې غړی ګرزي او ټول حقوق ور په برخه کيږي يوچابه چې په اسلام کې ځان شاملولو ،نورسول الله صلی الله عليه وسلم به دشهادت دکلمې داعلان امرورته کاوه

۲:دزړه تصديق:کچيرې يوڅوک دشهادت په کلمه اقراروکړي ،مګر په زړه کې يې تصديق نه وي اعتقادی منا فق ګڼل کيږي دتل لپاره به په دوزخ کې وي

۳:عمل:کامل ايمان په عمل سره تحقق مومی ايمان قوي کيږي په طاعت سره اوکمزوری کيږي په معصيت سره مثال يې دونې ده که چيرې ونه يوازې ريښـې ولري نه ښـاخونه نه يې پاڼې اونه يې ميوه وي په دغه صورت کې به ريښې وچې اوله مينځه ولاړې شي

**دويمه ډله : حنفي فقهاء**

دحنفي فقها ؤ په نېزد ايمان عبارت دی له: ۱:د زړه تصـديق ۲-په ژبه اقرار، عمل دايمان اسـاس نه ،بلکې فرعه او شاخ يې تشکيلوي

**په ايمان کې دخلکو يوپربل فضيلت**

خلک په ايمان کې يو پربل ددوو وجوهاتوله امله فضيلت لري

۱- دعلم له حيثه:دهرچاچې علم زيات وي په هماغه اندول به يې ايمان مضبوط او پياوړی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-دعمل له پلوه:دهرچاچې عمل غوره وي ایمان به یې هم مضبوط اوقوي وي

**دایمان په تعریف کې دجلاجلاوېناؤحقیقت**

شیخ الاسلام امام تقی الدین ابن تیمیه رحمة الله علیه داهل السنة والجماعة خپل مینځی اختلاف په ځینې امورکې لفظی بولې نه حقیقي ددوی ترمینځ دنظریاتوبېلتون په حقیقت کې دایمان په نوعیت پو رې تړلې دی چې یویې کامل او بل یې نیمګړی او یا په بل عبارت هغه ایمان چې سړي ته داورله ننوتلوځخه نجات ورکوي او بل هغه چې سړي ته په اورکې دتل ترتله پا تې کیدوځخه خلاصـون ورپه برخه کوي احنا فوله هغه ایمان څخه بحث کړی دی چې یو شـخص له تل تر تله په اورکې داوسېدو څخه ژغوري څکه چې ددوی په وخت کې معتزله ګمراه ډله اوسېد له هغوی دګناه مرتکب کافر باله ددوی پر خلا ف یې عمل له ایمان څخه جلا وګڼه ،هم دارازدمحد ثینو په وخت کې مر جئه ګمراه ډله او سـېد له دوی ایمان یوازې تصـدیق باله او عمل یې مهم نه ګڼلوددوی پر خلا ف یې له کامل ایمان څخه بحث وکړاودایې څرګنده کړه چې په تش ایمان نجات نه ترلاسه کیږ ي ؛بلکې عمل ته هم ضرورت شته. دایمان په رڼا کې عمل کول سړ ی اورته له ننوتلو څخه ژغوري .

**داسلام لغوی معنی**

په لغت کې اسـلام ډېرې معنی ګانې لري دهغه له جملې څخه : غاړه ایښـودل . انقیاد. تسـلیمی ، په امنیت اوسلامتی کې داخلېدل.

**په شرعی اصطلاح کې**

داسـلام معنی دالله تعالی اوفرمان بر داري ده خپل ځان الله تعالی ته سـپارل اسـلام دی په همدې توګه له خپلې خپلسرۍ اوخپلواکی څخه لا س اخیستـل دالله تعالی بادشاهی اوحکمرانی ته دسرټیټو لو اوخپلې ټولې معاملې اوچارې الهي لاربښـوونو ته دسپارلو معنی اسـلام دی الهي لاربښـوونو ته دځان سپارلو اوځان حواله کولو مطلب دادی الله تعالی جل جلاله چې دخپل کتاب قران مجید اوخپل وروسـتي پیغمبر محمد صلی الله علیه وسـلم په وسیله چې کومې لاربښوونې رااستولې هغه له ولې ؟اوځنګه ؟پرته منل اوډژوند په ټولوچارو اومعا ملاتوکې یوازې دقران عظیم الشـان اونبو ي سـنتو پیروی اواطاعـت کول دي له همدې امله خپل ژوند الله تعالی ته سـپارل اسـلام دی ؛مګرددې پرعکس دخپل پلار نیکه درسم اورواج. دخپل عقل اویادکفر ي نړۍ وال بهیر سره په ځان برابرولو په دې توګه چې په اقتصـادي برخه کې سودی تګلاره خپله شي پـه اخلاقي برخـه کې بربنډ تیا . موسـیقي اوبې حیایي ترویج اوداسـلام جنایي قانون اوحدو دمعطل اواسـلام یوازې دجومات په محدوده کې محصـورپا تې شي په دغه ټولو صـورتو نو کې دغه کار اسلام نه ؛بلکې بې دیني ګڼلی کېږي .

**داسلام حقیقت**

له اتوم نه نیولې ترلویو کهکشـانونو پورې ،په لمر سـپوږمی ځمکې ، سـتورو حیواناتو . نباتاتو مایعاتو اوپه ټولو شـیانو دالله تعالی دتکوینې نظام واکمنې ده دبته الهي سـنن وایي چې سـاینس یې په فورمولونو سره تشریح کوي لکه دځمکې حرکت . دبارانونو اوربـښت دعناصرو یو تربله ترکیب دانسـان په بدن کې دزړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تکویني نظام دی ټول تکویني نظام دی په کولمو ، مغز ، ځیګر ، ګوردو اوبدن دنورو اندامونودندي اوخوځښتونه دغه ټول تکویني نظام دی په تکویني لحاظ ټول کاینات دالهي امر تابع ،منقا د اومسلمان دي قران عظیم الشان دغه مطلب داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾ ﴾ آل عمران ژباړه :په داسې حال کې چې د اسمانونو او ځمکې ټول شيان خوښ وي که ناخوښ يوازې د الله تعالی د فرمان تابع ( مسلمانان ) دي او د هماغه جل جلاله لورې ته د ټولوورګرځېدل دي.

دانسان غیرارادي برخه لکه دزړه ، کولمو ، ځیګراوکولموحرکت دالله تعالی دتکویني نظام ترپوښښ لاندې ده په دې کې معمولي تغیردژوند دپای ته رسېدو لامل ګرزي ؛ مګرارادي برخه يې اوهغه داچې څرنګه فکر اوعقیده ولري ، له خلکو سره څرنګه چلند وکړي ، دژوند اقتصادي ، سیاسي ، اخلاقي اجتماعي له مور ، پلار ، مېرمن ، اولا دخپلوانو اونوروخلکو سره اړیکې جګړه اوسوله اودنوروملتو نو سره اړیکي اوروابط څنګه تنظیم کړي ؟دژوند ددغې بر خې دتنظیم لپاره الله تعالی پیغمبر ان رالیږ لي اوخپل اسماني پیغامونه يې پرې نازل کړي دي په دغه لړکې دپیغمبرانو سردار خاتم النبین محمد صلی الله علیه وسلم يې ترقیامته په نړۍ وال رسالت سره ماموروګرزاوه اوخپل وروستی اسماني پیغام قران عظیم الشان يې پرې نازل کړ ترڅو په اختیاري ډول ملتونه رهبری کړي اوديونړۍ وال تمدن داساس ډېره کښېږ دي ،نوپه دنيااواخرت کې به بریالی وګرزي؛مګر ددې پرعکس به له خسران اوزیان سره مخامخ شي چې دېته تشریعي اسلام وايي .

## دقانوني اوحقیقي اسلام ترمنځ توپیر

### قانوني اسلام

که چېر ته يوڅوک په ژبه کلمه ووايي او په مؤمن به شیانو(په الله تعالی ،ملایکو،اسماني کتابونو،پیغمرانو ،اخرت اوتقدیر ) اقراروکړي له دغه شخص سره به دمسلمان تعامل کېږي اخلاقي اوټولنيز حقوق به ورپه برخه وي، ازدواجي تعلق دمیراث وېش اوداسې نور تمدني روابط يې پا ينښت پیدا کوي دزړه دتصدیق په معاملې الله تعالی ښه پوهېږي ؛البته په اخرت کې دنجات دارومدار په اقرار اودزړه په تصدیق دی په دنیا کې په قانوني لحاظ دژبې اقرار کافي دی ؛مګرپه حقیقي اسلام کې دژبې اقرار اوتصدیق دواړه لازمي ګڼل کېږي په اخرت کې دانسان دنجات دارومدار په اقرار اوتصدیق دواړو دی که اقرار وي اوتصدیق نه وي دغه دنفاق ایمان دی په اخرت کې پرې هېڅ فایده نه مرتب کېږي .په دنیا کې پټ خلکو ته دوکه ورکولی شي : مګردالله تعالی په وړاند ې دغسې ایمان هېڅ ارزښت نه لري.

### داسلام اصلي معيا ر

اسلامي معیار اوتله قران عظیم الشان موږ ته راښو دلې ده هلته چې فرمايي ﴿ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾ ﴾ الأنعام ژباړه: ووايه ، زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ ، زما د عبادت ټول مراســـم ، زما ژوند او زما مرګ هر څه د الله رب العلمين له پاره دي چې د هغه هېڅوك شريك نشته ، د هماغه امر ماته شويدی او تر ټولولومړی داطاعت سر ټيټوونکی زه يم دغه ايات کريمه په تشريح کې پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي(من أحب لله وابغض لله واعطی لله ومنع لله فقد استکمل الايمان)يعني دچاچې دوستي اومحبت دښـمني اوعداوت ورکړه اومنعه يوازې اويوازې دالله تعالی لپاره وي؛نوپه يقيني توګه بشپړ اوکامل مؤ من وګر زېد .[1]

**دا يمان او اسلام فرق**

کامل ايمان او اسلام يوشـی دی ځيني پوهان وايي اسلام عام او ايمان خاص دی اسلام په ظا هري اعمالو اوايمان زړه پوري مربوط دی ايمان په شپږو مؤمن به شيانو ( په الله تعالی ،ملايکو، اسماني کتابونو،پيغمبرانو په تقديراواخرت) باورد رلودل اواقرارکول دي اواســلام ظاهري اعمال دي اوارکان يې (دشـــهادت کلمه ،لمونځ روژه زکات اوحج )دي

مګر له شرعي حيثيته ايمان اواســلام سره تړلي دي اسـلام له ايمان نه پرته نه شي رامينځته کېدی اونه کامل ايمان له اسـلامه پرته شـتون پيداکولی شي،داسـلام معنی دالله تعالی طاعت او فرمان برداري ده الله جلت عظمته ته خپل ځان سپا رل اوله خپلې خپل سری نه لاس په سرکېد ل دالله تعالی با دشاهی اوحکمرانی ته دسر ټيټولو معنی اسلام دی.

ددې پرعکس چې يوڅوک قران عظيم الشـــان اونبوی ســـنت خپـل لارښـود،نه بولي دپلار نيکه غلطورســـمونواودودونو پســـې ځي او يـادنړی وال کفري بهيرسره ځـان برابروي اود بشرــ پـه لاس په جوړوشـوتګلاروقانع وي دغه شـخص مسلمان نه؛ بلکې دروغژن اودمسلمانی دعوه يې با طله او مردوده ده

سړی پردې نه مسلما نيږ ي چې دده نسبت مسلمان موراو پلارته شوی او نه په ميراثي توګه اسلام چا ته په برخه کيږ ي داسـلام مطلب دادی چې محمد صـلی الله عليه وسـلم کومې لارښـوونې له ځان سره را وړې هغه دې ومنل شي او دهغی مطا بق دې په عمل لاس پو رې کړا ی شي

**دايمان قوت اوکمزورتيا**

دقران عظيم الشان اياتو نه او نبوي مبا رک احا ديث په دې دليل دي چې ايمان قوت اوضعف مني دايمان اسـاسـات دټولو خلکو مشـترک دي کموالی په کې نه شـــی رامينځته کېدی؛ البته دايمان په نوعيت کې کموالی او زيات والی راځي دمثال په توګه دعقل په اعتبارخلک يو شی دي؛ مګر نوعيت يې فرق کوي.
امام بخاری رحمة الله عليه وايي: چې ما دحد يثو له زرو تنو اسـتاذانو سره ملا قات کړی ټولوويلي چې ايمان مضـبوط کيږ ي په طا عت سره اوکمزوری کيږي په معصـيت سره همدارنګه دعالم او جاهل ايمان يوشی نه ګڼل کيږي حضرت ابو درداء رضی الله عنه فرمايي ديو شـخص دپوهې څخه دادی چې دخپل

---

[1] - درحماني ژباړه خطلبات ص ۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


ایمان حال واخلي چې ایا ایمان یې کمزوری شـوی اوکه قوي شـوی حضرت عمر رضی الله عنه به خپلوملګروته ویل راشئ چې ایمان قوي اومضبوط کړو؛نودالله عزوجل په ذکراویادولو به یې لاس پورې کا وه دایمان په قوت او ضعف دقران اوسنت دومره ګڼ دلا یل دي مو ږ دلته همد غه بشپړګڼو .

**دایمان دقوت اسباب**

حقیقت دادی چې دهریوه هدف اومقصد لپاره الله تعالی اسباب او لارې پیداکړي دي ایمان دانسان ستر ضرورت دی دایمان دپیاوړتیا او قوت لپاره هم اسـباب اووسـایل دی چې موږ ورته په لاندې توګه کتنه کوو.

**۱-علم**

- **دالله تعالی د اسماء حسنی پېژندنه:** دالله تعالی دسپېڅلو نومونو په الفاظو اومعناګانو پوهه اوالله تعالی ته پرې دعاء اوزاري دایمان وسیله ده پردې اساس هرڅومره چې دالله تعالی په اسماؤاوصفاتو پوهه زیاته شي په هماغه اندازه په ایمان اویقین کې قوت اوپیاوړتیا رامینځته کېږي.
- **درسول الله پېژندنه:** درسول الله دصورت اوسیرت پېژندنه دهغه په نبوت دقناعت وسیله ده دهغه لوړ عالي اخلاق اوستر صفات پخپله دهغه دنبوت دلیل دی.
- **په قرانکریم کې تدبراوتفکر:** دقران عظیم الشان په الفاظو اومعناګانو کې فکر اوسوچ په احکامو اوقوانینوکې یې ژور فکراوپه حکمتونواومصلحتونو یې پوهه درلودل ایمان ته قوت په برخه کوی.
- **دنبوی احادیثو پوهه:** هرڅومره چې دمؤمن مسلمان دالله په کتاب اوپه نبوی احادیثو علم زیاتوالی مومي په هماغه انډول یې ایمان دیقین تر پړاوه رسېږي.
- **په کایناتوکې غورراوفکر:** داسمانونو اوځمکې دموجوداتو په نظام کې غورراوفکرایمان ته پیاوړتیا بخښي داځکه چې دمخلوق عظمت دخالق دجلال اوکمال دلیل دی له اتوم نه تر کهکشانونو اوله حجرې نه تر لویوحیواناتو پورې دغه منظم نظام دالله تعالی دعظمت دلیل ګڼل کېږي.
- **دالله تعالی ذکراویاد:** په ژبه ،زړه اوعمل سره دالله تعالی ذکراویاد په ایمان کې ځواک اوقوت رامینځته کوی.
- **داسلام دمحاسنوپېژندنه:** داسلام دین ټول په جمال اوښکلا متصف دی عقاید یې،عبادات یې ،اخلاق اومعاملات یې ټول معقول،ګټور اوښایسته دي.
- **دالله تعالی په بندګۍ کې کوښښ:** دالله تعالی په بندګۍ کې زیاروېستل اودالله تعالی له مخلوق سره ښېګڼه ایمان پیاوړی کوی .
- **دالله تعالی لورته بلنه:** دالله لورته دعوت په حق امر اوددین په لاره کې په ستونزو صبر ایمان ته قوت په برخه کوي.
- **دکفر او شرک څخه ډډه کول:** دکفر ،شرک اوالحادي تګلارو څخه لېرې والی اود هغوی له پیروانو څخه کرکه اونفرت ایمان ته پیاوړتیابخښي.

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


- **دفرایضو او نوافلو پرځای راوړل** :دفرضي اونفلي بدني او مالي عباداتو پرځای کول دالله تعالی درضاء اوخوشالی لامل ګرزي.
- **الله تعالی سره مناجات اودقران کریم تلاوت**:په ګوښه ځای کې الله تعالی ته زاري اوفریاددزړه په مینه دالهي سپېڅلي کلام قران عظیم الشان تلاوت استغفاراوتوبه هم دایمان دپیاوړتیا داسبابوڅخه دی په علم کې زیاتوالی ،دالله تعالی دنوموېو پېژندنه او په معنا یې پوهه ، دالله تعالی په ایاتونوکې تدبر، درسول الله مبارک سیرت لوستل ، په کایناتواوانساني نفس کې تدبراوفکر، دالله تعالی ډېرذکراودعاءدجهادلپاره دبدني ځواک تیارول ،دالله تعالی پروړاندې خشوع اوعاجزی اوددین دمحاسنوپېژندل یقین ته پیاوړتیا بخښي

**۲- عمل**

نېک عمل اوطاعت هم دانسان یقین مضبوطوي داځکه چې عمل دایمان عملي تطبیق دی دالله تعالی په بندګی کې زیاراوله مخلوق سره ښېګڼه،دعوت الی الله له کفراوشرک څخه ډډه،دفرایضواونوافلوپرځای کول،الله تعالی سره مناجات،دقران کریم تلاوت اوپه ګوښه ځای کې الله تعالی ته زاري اودالله تعالی دین ته بلنه.

**۳- ذکر**

دالله تعالی ذکراودقران عظیم الشان تلاوت دالله تعالی په مخلوقاتوکې غوراو فکراو دالله تعالی په عظمت،قدرت اولوړوصفاتوپوهه حاصلول سترذکرګڼل کېږي.

**۴- دنېکانوملګرتیا**

له نېکانوسره دملګرتیاپه نتیجه کې دانسي ــ اوجني شـیطانانواغیزکمېږي ؛مګرددې پر خلاف له ماده پالو اوبېدینه خلکوسره په نږدې اړیکو سره ایمـان کمزوری کېږي دربنـتینوربـاني علماؤسره ناسـته ولاړه اودغوی نېک صحبت ته غوږ ایښودل ایمان ته پیاوړتیا بخښي

## دایمان ضعف(کمزورتیا)

دایمان دکمزورتیارنځ هغه لویه بلااوافت دی چې زیات مسـلمانان پرې اخته دي دزړه سـختیا ، له عبادت څخه لذت نه اخیسـتل دقران کریم دتلاوت څخه نه اغېزمن کېدل په اسـانی سره په ګناهونو لاس پورې کول دایمان دکمزورتیا نښـې دي پردې اساس دزړه دسختوالي موضـوع ډېره حساسه ده هرمسلمان ته په کاردي چې دخپـل زړه حـال واخلي اودعلاج لپاره یې ژرترژره اقدام وکړي داځکه چې موږ الله تعالی له سخت ،رنځور، ړانده،منحرف اومهرشـوي زړه څخه وېرولي یوموږ به په لنډ ډول دایمان دضـعف نښـوته اشاره وکړو

## دایمان دضعف اوکمزورتیا نښې

ایمان دقوت او کمزورتیا نښې لري موږ به دایمان دکمزورتیا نښوته ګوته ونیسو.

- دګناهونو او نارواکارونو سرته رسول :ځیني خلک په ډېرې اسانتیا سره په ګناهونو لاس پورې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دگناه په کولو شرم نه احساسوي

چې بيايې دګناهونو کول عادت وګرزي او دمړو دجنازو څخه هيڅ عبرت نه اخيستل

- دزړه دسخت والي احساس : مرګ ، او دمړو دجنازو څخه هيڅ عبرت نه اخيستل
- دعباداتو په سرته رسولو کې بې پروايي : دلمانځه پرمهال يې ذهني تمرکز نه وي په ذکراو اذکارو

لاس پورې کوي مګرله خپل ذکرڅخه غافل وي

- په عباداتو کې سستي او کوتاهي: دعباداتو په اجراء کولو کې سستي هم دايمان دضعف نښه ده په

دې توګه چې دلمانځه حرکات رکوع ،سجده اوقيام يې له خشوع سره نه وي

- دقران کريم څخه نه اغيزمن کېدل : دکمزوري ايمان ښښتن دتل لپاره دقران کريم داياتونو

داورېدولوڅخه دزړه تنګسيا احساسوي قران کريم سره کومه علاقه نه ښئي که په تلاوت يې لاس پورې

هم کړي ژربې بندکړي .

- له ذکراودعاءڅخه لذت نه اخيستل:دکمزوري ايمان ښښتن له ذکراودعا څخه خوند نه اخلي چې

لاسونه اوچت هم کړي ژرترژره يې ټيټوي همدغه دمنافقانو صفت دی .

دالهي حدودو او محرماتو دماتېدلو پروخت بې پروايي :دمنکراتو او فواحشو دڅرګندېدلو پرمهال

ايماني غيرت په جوش نه راتلل دايمان دکمزورتيا نښــه ده دپرخلک دشــخصي ــ انتقام په خاطرهررنګه

غبرګون څرګندوي ،مګردين په هکله بې تفاوته وي

- دشهرت او منصب سره مينه او له خلکو څخه دعزت غوښتنه :دغسې خلک تل دمنصب ، چوکۍ

او شهرت وږي وي دتل لپاره له خلکو څخه داحترام غوښتونکي وي

- بخل او دمال سره بې کچه مينه : مؤمن مسلمان مال ته په جيب کې ځای ورکوي نه په زړه کې

:مګر دغسې وګړي له مال سره قلبي مينه لري دحلال او حرام پروانه ساتي

- دوينا او عمل نابرابري :دوينا او عمل ترمنځ تکرهم دايمان دکمزورتيانښه ده په خوله يوخه وايي

او عمل بې بل ډول وي دغسې خلک اسلام ته سترزيان اړوي همدغه خلکو اسلام ته ستره صدمه رسولې

ده

- دمسلمانانو په شکست خوشالي :څوک چې دمسلمان په غم دخوشالۍ احساس کوي دکمزوري

ايمان ښښتن دی .

- اسلامي امت دقضاياو په هکله بې پروايي:داسلام ددښمنانو له خوادمسلمانانو په وژلو ،ترور،چور

او چپاول او دهغوی دناموس په بې عزتۍ بې احساسه او سېدل دايمان دکمزورتيا ستره نښه ده .

- ددينې فعاليتونو پروړاندې بې پروايي :داسلام دغلبې ،خپروني او ښوونې په اړه بې پروايي دايمان

کمزورتيا ګڼل کېږي

- دنياپورتې زړه تړل - ټول غم او فکر يې يوازې دنيااو ددنيادشتمنيو راټولول وي له دنيا سره بې کچه

مينه دايمان دکمزورتيا نښه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دايمان دضعف اوكمزورتيا اسباب

دايمان دكمزورتيا عوامل په لاندې ډول ذكركېږي

**۱-دايماني فضـاء ښځه لېږې والى** :دايماني چاپېريال او ايماني ملګرواوورونوښځه لېږې والى دايمان دكمزورتيا لامل ګرزي دمثال په توګه يوتن په لېږې سفرځي له ايماني محيط اووروڼوښځه فاصله نيسي كه چېرې دغه وضعيت دوام وكړي په زړه كې يې وحشت ،غربت اوتياره ځاى نيسي اوزړه يې سخت كېږي

**۲-له صالح مربي ښځه لېږې والى** :يوځوك چې ديوښك او پرهېزګاره عالم ښځه علم او پوهه ترلاسه كوي اوله هغه سره يې ټينګ ايماني پيوندوي ديوځه وخت په فاصـلې نيولو سره دده په زړه كې بدلون رامينځته كېږي دپيغمبر صـلى الله عله وسلم درحلت نه وروسته اصحابو كرامو همدغه كمي احساس كړې ؤ اوس مهال مسلمانان صالح مربي او پالونكي ته ترټولو زياته اړتيالري .

**۳-ددينې او شرعي علومو دزده كړې ښځه مخ اړول** :دايمان دضـعف داسـبابو ښځه دقران كريم او نبوي سـنتو اوداسـلامي امت دپوهانواوعلمي شخصيتونودعلمي ليكنو دلوستلوښځه لېږې والى دى دنبوي احاديثولوستل درسول الله مبارك دصحبت او ملاقات يادراتازه كوي

**۴-په ګناهونو ډک چاپيريال كې استوګنه** : په يوداسې ګنده او چټل محيط كې استوګنه چې حياءاوپت په كې ليلام وي دغسې چټله ټولنه ايمان له مينځه وړي .

**۵-دنيوي شيانو پورې دزړه تړاؤ** :دنيا اودنيوي پستوشيانو سره مينه دايمان دكمزورتيا لامل ګرزي

**٦-اوږدې هيلې درلودل** :دايمان دضعف داسبابو ښځه اوږدې هيلې درلودل دي

## دايمان دضعف دعلاج لارې چارې

ټول اسلامي امت پردې خبره متفق دى چې ايمان قوي كېږي په طاعت سره اوكمزورى كېږي په معصيت او ګناه سره دغه دسـتركوليدلى حالت دى چې يوشـخص بازارته ځي هلته يې بربنډې او لوڅې ښـځې ترستركوكېږي كه چېرې همدغه وضعيت دوام وموميي په زړه كې يې بدلون رامينځته كېږي مګرقبرستان ته په تللواو هلته دمرګ يادول زړه نرموي دانســان زړه دطاعت او معصـيت په نتيجه كې دښـه اوبد په لوري دبدلون وړتيا لري موږ به په دغه برخه كې په لنډ ډول دايمان دضعف دعلاج په لاروچارو بحث وكړو.

- دقران عظيم الشان په معناكې فكراوسوچ
- دذكر په حلقاتو كې ګډون
- دنېكوچاروپه كولودوام
- دشرعي اودينې علومو حصول
- دبدو اعمالو دنتايجو ښځه وېره
- دمرګ ډېريادول
- دتوپان اوزلزلې پرمهال وېره
- دهيلولنډول

...on.com: The Digital Library



- دنیاته ارزښت نه ورکول
- دالهي شعايرو درناوی

دهندنیمې وچې امام شاه ولي الله رحمةالله علیه ددیني شعایرو اساسات: الله ،رسول الله،کتاب الله اوبیت الله ښودلي دي؛نوپردې اساس داسلام ټول دین عقاید ، عبادات او معاملات ، اخلاق ، حق پالونکي علماء اوپوهان داالله دسپېڅلي پیغمبرربښتیني وارثان او ټول جوماتونه او مساجد دبیت الله شاخونه او په شعایرالله کې شمېرل کېږي

## دایمان غوښتنې

ایمان تشه فلسفه نه ده چې له عملي ژوند سره یې اړیکه نه وي ایمان ځینې غوښتنې لري چې موږ ورته په لاندې توګه کتنه کوو.

- په الهی نظام ټینګ باور:مومن مسلمان باید په هغولاربښوونو باندې کلک باور ولري چې الله جل جلاله په خپل سپېڅلي کتاب قران عظیم الشان او یا پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مبارکو نبوي حدیثونوکې دوی ته خبر ورکړی دی او ټول هغه څه باید باطل وګڼي چې له دغو دواړو سرچینو سره په ټکر کې وي.
- الله او رسول ته تسلیمي:مومن مسلمان باید له خپل هوی او هوس څخه لاس په سر شي په بشپړه توګه باید دزړه په مینه اورغبت سره خپل ځان دالله جل جلاله اورسول الله (ص) لاربښوونو اواوامروته وسپاري.
- دفرایضو سرته رسول:دفرایضو اداء کول دایمان غوښتنه ده څوک چې فرایض نه اداء کوي اودایمان دعوی ولري په باوري ډول دروغژن ګڼل کېږي.
- دواجباتوسرته رسول اوله ناروا ووڅخه ځان ساتل :مومن مسلمان باید الهی اوامر پرځای کړي اوله نواهیو څخه ځان وساتي هغه څوک چې واجبات نه ترسره کوی اوله نارواءو څخه ځان نه ساتي مثال یې هغه چاته ورته دی چې یوڅوک دحاکم په توګه مني ؛مګر له اوامرو اوفرمانونو څخه یې سرغړوي.
- توبه اواستغفار:له مومن مسلمان سره شیطان مل دی هغه تل هڅه کوي ترڅو انسان بې لارې کړي په دغه صورت کې به مومن مسلمان الله تعالی ته رجوع کوي او توبه به وباسي.
- په نېکیو امر اوله بدیو منعه:په ښو چارو امر او دبدو چارو مخنیوی دمومن مسلمان ستره ځانګړنه ده دښو چارو خپرول اودبدو مفاسدو مخنیوی دمومن مسلمان لویه ذمه واري ده.
- دالله دین ته بلنه اوجهاد:ددین لورته بلنه اوددین دغلبې اوسر لوړی لپاره هلې ځلې کول دایمان غوښتنه ده هره نظریه اومفکوره خپرول قایمول اوحاکمول غواړي اسلام هم دخپرولو اوحاکم ګرزولو غوښتونکی دی.
- دمومنانوسره ولاءاودکافرانوڅخه براء (له مومنانوسره دوستي اوله کفاروڅخه کرکه) دایمان غوښتنه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دمؤمن مسؤليتونه

مؤمن مسلمان ځانګړي وجایب اومسؤلیتونه لري چې موږ ورته په لاندې توګه کتنه کوو.

۱-دالله تعالی معرفت: مؤمن مسلمان مسؤلیت لري چې په علمي اواګاهانه ډول الله تعالی وپېژني کوركورانه ایمان داعتبار وړ نه ګڼل کېږي

۲- دالله دپیغمبر پېژندنه:دمؤمن دویم مسؤلیت دپیغمبر معرفت او دده د رسالت دصدق او رېښتینولی پېژندل دي.

۳-دخپل ژوند دحکمت اومصلحت پېژندل:مؤمن مسلمان باید په ښه ډول دخپل ژوندهدف او مصلحت وپېژني چې دڅه لپاره دنیا ته راغلی؟او کوم لوري ته به درومي؟

۴- دالله تعالی ددین اونظام پېژندل:مؤمن مسلمان باید دالله تعالی دین وپېژني چې دژوند په بېلا بېلو برخو کې کومې لارښوونې ورته لري.

۵- دخپل مصیر اومنزل پېژندل:مؤمن مسلمان داخرت لپاره تیاری کوي دبلې دنیالپاره کار کوي په ښه کې خپل ځان مسافر بولي او مسؤلانه ژوند تر سره کوي اوپه دې یې باوروي چې په قیامت کې به ورسره د ذرې ذرې حساب کېږي.

## دالله تعالی دوجوداثبات دلایل

دالله تعالی وجودیوثابت حقیقت دی دسلیم ذهن څښتنان یې په ثابتولوکې دلایلوته هم اړتیانه پیداکوي انسان که خپل ځان اوچاپېریال ته وګوري دیوسترځواک احساس به یې ترسترګوشي څکه دلته نظم،حرکت ،بدلون اوسکون وینو دغه ټول دواحداولاشریک ذات پروجوددلالت کوي په قران عظیم الشان او نبوي احادیثو کې دالله تعالی دوجود په هکله ګڼ دلایل راغلي دي ،په دې توګه کولی شو ووایو چې دکایناتو هر شی دالله تعالی پر وجود دلالت کوي او ټول یې دقدرت اثار دي. دلته ټول شیان مخلوق او خالق یې الله تعالی دی. شاعر څومره ښه ویلي دي:

وفی کل شئ له ایة + تدل علی انه واحد

یعني په هر شي کې دقدرت اثار او نښې څرګندې دي ، دکایناتو هره ذره پردې دلالت کوي چې هغه جل جلاله په ذات او صفاتو کې تنها اولاشریک دی.

انسان ته الله تعالی دوه ډوله ځواکونه ورکړي دي ،یو سترګې او بل عقل ؛مګر دواړه درڼا څخه پرته لیدل نه شي کولی .په همدې توګه چې له یو شخص سره حق ته درسېدو لپاره اراده او تصمیم نه وي هېڅکله به حق ته ونه رسېږي؛لکه یو شخص بازار ته ځي ؛مګر دهېڅ شي دپېرودلواراده ورسره نه وي. له پیسوسره بېرځای کورته خالي لاس راستنېږي .موږ دغه درې واړه حقایق په لاندې فارمولونو کې وړاندې کوو:

فارمول: (سترګه + نور=دمادي نړۍ لیدل ) فارمول: (عقل + وحی =سمه پوهه اواحساس)

...ton.com: The Digital Library



دانسـان تر ټولو خطرناک رنځ دغفلت دی دالله تعالی دمعرفت په اړه ډېردلایل دي او هغه عبارت دي له [1]
فارمول: (الهي هدایت (وحی) + دانسـان اراده =ایمان او حق ته رسېدل ) دانسـان
دغفلت دی دالله تعالی دمعرفت په اړه ډېردلایل دي او هغه عبارت دي له کتلودغوراوفکر لورته رااړوي

**۱-قراني حسی دلایل:** قران عظیم الشان دانسان فکرد کایناتوارتې نړی ته په کتلودغوراوفکر لورته رااړوي
هلته چې فرمایي: ﴿ قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَا تُغۡنِي ٱلۡأٓيَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ ١٠١ ﴾ یونس: ژباړه:دوی ته ووایه "په اسمانونواوځمکه کې څه دي ،هغه په غړیدلو سترګو وګورئ" اوکوم خلك چي له سره ایمان راوړل نه غواړي دهغوله پاره نښانې اواخطارونه مدافع ګټوري کیدای نه شي.
که چېرې په بشپړ غور او دقت سره یوشخص کایناتو ته وګوري نو ده ته به دالله تعالی دتدبیر ،تقدیر،نظام او حکمت نښې له ورایه څرګندې شي ،بې له ستنو لوړ اسمان په خپل مدارکې په زرګونه ټریولونه ستوري او دهرستوري سرعت، ځمکه ،وچه ،لمده ،غرونه ،هواره،خوړونه،ویالې ،سیندونه،دځمکې چارچاپېره دهوا غلاف،وریځې او پورته طبقات دځمکې له پاسه دنباتاتو ګڼ انواع ،جوړښت او دندې یې ،دسمندرونو او سـیندونو په تل کې په زرګونه ډوله بحري حیوانات په زرګونه ډوله الوتونکي دوچې حیوانات اودبېلابېلو رنګونو انسـانان دغه ټول دالله تعالی دقدرت نښې دي .که چېرې انسان په دغو خورو ورو الهي نښانو کې فکر او تـدبر وکړي، دالله جل جلاله له عظمت څخه به یې بدن ولړزېږي دشـپې او ورځې دقیق او منظم بدلون، داوبو منظم تبخیر او دوباره راکوزېدل دغه ټول دعلیم او خبیر ذات دقدرت نښې دي [2]

**۲-قراني عقلي دلایل** داچې قران عظیم الشان دبشریت دلارښوونې لپاره استول شوی او مخاطب یې عاقل انســانان دي، قراني دلایل دانســان له عقل سره برابر دي زیات ایاتونه انســاني عقل په کایناتوکې فکر ته هڅوي اودانسان په بدن کې دتفکرلورته بلنه ورکوي په دې هکله په قرانکریم کې ګڼ ایاتونه دي. [3]

**۳-الزامي عقلي دلیل** :ماده پال وګړي وایي، چې دغه کاینات له نشـت څخه پخپله پیدا شـوي دي دوی دخاورینې کرې پرمخ دټولو موجوداتولـه خـالق څخـه انکـارکوي دغـه نظریـه بـاطله ده ؛ځکه چې عدم (نشـتوالی) نه شي کولی چې یوموجود رامنځته کړي په فلسـفه کې دغه یو منل شـوی حقیقت دی ،چې علت پر معلول او صانع پر مصنوع مخکې والی لري عدم (نشتوالی) کاینات نه شي رامنځته کولی. همدغه مطلب ته قران عظیم الشـان داسـې اشـاره کړې ده:﴿ أَمۡ خُلِقُواْ مِنۡ غَيۡرِ شَيۡءٍ أَمۡ هُمُ ٱلۡخَٰلِقُونَ ٣٥ ﴾طور ژباړه:ایادوی له کوم خالق نه پرته پخپله پیداشویدي؟یا پخپله دخپل ځان هستوونکي دي؟
پردې اساس ثابته شوه چې اصل دیوذات وجوددی ،چې هغه دالله تعالی سپېڅلی ذات دی چې په هغه بانـدې فنا نه راځي .قران عظیم الشـان دغه مطلب داسـې بیانوي:﴿ وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحۡ

---

[1] رحمانی محمدشریف(۱۳۹۳هـ ش) قران پوهنه ،ص ۴۴ اصلاح افکارجلال اباد افغانستان
[2] زنـاداني عبدالمجيد(۱۳۹۴هـ ش)اسـلامي عقیـده دویـمه برخه درحماني محمد شریف ژباړه ص۹حامد رسـالت خپرندویه ټولنه الفاروق مطبعه کابل افغانستان
[3] قرضاوي یوسف (۱۳۷۱هـ ش ) دالله جل جلاله دوجود اثبات ،ص ۲۰ لجنة الدعوة الاسلامية

(c) ketabton.com: The Digital Library


بِحَمْدِهِۦ وَكَفَىٰ بِهِۦ بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ﴿٥٨﴾ الفرقان. اى محمده! پرهغه ذات توکل وکړه چې ژوندی دی اوهيڅکله مړکيدونکی ندی دهغه له ستاينې سره دهغه پاکي بيان کړه دخپلو بندګانو له ګناهونو څخه يوازې د همغه باخبرتوب کافی دی.[1]

**۴-دسبب دليل**: که تاسې ته څوک ووايي چې په دې ښار کې دوکان دی، دوکاندار نه لري، پخپله ورته سودا راځي او پخپله خرڅيږي او يا يوه کارخانه ده ،چې نه يې څښتن شته او نه انجينراونه مستري ټوله کارخانه په خپله تياره شوې ده او په خپله چليږي. ايا دداسې شخص په ليونتوب کې به څوک شک وکړي؟ لکه څرنګه چې يوتعميرپرته له معماراوليک پرته له ليکوال اومصنوع پرته له صانع څخه نه شي رامنځته کيدی ؛نوپرهمدې اساس دغه ځمکه ،لمر ،سپوږمی ستوري ،عناصراواجسام له خالق اوايجادوونکي نه پرته څنګه رامنځته شول؟

**۵-د فطرت دليل**: رب ورکړي استعدادته فطرت وايي .دبشري پوهې زياته برخه فطري ده ؛دمثال په توګه نوی زيږيدلی ماشوم د دمورسينه اخلي اومورداولادپروړاندې دمينې اومحبت عاطفه لري .لوږه اوتنده،درداوغم ،خوشالي اوخپګان،يخني اوګرمي ،جنسي– غريزه ،مينه اومحبت،بغض اوکينه، ،مال سره محبت ، له ازادی او ژوندسره مينه اودانسان په بدن کې دروح شته والی ټول فطري شيان دي چې زده کړې ته اړتيا نه پيداکوي.همدارنګه دکايناتودخالق اوپيداکونکي دوجوداحساس هم دبشرپه فطرت کې ځای لري .په دغه احساس اوشعورکې دکوچني ماشوم نه واخله بياتربانډ چې اومتمدن،عالم اوفيلسوف اونابغه پورې ټول سره مساوي دي[2]

قران عظيم الشان فرمايي ﴿ فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ﴿٣٠﴾ الروم: ژباړه: نوای پيغمبره (خپلو پيرواتو سره دې په يولوری کيدوسره خپل مخ د دغه دين خواته برقراروساته،پرهغه فطرت محکم شه چې پرهغه باندې الله تعالی انسانان پيدا کړي دي .

دغه سپيڅلی فطرت کله ناکله دموراوپلاراوچاپيريال دناوړه اغېزوله امله خراب شي پيغمبرصلی الله عليه وسلم همدغه مطلب داسې بيانوي؛ له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی ،چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي هريوماشوم په اسلامي فطرت زيږون مومي؛ نوموراوپلاريې يايهودي ګرځوي اويانصراني

**٦-دعنايت دليل**: عنايت يعني څه؟هرکله چې سيلاب له غره څخه راکو شي ،هرڅه په مخه کوي .کورونه او کښتونه ويجاړوي اوس ګورو چې دسيلاب پرمخ کې بند اوبرښناکوټ جوړشوی شاوخوايې ونې کرل شوې او کانالونه ورڅخه ايستل شوي اوله دغواوبوڅخه اغېزمنه ګټه اخيستل شوې. په دغه صورت کې موږ ګورو چې لـه دقيقي انجينری،پلان او ترتيب څخه استفاده شوې ده. که موږ سپوږمی،ستوري اودکايناتودهرې ذرې دقيق نظام،دبارانونومنظم اوربښت، دځمکې اجزاء ،داوبو جوړښت ،بحري

---

[1] همدغه ماخذ ص ۴۰
[2] محمد بن ناصر بن عبدالرحمن (۱۹۹۶م) اساليب الدعوة الاسلامية المعاصرة ص ۵۵

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


حیوانات ،الوتونکي اود هريوه جلا ساختمان که په غورسره وگورو ،موږبه اروموروپه يوذات باوراويقين تر لاسه کړو، هغه ذات چې دغه نړۍ په خپلو سترگووينو دظوابطواوقواعدو ترسيوري لاندې ده دلته ياته سوي.

۷-دتسخيراوتدبيردليل: موږ چې دغه نړۍ په خپلوسترگوگورودکايناتوهره ذره ديوقانون اوظابطې پر بنسټ تنظيم شويده .يومدبرخواک دواک اثاراونښې په خپلوسترگو نه ښکا ري؛ بلکې هر شی ديوهدف په لوري په خوځښت شوې ده .دلته هيڅ شی بېهوده اوعبث په سترگو نه ښکا ري؛ بلکې هر شی ديوهدف په لوري په خوځښت کې دی[1]

۸-دښکلااوجمال دليل :که چېرې يوشی پيداشي خودهغه په وجودکې دغړيونظم ،گډوډوي اودښکلا آثار ،ونه لېدل شي موږحکم کووچې ددغه شي خلقت نيمگړی دی ؛ دمثال په ډول څمکه په نظرکې ونيسئ، چې الله جل جلاله داسې پيداکړې ده چې دانسان دسکونت اواستقرارصلاحيت لري غرونه يې دميخونوپه توگه په کې ځای پرځای کړي دي که چېرې دځمکې قشرتوله تيره ياتوله وچه اوياټول سمندروای، دشنه کولواوزراعت صلاحيت به په کې نه وای هرهغه ژوندی موجودچې دځمکې پرمخ ژوندکوي دمناسب اوحکيمانه جوړښت لرونکی دی که چېرې دانسان جسمي جوړښت ته ځيرشو،په هغه کې داريانتياوړنقشې طرحې ،نظم ،نسق اودغړوتناسب لېدل کيږي دانسان دغړواسکليتي جوړښت ،دهاضمي جهاز،دوينې ددوران جهاز،دتنفس جهاز،تناسلي جهاز،عصبي دستگاه ،بولي جهاز،دڅکلو، بويولو ،اورېدلواولېدلوحواس داهريوپه خپل وارسره دالله تعالی دقدرت اثاردي ،چې عقلونه ورته تسليمېږي[2]

۹-دهدايت دليل :داهدايت عام دی اودکايناتوهرشي ترې برخمن دی که ژوندی موجودوي اوکه جامد،عاقل وي اوکه غيرعاقل؛ بلکې دغه هدايت هرشي ته شامل دی ټول شيان دظوابطواوالهي سنتومحکوم دي.موسی عليه السلام دمصرددکتاتورواکمن پروړاندې ويلي ؤقران عظيم الشان يې دارنگه حکايت کوي:﴿ قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ ﴿٥٠﴾ ﴾ طه ،ژباړه: موسی ځواب ورکړزموږ رب هغه ذات دی چې هرشي ته يې دهغه خپل ساختمان ورکړ،بيايې ورته لاروښودله.

هو! دکايناتوپه قلمروکې هيڅ شی داسې نه شته چې الله تعالی ورته يومسيرنه وي ټاکلی اويوه دنده سرته ونه رسوي له اتوم نه واخله ترلويوکهکشانونوپورې اوله حجرې نه تر لويوحيواناتوپورې هريومشخصه دنده لري[3]

۱- نښه شوی ماخذ ،مخ ۴۲
۲- همدغه ماخذ ،مخ ۶۳
۳- همدغه ماخذ ،مخ ۱۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰-دوحی دلالت**: دالله تعالی دوجودله دلایلو څخه یودلیل دپیغمبرانوسیاست دی چې دادم علیه السلام نه ترمحمدرسول الله صلی الله علیه وسلم پورې یې په پر له پسې توګه جریان درلود،هېوادونه ،قومونه اوژبې یې سره جلاوي مګردټولوپیغام یوؤ،چې هغه له توحیداوددالله عزوجل له بندګی څخه عبارت دی .[۱]

**۱۱-دتاریخ دلیل**: دتاریخ په اوږدوکې داسې نه دي شوي، چې په یوښارکې دې معبدنه وي لیدل شوی. دغه دملتونو اجماع دالله تعالی دوجودسټردلیل ګڼل کېږي[۲]

**۱۲- دنظم دلیل**:دالله جل جلاله دوجوددثبات په دلایلو کې چې دهرلیدونکي پام ورته رااوړي: نظم دی. دیومشترک کاردرامینځته کولو په خاطردګڼو شیانو همکاری ته نظم وایي.پردې اساس دنظم درامینځته کېدو په خاطر لاندې شیان اړین دي:شمېر،اړیکه ،هدف ،مرسته ،ناظم،دنظم لپاره ناظم ضروري دی ،چې چېرته نظم وي په پوهه دلالت کوي. بې نظمي دجهل نتیجه ده .

**ایا نړۍ نظم نه لري؟** له اتوم نه نیولې ترکهکشانونوپورې او بیا له حجرې نه ترلویوحیواناتو پورې ټول دنظم څخه برخمن دي په کایناتو کې نظم دېردقیق اواریانونکی دی دبشر-اوسنی پرمختګ دعقل نتیجه ده اوعقل دالله تعالی مخلوق دی[۳]

**دپروتین او اتوم په جوړښت کې نظم**

**۱-پروتین:**

پروتین دژوندیو حجراتو اساسي مرکب او له پنځوعناصرو څخه یې جوړښت موندلی: لکه کاربن ، هایدروجن ، نایتروجن ، اکسیجن ، ګوګړ.له دې سره سره پروتین کېمیاوي توکی دی، چې ژوند په کې شتون نه لري:مګر دغه دغیبي ذات دتدبیر نتیجه ده چې له مړو موادو څخه یې ژوندی موجود جوړ کړ عقل ورته اریانېږي ،دغه نظم له کومه شواو چارامینځته کړاوڅنګه یې امکان پیداکړ.چې د (۱۱۸)عناصرودجملې څخه پنځه انتخاب او پروتین ورڅخه جوړکړی شو؟ ځواب دادی چې الله جل جلاله.

**۲-اتوم:** اتوم چې دمادې لومړی یونټ اوپه دېروپرمختللو میکروسکوبونو هم نه لیدل کېږي .اتوم دېر مرموزاو نااشنا جوړښت لري پروتون مثبت،نیوترون خنثی اوالکترون دمنفي چارج درلودونکی دی. پروتون او نیوترون په هسته کې موقعیت لري اوالیکترون دمنفي چارج درلودونکی دی په الیکتروني خوځښت کې تر ټولو سست دهایدروجن دالیکترون دوراني حرکت دی ،چې په یوه ثانیه کې(۳۰۰۰)کیلومتره سرعت لري.

۱. همدا نه ماخذ، ص ۱۷۴
۲. همدا نه ماخذ، ص ۱۸۰
۳. معنبي جیم(ب ت) اشنایي بافرهنګ اسلامي ص ٦٨ تهران ایران

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

Ketabton.com: The Digital Library



**۱۳-دحرکت دليل:** ټول اجسام به يا دحرکت په حال کې وي او يا دسکون ساکن اجسام دحرکت لپاره قوې ته اړتيا لري په حرکت کې تر ټولو مهم دحرکت عامل دی. هېڅکله کېدای نه شي چې دموټر حرکت ومنو او له چلونکي څخه يې انکار وکړو څکه ترڅو چې چلونکی نه وي موټر په خوځښت نه راځي.[۱]

**۱-نړۍ او خوځښت:** موږ مخکې اشاره وکړه چې ټوله مادي نړۍ په خوځښت اود هدف په لوري روانه ده دکهکشانونو ،ستورو،سيارو،لمر،سپوږمۍ ،څمکې او داتوم په مدار دالکترون حرکت درواخله قرآن عظيم الشــان دغه مطلب ته د اشــارې په ترڅ کې فرمايي ﴿وَسَخَّرَ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لِأَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ ژباړه: اوهغه لمر اوسپوږمی د يو قانون تابع گرځولي دي ددې ټول نظام هرشی تر يو ټاکلي وخت پورې چلېږي

**۲-دحرکت عامل اوسبب** :په کايناتو کې حرکت او خوځښت يو منل شوی حقيقت دی ،چې ماترياليستان (مـاده پـالونکي) هم پرې قـانع دي؛ لېکن دلتـه دحرکت عامل دځېړنې وړدی، په دې هکله دوه نظريات دي:

**بېروني (الهي تصور)** موږ پردې باور اويقين لرو چې دحرکت عامل اوسبب دمادې له داخل څخه نه دی ؛بلکې دغه له بېرون څخه ديو سپېڅلي ذات دتدبير نتيجه ده.

**داخلي (مادي تصـور)** ماترياليستان وايي چې دغه دمادې داخلي تضاد دی ،چې مادې ته يې خوځښت ورکړی دحرکت سرچينه پخپله دمادې له مينځ څخه ده[۲]

دماترياليزم له نظره دمادې دحرکت سـبب داخلي گڼل يوه تشه فرضيه اوپوچه غير علمي نظريه ده.موږ په فزيک کې دغه قانون لرو چې ساکن اجسام د بېروني قوې څخه پرته په حرکت نه راځي. همدغه حرکت څنگه په يو خاص وخت کې رامينځته شـو؟ اوهم دغه سـپېڅلی نظم له کومه ځايه شو؟ ايا کېدای شي له انفجاره نظم رامينځته شي؟ اروهروځواب منفي دی.

دستورو پوهان وايي چې څينې سيارې اوستوري په يوه ثانيه کې لس کيلومتره څينې درې سوه اوڅينې څلورســوه اوڅينې درې زره کيلومتره واټن وهي داټول موږ تـه ديو مقتـدرحکيم اوعليم ذات ادرس راپه گوته کوي[۳]

**۱۵-دنسبت دليل:** دنړۍ ټول شيان لاندې څو ځانگړنې لري ۱ـــ محدوديت ۲ـــ خوځښت ۳ــ تړون ۴ـ حاجت د نسبيت موږ به هريو په تفصيلي توگه وڅېړو[۴]

---

[۱] همدغه [illegible] مخ ۸۳
[۲] [illegible] ماترياليستي تيوري مخ ۹۳ تهران ايران
[۳] [illegible] (۱۹۹۶م) اساليب الدعوة الاسلامية المعاصرة مخ ۶۳
[۴] [illegible] باورهنگک اسلامي مخ ۸۲ تهران ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library


**الف-محدوديت:** هېڅ يوموجود غيرمحدود او بې نهايته نه دی؛ داځکه که چېرې مونږ يو مادي موجود په نظر کې ونيسو

- دغه موجود حادث دی(موجود نه ؤ وروسته رامينځته شوی) اوبې نهايت نه دی ( چې پيل او پای ونه لري)
- ماده حد او اندازه لري؛ يعنې کميت او کيفيت لري وخت او ځای په برکې نيسي.


**ب-خوځښت او بدلون:** دنړی ټول شيان دبدلون او حرکت په حال کې دي ترديې چې جامد شيان هم الکتروني حرکت لري پردې اساس نړی ټوله په حرکت کې ده ،هېڅ يو شی په يو حال ثابت نه دی.

**ج-يو تر بله تړون:** ټول شيان يو بل پورې مربوط دي ،په دې توګه که هغه بل شی نه وي دغه شی به هم خپل شتون له لاسه ورکړي؛ دمثال په توګه انساني ژوند هوا پورې تړل شوی ،که چېرته هوا نه وي نو ژوند به هم نه وي ؛همدارنګه دځمکې وجود لمر اوسپوږمی پورې مربوط دی که سپوږمی او لمر نه وي ځمکه به په يو منجمد تور جسم تبديله شي او ژوند به په کې تل ترتله پای ته ورسېږي. همدارنګه که په اوبو کې اکسيجن او يا هايدروجن ونه اوسي؛ نو اوبه به شتون له لاسه ورکړي او داسې نور.

**د-يو بل ته اړتيا:** داچې موجودات يوبل ته اړدي . په کايناتو کې به هېڅ شی له الله تعالی نه پرته بې نيازه پيدانه کړې هر شی بل ته محتاج دی.

**هه-نسبيت:** په کايناتو کې هر شی نسبي توصيف کېږي که مونږ ديوې کوټې دچت دلوی والي خبره کوو مونږ سره نسبي مطرح ده له دې نه به بل چت لوی اوسي داتوم جوړښت کهکشان ته ورته دی ؛خو اتوم دماليکول او ماليکول ديو جسم او جسم دغرونو او غرونه دځمکې او ځمکه د لمريز نظام او لمريز نظام دکهکشان اوکهکشان بيا دنورو کهکشانونو په تناسب کوچنی دی. پردې اساس دکل او جزء ترمينځ لوی والی او کوچنی توب نسبي دی ،چې کل کوم خواص لري جزء يې هم لري [1]

مونږ پورته خصوصيات دمحسوسو مادي موجوداتو ذکر کړل ؛مګر دکايناتوځښتن دغه خصوصيات نه لري مونږ دغه حقيقت په يو رسم کې وړاندې کوو.




[1] معيني جيم(ب ت) اشنايي بافرهنګ اسلامي ص۸۳ تهران ايران

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرکله چې دالله تعالی دمعرفت دلایل څرګند دي ،نو اوس پوښتنه داده چې خلک ولې ایمان نه راوړي خواب دادی چې دخلکوترمنځ دانسانانو په لاس ځنې جوړې شوې پردې دي چې موږ ورته په لنډ ډول کتنه کوو:

**۱- دحس دایره:** ځینې خلک وايي چې زه په سترګو یوشی وته وینم منلی یې نه شم دغه خلک په عقلي لحاظ له ماشومانو سره ډېر مشابهت لري ؛هغه له محسوساتو پرته په بل څه نه پوهېږي حقیقت دادی چې دانسان دحواسو ساحه ډېره محدوده ده ؛مثلاً فضاء له ډېرو اشکالو ډکه ده ؛مګر موږ یې نه ګورو. له ډېرو نه اخوا شی نه وینو. دمادي الکتروني حرکت دځمکې جاذبه ،وضعي او انتقالي حرکت یې .دمقناطیس برېښنا خواک په سترګو نه وینو. دلمر بېلابېلې وړانګې، حیواني او نباتي حجره، په اوبو کې ګډه مالګه بوره، دځمکو تل ،لوړ اسمانونه او ډېر ستارونه مو لیدلي نه دي ؛مګر شتون لري .دانسان دباصرې (لیدلو )حس له عقاب او دشامې (بویولو)حس یې له مېږي نه هم کمزوری دی ؛همدارنګه تول فضاء له اوازونو ډکه ده مګر موږ یې نه اورو زموږ دحواسو ادراک زموږ په شاوخواکې دموجوده شیانو څخه هم عاجز او کمزوری دی.

**۲- غفلت:** غفلت او ناپوهي دانسان فکر فلجوي ،زړونه شنډوي او دانسان دمعرفت او ادراک قوت له کاره لوېږي .ټول غم یې دخېټې ډکول او دشهواني غوښتنو پوره کول وي دوی دجهنم خس او خاشاک دي دوی له څارویو څخه ګڼه بتر دي چې هغو ی دعقل له نعمت څخه برخمن دي [۱]

**۳- دپلرونو ړنده پیروي:** درېیم شی چې دهغه په وسیله انسان خپل شخصیت له لاسه ورکوي دپلرونو او نیکونو کورکورانه او ړنده پیروي ده هرکله چې یو انسان په کفري اوالحادي چاپېریال کې را لوی او یا دملحدو خلکو شاګردي وکړي او هغوی ته دخپل ځان واګې وسپاري ددې مصداق بت پاله ،مشرکې ،ناولې او چټلې ټولنې دي چې له هېڅ منطق څخه برخوردار نه دي کله غوا ،کله سپی، کله لمر ،کله سپوږمی ،کله کانو او بوټو، ستورو ،اور اودانسان تناسلي اندام ته په لمانځنه بوخت وي [۲]

**۴- عناد اوکینه:** کینه کښ خلک خپل غوږونه بندوي ،چې حق وانه وري اوله حق نه خپلې سترګې پټوي بې له شکه عنادي انسان ته زړدلیله قناعت نه شي ورکولی دمکې بت پالو درسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت دعناد له امله انکار کاؤ قران عظیم الشان ارته نړۍ دالله تعالی د قدرت ننبه بولي په خپل ځان او په کایناتو کې په غورکولو سره به انسان دالله تعالی معرفت ته ورسېږي.[۳]

---

۱. [illegible] (۱۹۸۷م) العقائد الاسلامية ص ۱۹۸ دار الکتاب العربي بیروت لبنان
۲. همدغه ماخذ ص ۱۰۲
۳. همدغه ماخذ ص ۱۰۳

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم څپرکی

## توحید اودالله تعالی صفات

**پیلیزه**

توحید داسلامي عقیدې اساس ،داسلام دعمارت مرکزي ستن اوداسماني پیغامونودنزول ستره موخه ده.له توحیدڅخه مقصددادی چې انسان دالله تعالی الوهیت ،ربوبیت،اسماءاوصفات ومني اوپردې باوري وي چې،له ده څخه پرته هېڅوک داطاعت اوعبادت وړنه دی.توحیددانسانانواعتقادته ویل کېږي،په الوهیت سره دالله تعالی یواځې کول اودمحمدصلی الله علیه وسلم په نبوت اورسالت اقراراوتصدیق توحید بلل کېږي،کلیمه طیبه په توحیداورسالت دایمان اعلان ګڼل کېږي.په دې بحث کې دتوحید معنا،دلااله الا الله ارکان دتوحید موخه،اهمیت،شرطونه،ډولونه،اودالله تعالی صفات بیان شوي دي.[1]

## لومړی بحث

## توحید

**دتوحید معنی**:په عربي ژبه کې توحیداختصاص اویواځې ګرځولو ته وایي[2]

اوپه شرعي اصطلاح کې په ربو بیت،الوهیت،اسماؤاوصفاتوکې دالله تعالی اختصاص ته توحیدویل کېږي.[3]

**د توحیددکلیمې معنی**: له الله نه پرته بل دعبادت اوبندګۍ مستحق نشته اومحمد صلی الله علیه وسلم دالله تعالی استازی دی.

## دتوحیدارکان

**۱-نفي**:له ټولو طواغیتو (دکفردټولومشرانو) اودماسوی الله له بندګۍ څخه انکارکول دي؛نوپردې اساس چې یوڅوک دتوحیدپه سپیڅلې کلیمه اقراروکړي؛مګرپه نورودینونواواسلام ضدافکاراونظریاتو هم باوري اوسي،دایمان اواسلام دعوه یې باطله ده.دمثال په توګه چې یوڅوک یهودیان اونصرانیان او ټولې کفري الحادي ډلې په حقه وګڼي اویا دهغوی په تګلاره خوښ واوسي،دغه شخص کافراوله اسلام څخه وتلی دی .

**۲-اثبات** :یواځې الله تعالی ته دالوهیت،عبادت اوحاکمیت ثابتول دي،دمکې بت پالوپه الله تعالی باوردرلود؛مګردهغه جل جلاله دعبادت اوحاکمیت څخه یې سرغړولو؛نوپه همدې اساس یې قران عظیم الشان کافران بولي[4]

---

[1] ... سابق(۱۹۸۷م)العقاید الاسلامیة ص ۲۵دار الکتاب العربي بیروت لبنان
[2] ابن منظور،محمد بن مکرم(ب ت) لسان العرب ص ۵۱۵ مکتبة الرسالة بیروت لبنان
[3] الاشقر،سلیمان (ب ت) العقیدة فی الله ص ۱۵۷مکتبة الرسالة بیروت لبنان
[4] جوهري(ب ت) مختار الصحاح ص ۱۹۲بیروت لبنان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دتوحيدموخه:** دتوحيد هدف يواځې الله تعالى ته بندګي اوپه همده اعتماد اوبروسه ده،له يوڅاسره دوستي اودښمني اوهرعمل دده درضاءلپاره سرته رسول دي، هريونېک عمل چې اساس يې توحيد نه وي ،دالله تعالى په نېزد ارزښت نه لري

**دتوحيدحکم:** زده کړه يې په هرمسلمان عيني فريضه ده ؛البته په باسواده طبقه په تفصيلي اوپه عوامو خلکوپه اجمالي توګه.[1]

**دتوحيداهميت:** دانسانانو اوپېريانودپيدايښت هدف اوپه اسلامی دعوت کې لومړی مقام لري.دنېکو اعمالودقبول .دګناهونودبخښلواوپه قيامت کې دشفاعت لپاره اساسي شرط دی.په قبرکې ترهرڅه دمخه دتوحيد پوښتنه کېږي

**دتوحيدشرطونه**

- علم اوپوهه :مومن مسلمان بايدپه علمي اواګاهانه ډول په الله تعالى باوري وي ايمان يې بايد په کورکورانه او جاهلانه توګه ونه اوسي .
- يقين :په دې توګه چې دزړه دتل څخه کلک باورولري اوپه رګ رګ کې يې دغې عقيدې ځای نيولی وي
- قبول اومنل :ځيني خلک علم لري ؛مګرداالله تعالى داوامرومنلو ته تيارنه وي توحيدله مؤمن مسلمان څخه بشپړه تسليمي غواړي .
- اخلاص په دې ډول چې رياءته په کې ځای نه وي اوپه بشپړاخلاص سره يې دغه عقيده منلې وي
- محبت په داسې توګه چې ايمان ته يې نسبت دميني اومحبت پربنسټ وي[2]

**دتوحيدډولونه**

توحيدګنې ډولونه لري چې موږ ورته په لاندې توګه کتنه کوو:

- دربوبيت توحيد
- دالوهيت توحيد
- داسماؤاوصفاتوتوحيد

دتوحيددغه اصول په دغه ايات کريمه کې يوځای ذکرشوي دي ﴿ رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا بَيۡنَهُمَا فَٱعۡبُدۡهُ وَٱصۡطَبِرۡ لِعِبَٰدَتِهِۦۚ هَلۡ تَعۡلَمُ لَهُۥ سَمِيّٗا ﴿٦٥﴾ د ربوبيت توحيددايات کريمه په دغه برخه

[1] ... اسلامی ... ص ۱۲۵ مکتبة الهادی ډهکی نعلبندی پشاور پاکستان
[2] ... ۱۹۶۱ ... ص ۱۰ دمشق سوریة

(c) ketabton.com: The Digital Library


(رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا )اوددالوهيت توحيديي په (فَٱعْبُدْهُ وَٱصْطَبِرْ لِعِبَٰدَتِهِۦ )اوداسماؤاوصفاتوتوحيديي په (هَلْ تَعْلَمُ لَهُۥ سَمِيًّا )کې ذکر شوی دی مطلب داچې په اسماؤاوصفاتوکي ساری نه لري[۱]

### ۱-دربو بيت توحيد

په خالقيت مالکيت اوتدبيرکې دالله تعالي يواځې گرځول اوپردې ټينګ باوردرلودل ،چې دالله جل جلاله نه پرته په دې کايناتوکې نه خالق،نه مالک اونه مدبرشته

### الف-دربو بيت په توحيد کې دشرک نښې

عرب قوم،يهودو،مجوسـو(اورپالونکو)اونصرانيانو الله تعالی دکايناتودخالق،مالک،مدبر،رازق اوفرياداوريدونکي په توګه منلو؛يواځې دالوهيت په توحيدکې په شريک نيولواخته ؤاوس مهال په اسلامی امت کې دربوبيت په توحيدکې دشرک نښې په لاندې توګه دي:

- ډېرجاهل اوناپوه مسلمانان پردې معتقد دي چې په نړۍ کې ځيني نېک خلک په کايناتو کې تصرف کوي دوی دصالحانو يودفترلري چې له همدې ځخه اوامرصادرېږي اودخلکودکاميابی اوناکامی پرېکړې کوي .
- ډېری ناپوهان پردې باورلري،چې داولياؤاوصالحانو روحونه ددوی ترمړينې وروسته تصرف کوي،ناروغانوته روغتيابخښـي اوخلکوته اولادونه ورکوي.همدغه باطل فکرډېرجاهلان په قبرپالنې اخته کړي دي.
- له پيريانوورېره اوورته فريادونه کول اوهغوی ته نذرونه وړاندې کول.
- دالله تعالی دطاعت پرخلاف دځينو خلکواطاعت اوپردې باوردرلودل چې دوی په پټ اوښکاره پوهېږي
- نامسلمانوحاکمانوته بشپړه تسليمي اوذړه په مينه دهغوی دقوانينو منل همدغه دربوبيت په توحيدکې دشرک يوځونښې دي چې سترلامل يې له دين نه لېرې والی اوپه قران کريم اونبوي سنتوجهل اوناپوهي ده[۲]

### ۲-دالوهيت توحيد

په عبادت،بندګي،اوحاکميت کې دالله تعالی يواځې کول اودالله جل جلاله نه پرته دنورو معبودانوله بندګي ځخه ځان ساتل دالوهيت توحيددی[۳]

---

۱- قرطبي(ب ت)الجامع لاحکام القران ج ۱ ص ۱۵ بيروت لبنان
۲- ابن تيميه(۱۹۶۲)رسالة العبودية ص ۱۴۸دمشق سورية
۳- قرطبي(ب ت)الجامع لاحکام القران ص ۲۱بيروت لبنان

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


**الف-دالوهیت دتوحیدغوښتنه**

عبادت جامع او هراړخیزلفظ دی دالوهیت دتوحید غوښتنه دالله عبادت اوبند گیده.عبادت جامع او هراړخیزلفظ دی تولوهغواعمالواووینا،وته شاملیږي چې الله تعالی پرې خوشالیږي

**ب-دعبادت ډولونه**

- قلبي عبادت؛لکه ویره،هیله،مینه،توکل،انابت(رجوع)استقامت،محبت
- دژبې عبادت؛لکه تسبیح،تکبیر،تهلیل،ثنااوستاینه اودعاء
- داندامونوعبادت؛لکه لمونځ،روژه،زکات،حج،نذر،جهاد،صله رحمي،په نیکی امراوډبدوچارو

مخنیوی.دالله جل جلاله اوبندگانو دحقوقوساتنه اودهغه دبشپړقانون حاکمیت.دالوهیت توحیددالله تعالی حق دی.داځکه چې الله تعالی خالق،رازق،مالک اوحاکم دی؛البته عبادت دري ترکیبي اجزاء لري محبت،اطاعت،تعظیم.دزیاتروتش په نامه مسلمانانوالله تعالی سره پېژندګلوی نشته؛نوزیات خلک په بغاوت اوسرکشۍ اخته دي یواځې لاس په نامه ږدي اودعبادت شکل اوصورت جوړوي؛مثال یې هغه نوکر ته ورته دی چې خپل بادارته تشه سلامي کوي؛مګرامرمنلو ته تیارنه وي[1]

**ج-دالوهیت په توحید کې دشرک اثا راو نښې**

په اسلامي امت کې اوس مهال دالوهیت په توحیدکې دشرک اثاراونښې په لاندې توګه دي:

- دالله تعالی داسماؤاوصفاتو څخه انکارکول اوپه تعطیل اوتشبیه باوردرلودل.
- دبل چا په ربوبیت اوالوهیت باور.داسماني کتاب اوپیغمبرتوهین.
- په بل قانون پرېکړه اوپه بل نظام خوښي او اسلامي قانون ته دفرسوده خطاب کول.
- دغیرالله څخه ویره اودالله تعالی دطاعت پرخلاف یې اوامرو ته غاړه اېښودل.
- له الله تعالی نه پرته بل چاته هیلې اوامیدونه درلودل.بل چاته عاجزي کول.
- غیرالله ته رکوع اوسجده دقبرونو پروړاندې قرباني.دزیارت په نوم نذر.

دغه چارې په څرګندډول په قبرپرستوقومونوکې په خپلوسترګووینوچې خپل مذهبي مشران دمعبودپه حیث مني دخیراوشرواکمن یې ګڼي اوپه پښوکې یې پرېوځي[2]

**داسماؤاوصفاتوتوحید**

**۱-لنډمفهوم یې** :په دې خبره ټینګ باوردرلودل چې الله تعالی دکمال دټولو صفاتو څښتن اودټولوعیبونوڅخه پاک دی هغه صفتونه چې الله تعالی خپل ځان ته ثابت ګرځولي اوپه قران کریم اونبوي سنتوکې ذکرشوي، دالفاظواومعنی ګانوله تحریف،تعطیل ،نفی اودکیفیت د تحدیداودمخلوقاتوله صفاتوسره له تشبیه نه پرته یې منل دي[3]

---

[1] - جوهري(ب ت) مختار الصحاح ص۸ بیروت لبنان

[2] -الجزایري ابوبکر .العقاید الاسلامي ص ۲۰

[3] - سید سابق(۱۹۸۷م)العقاید الاسلامیة ص ۵۰ دار الکتاب العربي بیروت لبنان

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲-شرطونه يې:** دمخلوق دصفاتوله مشابهت نه پرته دالهي صفاتو منل ،دالله تعالى دذات په څېرهېڅ ذات اونه يې دنوم په شان هېڅ نوم اونه يې دافعالو اوصفاتوپه شان افعال اوصفات شته دالله تعالى اودمخلوق دصفاتوت منځ يواځې لفظي اشتراک دی ذات يې ازلي اوصفات يې ازلي دي

- موږ ته لازمه ده چې الله تعالى ته هغه اسماء اوصفات ثابت کړو ،چې په قران کريم اونبوي سنتوکې يې يا دونه شوې ده ؛نو پردې اساس دالهی صفاتواواسماؤدثبوت بنسټ وحی ده. دالله تعالى له مخلوقاتوسره دالله جل جلاله دصفاتو په مشابه ګرځولو،په قران اوسنتودثابتوصفاتوڅخه په انکا راوپه تشبيه اوتمثيل باور درلودلو سره يو شخص کافر ګرځي

- دالله تعالى په منصوصي اسماؤاوصفاتو دکيفيت اوحقيقت له معلومولو پرته يقين درلودل ؛مثلا په عرش داستواء په باره کې دپخوانيوعلماؤمسلک داؤچې استواء معلو مه ده کيفيت يې مجهول دی ايمان پرې واجب دی اوپوښتنه يې بدعت ده .

- د الله تعالي نومونه يوازې په نهه نوي نومونو کې منحصر نه دي په رواياتو کې د نورو نومونه ذکر هم شته. دالله ذات کامل اوصفا ت يې کامل دي، ځکه يې چې دشان سره مناسب وي. دالله تعالى صفات به له تشبيه ،تعطيل ،تکيف، بدلون اوتاويل څخه پرته منئ[1]

## دويم بحث

## دالله تعالى دصفاتو ډولونه

دالله تعالى صفات په دووبرخو وېشل شوي دي

**۱: ثبوتي ۲ : سلبي**

**لومړی- ثبوتي صـفات :** هغه دي چې الله تعالى ته ثابت دي،چې څوک يې الله تعالى ته په ثبوت باوري نه وي مومن نه ګڼل کېږي.

**ډولو نه يې:** دالله تعالى ثبوتي صفات درې برخوته وېشل کېږي

**۱ - ذاتي صفات :** چې له ازل نه ترابده الله تعالى پورې لازم اونه جلاکېدونکي دي لکه علم ،حيات،قدرت، سمع،بصر،مخ،کلام،ملک،قدم،عظمت،غناء،رحمت ،حکمت، اراده ، قدرت اوداسې نور..

**دځينو ذاتي صفا تو شرحه**

**۱- قـدرت :** الله تعـالى قادر اوتواناذات دی اودهېڅ يوکار دکولو څخه ناتوانه نه دی موجوده نړی ددومره عظمت سره دهغه دستراولوی قدرت نښه ده، دهغه بې اندازې قوت دومره دی چې هروخت وغواړي اراده وکړي کولی شي ،ټول موجودات ختم اوبيايې پيداکړي،په اسـمانونو ،شـپې ،ورځې،لمر اوسـپوږمی، ژوند اومرګ کې لږسوچ اوفکرموږ دالله تعالى سترقدرت ته متو جه کوي.

**۲- اراده :** الله تعالى چې ځنګه وغواړي ،دخپلي غوښتني سره سم په نړی کې تصرف کوي دلته دکايناتو په ذره ذره الهي اراده حاکمه ده.

---

[1] - نعيم ياسين(ب ت) الايمان اركانه حقيقته نواقضه مكتبة الرسالة الحديثه عمان

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۳ - علم**:الله تعالی په هرشي عالم دی ،برابر ه خبره ده که هغه له ماضي،حال اومستقبل سره اړیکه ونيسي. دالله په سپېڅلي ذات کې جهل اوناپو هي ځای نه لري دهغه پو هه په زمان اومکان پوري مقيده نه ده؛ بلکې دټولوشيانوپه جزئياتو اوکلياتوعالم دی ،موجوده نړی یې په ځانګړي نظم سره دبې انتهاءعلم روښانه دليل دی .

**٤ - ژوند**:الله پاک ژوندی اوژوند دهغه ذاتي صـفت دی ،تل ؤ؛ تل دی؛ تل به وي.دحيا ت صـفت يې مطلق دی هېڅوک يې په اصلي حقيقت دنورو صفاتو په شان نه پوهېږي .حقيقت دادی چې دنړی وجود دتلپاتې اوهمېشني ذات نه پرته امکان نه لري .

**٥ - کلام**:الله تعالی متکلم دی ،څنګه يې چې دشان سره مناسـب دی. الله پاک دغه صفت په قران کريم کې خپل ځان ته ثابت کړی دی .

**٦-ســمع اوبصر** :څرنګه چې الله تعالی اورېـدونکی دی، ليـدونکی هم دی، ليـدل اواورېدل يې هراړخيزاوشامل دي څنګه يې چې له شان سره منا سب دي؛ زموږ پرې په غيبوايمان دی [1]

## ۲-فعلي صفات

فعلي صـفـات هغـه دي چـې الـلـه تـعـالـی يـې دخـپـلـې خـوښـــې سره ســـم سرتـه رســوي لکه قدرت،استواء،نزول،تلل،خنداوخوشالی تدبير، غضب،رزق،ژوندي کول اومړه کول،عزت اوذلت لازمه ده چې دهغې دمعنی په نظر کې نيولوسره چې دالله تعالی دشان سره مناسب دي ايمان ولرو.

### ډولونه يې

اودابياپه دوه قسمه دي

- **فعلي متعدي**: لکه په چارحمت اومهرباني کول ، روزي ورکول
- **فعلي غيرمتعدي**: لکه کوزېدل ، تلل اوراتلل .

## دويم-سلبي صفات

سلبي صفات هغو صفاتو ته ويل کېږي ،چې الله عزوجل ته ثابت نه دي ثبوت يې دکفر لامل ګرځي ؛لکه ړوندوالی،کوڼ والی ،جهل اوناپوهي،لوږه اوتنده، فساد،بخل ناتواني،رنځ اوتکليف،اوداسې نور..

### دسلبي صفاتوډولونه

دالله تعالی سلبي صفتونه هم په دوه ډوله دي .

- دالله تعالی دذات څخه جلا سلبي صفت لکه الله تعالی دذات څخه داولادنفی کول .
- دالله تعالی دذات سره متصل لکه خوب ، مړينه جهل اوناپوهي درواخله ...

[1] سيد سابق (۱۹۸۷م)العقايد الاسلامية ص ٦٠ دار الکتاب العربي بيروت لبنان

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورږ یو لنډ جدول دخینو ثبوتي اوسلبي صفاتو وړاندې کوو

| ګڼه | ثبوتي صفات | سلبي صفات |
|---|---|---|
| ۱ | وجود | عدم او نشتوالی |
| ۲ | ازلیت | حدوث اونوی رامنځته کېدل |
| ۳ | بقاء | فنا |
| ۴ | پخپل ذات قایم | بل چاته اړ |
| ۵ | وحدانیت | تعدد |
| ٦ | علم | جهل |
| ۷ | ژوند | مرګ |
| ۸ | اورېدل | کوڼ والی |
| ۹ | لیدل | ړوندوالی |
| ۱۰ | کلام | ګونګ والی |
| ۱۱ | حکمت | ناپوهي |
| ۱۲ | اصلاح | فساد |
| ۱۳ | قدرت | ناتواني |
| ۱۴ | سخا | بخل |
| ۱۵ | له تکلیف اورنځ نه پاکي | تکلیف او رنځ |
| ۱٦ | له خوراک اوڅښاک نه پاکی | خوراک څښاک |
| ۱۷ | مور اوپلار نه پاکي اوسپېڅلتیا | مور اوپلار ورته ثابتول |
| ۱۸ | مېرمن څخه سپېڅلتیا | دمېرمن ثبوت |
| ۱۹ | زوی او لورنه پاکي | داولادثبوت |
| ۲۰ | له شریک نه پاکوالی | دشریک ثابتول |
| ۲۱ | دقهري شفاعت نه ثبوت | دقهري شفاعت ثابتول |
| ۲۲ | عزت | ذلت |
| ۲۳ | نه ستوماني | ستوماني |
| ۲۴ | ژوند | مړینه |
| ۲۵ | عدل | ظلم |
| ۲٦ | قدرت | بي واکي |
| ۲۷ | دسیال نه شتون | دسیال شتون |
| ۲۸ | دمکان اوزمان داحتواء څخه پاکوالی | مکان اوزمان ورته ثابتول |

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دتوحيد مراتب

خينو پوهانو په دغه مسئله کې تفصيلي بحث کړی اوتوحيديې په لاندې مراتبو وېشلي دي:

**۱ – دذات توحيد** :معناداچې الله تعالى په خپل ذات کې بې ساری اوبې سياله دی .داخلاص په سورة کې دتوحيد ددغې برخې بشپړه څرګندونه شوې ده.

**۲ – دصفاتو توحيد** : معنی داچې الله تعالى دکمال اوجمال ،دعلم،قدرت اوتلپاتې ژوند په صفاتو متصف دی اوپه دې کې ورسره هېڅوک شريک نه دي .

**۳ – دخالقيت توحيد** :معناداچې په ټولوکايناتوکې دالله تعالى نه پرته بل څوک دکايناتو موجداوخالق نشته، دغه حقيقت په عقلي دلايلو استواردی

**۴ : دربوبيت توحيد** :معنی داچې خيراوشراودټولوکايناتوتدبيريوازې دالله تعالى په لاس کې دی. په دې کارکې ورسر ه هېڅوک شريک نه دي .

**۵ - دحا کميت توحيد** :معنی داچې تشريعي حاکميت يوازې الله تعالى ته ثا بت دی ،دانسان په ارادې برخه کې دښواوبدولاربنود،دخيراوشر،دحلا لواوحراموواکمن الله تعالى دی په دې کارکې ورسره هېڅوک شريک نه دي .

**٦ – دتشريع توحيد** :معنی داچې هېڅوک په اسلامي ټولنه کې دازادتقنين صلاحيت نه لري ،قوانين به داسلامي شر يعت په رڼاکې جوړيږي .

**۷ – داطاعت توحيد** :معنی داچې دلته به دالله تعالى حکم په حاکم اومحکوم ،په امراوومامور،په شتمن او نيستمن ،په ټولوبه يوشان جاري وي دمشرانواوامربه هلته دمنلو وړ وي چې دالهي قانون سره سمون ولري .

**۸– په عبادت کې توحيد** :له دې څخه مطلب دادی چې محبت،اطاعت،بندګي اوتعظيم به يواځې الله تعالى ته کيږي. په دې حق کې ورسره هېڅوک شريک نه دي.

### په بشري ژونددتوحيددکليمې اغيزې

- په دغې سپېڅلې کلمې باوري انسان هېڅکله دتنګ نظر څښتن نه وي هغه په يو داسې ذات يقين لري چې دځمکې او اسمان څښتن او د ټولې نړۍ پالونکی دی له دې نه وروسته دکايناتوهېڅ شی ده ته پردی نه ښکاري ؛بلکې ټول کاينات دخپل څښتن ملکيت بولي .
- دغه کليمه په انسان کې عزت او سرلوړي رامنځته کوي. ددې سپېڅلې کلمې ويونکی پردې پوهېږي ،چې يواځې الله تعالى دټولو ځواکونو څښتن دی او له هغه پرته هېڅوک ګټه رسونکی نشته. مرګ او ژوند،عزت اوذلت دده په واک کې دي په دغه صورت کې دهغه غاړه او سر دمخلوق پروړاندې نه ټيټيږي او نه له چا نه مرسته غواړي په زړه کې يې يواځې دالله تعالى لويي وي .
- له عزت نفس سره دغه کليمه په انسان کې عاجزي پيداکوي ،هغه هېڅکله مغرور اوکبرجن نه وي ،ځواک ،پيسې مال ،دولت او منصب دده په زړه کې لويي او غرور نه شي پيداکولی البته له کفر او شرک سره کبر اوغرور مل وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ددې کليمې ويونکی پاک نفسه او سپېڅلی انسان وي، هغه په عادل او واکمن ذات باوري وي .دده په مقابل کې مشرکان،ملحدين او کافران،چټل،خبيث او ځناور صفته شخصيتونه وي ،چې دانسان له مرېنې لذت اخلي. ټول غم او فکر يې دمادي لذتونو او خوندونو لاسته راوړل او دانسانانو تباه کول وي.
- ددې کليمې ويونکی هېڅکله نا اميده اوزړه ماتی نه وي .تل خپل رب ته هيله من وي .که ،دنيا دخلکو ټولې دروازې بندې او دټولو اسبابو رسی وشلېږي، بيا هم دالله تعالی له مرستې او ملاتړ څخه نا اميده نه وي ؛البته دغه دزړه ډاډ او ســـکون دتوحيد دعقيدې له پيروانو څخه پرته بل چاته نه په برخه کېږي.لادينه وګړي ډېر ژر ناهيلي او په ځان وژنه لاس پورې کوي.
- په دې کليمې باوري انسان دعزم،حوصلې،صبر او توکل څښتن وي او پردې يې ټينګ يقين وي، چې دده ترشا دځمکې او اسمان دڅښتن قوت دی.دغه تصور په ده کې دغره په شان استقامت او کلکوالی رامنځته کوي .که دنړی ټولې ستونزې او غمونه پرې امبارشي له خپل عزم او تصميم څخه لاس نه اخلي.
- دغه کليمه له انسان څخه اتل جوړوي ،ديو شخص دبې زړه توب لپاره دوه شيان دي :لومړی دځان مال اواولادمينه ؛دويم له الله نه پرته دبل وژونکي تصــو،دلا اله الاالله باوردغه دواړه شــيان له زړه څخه وباسي.
- دلا اله الاالله عقيده په انسان کې قناعت رامينځته کوي دحرص،کينې او حسد ناوړه احساسات يې له زړه څخه لېرې کوي. هغه نېک انســان اونوروته ګټه رســـوونکی وي .دده په مقابل کې مشرــکان اودهريان دنورودبرې په رخه اوحســـدکې ځان وژني اودهغوی په راپرزولو کې له هېڅ رنګ بدتدبيرڅخه لاس نه اخلي.
- ددغې عقيدې څښتن دالهي قانون پابند وي او پردې يې يقين وي چې الله تعالی په هر يوه پټ او ښــکاره شي عالم اوخبردارد ی. هېڅکله هم په ناروا لارو چارو لاس نه پورې کوي.همدغه ســپېڅلې کليمه داسـلام اسـاس او تاداؤ دی .ددې کليمې دباورله ړنګېدلو وروسته داسـلام هېڅ شی نه پاتې کېږي داسلام ټول نظام پرهمدغه بنسټ ولاړدی.[۱]

---

[۱] درحماني محمد شريف ژباړه .داسلام اساسي ښووني ۵۰ مخ

PDF ترتيب كوونكى: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم څپرکی

### دالله تعالی داسماؤ اوصفاتو په هکله داهل سنتو اونوروگمراه ډلو باورونه اوپه ملایکو ایمان

**پیلیزه**

دیونان فلاسـفه اوپه اسـلامي امت کې ځنې گمراه ډلې دالله تعالی دصـفاتوڅخه انکارکوي دوی دومره ناپوهان دي چې دیوخالق په وجوداعتراف کوي ؛مگرهغه له صـفاتوڅخه خالي بولي لکه علم ، قدرت ، سمع ، بصر، اراده اوداسې نور... داسې خالق چې له مخلوق څخه په ټیټه مرتبه کې قرار ولري ځنگه د( اله ) په توگه ومنل شي، بل لورته ځنې گمراهان الله تعالی ته جسم ، سترگې ، غوږونه ، ژبه اونورحواس ثابتوي

### لومړی بحث

### دالله تعالی داسماؤ اوصفاتو په هکله داهل سنتو اونوروگمراه ډلو باورونه

نعیم بن حمادرحمة الله علیه فرمایي څوک چې الله تعـالی لـه مخلوقـاتوسره مشـابـه وگرځوي نوهغه کافروگرځېداوڅوک چې دالله تعالی له صـفاتوڅخه منکرشـو ؛نوکافروگرځېدقران عظیم الشـان یې په ډاگه اعلانوي ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِۦ شَىْءٌ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿١١﴾ ﴾ الشـــورى ژباړه:دکائناتو هیڅ شی هغه ته ورته څېرمه نشته ، هغه دهرڅه اوریدونکی اولیدونکی دی ،

نصرانیانوعیسـی علیه السـلام اوبت پالوخپل بوتان له الله تعالی سره یوشـان وبلل همدارنگه دخالق مشابه گرزول دمخلوق سره لکه دیهودیانوپه شان چې الله تعالی ته فقر، عجز، اونیمگړتیاثابتوی[1]

امام ابوحنیفـة رحمة الله علیه فرمایي : الله تعالی دمخلوق سره مشـــابه نه دی اونه مخلوق دالله تعالی سره مشـابهت لري بیاورپسـې زیاتوي چې دالله تعالی صفات نه دمخلوقاتودصفاتوپه شان دي دالله تعالی علم اوقدرت اولیدل زموږدلیدلوپه شـان نه دي دهغه ذات اوصـــفات دواړه کامل اولامثال اوکیفیت یې موږته معلوم نه دی زموږپرې په غیبوایمان دی .[2]

### دالله تعالی داسماؤاوصفاتوپه اړه داهل سنت تگلاره

اهل سنت والجماعت دالله تعالی داسماؤاوصفاتوپه هکله لاندې اراء اونظریات لري .

- دالله تعالی ټول نومونه حسنی (ښایسته )دي دهغه په نومونوکې (الله )ذاتي اونوریې صفتي دي .
- دالله تعالی نومونه اوصفات توقیفي ( دوحی ) پربنسټ ثابت دي
- دالله تعالی ټول صفتي نومونه کامل اوله هرې نیمگړتیاڅخه خالي دي دالله تعالی صفتي

---

[1] شرح اعتقاداهل السنة والجماعة ۲ ـ ټوک ۵۳۲ مخ
[2] دوکتورخمیس محمدابن عبدالرحمن : التوضیحات الجلیة علی العقیدة الطحاویة ج ۱ص ۲۲۴

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومونه ډېرزيات دي دالله تعالی ثبوتي صفات دمدحې اوکمال صفات چې هرڅومره ډېروي دالله تعالی په لوړتيااوعظمت دلالت کوي دالله تعالی دصفاتوظاهرموړته معلوم دی ؛مګرکيفيت يې موږته مجهول اونامعلوم دی . دالله تعالی دذات اوصفاتوترمنځ اړيکه دلزوم اويوتربل دپيوستون اونه بيلتون دی

## دويم بحث

## دايمان داساساتو دويم رکن په ملايکو ايمان

**پېليزه**

ملايکې دالله تعالی فرمان منونکې لښکرې دي، له نورڅخه پيدا زموږ له نظره پناه ،نه نارينه اونه ښځينه ،نه څه خوري ،نه څه ښښي په بېلابېلو چارو مقررې دي چې کوم کارورته سپارل شوی هغه سرته رسوي .هروخت په تسبيح لګيادي، شپه اوورځ دالله تعالی پاکي بيانوي.هروخت دالله تعالی څخه په وېره کې دي دملايکو صحيح حساب الله تعالی ته معلوم دی.مشهورې مقربې ملايکې څلوردي دلته هرڅه دالله تعالی په امردملايکو په وسيله ترسره کېږي په ملايکو ايمان دقران عظيم الشان اونبوي سنتو په لاربښوونوکې دايمان د امورو دجملې څخه دی دپېژندنې يواځېنی لارېې وحی ده، پردې اساس ترهرڅه دمخه دعلم سرچينې دقران عظيم الشان په رڼاکې ترڅېړنې لاندې نيسو :

**۱-دعلم دپيدايښت لار**

الله تعالی دانسان فطرت دتفکر پر اساس جو ړکړی ، علو مواو پوهنو ته درسېد لووړ تيا يې وربخښلې، همد غه څواک دی چې انسان له نورو حيو اناتو څخه جلاکوي .

**۲-دعلم مفهوم**

هرکله چې انسان دحسي_ غړو په وسيله دښا رجي نړۍ سره اړيکه ټينګه کړي ،ده ته يو حالت په برخه کېږي ،چې مخکې يې نه درلود،دمثال په تو ګه مو ږ يو شخص وينواو مخکې مو ليد لی نه ؤ داسې احساس کوو چې په مو ږ کې يو نوی شی رامينځته شوی چې مخکې مو نه درلود. هرکله چې دهغه شخص تصوير زمو ږ په ذهن کې نه ؤاوس دهغه تصوير په ذهن کې له ځان سره لرو؛ دې ته علم ويل کېږي دقران کريم په رڼا کې علم شپږ سرچينې لري :

۱: **حس او تجر به** :قران عظيم الشان حس او تجر به دعلم دلا سته راوړلو دوسيلې په عنوان يادوي؛ هلته چې فرمايي :﴿ أَفَلَمْ يَنظُرُوٓا۟ إِلَى ٱلسَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنَٰهَا وَزَيَّنَّٰهَا وَمَا لَهَا مِن فُرُوجٍ ﴿٦﴾ ق ژباړه:ښه نو دوی هېڅکله دځان له پاسه اسمان ته ندي کتلي ؟ په څه ډول موږهغه جوړ او سينګارکړ اوپه هغه کې هيڅ درزنشته .

دغه ايات دتو حيد په مسأله بحث کوي همدغه دبر هان نظم ارزښتنا که دليل دی انسان ته وايي :ستر ګې دې پرانيزه .دکاينا توپه هره ذره کې به دالله جل جلا له دعجا يباتو نښې په خپلو سترګوووينې. پردې اساس نول ساينس په حس او تجربې بناء دی ساينس دکايناتوپو هې ته وايي ؛نو ټول کاينا ت دالله جل جلا له دمعرفت ډکرکتيل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- عقل :** دقران عظیم الشان په رڼا کې عقل دعلم دلا سته راوړلو دویمه سر چینه ده.هلته چې فر مایي ﴿وَٱللَّهُ أَخْرَجَكُم مِّنۢ بُطُونِ أُمَّهَٰتِكُمْ لَا تَعْلَمُونَ شَيْـًٔا وَجَعَلَ لَكُمُ ٱلسَّمْعَ وَٱلْأَبْصَٰرَ وَٱلْأَفْـِٔدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٨﴾﴾ النحل ژباړه: الله تاسې ستاسې د میندو له ګیډو نه په داسې حالت کې راوایستلئ چې تاسې په هیڅ نه پوهیدلئ. هغه تاسې ته غوږونه درکړل، سترګې یې درکړې، او فکر من زړونه یې درکړل. ددې لپاره چې تاسې شکرویستونکي شئ.

په دغه ایات کریمه کې دعلم دوسایلو یادونه شوې، چې لو مړی یې سامعه (داورېدلو) قوه ده چې په هغې سره نقلي علوم اورودویمه باصر ه (دلیدلو) ځواک چې دهغې په وسیله حسي نړۍ ګورواوپه پای کې عاقله قوه چې په فؤاد سره یې تعبیر شوی. په هغې سره له حس نه وراخوا نړ ۍ درک کولی شو.

**۳- تاریخ او تاریخي اثار:** قران کریم تاریخي مسایل مطر ح کوي ،دتېروملتونوحالات په ډېر دقیق صورت په کې وړاندې شوي .دهغوی دژوند رو ښا نه او تیارې بر خې اودهغې نتا یج دعبرت ددرس په بڼه بیانوي ،همدارنګه دتېروقومو نو داڅا رو یـادونـه کوي .دهغو ی دپرمختـګ او زوال اسـبـاب ذکر کو ي،ترڅو راتلونکي نسلو نه ورڅخه پندواخلي.

**۴- فطرت او پټ شعور :** دعلم څلو رمه سرچینه قران عظیم الشـان فطر ت او پټ احسـاس راښیي .انسان چې کله درشـد تر پړاوه ورسـېږ ي یو لړحقا یق له زده کړې پر ته پخپله تر لاسـه کوي؛لکه مینه ،محبت ،جنسي غریزه ،خوراک،څښاک،یخني اوګرمي اوداالله جل جلا له معرفت .

**۵- مکا شفه او شهو د :**مو جودات په دووبر خو وېشل شوي :یو حسي نړۍ او بله دغیبودنیا. ځیني وخت الله تعالی خپلوخاصـو بندګانو ته یو ځانګړی ځواک وربخښي ،چې په هغې سره دغیبو نړۍ ګوري. رسول الله صـلی الله علیه وسـلم ته دمعراج په شـپه دجنتونو اودوزخونو . دسـد رة المنتهی او پورته غیبي نړۍ دننداري ښودنه شوې وه.

**٦- اسـما ني وحی:** دقرا نکریم په رڼاکې دعلم وروستنۍ سر چینه دوحی اسـما ني پیغا م دی قران عظیم الشـان دغه مطلب ته داشـارې په تر خ کې فرمایي﴿ ذَٰلِكَ مِمَّآ أَوْحَىٰٓ إِلَيْكَ رَبُّكَ مِنَ ٱلْحِكْمَةِ ﴿٣٩﴾﴾ الإسراء: ژباړه دا هغه د حکمت خبرې دي، چې ستا رب تا ته وحی کړې دي

دسمعیاتو دپېژند نې او پر هغو دایمان لپاره مهم قران عظیم الشان اونبوي سنت دي[1]

## ملا یکې داسلام په رڼا کې

په ملا یکو ایمان داسلامي عقید ې دارکانو او بنسټونو له جملې څخه دی انکار ورڅخه ځرګند کفر ګڼل کېږي[2]

[1] ... داد محمد ... ص ۱۳ انتشارات رسالت کابل افغانستان

[2] همدغه ماخذ ص ۲۲۵

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۱-په ملایکو دایمان مفهوم

ددوی په وجود ټینګ باور چې دوی عزتمند مخلوق دی ،الله تعالی دخپل عبادت او بندګی اودچار
دسرته رسولو لپاره پیداکړي دي[۱]

### ۲-په لغت کې

ملایک دملک جمع ده دلام او میم په فتحې سره دالوکة څخه اخیستل شوي ،الوکة رسالت ته وایي ،دوی
هم الهي پیغامونه پیغمبرانوته له ځان سره راوړي اویا خومضبوط اوقوي مخلوق ته ویل کېږي.

### ۳-په شرعي اصطلاح کې

ملایکې له یولړغیبي ، نا محسوسو نوراني مخلوقاتو څخه عبارت دي چې له حیواني تما یلاتوڅخه پاکې
دي په بېلا بېلو شکلونو ځان بد لولی شي، داستو ګنې ځای یې اسمانو نه دي دالله تعالی دسپېڅلي ذات نه
پرته یې حقیقت هېڅا ته معلو م نه دی.

### ۴-په ملا یکو دایمان دلا یل

دملایکو وجود یوثا بت حقیقت دی او دلایل یې له شمېره وتلي دي. مو ږ ورته په لنډ ه تو ګه کتنه کوو:
**لومړی قران عظیم الشـان**: الله تعالی په خپل سـپېڅلي کلا م کې دملا یکو دپیدا ینبـت په هکله مو ږ ته
خبر راکړی

**دویم نبوي سـنت**:ټولو پیغمبر انو دملا یکوپه باره کې خبر ورکړی ،پیغمبر صـلی الله علیه وسـلم هم په
ملایکو ایمـان دایمان رکن بللی دی پخپله دالله سـپېڅلی کلا م( قران عظیم الشـان) هم دملا یکو داثارو
دجملې څخه دی دالله جل جلاله او نبي صلی الله علیه وسلم ترمنځ واسطه جبریل ؤ[۲]

### ۵-دپیدایښت ماده یې

مکلف مخلوقات چې عقل ورکړل شوی په درې ډوله دي :

- ملایک چې له نور څخه پیداکړی شوي دي .
- پېریان چې له ملایکووروسته له اور څخه پیداکړی شوي دي.
- انسان چې له خاورو څخه پیداکړی شوی دی .[۳]

### ٦- حقیقت اوصفات یې

موږ نه شـوکولی دملایکو حقیقـت معلوم کړو، دعقیـدې په مسـا یلوکې لا زمه ده چې موږ په شرعي
څرګندودلایلو اکتفاوکړو، ددوی ځینې صفات په لا ندې دلایلوکې راغلي دي:

- له نورڅخه پیدایښت

---

[۱] - همدغه ما خذ ص ۲۴٦
[۲] - الخمیس محمد عبدالرحمن ( ۱۴۲۹هـ ق) التوضـیحات الجلیة علی العقیدة الطحاویة دویم توک ص ۱۰۰۴دارابن جوزي دمام المملکة العربیة السعودیة
[۳] - نعیم یاسین(ب ت ) الایمان ارکانه حقیقته نواقضه مکتبة الرسالة الحدیثه عمان

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library

- لوی جسمونه
- په بېلابېلو شکلونو څرګندېدل
- دمتفاوتووزرونو درلودل
- نا اشنا خواک درلودل
- په دوی کې ځینې مقربې ملایکې دي
- ددتولدا وتنا سل اوله ښځینه توب او نارینتوب څخه سپڅلتیا
- دالله تعالی پروړاندې د بېلابېلو مرتبودرلودل
- د حسن او جمال صفت درلودل
- د خوراک ،څښاک او ستړیا څخه پاکي اوداستو ګنې ځای یې اسمان دی
- دوی دحیاء څښتنا نې دي
- دوی دنظام څښتناني دي
- ملایکې ډېرې زیاتې دي چې شمېرېې یواځې الله تعالی ته معلوم دی .

## ۷- خویونه یې

ملایک ډېرښه خویونه لري چې په قرانکریم کې یې ذکرشوی، ځینې یې په لاندې توګه دي

- عزتمند مخلوق دی
- دالله تعالی دحکم عملي کونکي اودګناهونو څخه ځان ساتونکې دي
- حیاناک مخلوق دی
- مؤمنانو ته بخښنه غواړي [1]

## ۸- دندې یې

ملایکې په اسمانونواوځمکو مقررې دي په کایناتو کې هرحرکت اوخوځښت دالله تعالی په امردملایکو په وسیله صورت مومي قران عظیم الشان همدغه مطلب داسې بیانوي ﴿ فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا ﴿٥﴾ النازعات: ژباړه:بیا (دالهي حکمونوسره سم )دچاروتنظیم کوي

قران کریم اونبوي سـنـت دملایکو په اصـنافو ډک دي چې په مخلوقاتو مؤظفې اوبېلابېلې چارې سرته رسـوي ،ځینې په غرونو، ځینې په وریځو اوباران، ځینې دښـځینه ؤپه رحم ،دنطفې په تدبیر اودخلقت په سوال او ځواب .دستورو اواسماني سیارو، په لمر،سپوږمۍ ،عرش اوکرسي ،په جنت اودوزخ هم ملایکې مقررې دي.نوېردې اسـاس ملایکې دالله تعالی سـترې لښـکرې اوعزتمند مخلوق دی. مقربې ملایکې جبریل ، میکائیل ، اسرافیل او ملک الموت دی دجبریل دنده پیغمبرانوته وحې راوړل ، دمیکائیل دنده

[1] نعیم یاسین، کتاب الایمان ارکانه حقیقته نواقضه ص ۵۱ مکتبة الرسالة الحدیثه عمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



بارانونه اونباتات دي ،دملک الموت دنده داارواحو اخيستل اوداسرافيل دنده شپېلى اودنړۍ دموجوده نظم دپاى ته رسېدو دخطر دزنګ وهل دي. قران عظيم الشان دملايکودبېلابېلودولونوڅخه ډک دی [1]

**۹-په ملايکو دايمان اغيزې**

- دالله جل جلاله په عظمت اورحمت داحساس زيات والى .
- په جهادکې مېړانه، په دې فکرچې ملايکې ورسره ددښمن په مقا بل کې يې مرسته کوي.
- دالله عزوجل په اوامرو استقامت اوپردې يقين ،چې په خپلوافعالو اووينا ؤکې يې ملايکې څاري دامن ،دډاډاواطمينان احساس . [2]

## پېريان او شيطانان

دپېريانو په وجود يقين هم داســلامي عقيدې برخه ده پېريان دغيبي شـيانو له جملې څخه دي چې الله تعالى او پيغمبر صلى الله عليه وسلم مؤمنان دهغوى په باورما موركړي دي .پردې اساس د پېر يانو په وجود يقين لازمي دى ،په دې برخه کې به په لاندې موضوعاتوپه ترتيب سره بحث وکړو:

**۱-دجن مفهوم**

په لغت کې هغه شي ته ويل کېږ ي چې له حواسو پټ وي په اصطلا ح کې جن دالله تعالى داسې مخلوق دى چې دانسـان اوملک په منځ کې قرار لري اوداختيا رڅښتنان دي ،غيرمادي صـورت يې نه ليدل کېږي ،ددې توان لري چې په بل قالب کې دښواوبدواشکا لوپه بڼه ځان څرګندکړي [3]

**۲-دپېژندلولارې چارې يې**

اســماني وحى يواځېنى سرچينه ده چې موږددغو موجوداتو له عالم سره اشـــنا کو ي قرانکريم او نبوي احاديـث يې موږتـه څرګنـدوي، چې پېريــان له څه شي پيداشــوي دي؟ ددوى دجلا اوبېلو قبيلوکړنلاره اوددوى دمکلفيت نوعيت څرنګه دى؟.

**۳-ددوى دوجود دليل**

**الف -قران عظيم الشان :**په قران کريم کې دجن دلفظ يا دونه( ۳۲ )ځله په ګنو سورتونوکې شوې ده، الله تعالى فرمايي ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾ الذاريات [4]

**ب-نبوي حديث:**پيغمبر صـلى الله عليه وسـلم په هډوکو او خر شـنو داسـتنجاء څخه منعه فرمايلي ده او ويلي يې دي ،چې داسـتاسـودپېريانوورونوخوراک دى دمسلمانانو تولې ډلې دپېريانو په شتو ن اعتراف کوي .په همدې توګه عام اهل کتاب دپېريانو په وجود قايل دي [5]

---

[1] -همدغه ماخذ ص ۵۳

[2] -همدغه ماخذ ص ۵۴

[3] -نذير داد محمد(ب ت) عقايد اسلامي ص ۲۵۳انتشارات رسالت کابل افغانستان

[4] -ابن کثير عماد الدين (ب ت) تفسيرالقران العظيم ج٦ ص ۲۹بيروت لبنان

[5] -خطيب محمد احمد( ۱۹۹۰م) دراسات فى العقيدة الاسلاميه مکتبه الفلاح اردن

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ج:دپېري او ملک ترمينځ فرق:** ملايکې نوراني مخلوقات دي، نـه څه خوري، نه څه ښځې او له تولد اوتنـاسـل څخه سـپېڅلې دي. دالله تعالى عبادت کوي، معصـيت ورڅخه نه ليدل کېږي ،مګرپېريان له اورڅخه پيدا شوي ،خوراک او څښاک کوي ، ښځينه او نارينه لري او تولد اوتناسل لري اوپه معصيت هم لاس پورې کوي.[۱]

**۳- حقيقت اوصفات يې**

دپېريانوحقيقت په قران عظيم الشـان کې بيان شوی، موږ به دلته ځينې معلومات راوړوچې ددوی حقيقت او اوصفات روښانه کوي:

- دپېريانودتخليق ماده داورشعلې دي .
- له انسان نه مخکې پيداشوي دي.
- دليدلوقابل نه دي .
- دانسان په شان مکلف مخلوق دی .
- دانسان اوحيوان په شکل په بېلابېلو بڼوڅان ځرګند ولی شي.
- دانسان په شان ژوند،مړينه او قيامت لري.
- نارينه او ښځينه ،تولداوتناسل لري .
- شعوراواراده لري اوله دې پرته دېرچا لاک دي شاقه چارې سرته رسولی شي .[۲]
- خوراک کوي .
- مؤمنان ،کافران ،صالح اوفاسدافرادلري.
- دغيبوعلم نه لري.
- انسان ته زيان رسوي [۳]
- پېريان په کنډوالو ،غيرمسکوني ځايونو ،ډېرانونواوچټلوځايونواوښارونوکې اوسېږي زياتره په کثيفو، ناولو، ګنهګاروواومجرموانسانانوکښېنې اوله پاکو انسانانو سره غرض نه لري [۴]

په پېريانواوشـيطانانوکې دقوت اړخ هم شـته ،خوقران عظيم الشـان دشـيطان اودشـيطان دپلويانو دسبب اومکرکمزوری بولي.[۵]

---

۱- سيد سابق (۱۹۸۷م)العقايد الاسلامية ص ۱۳۵ دار الکتاب العربی بيروت لبنان

۲- خطيب محمد احمد( ۱۹۹۰م) دراسات فی العقيدة الاسلامية ص ۱۱۲ مکتبه الفلاح اردن

۳- ناصر داد محمد(بی ت) مقاله اسلامی ص ۲۵۳ انتشارات رسالت کابل افغانستان

۴- مجاهد محب الله (۱۳۹۲ه ش)کاينات له محت الثرۍ تر عرشه ص ۱۴۹

۵- سيد سابق (۱۹۸۷م)العقايد الاسلامية ص ۱۲۵ دار الکتاب العربی بيروت لبنان

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ابلیس او شیطان

دشیطان په وجود باورهم داسلامي عقیدې برخه ده، داځکه چې شیطان دغیبي امورله جملې څخه دی، چې الله جلت عظمته اورسول الله صلي الله علیه وسلم موږ دهغه دپیروی څخه منعه کړي یو په قران کریم کې دغه لفظ(۸۸) ځله راغلی دی. دشیطان ،ابلیس اوطاغوت الفا ظ (۱۰۸) ځله راغلي دي. پردې اساس دشیطان په شتون باورلازمي شی دی،په دې لړکې به موږلا ندې مطالب په ترتیب سره ذکرکړو.

### ۱-دابلیس او شیطان معنی

**الف- ابلیس په لغت کې:** عربی کلمه ده، له ابلاس څخه اخیستل شوې معنیې( دالله جل جلا له له رحمته نا امید) سره راغلی البته ابلیس دشیطانانو پلارګنل کېږي .

**ب-په اصطلا ح کې:** دابلیس اصطلاحي معنی: هغه پېری چې ادم علیه السلام ته دتعظیم څخه یې انکاروکړاودالله تعالی دلعنت مستحق وګرزېد ،ترقیامته یې ورته مهلت ورکړ اودګمراهی ټول وسا یل یې ورپه برخه کړل [1]

**ج- شیطان په لغت کې:** دپېریانواوانسانانوپه هرسرکښ اونا فرمان باند ې یې اطلا ق کېږي .

**د-په اصطلاح کې:** له سرکښو پېریانو څخه عبارت دی، چې دانسان په بڼه دځرګندېدوتوان لري.

### ۲ - دتخلیق (پیدایښت) ماده یې

شیطان دپېر یانودنسل څخه دی،له همدې امله دپیدایښت ماده یې داورلمبه ده .قران عظیم الشان فرمایي:﴿ وَٱلۡجَآنَّ خَلَقۡنَٰهُ مِن قَبۡلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾ الحجرژباړه:اوله هغه نه مخکې موږ پیریان داورله شغلې نه پیدا کړي ول.

### ۳-دشیطان اصل

څرنګه چې دانسانانو اصل ادم علیه السلام دی.په همد ې توګه دابلیس اصل هم پېری دی .قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمایي:﴿ كَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ ﴾الکهف) ژباړه: دی دپیریانودجملې څخه ؤ [2]

لکه څنګه چې ملایک دالله تعالی منونکي لښکرې دي، دخیر ،نېکۍ اواصلاح لوري ته بلنه ورکوي؛همدارنګه شیطانان متمردمخلوق دی، چې خلک دالله تعالی دښمنی ،شر، فساداوتباهی ته دعوت کوي. کره وړه یې دملایکودکړووړوسره متضاددي، دملایکو ماموریت دخلکوترمنځ وحدت، دوستي ، محبت یووالی او هدایت دی دشیطان فعالیتونه سرکشي-، نا فرماني،اختلاف ، فساد،تباهی او بې لاري ده. همدغه شیاطین دي چې فاسداو ناکاره اعمال خلکو ته ښه ښکاره کوي [3]

---

[1] سید سابق (۱۹۸۷م)العقاید الاسلامیة ص ۱۳۹دار الکتاب العربی بیروت لبنان
[2] نذیر داد محمد(ب ت) عقاید اسلامي ص ۲۶۲ انتشارات رسالت کابل افغانستان
[3] سید سابق (۱۹۸۷م)العقاید الاسلامیة ص ۱۴۰ دار الکتاب العربی بیروت لبنان

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۴-دشیطانانوډولونه**

لکه څرنګه چې په پیریانوکې شـیطان وي ؛همدارنګه په انســانانوکې هم شـیطانان وي په یو روایت کې راغلي دي: یوځل ابوذرغفاري رضي الله عنه لمو نځ کاوه رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم ورته وفرمایل ابوذره ! دانسي ــ او جني شـیطا نانوڅخه پناه غواړه ابوذر رضي الله عنه عرض وکړای دالله رسـوله ! په انسـانانوکې هم شـیطانان وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل هو! همد غه مطلب ته په قران عظیم الشان کې اشاره شوې ﴿ وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ ﴿١١٢﴾ ﴾الأنعام:ژباړه: او موږ خو تل همداسې شیطان انسانان او شیطان پیریان د هر پیغمبر دشمنان ګرځولي دي

**۵-ددوی ډلې**

- مر دة الشیاطین :معنا داچې په کبر، لویی او سرکښي کې او ړداخته ؛نوپردې اساس په ټولو کافرانو دانسي شیطان اطلا ق صحت لري .

طاغوت :زموږ پوهانودطا غوت معنادګمراهی دسرلښکرکړې ده پخپله نه یوازې داچې ګمراه ؛بلکې دګمراهي اوکفرمشراوقاید .

**٦-دشیاطینو پروړاندې دانسانانو ډولونه**

- محفوظه ډله چې الله تعالی دشیاطینو له شر څخه ساتلي دي ؛لکه پیغمبران
- هغه ډله چې شیطان یې دګمراهي هڅه کوي لکه مؤ منان.
- د شیطان لاس پوځي انسي شیطانان؛ لکه عام کافران او منافقین[1]

**۷:دشیطانانوځانګړتیاوې**

شیطانان لاندې ځانګړتیاوې لري:

**الف – تخلیقي ځانګړنې یې**

**۱- له اوره پیدایښت** :الله تعالی فرمایي﴿ وَٱلْجَآنَّ خَلَقْنَٰهُ مِن قَبْلُ مِن نَّارِ ٱلسَّمُومِ ﴿٢٧﴾ ﴾الحجر: ژباړه او له هغه نه مخکې موږپیریان داورله شغلط نه پیداکړي وو.

**۲- په سترګو نه ښکارېدل:** قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي ﴿ إِنَّهُۥ يَرَىٰكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُۥ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ﴿٢٧﴾ ﴾الأعراف ژباړه: هغه اود هغه ملګري تاسې له یو داسـې ځای نه ویني چې له هغه ځایه تاسونه ویني

**۳-قبیح، بد شـکل او ښـکرونه** :په منځنیو پېړیوکې نصرـانیانودشـیطان انځورداسـې وړاند ې کاوه :تک تورشخص، لوړې وریځې، ښکرونه ، څیرونکې منګولي ،له خولې څخه وتونکې لمبه او شا ته لکۍ .

[1] - اشقر عمر سلیمان (۲۰۰۷م)عالم الجن والشیطان ص ۸۰ دارالنفایس للنشر والتوزیع اردن
[2] -نذیر داد محمد(ب ت) عقاید اسلامي ص ۲٦۱ انتشارات رسالت کابل افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library


ب:معنوي ځانګړتیاوې

۱- ځان لوی ګڼل اوکفر:الله تعالی فرمایي ﴿ أَبَىٰ وَٱسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾ البقرة.ژباړه خوابلیس انکاروکړ، هغه د خپلې لویي په غرورکې اخته اودکافرانو له ډلې څخه شو .

۲-نافرماني : الله تعالی فرمایي ﴿ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ كَانَ لِلرَّحۡمَٰنِ عَصِيّٗا ﴿٤٤﴾ مریم: ژباړه شیطان خو له رحمن څخه سرغړوونکی دی..

۳-لعن اورجم : الله تعالی فرمایي ﴿ فَإِذَا قَرَأۡتَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَٱسۡتَعِذۡ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٩٨﴾ النحل: ژباړه : نو کله چې ته په قران لوستلو پیل وکړې نوله رټل شوي شیطان نه الله تعالی ته پناه وړه

۴- سرکشي :طغیان او له حدڅخه تجاوزدشیطان په اوصافوکې راځي

۵ - شکست:دحق پروړاندې ناکامي اونابودي دشیطان ځواکونوته تل شکست په برخه وي

## ۸-دشیطان اهداف اومقا صد

**الف- نهایي هدف** :دشیطان وروستی هدف دادی چې خلک له جنت څخه محروم او دوزخ ته یې بوځي الله تعالی فرمایي ﴿ إِنَّ ٱلشَّيۡطَٰنَ لَكُمۡ عَدُوّٞ فَٱتَّخِذُوهُ عَدُوًّاۚ إِنَّمَا يَدۡعُواْ حِزۡبَهُۥ لِيَكُونُواْ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلسَّعِيرِ ﴿٦﴾ فاطر: ژباړه :په حقیقت کې شیطان ستاسې دښمن دی ؛نوتاسې هم هغه خپل دښمن وګڼئ هغه خپل پیروان خپلې لارې ته ددې لپاره رابولي چې هغوی د دوزخیانوله جملې نه شي .

**ب-نیژدې اهداف**

- دکفر او شرک په لومه کې دخلکو راګیرول.
- دخلکو هڅو نه ترڅو طاغوت ته پرېکړې یو سي.
- په ګنا هونو کې دخلکو غورزول.
- په بدعاتودخلکواخته کول ،داځکه چې دبد عت زیا ن دین ته رسیږي.
- دخلکودعباداتواوطاعاتو فاسدول اودالله جل جلا له ددین په وړاندې خنډونه ایجادول [۱].

[۱] نابرداد محمد(ب ت) عقاید اسلامي انتشارات ص ۲٦۵ رسالت کابل افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی
## په اسماني کتابونو او پيغمبرانو ايمان

**سريزه**

په اسماني کتابونوايمان دايمان دربيم اوپه پيغمبرانوڅلورم رکن دی الله تعالی دبشرسيت دهدايت اولاربښوونې لپاره دتاريخ په بېلابېلو پړاوونوکې ډېرلوی اوواړه کتابونه نازل کړي دي، چې په دې کې الهي قانون اودژوندتېرولوصحيح طريقه بيان شوې وه.الهي استازو(پيغمبرانو) ددې کتابونومفهوم ولسونوته څرګندکړاوپخپله يې عملي نمونه ول. په ټولواسماني کتابونوايمان راوړل ضروري دي ؛ځکه چې اصلي مرکزي اومحوري خبره يې يوه وه ،چې هغه داالله تعالی بندګي اوله کفراوشرک څخه ځان ساتل دي؛ مګر اوس مهال له قرا ن نه پرته په اصلی بڼه بل اسماني کتاب شتون نه لري، حقيقت دادی چې کوم صنعتي شرکت له خپلو مصنوعاتو سره خپل استازی او لاربښوونکي يادښتونه ونه لېږي، هغه نااهله اود نيمګړې اداري څښتن ګڼل کېږي ديوشرکت لاربښووني شاته غورځول اومصنوع دخپل هوس اوخوښې پر بنسټ په کارول ترټولولويه ناپوهي ده.ايا دابه ډېرلوی حماقت نه وي،چې انسان الهي لاربښووني شاته وغورځوي،خپل هوی او هوس اودکفارو پيروی پسې ولاړشي ؟

### لومړی بحث
### په اسماني کتابونوايمان

انسان دژوند په ډګرهراړخيز نظام ته چې په دنيا او اخرت کې يې له نېکبختۍ سره غاړه غړی او دکمال لوړو پوړيو ته يې ورسوي سخته اړتيا لري، په دې کې بايدښه اوبد، اهداف اواهدافو ته درسېدو لارې چارې ضرورتونه، ستونزې اود حل لارې يې ،مسؤليتونه اومکلفيتونه په ګوته شوي واوسي .اوس پوښتنه داده چې بشري عقل ددې صلاحيت لري،چې دداسې يو صالح نظام په رامنځته کولو بريالی شي؟ نه هېڅکله [1]

**۱-انسان دوه اړخيزموجود:**انسان مادی اوروحاني مخلوق دی داسلام سپېڅلی دين دواړه اړخونه موازی پرمخ وړي

**۲-قانون ته اړتياولې؟:** انسان ټولنيزمخلوق دی. جلاجلااړتياوې لري په ځاني توګه خپلې اړتياوې نه شي پوره کولی انساني استعدادونه اوخواهشات هم مختلف دي دانساني اړتيا ؤاواستعدادونو اختلاف+دامکاناتو کموالی اومحدوديت =اختلاف اودښمني نتيجه:دقانون دشتون لزوم [2]

---

۱-ابن تيميه تقي الدين مجموعة الفتاوى ( ۱۹۶۰م)اول ص ۱۵ توک دمام السلكة العربية

۲-سيد سابق (۱۹۸۷م)العقايد الاسلامية ص ۱۵ دار الكتاب العربي بيروت لبنان

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دقوانینو ډولونه

۱- بشري قوانین ۲- الهي قوانین(وحی)

**دمقنن صفات**

کامل عقل ،بشپړ علم،زړه سوی اوترحم،داشتباه څخه پاکوالی ،دغه صفات دکایناتودخالق نه پرته په بشرکې نه موندل کېږي داځکه چې :[1]

**په بشري قوانینوکې**

۱-دشخصي غرایزودخالت ۲-دژوندپه ټولوبرخو،نه حاکمیت ۳-له سپېڅلتیاڅخه نه برخمنتیا۴-سرچینه یې عقل ده.

**عقل**

انسان عقل لري ؛خو عقل دښواو بدو په پېژندنه کې مستقل نه دی ؛لکه څرنګه چې سترګه له رڼا څخه پرته لیدل نه شي کولی ،په همدې توګه دانسان عقل دوحی له رڼا نه پرته خطا کېږي .له بلې خوادچاعقل؟ عقلونه هم مختلف دي ؛نوټولنه دګډوډی په لوري ځي ؛نوپردې اساس وحې اواسماني کتاب دنړی والو دوحدت اونېکبختی ضامن دی ؛نو اسماني کتاب ته اړتیاده.[2]

**اسماني کتاب (وحې)**

- سرچینه یې دکایناتو څښتن ده.
- دخلکو په زړونو کې ځای لري .
- دانسان مادي او روحاني لاربښوونې ترپوښښ لاندې نیسي .
- دانسان ددنیا او اخرت دکامیابی ضامن دی.
- دانسان بشپړه روزنه کوي اوواقعي کمال ته یې رسوي.
- انسان له تیارو نه درڼاخوا ته راوباسي.
- دبشر ټولو غوښتنو ته مثبت ځواب وایي.
- سراسر حق او باطل ته په کې ځای نشته .[3]

## دکتاب پېژندنه

**لغوي معنی :** کتاب دمصدرصیغه دمکتوب په معنی سره ده، دپیوستون مفهوم افاده کوي لیکوال اوخیاط ته کاتب ویل کېږي؛ ځکه چې هغوی توري اوجامې رایو ځای کوي فوځي لښکرته هم کتیبه وایي.

**اصطلاحي پېژندنه** :دتوروخپل مینځي پیوستون ته کتاب ویل کېږي.

---

[1] - رحماني محمد شریف (ب ت) اسلامي سیاست پوهنه ص ۱۱۴اصلاح افکار ننګرهار
[2] - سید سابق (۱۹۸۷م)العقاید الاسلامیة ص ۴۳ دار الکتاب العربی بیروت لبنان
[3] - طالبي(ب ت) بینش اسلامي ص ۲۷ خیابان داروبخش تهران ایران

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲- شرعي معنی** :کتاب دالهي کلام څخه عبارت دی ،چې په هغه کې هدايت اورڼا وي ،چې دوحی په ترڅ کې دوخت پيغمبرته ليږل کيږي ،ترڅوولسونه رهبري اودنيا اواخرت بري ته يې ورسوي.[۱]

**۳- ډولونه يې**:اســماني کتابونه دوه ډوله دي مدون اوغيرمدون ،مدون څلورلوی کتابونه دي اوغير مدون صحيفې دي

اوس مهال نه صحيفې شته اونه يې ژبه ؛مګرپه اسماني لويوکتابونوکې نن يوازې قران عظيم الشان په خپل اصـلي حالت کې لفظ په لفظ اوحرف په حرف محفوظ پاتې دی اوترقيامته به همداســې وي داځکه چې دلکونوانسانانوپه سينوکې محفوظ دی[۲]

په نورودرې اسـماني پيغامونو( تورات ، انجيل ،زبور)کې ډېرڅه بدل شـوي ،اصـلي ژبه يې نشته. بې لارې خلکودهغې په تعليماتوکې ډېرې هغه خبرې ورننوېستلې دي چې ددين له اصلي تعليماتوسره اړخ نه لګوي اوډېرې هغه خبرې يې ورڅخه وېســتلي. چې دهغوی دغوښــتنوخلاف وې .له همدې امله نن دحق دين دپېژندلواوپرهغه دعمل کولويواځنی محفوظه اومستنده ذريعه قران عظيم الشان دی، ترقيامته دټول بشريت لپاره لارښــودپيغام اودنجات يواځينی وســيلـه ګڼلی شي .لـه همـدې کبلـه له هغه نه بې پروايي اودهغه داصـولو ،قوانينواولارښــوو نوپرخلاف دنوروا صــولواولارښــوونوسره ســم دژوندعيارول ګمراهي ،بغاوت اوکفرګڼلی شي.

**۴- دا ړتيا حکمت يې**:دانسان لارښوونه: که رهبري شي دکمال لوړو پوړيو ته به ورسېږي اوکه نه دانحطاط او زوال په لاره به درومي اوله څناوروبه بترواوسي.[۳]

**۵- دايمان حکم يې** :ايمان پرې لازم اوانکاروړڅخه کفردی چې په لاندې ټکو کې يې راخلاصه کوو

- په دې خبره ټينګ باورچې الله جل جلاله په خپلوپيغمبرانواسماني پيغامونه نازل کړي دي چې نومونه اوشمېرېې يوازې الله تعالی ته معلوم دی .
- په هغو اسماني پيغامونو چې په قران کريم کې يې يادونه شوې ده ؛لکه دابراهيم اوموسی عليه الســلام صــحيفې، تورات، انجيـل اوزبورپـه دې ټولو لـه تحريف اوتبـديل نه دمخه اجمالي ايمان په ژبه اقراراوپرزړه تصديق لرل.
- په قران عظيم الشان مفصل ايمان، په ژبه اقراراوپه زړه تصديق اوپريکړوته يې ځان سپارل اوپردې باوردرلودل ،چې دالله تعالی کلام اووېناده په محمد صـلی الله عليه وسـلم نازل شـوی ترڅومسـلمانانوته دژونـد قـانون اولـه تيـاروڅخه درڼاپه لوروېســتونکی اوسي،په ده کې داســمانونواوځمکودپيدايښــت اودتبروملتونواوقومونودپرمختګ اوزوال کيسعقيدې،حلالواوحرامو ،ادابو ،اخلاقو ،عباداتواومعاملاتو ،کورني

---

۱. حبنکه حسن عبدالرحمن (ب ت ) العقيدة الاسلامية ص۲٦واسسهادارالقلم دمشق
۲. حبنکه حسن عبدالرحمن (ب ت ) العقيدة الاسلامية واسسهادارالقلم دمشق
۳. حيم ميم (۱۳۲۱هـ ش )اشنايی بافرهنګ اسلامي ص۱۰۲تهران ايران

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظام،اقتصاد،سیاست اوحکومت ،شوری،عدل اوانصاف ،جنایي سزاګانو،جنګ اوسولې اونورې والوارېکوپه هکله احکام اوقوانین بیان شوي دي.[۱]

**٦- دایمان دلایل یې**:قران عظیم الشان اونبوي سنت په اسماني کتابو نود ایمان ستر دلایل دي ؛قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي ﴿ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِى نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَٱلْكِتَٰبِ ٱلَّذِىٓ أَنزَلَ مِن قَبْلُ ﴿١٣٦﴾﴾ النساء ژباړه: ای مؤمنانو ! پرالله او پررسول او پر هغه کتاب ایمان راوړئ چې الله پرخپل پیغمبر نازل کړی دی. او پرهر هغه کتاب چې له دې نه مخکې یې نازل کړیدي .

په همدې توګه دجبریل په مشهور حدیث کې هم دایمان اساسات بیان شوي دی[۲]

**۷- دنزول موخه یې**

- دالله تعالی معرفت اوبندګي اود بشریت رهبري.
- له تیارو،ظلم اوجهل څخه د بشریت نجات.
- انسان ته دښه اوبد،مضراوګټور پوهه ورښودل .
- په دنیااو اخرت کې د سوکاله ژوند لورته یې رهبري.
- ددیني عقایدو،عباداتو، نصا یحو ، ادابو، دثواب اوعذاب لارښود.
- دشخړواواختلا فونودحل قانون [۳]

**۸- اتفاقي ټکي یې**

- د سرچینې یووالی په دې تو ګه چې ټول کتابونه دالله تعالی له خوانازل شوي ؤ
- دهدف وحدت په دې توګه چې دټولواسماني کتابونوموخه دالله تعالی بندګي وه
- اعتقا دي وحدت :اسلامي عقیده دادم علیه السلام نه تردې وخته پورې یوه وه.
- دعباداتو پرځای کول ؛لکه لمو نځ ، روژه ، زکات ،حج اودنفس تزکیې ته هڅونه.
- ښه اخلاق؛ لکه عفوه ،په کړاؤنوصبر ،له موراوپلارسره احسان ،وفا ، صله رحمي ، میلمه پالنه
- دفساد سره مقا بله برابره خبره ده ،چې اعتقادي فسادوي اوکه اخلاقي.
- جهاد ته هڅونه ،ددین لپاره ځاني اومالي سرښندنه وړاند ې کول
- دعدل ټینګول.[٤]

---

۱. حبنکه حسن عبدالرحمن (ب ت ) العقیدة الاسلامیة واسسها ص ٥٣٦ دارالقلم دمشق
۲. نقیب محمد احمد ( ۱۹۹۰م )دراسات في العقیدة الاسلامیة ص ۸۰ دار عمار للنشر عمان
۳. الاشقر سلمان (ب ت) الرسل والرسالات ص ۲۳٥ دار الکتاب العربي بیروت لبنان
٤. همامنبع ماخذ ص ۲۳٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹- دایمان گټې یې**

- له فکري او اعتقادي خلل اواشتباه څخه دبشریت ساتنه .
- په سمه اوڅرګنده لاردملتونوروانول .

**په قران کریم کې ذکر شوي اسماني کتابونه**

هغه کتابونه چې ایمان پرې لازم او په قران کریم کې یې یا دونه شوې عبارت دي له:

**۱-صحیفې :**په قران عظیم الشان اونبو ي مبارکواحادیثوکې دصحیفو یادونه شوې ده .

**۲-تورات :** دتورات لفظ عبراني دی دتعلیم ،شریعت او قانون په معنی سره دی اوله هغه الهی کتا ب څخه عبارت دی ،چې الله تعالی په موسی علیه السلام نازل کړی ،دقران عظیم الشان په ګڼو ځایونوکې دتورات یادونه شوې.

**الف-دتورات لارښووني**

- دالهي احکامو،دعباداتو،اخلاقواوحدودومجموعه وه ،چې بني اسرائیل پرې مامورشوي ؤ
- دمحمدصلی الله علیه وسلم دراتلو دزیري ذکراودهغه دځینوصفاتویادونه .
- دوسله والي مبا رزې اودځاني اومالي سرښندنې ذکر.

**ب-اوسنی تورات**

داهغه تورات نه دی ،چې پرموسی علیه السلام نازل شوی ؛ځکه چې سندي تسلسل نه لري دتورات اصلي نسخه له مینځه تللې اواوه ځله ضایع شوې ده په ده کې باطل عقایددي چې دپیغمبرانودتعلیماتوسره سمون نه خوري .[۱]

**۳ - زبور:** زبورلیکلی پیغام ته وایي اوله هغه الهی پیغام څخه عبارت دی ،چې په داؤدعلیه السلام نازل شوی دقران عظیم الشان په ګڼوایاتونوکې دزبورذکرراغلی دی.

**۴- انجیل:**انجیل یوناني کلمه ده ،دزیري په معنا ده اوله هغه الهي پیغام څخه عبارت ده،چې په عیسی–علیه السلام نازل شوی دقران عظیم الشان په ګڼوایاتونوکې دغه مطلب ته اشاره شوې ده.

**الف-دانجیل لارښووني**

- د عباداتو اواخلاقولارښودؤ .
- نور،هدایت اودتورات تصدیق کونکی ؤ.
- دمحمد صلی الله علیه وسلم دراتللوزیری او دځینو صفاتو ذکر په کې ؤ.
- دځا ني او ما لي سر ښند نې لورته تشویق او ترغیب په کې ؤ. [۲]

---

۱- حبنکه حسن عبدالرحمن (ب ت) العقیدة الاسلامیة واسسها ص ۵۴۱ دارالقلم دمشق
۲- همدغه ماخذ ص ۵۵۲

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ب-ترپورته کېد و وروسته:** په ژوندۍ بڼه اسمان ته دعيسى عليه السلام ترپورته کېدلووروسته په انجيل کي بدلون رامنځته شــو تورات ته عهدقديم انجيلونواودپيغمبرانوپيغامونواووېناؤباندې دعهدجديداطلاق کېږي دعهدجديدانجيلونه دنصرانيانوپه نېزدڅلوردي:

- انجيل متى
- انجيل لوقا
- ' يل يو حنا
- انجيل مرقس

هلته نورانجيلو نه هم شته ؛لکه انجيل بر نابا اوګڼ له پامه غورځېد لي نورانجيلو نه

**ج-دعدم صحت دلايل يې** :موږ به په اجمالي توګه ددغوانجيلونو بطلان او عدم صحت بيان کړو

- دغه نه دعيسى عليه السلام په لاس ليکل شوي دي او نه دوحى په توګه نازل شوي .
- ددوی ترمينځ سل ځايه تکراوتنا قض ليدل کېږي.
- نسبت يې اشخا صوته کېږ ي نه اسماني وحى ته .
- دالله تعالى دذات او پيغمبرانو په هکله په کې ناوړه وينا وې په کې په سترګو ښکاري
- دعقل اونقل پرخلا ف په باطلوافکارواوعقايدومشتمل دي .
- له علمي حقايقوسره يې تکراوتنا قض دى چې ځينوعلماؤورته اشاره کړ ې ده .
- دسياسي،اجتماعي اواقتصادي مسايلوپه هکله څه نه لري.

**د-دتورات او انجيل پيروي**:دغه کتابونه محرف دي بدلون په کې رامنځه ته شوى بله داچې دغه کتابونه دخاص وخت اوخاص ملت لپاره راغلي ؤ. داســې مثال لري ؛لکــه ســتوري کله چې لمرراوخېژي نوبيادستوروزنا نه وي يهوداونصرانيان ګمراه قومونه دي په هېڅ صورت يې پيروي جوازنه لري[1]

**۵-قران عظيم الشان**

قرانکريم داســماني پيغامونوورو ســتنى کتا ب دى ،چې دپيغمبرانودسردارمحمد صــلي الله عليه وســلم درسالت ستره اوتلپاتې معجزه ګڼل کېږي.

**۱-پېژ ندنه يې:** قران اعظيم الشــان دالله تعالى هغه معجزکلام دى، چې دمحمد صلى الله عليه وسلم زړه نه دجبريل امين په وسيله راکوزشــوى ،په پاڼوکې ليکل شــوى اوموږته په تواترسره رارسېدلى تلا وت يې عبادت اودرسول الله صلى عليه وسلم درسالت ستره تلپا تې معجزه ده په عربى ژبه دمسلمانانولپاره دژوند بشپړقانون دى ،نه نثردى اونه شعر؛ بلکى ځا نګړى شان لري اوپه نزول سره يې داسماني پيغامونولړۍ پای ته رسېدلې ده.[2]

---

[1] حبنکه حسن عبدالرحمن (ب ت) العقيدة الاسلامية واسسها ۵۸۷ دارالقلم دمشق

[2] رحماني محمد شريف(ب ت) قران پوهنه مخ ۱۴ اصلاح افکار ننګرهار افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده په ده کې رسول الله صلی الله علیه وسلم درسالت ستره اوتلپاتې معجزه ده په ده کې

**۲-امتيازات يې:** قرانکریم درسول الله صلی الله علیه وسلم درسالت ستره اوتلپاتې معجزه ده په ده کې ستراعجازي خصوصيات خای پرځای شوي دي داپه هراعتبار بې مثله کلام دی امتيازي خصوصيات لري چې په نوروآسماني کتابونوکې نشته اوهغه په لاندې توګه دي:

- الهي کلام: قران کريم دالله تعالی وينا ده. اوس په نړۍ کې داسې کتاب له سره شتون نه لري چې دالهي کلام اعزازورته حاصل وي.
- داسماني پیغامونوخلاصه: قران عظيم الشان دټولواسماني پيغامونودلارښوونوخلاصه ده. چې دتېروشويوټولو اسماني کتابونودتعليماتوتصديق اوتا ئيدکوي.
- دساتنې ذمه واري: قران عظيم الشان يواځينی الهي اسماني کتاب دی، چې دساتنې او حفاظت ذمه واري يې الله تعالی کړې ده، قران کريم دغه مطلب داسې بيانوي: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ (۹) الحجر. ژباړه: دا ذکر (قران) داموږ نازل کړيدی اوموږ په خپله ددې ساتونکي يو.
- عموم: قران کريم دنړۍ دټولوملتونودلارښوونې لپاره راغلی ترکوم خاص قوم پورې اختصاص نه لري؛ بلکې دټول بشريت لارښود، شامل اوکامل الهي پيغام دی.
- معجزکلام: قران عظيم الشان داسلوب، نظم، فصاحت اوبلاغت اوقانون په اعتباربدي معجزه ده چې نړۍ وال يې چېلنج کړي دي
- وروستی لارښودپيغام: قران کريم دټول بشريت لپاره دهدايت وروستی پيغام دی چې له ده نه وروسته بل کتاب ځمکې ته نه راځي.
- بشپړ لارښود: قران کريم دبشري ژوندمکمل قانون دی چې دژوند هره برخه رهبري کوي
- اسانتيا: دقران عظيم الشان په زده کړه اوحفظ کې اسانې ده هر څوک يې يادولی شي.
- فصيح اوبليغ کلام: قران عظيم الشان يوفصيح اوبليغ کلام دی نه شعردی اونه نثر؛ بلکې قران دی.
- له تضاداوتکرځخه سپېڅلتيا: دقران عظيم الشان دلارښوونوترمينځ کوم اختلاف اوتکرپه سترګونه ښکاري؛ بلکې دمضامينوترمنځ يې بشپړه هماهنګي موجوده ده ددې پرعکس په دنياوي فلسفوکې دپوهانودافکاراونظرياتوترمنځ تضادليدل کېږي.
- اغېزمن کلام: قران کريم يواغېزناک کلام دی چې دانسان په زړه اودماغ اغېزه پرې باسي کله چې قاري قران لولي، نواورېدونکی شخص که پرې پوهېږي اوکه نه ورڅخه متاثرکېږي. دقران عظيم الشان همدغه اعجازپه کافرانواومشرکينوخوب حرام کړی و. داصحابوکراموګڼ شمېردقران عظيم الشان په اورېدلومسلمان شوي دي دعمرفاروق رضی الله عنه واقعه مشهوره ده هغه دخپلې خورڅخه دقران په اورېدلواسلام ومانه، همدارنګه دعربونامتوشاعرلبيدهم دقران په اورېدلوداسلام دايرې ته داخل شوی دی
- له ساينس سره نه ټکر: قران کريم په يوداسې معجز اندازسره نازل شوی (که بشريت هر څومره په

صابوني محمد علي (۱۹۸۰م) التبيان في علوم القران ص ۷۵ بيروت لبنان مؤسسة مناهل العرفان

(c) ketabton.com: The Digital Library


ساینس اوټکنالوژۍ کې ترقي وکړي ورسره یې ټکر نه راځي داځکه چې قرانکریم دالله تعالی وینااوکاینات دهغه عمل دی ؛نودالله تعالی دویناا وعمل ترمینځ ټکرنه وي.

## دحقانیت اودعدم تحریف دلایل یې

له تحریف،تغیر اوبدلون څخه دقران عظیم الشان مصؤنیت دټول اسلامي امت اتفاقي خبره ده ځنی نامسلمان مفکرین هم پردې باوري دي چې قران کریم ستررباني کتاب دی چې هیڅ رنګ تغیراوبدلون په کې نه دی رامنځته شوی تردې وخته په بشپړتواترسره موږ ته رارسېدلی دی.

**دتحریف معنی** په عربي ژبه کې تغیراوبدلون ته وایي اوپه اصطلاح کې دقران عظیم الشان په الفاظو،حروفو، حرکاتوکې بدلون،کموالي اوزیاتوالي ته تحریف ویل کیږي[1]

**دتحریف ډولونه**

- لفظي تحریف په کمولوسره
- لفظي تحریف په زیاتولو سره [2]
- معنوي تحریف چې له خپل حقیقت څخه یې معنی تغیرکړی شي.

**دنه تحریف دلایل یې:** داسلامي امت پوهانوپه قرا ن کریم دګوتې وهلو اوبدلون د،ردپه هکله ګڼ دلایل ذکرکړي دي دهغودجملې څخه:

**۱-قراني دلیل** :ددغه سترعظیم الشان کتاب دساتنې ذمه واري پخپله الله تعالی کړې ده چې دهوی اوهوس دښمنانو له تحریف څخه به یې ساتي هلته چې فرمایي:﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴿٩﴾ ﴾ الحجرژباړه: پاتې شو دا ذکر،دا موږ نازل کړیدی او موږ په خپله ددې ساتندویان یو.

په دغه ایات کریمه کې دذکرڅخه قران کریم مراددی چې له تغیراوبدلون څخه به یې ساتنه کوي که داخبره نه وای ؛نوتراوسه به داسلام دښمنانو څومره شیان په کې ننویستي وای دتېرواسماني پیغامونوتورات، انجیل اوزبوردساتنې ذمه واري الله تعالی نه وه کړې ؛بلکې دغه مسؤلیت ددوی علماؤته سپارل شوی ؤ؛نوله همدې امله دالله تعالی وروستی پیغام قران عظیم الشان له هررنګه ویناؤڅخه صاف، سپېڅلی اومحفوظ پاتې شو په بل ځای کې له دې کتاب سره دباطل دپیوستون نفی شوې ده هلته چې فرمایي:

﴿ وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ ﴿٤١﴾ لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنْزِيلٌ مِنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ ﴿٤٢﴾ ﴾

ژباړه: حقیقت دادی چې دایوپیاوړی کتاب دی باطل نه مخامخ پرې راتلای شي نه دشاله خوا داد پرحکمت والاستایل شوي ذات نازل کړی شوی کتاب دی.

---

[1] شاطبایی المیزان فی تفسیر القران ۱۲ ټوک ۱۰۸ مخ
[2] الخولی صیانة القران من التحریف ۱۹۸ مخ

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې قران مجيد دخپل نزول له وخته ترقيامته پورې له ،نوپردې اساس تحريف اوبدلون دباطل څرګند ه ننبه ده هرزنګه بدلون څخه محفوظ دی[1]

۲-نبوي سنت :پيغمبر صلى الله عليه وسلم دخپل وفات درنځ پرمهال دخپل يوفرمان په ترځ کې داسې ويلي ؤ (فقد ترکت فيکم مالن تضلوا بعد إن اعتصمتم به کتاب الله)[2]ژباړه: په يقيني توګه مې په تاسې کې هغه شی پرېښي که تاسې پرې منګولې ښخې کړې هېڅکله په تاسې ګمراه نه شئ چې هغه دالله تعالى کتاب دی.

درسول الله په مبارک ژوند کې دقران کريم هم په ليکلې بڼه اوهم دحفظ په ډول دسلګونو اصحابوکرامو په مبارکو سينوکې موجودؤ په رواياتوکې راغلي دي چې دهرې رمضان په مياشت کې به جبريل امين رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دقران دورکاؤ يوځل به جبريل اوبيا به رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته اورولو قران کريم ترقيامته درسول الله صلى الله عليه وسلم درسالت ستره تلپاتې معجزه ده که چېرې تحريف په کې رامنځته کړی شي ،نوبيابه څنګه معجزه پاتې شي ؟
،نوپردې اساس درسول الله صلى الله عليه وسلم اوداصحابو کرامو زيات اهتمام قران عظيم الشان ته ؤپخپله رسول الله صلى الله عليه وسلم سيد الحفاظ دی له قران مجيد سره داصحابوکرامو مينه په تاريخ کې بې ساري ده دنبوت په سپېځلي دورکې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ددې سترپيغام په زده کړه حفظ . ليکلو اوتعليم پخپله اشراف درلوداوترهغه راوروسته دهغه ځای ناستي خليفه ګان دقرانکريم حافظان اوښوونکي ؤدغه سترپيغام ترننه په بشپړامانت سره سينه په سينه انتقال شوی[3]

۳-تاريخي دلايل:دمسلمانانو ژوندته که چېرته يوځوک وګوري دنبوت له وخته هغوی له قران سره يو ځای ژوند کاؤ هغه واکمن اوحاکم قانون اوداسلامي دولت دنظام لارښوداوعبادت رمزؤپه پنځه وخته لمانځه کې تلاوت کېده اوپه عملي ژوند کې تطبيق ؤدمثال په توګه لمونځ درواخله ارکان اوشرطونه يې له دغه سترکتاب څخه څروبېږي نارينه اوښځينه لويان اوماشومان يې عملي کوي په همدې توګه روژه ، زکات ، حج ،اخلاق ، معاملات ، کورنی نظام ، محرماتي ښځې ، درضاع مسئله اوطلاق ، په اقتصادياتوکې سوداواحتکاراوپه سياست کې شوری اودامانتونوساتنه اوپه عقوباتو اوجناياتوکې دقتل ،ډاکې اودشرابوحرمت اودجګړې قوانين اودنړی وال سياست احکام اوقوانين اوداسې نور ...درواخله.
پردې اساس داله عقله لېرې خبره ده چې دهغه کتاب په تحريف دې لاس پورې کړی شي چې په بېلا بېلوتاريخي پړاؤنوکې دمسلمانانو په ژوندواوعملي چلند کې دې موجودوي ،داسې خونه وه چې قران کريم دې داوس په شان په تاخچوکې پرګردونوکې پټ پروت وي اوخلک دې په کې په ګوتووهلولاس پورې کړي ،بلکې دقرانکريم تلاوت سترعبادت اودټول امت په زړونوکې ځای لري دکاغذ دايجاد نه وروسته

[1] طباطبايي: الميزان فی تفسير القران ج ۱۷ ص ۳۹۸
[2] قشيري مسلم بن حجاج ، صحيح مسلم
[3] محمدشريف رحماني قران پوهنه ص : ۹۵

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو به داسې هېڅ کورنه وي چې دغه ستر پيغام دې په کې ونه اوسي دقرانکريم حيثيت خوديو هېواد داساسي قانون څخه ډېرستردی په اساسي قانون کې هېڅوک ګوتې نه شي وهلی په تغير سره يې يوملي پاڅون صورت نيسي ـ اوس مهال خو په لکونو حافظان لري اوپه اسلامي هېوادونوکې دې کارته سخت اهتمام صورت ورکول کيږي ... اهتمام صورت مونډلی که په قران عظيم الشان کې تحريف رامنځته شوی وای تراوسه به داسلام سرسختودښمنانو څومره په پروپاګندونو اوډنډورو لاس پورې کاوه.

## دايمان غوښتنې يې

- ايمان: دهغه په باب شک او شبهه نه کول او پرې بشپړايمان درلودل.
- تدبر: يو ازې لوستل نه ؛بلکې په هغه کې تدبراوتفکرکول .
- فيصله :دشخړودحل اوفصل لپاره الهي کتاب ته مراجعه کول.
- تطبيق: ټول کتاب په ټول ژوندکې تطبيقول او دژوندانه دلارښو دپه توګه يې منل .
- تبليغ: نوروخلکو ته يې رسول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دويم بحث

## دايمان داركانو څلورم ركن په پيغمبرانوايمان

په پيغمبرانو ايمان داسلامي عقيدې څلورم ركن دى ترڅو الهي پيغامونه ولسونو ته ورسوي اوله تيارو څخه يې درڼا لوري ته راوباسي. په نړۍ كې هريوصنعتي شركت دخپلو مصنوعاتوسره دخلكودښوونې لپاره خپل انجنيران اوكارپوهان لېږي ،ترڅود خرڅ كړشويومصنوعاتوداستعمال لارې چارې ورته ورزده كړي الله تعالى پيغمبران دبشر ـ دهدايت اولارښوونې لپاره استولي ،ترڅوولسونه له تياروافساده دڼا ،اصلاح اوسمون لوري ته رهبري اوله خپل خالق سره يې اشنا كړي. ،نو پردې اساس مؤمن خپل خالق دهغه استازى اولارښودپيغام اوپه كايناتوكې خپل مقام پېژني اودخپل رب له لوري په رڼا كې خپل ژوندته ادامه وركوي

## نبوت اورسالت

### ۱-درسالت لغوي معنى

درسالت معنى پيغام اودارسال معنى پيغام رسول اومراسله دپيغاماتوتبادلې ته ويل كېږي. رسالت په اصل كې دسفارت اونمايندګۍ مترادف لفظ دى[۱]

### ۲-دنبوت لغوي معنى

دنبوت لفظ ن ،ب ،و،ت نبوة په عربي ژبه كې

- لوړځاى ته ويل كېږي ؛نودنبي معنا دلوړې اوسترې مرتبې څښتن .
- په بل اعتباردنبأڅخه اخيستل شوى چې دخبرپه معنى سره راځي پيغمبران هم دوحى له پيغام سره بشريت ته راځي اودالله تعالى له خوادشرعي احكاموپه تبليغ اوتعليم ماموروي.[۲]

### ۳-دنبوت شرعي حيثيت :

نبوت دالله تعالى اوبندګانوترمنځ سفارت اونمايندګي ده ترڅودهغوى داخروي اودنيوي چارونقصان اونيمګړتياوې لېرې كړي.[۳]

### دنبوت خاصيتونه

- نبوت اورسالت نه الوهيت اونه دالله تعالى خوى توب اونه كوم فلسفيانه علم دى ؛بلكې دالله تعالى له خواسفارت ،نمايندګي اوپيغام رسول دي. دفلسفې بنسټ عقل اوفكردى ؛ليكن دپيغمبري علومواومعارفوسرچينه الهي وحى ده .
- نبوت دعيسوي راهبانواوهندي جوګيانودتګلارې نوم نه دى ،چې خلكوته دنفس وژنې اودد نيا دترک كولوښوونه وكړي ؛بلكې پيغمبرخلكوته ددنيادتعميراودژوندانه داصلاح اوسمون لارښوونه كوي .

---

[۱] - ابن منظورمحمد بن مكرم (ب ت )لسان العرب ج ۳ ص ۵۶۱ دار الكتاب العربى بيروت لبنان

[۲] - اشقر عمر سليمان(۲۰۰۷)الرسل والرسالات ص ۱۱۱ دار النفايس لنشر والتوزيع اردن

[۳] - اسفهانى امام راغب مفردات القران دويم ټوک ص ۴۹۹ بيروت لبنان

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نبوت اورسالت کسبي شی نه دی؛ بلکې الهي ورکړه اوانتخاب دی.

**۴-دنبي اورسول فرق**

رسول هغه الهي استازي ته ویل کیږي،چې په نوي شریعت اوکتاب سره استول شوی وي او نبي هغه ،چې دپخواني شریعت اوکتاب په رسولواوتبلیغ ماموروي.[1]

**۵-بشریت ته دالهي لارښوونودرسیدواحتمالات**

- له هرشخص سره دالله تعالی خبرې اترې.
- هرشخص ته ملکه لیږل .
- دانسانانود جملې څخه ځینې وګړي غوره کول ترڅوملتونه رهبري اوعدل قایم کړي اوټولوبې لاریوته دپای ټکی کښیږدي همدغه معقوله لاره وه اوبس

**۸-په پیغمبرانو دایمان مطلب**

پردې ټینګ باوراوتصدیق چې الله جل جلاله په هرملت کې پیغمبران لیږلي دي، چې ولسونه یې دالله تعالی سوچه بندګۍ ته رابللي هغوی ټول دالله تعالی رینښتیني استازي ول ،چې الهي پیغامونه یې په بشپړه توګه ولسونوته رسولي دي، دځینونومونه یې مونږته بیان کړي اودځینو یې نه دي بیان کړي .[2]

**۹-په پیغمبرانو دایمان راوړلو اهمیت**

څوک چې په پیغمبرانو ایمان ونه لري مؤمن نه ګڼل کیږي په همدې توګه په ځینو ایمان او د ځینو، نه منل کفر دی؛ څکه چې ټول په یو دین او یو پیغام سره استول شوي وو. قران عظیم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي:﴿ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُسْلِمُونَ ﴿٨٤﴾ ﴾ آل عمران: ژباړه:موږ د هغودهیڅ یو ترمنځ توپیرنه کوواوموږدالله تعالی د فرمان تابع ( مسلمانان ) یو[3]

**۱۰-دنبو ت اهداف او مقا صد**

- بندګانو ته دالله تعالی وروپیژندل او دهغه جل جلاله په وحدانیت ایمان .
- انسانانوته دښو اوبدو چاروښوونه .
- خلکو ته ددنیا اواخرت دبري زیری او مجرمانوته تهدید.
- ولسونو ته نیکه بیلګه اودعدل اقامه
- د دلیل اقامه ترڅو دقیامت په ورځ خلکو ته بهانه پاتې نه شي[4]

---

۱- الوسی سید محمود روح المعانی اووم ټوک ص ۱۵۷ بیروت لبنان
۲- محمد غزالی احیاء العلوم لومړی ټوک ص ۲۹۷ لاهور پاکستان
۳- میداني حسن حبنکه العقیدة الاسلامیة واسسها ص ۲۹۶ دار القلم دمشق سوریه
۴- طالبي بینش اسلامي ص ۵۰ خیابان داروبخش تهران ایران

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۱۱-پیغمبرانو ته دبشرارتیا**

دنبوت دضرورت په هکله په سورة دالله تعالی دپېژندنې لپاره له نبوت څخه پرته بله معتبره وسیله نشته. النساء کې ددولسو پیغمبرانودنومونو یادونه شوې ده اوورپسې یې داسې فرمایلي دي: ﴿ رُسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللَّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٦٥﴾ ﴾ النساء ژباړه: دا ټول پیغمبران زیری ورکوونکي او ویروونکي لیږل شوي وو چې د هغو له پیغمبرکولو نه وروسته له خلکو سره د الله په مقابله کې څه سند پاتې نه شي او الله په هرحال غالب اوحکیم دی.

**پیغمبرانوته دارتیا ټکي**

که چېرې الله پاک پیغمبران نه وای لیږلي خلکوته به دقیامت په ورځ بهانه پاتې وای .

- له پیغمبرانوپرته بشریت انساني مقام ته نه شي رسېدلی.
- دېرحقایق داسې دي ،چې بشري عقل ورته نه رسېږي ؛لکه دالله تعالی ذات اوصفات اخرت،جنت دوزخ دښواوبدوبېلتون دغه ټول دنبوت په وسیله پېژندل کېږي
- ولسونواوقومونویومثالي قایدته ضرورت درلود،چې له هرې اشتباه اوگناه څخه پاک،سوتره اودلوړوانساني کمالاتوڅښتن اوپه معجزوسره یې تائیدشوی وي .[۱]

**۱۲-دنبوت ضرورت داسلامي پوهانوله نظره**

که چېرې انسانانوته پیغمبران نه وای لیږل شوي بشریت به دوحشي-ژوواوځېرونکیوحیواناتوپه څېروای ،چې یوپربل حملې کوي او خپلې دارې پرې ښخوي؛ نوپه نړۍ کې دهرخیراوښېگنې شتون دپیغمبري ښوونوداغېزونتیجه ده .په همدې توگه هریوشراوطغیان چې په نړۍ کې موجوددی اویابه رامنځ ته کېږي لامل اوسبب یې دنبوي لارښوونودرسونوکموالی دی ؛نوپردې اساس نړۍ دیواسکلیټ حیثیت لري روح یې نبوي لارښوونې دي دبدن قیام اوټینگښت له روح څخه پرته امکان نه لري له همدې امله هرکله چې دنړۍ څخه دنبوت لمرپرېوځي اسمان به وچوي، ستوري به تت، دلمروړانگې به ختمې اوسپوږمۍ به تکه توره شي غرونه به والوزي اوځمکه به سخت ټکانونه وخوري اودځمکې ټول مخلوقات به په فناء محکوم شي ؛نودنړۍ دنظام شتون دنبوت دتعلیماتو له امله دی .[۲]

**۱۲-پیغمبربشپړلارښود**

په قران عظیم الشان کې دپیغمبرانومنصبي فریضه ددین تعلیم ، تبلیغ ، قایمول اوټینگول ښودل شوي دي، دالله تعالی استازي ددنیادپرېښودلو درس خلکوته نه ورکوي ؛بلکې دنړۍدودانولواودخلکوداصلاح اوسمون پیغام له ځانه سره لري دبشري ژوندانه دتعمیرلپاره چې کوموصلاحیتونواولیاقت ته ضرورت شته

---

۱- میداني حسن حبنکه العقیدة الاسلامية واسسها ص ۳۰۲ دار القلم دمشق سوریه
۲- ابن القیم مفتاح دارالسعاده ص۱۱۸ بیروت لبنان

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه تول په ذاتي ډول دپيغمبرپه ذات کې موجودوي ؛نوپه لنډډول دري اوصاف دنبوت لپاره لازم دي چې دنبوت دارکانو په نوم يادېږي:

## ۱۳-دنبوت ارکان

دنبوت اورسالت سترکارپه درې پايوولاړدی.

۱ـ رشداوهدايت ۲ـ علم اوحکمت ۳ـ حکومت اوسياست

- پيغمبريوکامل مربي وي دنفس اوروح دتزکيې په تولواذکارو،عباداتواوطاعاتوپوه وي ،دهغه ښوونه اوروزنه داسماني ملکې په وسيله سرته رسيږي .
- پيغمبرحکيم ،داخلاقو،کورني نظام اوتمدني سياست داصولوماهروي ،هغه داسې پوه شخص وي چې حکمت يې دژوندانه هرحرکت گرځېدلی وي .
- پيغمبر دتمدني چاروماهرهم وي دعلم دښبتنانو،پوهانو،سياستوالو،سوداگرو دجگړې دسپه سالارانواودژونددهرې څانگې دافرادومناسبه روزنه سرته رسوي [۱]

## ۱۴-دپيغمبرانوخصوصيات

- په وحې ،نبوت اورسالت اوښو اخلاقو سره له نورو خلکو جلا شخصيتونه او دښواخلاقو،تواضع ،ترحم او عـاطفې پـه لحـاظ لوړ،پـاک زړي اوپـه عبـادت کې پيـاوړي،عقل اوذهانت يې لوړدکامل دين ،صبر،سترې عاطفې اوښه خوی خاوندان دي خالص اوسوچه توحيد اوديوالله بندگی ته يې خلک رابلل
- له نبوت نه مخکې اووروسته له کوچنيواولويوگناهونوڅخه پاک اوسپېڅلی ؤ،دپيغمبرفکر،بصيرت اواخلاق لوړاوکامل وي له بلې خواپه ځپل نفس اوځان دپوره کنټرول ښبـتن وي، په همدې توگه دهغو ی دالله تعالی څخه وېره اوداخرت تصـــوريې دومره پياوړی وي، چې له هغوی نه دگناه چارې هېڅکله سرنه شي پورتـه کولی. هغوی داللـه تعـالی ترڅـانگړې څـارنې لاندې وي، په همدې توگه پيغمبردالهي احکامو په پوهاوي اود الهي احـکامو په پيروی کې داشتباه او تقصيرنه ښکارکېږي.[۲]

## ۱۵-دپيغمبرانو صفات

پيغمبران يوجسمي صفات لري اوبل معنوي موږ به لومړی جسمي اووروسته ترې معنوي صفات ترڅېړنې لاندې ونيسو

### الف- جسمي صفات

هغوی انســانــان ول دولســـونـو پـه مـنـځ کـې يـې ژونـد،خـوراک اوڅښـــاک کـاوه ،صـــحت رنځورتيا،کمزورتيا،بوډاتوب اومړينـه پرې راتلـه ،نکـاح کـول اواولادونـه درلودل تجـارت يې کـاوه اوپـه بازارونوکې گرځېدل.رمه پيول اونورې دنيوي چارې ترسره کول هم په کې شامل ؤ.

---

۱- مولنا گوهر رحمان توحيد اورسنت ص ۲۵۴ مکتبة دارالعلوم تفهيم القران مردان پشاور

۲- صابوني محمدعلي النبوة والانبياء ص ۶۰ مکتبة الرسالة بيروت لبنان

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


په هغوی کې دالوهیت هېڅ اثارنه ؤاونه دملایکو په صفاتو سمبال ؤپه عقل ،پوهه ،عفت ،شجاعت ،سخاوت ،زهددنسب په لوړوالي ،ازادی او سرلوړی اوپه عبادت کې له ټولو خلکولوړشخصیتونه وو.دظاهري خلقت کمال ،په جسماني لحاظ ښایسته اونارینه شخصیت درلودل بې ځانګړني وې، هېڅکله کبدای نه شي چې پیغمبردي ښځه ،غلام اویاناقص الخلقت شخصیت واوسي .[۱]

**ب-معنوي صفات**

**۱-صدق**:دغه صفت بایدپه هریومسلمان کې موجودوي ؛مګردپیغمبرانولپاره لازمي صفت ګڼل کېږي. هېڅکله امکان نه لري چې یوشخص دې پیغمبروي اوبیادې ورځخه دروغ ،خیانت اونورناوړه صفات ځرګندشي داځکه که چېرې پیغمبران دروغجن واې ؛نوبیابه دوحې په اسماني پیغام کې شک رامنځته کېده .

**۲-امانت**:پیغمبرانوعلیهم السلامودوحی اوالهي پیغامونوپه رسولوکې له بشپړامانت څخه کاراخیستی دی، داځکه چې امانت له خیانت سره ضد دی. له پیغمبرسره هېڅکله مناسبه نه بریښي چې په امانت کې خیانت وکړي ،چې نه دخپل امت خیروغواړي اونه الهي رسالت په بشپړه توګه ترسره کاندي ټولوپیغمبرانوالهي امانت په بشپړه توګه سرته رسولی هرپیغمبرخپل قوم ته ویلي ؤ :﴿إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٠٧﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٠٨﴾﴾ الشعراء ژباړه:زه تاسې ته دالله له لوري امین استازی یم؛ نو تاسې له الله وویرېږئ اوزما اطاعت وکړئ.

**۳-تبلیغ**:دغه دپیغمبرانوځانګړی صفت دی، په دې توګه چې هغوی به الهي پیغامونه ولسونوته رسول ،اګرکه په دې تبلیغ کې به دوی ته سترزیان هم رسېده

**۴-ذکاوت**:ټول پیغمبران دعقلي کمال،ذکاوت اورشدخښتنان ؤ،الله تعالی درسالت اونبوت ددرانه مسئولیت لپاره دپاخه عقل ،بصیرت اوذکاوت شخصیتونه ټاکلي ؤ،ترڅوخپلوقومونوته په بشپړاستدلال سره الهي پیغامونه وړاندې کړي .[۲]

**۱٦-دپیغمبرانو مسئولیتونه :**

- داسما نی ملکې په وسیله وحې زده کول .
- خلکوته دالهي کتاب تشریح اوبیان .
- دخپلو ملګروروزنه اودهغوی فکري اواخلاقي پالنه.
- دولسونورهبري اوقیادت.
- ولسونوته په دنیااواخرت کې دهوساژوندزېری اودخلاف په صورت کې دتباهی وېره اواخطار ورکول ؤ.

---

[۱] -همدغه ماخذ ص ٦٥
[۲] - الجزایری جابر ابوبکر (۲۰۰۱) عقیدة المومن ص ۳۵۸ دار السلام للطباعة والنشر والتوزیع

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ددين تطبيق اوتنفيذاودسياسي چارو سمبالښت.
- له ولسونوسره مباحثه او قناعت ورکول اوددښمنانودشبهاتو ځوابول .[۱]

**۱۷-دبلني ځانګړتياوې يې**

- دهغوی دعوت اوبلنه رباني اوالهي وه او دوحی څخه يې سرچينه اخيسته.
- هغوی انسانان دبندګانوله غلامی څخه ژغورل او يوازې دالله تعالی بندګان يې جوړول.
- دوی په خپل دعوت کې له هېڅانه اجرنه غوښته ستره‌دف يې دالله تعالی رضاءاودخمکې پرمخ ددين جاري کول اوتطبيقول ؤ.
- دهغوی په دعوت کې اسانتيا وه له حکمت څخه يې کاراخيست اوخلکوته يې دتوحيداسانه دلايل بيانول .
- خلکوته يې ديوځرګندهدف په لوري بلنه ورکوله ،لاره يې ځرګنده اوبلنه يې دلمرغوندې روښانه وه.
- له دنيوي ژوندڅخه بې رغبته اواخرت ته يې ترجيح ورکوله اودنياته يې دوسيلې په سترګه کتل هغوی کولی شول چې دشاهانواونوروملي شخصيتونوپه څېر لوړژوندسرته ورسوي داقتداراوفتحې پرمهال يې هم همدغه تګلاره وه درسول الله صلی الله عليه وسلم اودده دسپېڅلي کورنی ژوندپه تاريخ کې دلمرپه څېرروښانه دی.سړی اريان شي اوزړه يې له هيبته ودرزېږي .دالله دپيغمبرسترشعارهمداؤ(اللهم لاعيش الاعيش الاخرة)ای الله نه دی ژوند؛مګرژوندخوداخرت دی. [۲]

**۱۸-اولوالعزمه پيغمبران**

په ټولوپيغمبرانوکې پنځه لوړمنزلته شخصيتونه دي او هغه عبارت دي له محمدصلی الله عليه وسلم ،نوح ، ابراهيم ، موسی او عيسی عليه السلام څخه قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي ﴿ وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَـٰقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۖ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَـٰقًا غَلِيظًا ﴿٧﴾ الأحزاب: ژباړه:اواې پيغمبره ) هغه ژمنه او پيمان په ياد ولره چې مونږله ټولو پيغمبرانو څخه اخيستی دی ،له تا څخه هم اوله نوح ، ابراهيم ، موسي او عيیٰ ابن مريم څخه هم .له ټولو نه مونږپخه ژمنه اخيستې ده .

**۱۹-دپيغمبردپېژندلودلايل**

داسې نه ده چې هرڅوک دنبوت دعوه وکړي دده بلنه به منلی شي ؛البته نبوت ځينې شرطو نه لري چې دهغې په رڼا کې مونږ دپيغمبرشخصيت پېژندلی شو

- دنبوت دمد عي روڼ ، شفا ف اومثالي شخصيت.

---

[۱] ميداني حسن حبنکه العقيدة الاسلامية واسسها ص ۳۱۰ دار القلم دمشق سوريه
[۲] صابوني محمدعلی النبوة والانبياء ص ۵۰ مکتبة الرسالة بيروت لبنان

(c) ketabton.com: The Digital Library


دپخوانيو پيغمبرانو تصديق او په تېرو اسماني پيغامونو کې يې ذکر.

- معجزې يې.
- پيغام او بلنه يې.
- ددعوت کيفيت يې.
- ملګري يې.
- پاليسي يې.

موږ به په دغو ټکو لنډه رڼا واچوو

**لومړی:** دتاريخ په بېلا بېلو پړاوونوکې پيغمبران عادي اشخاص نه ؤ؛ بلکې معصوم او سپيڅلي خلک ؤ جسمي ښکلا، اخلاقي ښا يست؛ لکه سخاوت، شجاعت، درک او پوهه به يې له ورايه ښکاره وه

**دويم** :يهو ديان او نصرانيان درسول الله صلي الله عليه وسلم راتلو ته منتظرؤ، په تورات او انجيل کې دده دراتلو او صفاتو يادونه شوې وه.

**درېيم** معجزې دپيغمبر دصداقت اوريښتينو لې دليل دی، دتاريخ په بېلا بېلو پړاؤنو کې الله تعالی پيغمبرانو ته ورکړې دي

**څلورم** : دې ته بايد وکتل شي چې دده دين جامع هراړخيزاو دبشر ـ دټولو ستونزو دحل برنامه له ځان سره لري؟له علمي موازينو اوعقل سره برابره ده او که نه؟

**پنځم:** لازمه ده هغه وخت او ځای ته وکتل شي چې پيغمبرپه کې څرګند شوی دخلکو علمي، اعتقادي، اخلاقي، سياسي او اقتصادي وضعيت ، اړتيا ،ددعوت اصول يې ثبات اوروحيات اودهغه دژوند ټول اړخونه بايد مطالعه شي ايا ځان غوښتونکی ؤ؟ اوکه شهوت پرست او مال دوست؟امانت داري او پاک لمني يې څنګه وه؟

**شپږم:** دهغه ملګرو ته ليدل په کاردي چې ايا ترڅنګ يې شتمن،زوررور، دنيا غوښتونکي،ناپاک ا فاسد افراد راټول ؤاوکه پاک زړي، نېکان صالحان اود ښې سابقې وګړي؟

**اووم :** په دروغو دنبوت مدعيان شهرت ،مقام ،ثروت او مال ته رسېدل غواړي، له هر رنګ فريب څخه ځان نه ساتي ؛البته دنبوت دريښتينومدعيانو هدف دانسان له بندګی اواسارت څخه دانسان ازادي په ټولنه کې دعدل ټينګښت اوله سرکښانو سره مبارزه تشکيلوي.[١]

**۲۰-په قران کريم کې ذکر شوي پيغمبران**

په قران کريم کې دپنځه ويشت پيغمبرانو دنوم يادونه شوې ده ،هغه مبارک نومونه په لاندې ډول دي: ادم ،نوح ،ادريس ،هود ،صالح ،ابراهيم ،اسماعيل ،اسحاق ،لوط ،يعقوب ،يوسف ،شعيب ،موسی هارون ،الياس ،داود ،سليمان ،يسع ،يونس ،ذالکفل ،ذکريا ،يحی ،عيسی او محمد عليهم السلام دي ؛مګر په قران کريم کې پنځه پيغمبران دنومونو پرته ذکر شوی هغه دادي يوشع ،شمويل ،حزقيل ،عزير او خضر-

[١] - معيني جيم (ب ت)اشنايي بافرهنگ اسلامي ص ۱۱۴ تهران ايران

(c) ketabton.com: The Digital Library



عليه السلام ،دېنځه وېشتو پيغمبرانو نومونه چې په قران کريم کې ذکرشوي ايمان پرې تفصيلي اوپه غير ذکرشويو اجمالي لازم دى.

## ۲۱-دپيغمبرانو پروړاندې زموږ مسؤليتونه

- له تفريق نه پرته دټولو په پيغمبرۍ باوراوتصديق
- دپيغمبراطاعت اوله مخالفته يې ځان ساتل
- په سيرت او صورت کې يې په بشپړتيااوعصمت باور
- دوى يوتر بله دمرتبو ښښتنان ؤ اوترټولو غوره يې محمد صلى الله عليه وسلم دى

## ۲۲-په پيغمبرانو دايمان غوښتني

۱-دهغوى تعظيم او درناوى:دپيغمبر صـــلى الله عليه وســـلم داحاديثو اوقران کريم په مجلس کې په ادب سره ناسته.

۲-ورسره ژوره مينه:څکه که پيغمبران او په ځانګړې توګه محمد رسـول الله صـلي الله عليه وسـلم نه واى ،موږ به دځناورو په څېرواى ،هغه زموږ ناجي او محبوب دى ،ورسره مينه دبشپړايمان نښه ده .له موراو پلار، اولاد اودټولي نړى له خلکو څخه به رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته محبوب وي.

۳-حکميت:مؤمن مسلمان به خپلي شخړې کتاب الله او درسول الله سنتو ته وړاندې کوي دالله اوپيغمبرپه فيصلو به قانع او خوښ وي، له دې درې شرطونو پرته په پيغمبرايمان دقبول وړ نه دى

۴-هدف او تګلاره په دين کې لټول:مؤمن مسـلمان حق نه لري چې دخپلي غوښـتني او خوښـي پراسـاس خپل ځانته اهداف او اهدافو ته درسـېدلو وسـايل په خپله وټاکي اهداف او اهدافو ته درسېدو وسايل ورته الله جـل جلالـه ټاکلي دي ،هېڅکله کېداى نه شي چې اهداف له دين څخه واخلي او وســايل دهوى او هوس پـه توګه انتخاب کړي هېڅکله نه! په همدې توګه دغه دين له نورو اديانو سره دســازش لپاره نه دى راغلى. دغه دين بشپړواک ،اقتداراوغلبه غواړي.

۵ بشپړاطاعت :دخپل ژوند په ټولو کړو وړوکې به دپيغمبراطاعت کوو، پيغمبرددې په خاطر استول کېږي چې دژوند په ټولواړخونوکې به دهغه اطاعت وکړيشي-هغه به خپل مقتدا اولارښـود او دخپل ځان لپاره به يې بېلګه او مثالى شـخصـيت ګڼو او په نقش قدم به يې درومو،داځکه چې دپيغمبراطاعت په حقيقت کې دالله تعالى اطاعت دى دتاريخ په هر پړاو چې پيغمبر ولسونو ته ورغلى ،له هغوى نه يې دالله تعالى دوبرې او دخپل اطاعت غوښتنه کړې ده .

٦-دلارښـووني لپاره ورته رجوع:مؤمن مسلمان به دلارښووني او هدايت حاصلولو لپاره پيغمبر ته دمرجع په حيث رجوع کوي له پيغمبره درالاندې خلکو اطاعت به په هغه صورت کې کوي چې هغه دالله اورسول پر وړاندې غاړه اېښودونکى او اوامر يې دشريعت سره برابروي

PDF ترتيب کوونکى: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



## معجزه اوکرامت

**لغوی پېژندنه:** له عجزاوکمزورتیاڅخه ده اوناتوانۍته ویل کېږي

**اصـطلاحي پېژندنه:** معجزه له هغه خار العاده فعل اوقول څخه عبارت دی چې درسـالت دمدعي په لاس دیوګوابښ په توګه څرګند ېږي چې هېڅوک یې دمقابلې توان نه لري[1]

**دمعجزې شرطونه:** معجزه پنځه شرطونه لري چې یوېې هم کم وي معجزه نه شمېرل کېږي

- چې دالله تعالی نه پرته دبل چاواک کې نه وي
- داچې خارق العاده اودکایناتو دقوانینو پرخلاف وي
- درسالت اونبوت دمدعي پرلاس څرګنده شي.
- چې دنبوت دمدعي دمطلوب چیلنج سره برابره وي
- چې هېڅوک یې دمقابلې وسه ونه لري

**دمعجزې هدف:** دمعجزې موخه دپیغمبرانو دنبوت دثبوت دلیل ده

**دمحمد صـلی الله علیه وسـلم سـتره معجزه:** درسول الله صلی الله علیه وسلم دمعجزو شمېر څنو علماءو زرښودلي دي ؛مګردپیغمبرصلی الله علیه وسلم ستره تلپاتې معجزه قرانکریم دی

**درسول الله مبارک اود نوروانبیاؤدمعجزوترمنځ مقایسه**

- دپخوانیو پیغمبرانو معجزې مادي وي ؛مګردرسول الله ستره معجزه قران عظیم الشان معنوي ده
- قرانکریم دټولو نسلونو لپاره درسول الله مبارک دنبوت ستره معجزه ده ؛مګردنورو پیغمبرانومعجزی دموقت وخت لپاره وې.

قران عظیم الشان وې دکایناتو په اساسی حقایقو مشتمل دی مګر دنورو پیغمبرانو معجزې داسې نه وې

- دقرانکریم دساتنې ذمه الله تعالی کړې ده ؛مګردنوروپیغمبرانومعجزي دمؤقت وخت لپاره وې.

**دکرامت پېژندنه :** هغه خارق العادة اوخلاف طبیعت کار چې الله تعالی یې دیوولی الله پرلاس دهغه دعزت اوددین دغلبې اونصرت په خاط څرګندکړي له کرامت څخه عبارت دی[2]

**دکرامت هدف**

- دالهي قدرت څرګند بدنه
- ددین غلبه اومرسته اودولی الله عزت
- دولی الله دایمان دقوت زیادت او په دین ټینګ پاتې کېد ل
- ولی الله ته زیری اوخوشالي

[1] معرانشه ( ۱۴۰۵ ) الرسائل والرسالات ۱۲۱مخ کویت مکتبة الفلاح
[2] شیخ منصور (۱۴۱۳ هـ ) مجموع فتاوی اومسائل ج ۲۰ ۳۱۱مخ دارالوطن للنشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمعجزې اوکرامت فرق

معجزه او کرامت لاندې بېلتونونه لري

- معجزه دنبوت ددعوی سره ملګرې وي ؛مګردکرامت څښتن دپيغمبر پيرواورېښتني انسان وي
- معجزه پيغمبرانو پورې اختصاص لري اوکرامت اولياؤ پورې
- کرامت ځنی وخت دزمان اومکان تراسبابو پورې مربوط وي يووخت به کرامت حسا ببېږي

مګربل ؛ ت نه لکه حضرت مريم ته بې موسمه مېوې اودعمرفاروق رضی الله عنه اواز رسېدل ساريه رضی الله عنه ته .

اوس مهال نړی ديوکلي حيثيت لری هوايی دهليزونه فعاليت کوي اوپه همد ې توګه دبېسيم اوموبايل له لارې نړی سره نښتې ده .

- داولياؤمرتبه دپيغمبرانوڅخه ټيټه ده کرامت ورکول کېږي غوښتل کېږي نه پرخلاف دمعجزې معجزه خوخلک غواړي.
- دمعجزې څرګند ول اړين وي مګردکرامت نه[1]
- درسول الله صلی الله عليه وسلم دځنو معجزاتومثالونه : شق القمر ، دقران نزول ، دخرمادډزګېروی ، درسول الله له مبارکوګوتوداوبو جاري کېدل اوداسې نور....

**دکرامت مثالونه**

اسودعنسي دنبوت دروغژن مدعي ابوادريس خولاني يې په اورکې اچولی ؤ؛مګرالله تعالی يې محافظت وکړدغه دده دکرامت نښــه وه همدارنګه ام أيمن چې کله دهجرت په لاره ووتله اوتنده يې زياته شــوه له تندې څملاســته لپاســه يې کشـــهارترغوږونو شـــوګوري چې ډکه بوکه اوبه يې په سرولاړه ده همدارنګه دقرانکری دتلاوت پرمهال داسيدبن حضيررضی الله عنه درڼا ګانو ليدل. په همدې توګه دعمرفاروق رضی الله عنه ساريه رضـی الله عنه ته د زرکيلومتروپه فاصـله کې داوازرسـېدل اوورته دهغی سيمي ښـکاربدل اوددښمن دخطرڅخه خبرورکول.

---

[1] ابن تيميه النبوات ۲۰۸ مخ

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دويم بحث

## محمدصلي الله عليه وسلم دنړۍ والو سردار

**پيليزه** ژونددیوفردژوندنه ؛بلکي دادهغه سپېڅلي بې ساري بدلون کيسه ده. له هغه
دمحمدصلی الله عليه وسلم ژوندديوفردژوندنه ؛بلکې دادهغه سپېڅلي بې ساري بدلون کيسه ده. له هغه سره له لومړۍ ورځې ديونړيوال اوښتون اودانسان دهراړخيزبدلون اوخلاصون قضيه مطرح وه. هغه مهال عرب قوم يووحشي- ځناورصفته ملت ؤ.ويني څښل ، قماروهل، زنا ،بې حيايي بربنډتوب چوراوچپاول ددوی دودؤ دبوتانو،لمر،سپوږمی ،ستورواواورعبادت يې کاوه،قبيلوي تبعيض، په رنګ اوژبه ويار،اولادوژنه اودلونوژوندي ښخول ددغه سخت زړي ملت خوی ؤ دنړی دنوروملتونوحال له دوی نه بترؤ. رسول لله صلی الله عليه وسلم ددغه ناپوه قوم په روزنې لاس پورې کړچې په نتيجه کې له پاده وان نه قايد،له غله نه امين اوله زناکاروابې حياخلکويې دعفت اوشرف لوړځلي جوړکړل دعربوجزيره دامن ، عدل اواقتصادي پراختيازانګوجوړه شوه، بېسواده قوم دنړۍ والومعلم اولارښودجوړشواونړۍ ته يې دنظام نمونه وړاندې کړه دده مبارک رسالت فرد،ټولنې،روح اوجسد،دنيااواخرت،سياست اواقتصاداود ژوند ټولوبرخوته شامل دی.[1]

اوس مهال بشريت دظالمانه مادي توپان سره مخامخ ،داخلاقي بربادۍ،روحاني خلا،ټولنيزظلم او دنسلي،قومي او ژبني امتيازاتو په خوساړنه کې پروت دی. متمدن انسان دومره لوی جنايت کاردی چې په ځنګله کې يې وحشي- ځناوريه خپل ظلم او وحشت سره وشرمول دانسانانودوژنې لپاره اتومي بټۍ اولېږي واټن ويشتونکي توغندي او توپونه جوړيږي ،دملتونو لويه پانګه دبشريت په وژلواودښارونو په ورانولو لګول کيږي.

اوسنی بشريت يو ناجي اونړۍ وال لارښود ته اړتيا لري چې نړۍ له امن نه ډکه کړي اوبشريت الهي تګلارې ته راوګرزوي اوانسانيت ته دميني،محبت شفقت اوعدالت درس ورکړي. حقيقت دادی چې هغه يوازې درحمة للعالمين وروستني نړۍ وال نبي محمد صلي الله عليه وسلم لارښوونې دي چې لاالهانده بشريت به يې په غېږ کې دارامی اوسوکالۍ ساه واخلي.

### ۱-دنړۍ وال لارښود صفات

موږ مسلمانان پردې ټينګ باور لرو چې محمدصلي الله عليه وسلم دنړۍ والو سرداردی دنړۍ دملتونو دمشرتابه لپاره

- لومړی صفت دادی چې هغه دکوم خاص نسل اوځانګړې طبقې دسوکالۍ لپاره کارونه کړي ؛بلکی دټولې نړۍ دانسانانو سوکالي اوکاميابي يې هدف وي اودهغه پروړاندې ټول ملتونه يوشان وي دغه معياردپيغمبرصلي الله عليه وسلم په سپېڅلي ژوند کې تر ستر ګو کېده دهغه ژونددکوم قوم پرست اووطن

---

[1] خورشيد احمد،(۲۰۱۰م)اسلامي نظريه حيات ص ۵ شعبه تاليف جامعه کراچي پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرســت ژوند نه؛ بلکې دبشرـیـت سره دمحبـت کونکي ژونـدو. دهغـه پرورانـدې حبشي ـ ،ایراني ،رومي ،مصري ،عرب اوعجم ټول سره ورونه اود برابروحقوقوڅښتنان ؤ.

دویم صفت یې دادی چې دهغه وړاندې کړي اصول اوقواعد نړیواله بڼه ولري ،دټولې نړۍ انسانان یوشان رهبري کړي او په هغوکې دبشري ژونددټولوستونزوحل موجود وي قران عظیم الشان هم دنړۍ ټول ملتونه مخاطب ګرزوي او ټولوستونزواو مشکلاتوته یې دپای ټکی ږدي.

- دریم صفت یې داوي چې دهغه لارښوونې خاصې زماني اووخت پورې ارتباط ونه نیسي؛ بلکې په هروخت کې صحیح اودعمل وړتیاولري قران کریم هم ترقیامته وروستنی الهي پیغام دی.
- څلورم صفت یې داوي چې هغه اصول اوقوانین چې نړۍ والو ته یې وړاندې کړي وي هغه تش فلسفي اصـول نه ؛بلکې عملي بڼه یې هم ورکړې وي.دغه یو تاریخي حقیقت دی چې محمدصـلي الله علیه وسلم یوازې خیالي نقشه نه ده وړاندې کړې؛ بلکې د درویشتو کلونو په موده کې په لکونو خلکوورته غاړه ایښې ،دجزیرة العرب په لکونو مربع میله څمکه باندې اسـلام غالب اوبت پال جاهلیت په ګوندواود تاریخ کندې ته سپارل شوی او بیادهغه دریښتینو ملګرواوشاګردانو په وسیله اسلام هغه مهال په درې لویو وچو اسـیا،افریقا اود اروپا په زیاتروبرخودغالب نظام رول تر سره کړ .داهغه سـتره تاریخي کارنامه ده چې دهغې پربنسټ موږ رسول الله صلي الله علیه وسلم ته د ټل لپاره دنړۍ والو دلارښود لقب ورکولی شودهغه لارښوونې دکوم ځانګړي ملت ملکیت نه؛ بلکې دټول بشریت شریک میراث دی. هر څوک ورڅخه ګټه اخیستلی شي اوچې څوک ترې ګټه نـه اخلي، پـه ابـدي محرومیـت کې بـه خپـل ځـان اختـه کړي

**دمحمد صلی الله علیه وسلم مبارک نومونه**

دده مبارک نوم محمـددقران عظیم الشـــان پـه څلوروســـورتونو آل عمران،محمـد،احزاب اوالفتح کې ذکرشوی. دهغه دویم نوم احمد دی چې دصف په سورت کې یې یادونه شوې ده چې له دې نو مونو پرته دهغه څوارلس صـفتي نو مو نه هم دي او هغه دادي( الشـاهد ،المبشرـ ، النذیر، الرحمة ، السرـاج المنیر ،المذکر، الشـهید ،الهادی ، الا مین،المزمل ، المدثر ،درسـول الله مبارک ارشـاد دی ،چې زما پنځه نو مونه مشهور دي:

- محمد : یعني هغه پیغمبر چې بیابیا زښت ډېرېي تعریف کیږ ي .
- احمد : یعني هغه پیغمبر چې دخپل رب یې ډېر تعریفو نه کړ ي دي.
- الماحی : یعني دکفر دطا غوتي نظام نا بو دوونکی.
- الحاشر:یعني جمعه کونکی.
- العاقب : معنا داچې وروستنی پیغمبر او خاتم النبین .
- دهغه په مبارکو نو مو نو کې دغه څلو ر نو مو نه هم شـامل دي(المصـطفی ، المختار ، الشـفیع الصادق، المصدوق [1]

[1] مولنا ګوهر رحمان ( ب ت ) حقیقت توحید اورسنت ص ۲۷۵ مکتبه دارالعلوم تفهیم القران مردان پیښور پاکستان

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

Kitabton.com: The Digital Library



## دده مبارک درسالت عقلي ثبوت

لړ شان څوارلس سوه کاله مخکې تاریخ ته وګورئ،په نړی کې نه برقي تارؤ،نه ټیلیفون،نه اورګاډی،نه چاپ اونه چاپ خای اونه اخبار اورسالې نه چاپ شوي کتابونه اونه د سفراوسیاحت اسانتیا وې،چې نن ورځ موجودې دي له یو هېواده تربله پورې دمیاشتو میاشتو مزلونه کېدل .

**موقعیت** :په دغسې حالاتوکې دعربو هېوادله ټولو جلاپروت ؤ چارچاپېره یې دایران،روم او مصرهېوادونه ؤ چې په هغوکې څه ناڅه د علوماوفنونوزوراوشورؤ ؛خودشګو سترودګرونوعربې نړی له نورو جلا کړې وه.

**اقتصادي حالت**

عرب قوم سوداګرؤپه اوښانو به یې دمیاشتومیاشتو سفرکاؤاوهغو هېوادونوته به دسوداګری لپاره تلل ،له دغوهېوادونو سره ددوی اړیکې یواځې او یواځې دسوداګری په خاطروې .

**تعلیمي وضعیت**

پخپله په عربوکې نه کوم لوړتمدن ؤ،نه کومه مدرسه اونه کوم کتابتون اونه په خلکو کې دتعلیم اوښوونې څه شوق اوذوق په ټول هېوادکې دګوتوپه شمارڅوتنه په لیک اولوست پوهېدل ؛خوهغوی په دومره اندازه نه ؤ چې دهغه وخت دعلوماوفنونوسره اشناشي.

**سیاسي وضعه**

هلته نه یو مرکزي حکومت ؤاونه قانون هره قبیله خپلواکه وه ،له دې سره سره به سروکال لوټ تالان او وینې بیونکې جګړې تر سره کېدلې .دانسان روح هېڅ ارزښت نه درلود.

**اخلاقي حالت**

بدکارونه،شراب څښل،د جواری اودقماربازارتودؤخلک به دیوبل پروړاندې بلاتکلفه بربنډېدل اوشرم خایونه به یې ښکارېدل .تردې پورې چې ښځینه ؤ به په بربنډه توګه دبیت الله شریف څخه طوافونه کول،درواو ناروا بېلتون نه ؤ.په عربو کې د آزادۍ احساس دومره پیاوړی ؤچې دهېڅ چاوهېڅ قانون منلوته تیارنه ؤاونه یې دکوم واکمن امرمنلو ته سرښکته کاوه .

**دیني وضعه**

دجهالت اوناپوهی دغه اندازه وه چې ټول قوم دکاڼو بتانوته سجدې کولې په لاره کې به یې چې کوم ډوکانۍ خوښ شو هغه به یې راواخیست اوپه عبادت به یې ورته لاس پورې کړ.هغه سرونه چې هیچاته به نه ټیټېدل .هغه به یې کاڼو ته ښکته کول اوسجدې به یې ورته کولې [1]

**دروڼ سهارڅرک**

په دغسې حالاتوکې یویتیم شخص پیداکېږي،دعربوله هلکانوسره رمه څروي.په ځوانی کې سوداګردی.له هېچایې تعلیم نه دی کړی.دلوړوخویونواواخلاقو څښتن دی.هېڅکله یې دروغ اوبدې خبرې نه دي

[1] - خورشید احمد.(۲۰۱۰م)اسلامي نظریه حیات ص ۲۳۶شعبه تالیف جامعه کراچی پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي.په ټول قوم کې په دیانت اوامانت مشـــهوردی.له هرې ناپوهی اوناپاکی څخه کرکه کوي دقوم په لوټ،تالان اووینوبیولوغمجن ،دنرم زړه څښـــتن ، دکونډواویتیمانومرســـتندوی.میلمه پال اودصـــحیح عقل خاوند، له بت پالنې نفرت کوي،کلی پربږدي.په لرې واټن دیوه غره غارته ورځي دیوې رڼاپه هیله ده.چې شاواخواتیارې پرې له منځه یوسي.

## دنبوت پیل

په یوځل دده په حالت کې یوســتربدلون رامنځته شــو.له غاره راووت خپل قوم ته ورغی دبت پالنې غندنه یې پیــل کــړه اودیــوالـلـــه بــنــدګــی تــه یــې خــلــک راوبــلــل.دغـلا.لــوټ ،تــالان ،شراب څښلو،زنا،قمار،اوبدوچاروپرخلاف یې مبارزه پیل کړه .بشری کرامت یې اعلان اوداخرت دورځې دسوال اوځواب احساس یې دخلکوپه زړونوکې واچاوه.

## دناپوه قوم چلند

ناپوه قوم ددغه سترشخصیت په مخالفت لاس پورې کړ،چې هغه دپلاراونیکه په دوداودستور ولې نیوکه کوي اوښــوونې یې څنګــه دپخوانیوپلرونودتګلارې خلاف دی.لــه همدې امله یې هغه ته بدې ردې پیل کړې.په کاڼویې وویشـــت اودهغه دوژلوپلانونه یې جوړاوله خواره ټاټوبي یې هجرت ته مجبوراوهلته یې هم په ارام پرې نښوده .

## دهغه هدف

هغه دخپل نـاپو ه قوم پــه ســـمــه لارروانول غوښـــتــل سره لــه دې چې قوم ورته په دې شرط دمشرـــتابه ،سرواوســـپینوزرو ســـپـارلوتــه چمتوؤ،چې لــه خپـل کـارڅخه لاس واخلي؛خوهغه په خبره ټینګ ولاړؤ ، دبشریت ددنیااوخرت دبریالیتوب په خاطریې په دې کارلاس پورې کاوه [۱]

## نوی ارمان

هغه لــه نویوارمانونوسره دحراله غاره راووت اوس یوبهترین خطیب اوله فصـــاحته اوبلاغته ډکې خبرې کوي ،اوس داســـې کلام خلکوتــه اوروي چې هیڅچاتراوســـه نــه دی اوریـدلی ټولونړیوالوتــه یې چېلنج ورکړ،چې ددې کتاب په شان یوسورت جوړکړي دهغه ویناواودالله تعالی کلام سره توپیردرلود، دالله تعالی کلام له بلاغته ډک اومعجزه وه هغه دجزیرةالعرب وګړوته له حکمته ډکې ویناوې پیل کړې چې مخکې ورڅخه چااوریدلې نه وې.

## بشپړلارښود

هغه اوس داخلاقو،ټولنیزژندقانون ،اقتصـــاداوســـیاســـت معلم دی چې ترقیامته یې لوی لوی پوهان په څېړنوبوخـــت دي دهغه راوړی نظام کامل اوله هرې نیمګړتیاڅخه ســـپېڅلی دی هغه دخپلې درویشـــت کلنې مبارزې په دوران کې دخپلونېکواخلاقو،شرافت اوخپلولوړوښـــوونوپه وسیله خپل دښـــمنان دوستان وګرځول او لویوځواکونویې پروړاندې ماتې وخوړه .

---

[۱] همدغه ما خذ ص ۲۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library


**تربري وروسته**

هغه چې کله په خپلودښمنانوبرى ترلاسه کړ؛نوله هېڅ يودښمن څخه يې انتقام وانه اخيست.له هېچاسره يې سختي ونه کړه ترديې پورې چې چا دده ګران تره په قتل رسولى دهغه سينه يې ورڅيرې کړې وه په هم دې ډول چاچې په کانو ويشتلى اوله هېواده يې شړلى ؤدفتح پروخت يې هغوته هم معافي اوبخښنه وکړه .

**مثالي شخصيت**

هغه هېڅکله له چا سره خيانت اودوکه نه ده کړې اونه يې له چاسره دتړون په ماتولو لاس پورې کړى په جګړه کې يې له هېچاسره زياتى نه دى کړى ترديې پورې چې دهغه سرسختو دښمنانو هم کله په هغه دګناه اوياتېرې الزام نه دى لګولى داهغه ښېګڼې اوستراخلاق ؤ چې په پاى کې يې دټولو عربو زړونه لاس ته راوړل

**ستربدلون**

بيايې دخپلوښوونوپه وسيله له پونده جاهل قوم څخه يومهذب اودقانون پابندملت اوداخلاقولوړڅلي جوړکړل،نړى ته يې دتمدن،اخلاقواوبشردوستى درس ورکړ.دخپلوروزل شويوملګروپه وسيله يې دايران،روم اومصرلوسلطنتونه پربل مخ واړول اوداسلام لارښوونې يې داسيا،افريقا،اواروپاترلرې څنډوورسولي،نړيوالوچې دتوحيددرس هېرکړى ووهغه يې ببرته تازه کړ.هغه نړيوالوته داخلاقو،قانون ،سياست اواقتصاداوتمدن پاخه اوسپيڅلى اصول واړاندې کړل چې داسلام دښمنانوهم ګټه ورڅخه واخيسته اوپه تاريخ کې سارى نه لري[1]

**مثالي لاربنود**

اوس دغوراوفکرخبره داده چې دخلوېښتوکالوڅخه وروسته په دغه شخصيت کې يودم څنګه دومره کمالات رابوڅاى شوه .اوس په يوه وخت کې بې مثاله دلښکروجنګي سپه سالاراويوبهترين قاضي، يوسترقانون پوه ،يوبې مثاله پوهانداوداخلاقواوتمدن يوبهترين مصلح ،سياست پوه اودالله جل جلاله عابدبنده هم دى،دخپلومېرمنواواولادونواوکورنى حقونه هم پوره کوي، دغم ځپلواوبې وزلوخدمتګار،دفتحې اوغلبې پرمهال ساده ژوندترسره کوي له خلکوسره يوځاى ډوډۍ خوري ،نړى له پيله اوترپايه پورې هېڅ انسان دده په څېرمثال اوبېلګه نه شي وړاندې کولې دازموږ پيغمبراودنړيوالوسردارمحمدصلى الله عليه وسلم دى[2]

**۱-دنبوت پاى**

حقيقت دادى چې اوس مهال دسمې لارې دمعلومولولپاره دمحمدصلى الله عليه وسلم دښوونواودقرانکريم نه پرته بله وسيله نشته هغه دټول بشريت لپاره دالله تعالى استازى دى اوهغه دنبوت لړى پاى ته رسبدلې

---

[1] -همدغه ماخذ ص ۲۴۳

[2] - خورشيد احمد(۲۰۱۰م)اسلامى نظريه حيات ص ۲۴۳ شعبه تاليف جامعه کراچى پاکستان

PDF ترتيب كوونكى: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۲-دنبوت د پاى دلايل**

دپيغمبرژوندپه حقيقت كې دهغه دښــوونواولارښــوونوژوندوي ،دپيغمبردمړينې څخه مقصــددادى ،چې ښــوونې يې بـدلون وومومي ،كوم اســماني پيغام چې پرې نازل شــوى ؤ،په اصــلي شــكل پاتې نه شي؛ خومحمدصلي الله عليه وسلم گواكې ژوندى دى ،ځكه چې قران عظيم الشان په اصلي الفاظوموجوددى. دهغه دژوندانه حالات ،ويناوې اوكړه وړه دنبوى احاديثوپه بڼه تړول محفوظ اودټول امت په لاسونوكې دي. داسې بې بوله چې گواكې پخپله دالله رسول په خپلوسترگوويتودنړى دهبڅ شخصيت ژونددومره محفوظ نه دى ساتل شوى څومره چې درسول الله صلي عليه وسلم ژوندمحفوظ دى[1]

**۳-له يوپيغمبره وروسته دبل دراتلو لاملونه**

- داچې دلومړي پيغمبرښوونې له منځه تللې وي اودهغې دوړاندې كولوبياضرورت وي
- داچې دپخواني پيغمبر ښوونې پوره نه وي په هغو كې دترميم او اضافې كولواړتيا وي
- داچې د پخواني پيغمبر ښوونې تر يوه ځانگړي قوم پورې محدودې وي نوروقومونوته شاملې نه وي دغه درې واړه لاملونه اوس پاتې نه دي

**۴-دنبوت څوخصو صيات يې**

محمد صلى الله عليه وسلم په نورو پيغمبرانو ځينې ځانگړنې لري چې موږ ورته په لا ند ې توگه كتنه كوو

۱:دهغه درسالت مثال دلمر په څېردى لمرتړوله ځمكه روښانه كوي دهغه رسالت هم دځمكې ټولو ولسو نو ته شامل دى قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په تر ځ كې فرمايي ﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ﴿١٥٨﴾ الأعراف: ژباړه: اى محمده !ووايه چې اى انسانانو ! زه ستاسو ټولو لوري ته د الله استازى يم

۲: دقراني تلپا تې معجزې درلو دل : په هغه داســې معجز كلا م نازل شــوى چې د ژوند دټولو برخو په هر وخت اوهرځاى اودهر ملت درهبرى صـلا حيت لري او دسـا تنې ذمه واري يې الله جلت عظمته اخيستې ده

۳:هغه خاتم الانبياء دى دنبوت لړى پرې پاى ته رســېدلې تر ده وروســته بل پيغمبر نه رازي او نه بل پيغام ځمكې ته راتلو نكى شــته څوک چې درســول الله صــلى الله عليه وســلم درســالت په ختم باوري نه وي داسلام له دايرې بېرون څخه گڼل كېږ ي قران عظيم الشــان فرمايي ﴿ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ ۗ وَكَانَ ٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمًا ﴿٤٠﴾ الأحزاب: ژباړه: ( اى خلكو ! محمدصلى الله عليه وسلم ستاسې له نارينه ؤڅخه د هيڅا پلارنه دى ،مگر هغه د الله رسول او خاتم النبيين دى .او الله دهرشي علم لرونكى دى.

[1] درحماني ژباړه(۱۳۹۰)داسلام اساسي ښوونې ص ۵۸ اصلاح افكار ننگرهار افغانستان

PDF ترتيب كوونكى: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانان یادوي قران عظیم الشان دغه مطلب

۴:ترقیامته دهغه نوم لوړشوی په اذان او کلمه طیبه کې به یې مسلمانان یادوي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترځ کې فرمایي ﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴿٤﴾ ﴾ ژباړه:اوستاپه خاطر موستا دیادېدو اوازه لوړه کړه

۵:هغه یې ټولو نړۍ والو ته درحمت په تو گه انتخاب کړ ی

۶:هغه ته دکوثر دحوض زېر ی ورکړ ی شوی قران عظیم الشان په دې هکله داسې فرمايي ﴿ إِنَّآ أَعْطَيْنَـٰكَ ٱلْكَوْثَرَ ﴿١﴾ ﴾الکوثر ( اي پیغمبره ! بیشکه موږ تاته کوثر درکړی دی

۸ :هغه ته داو داسه قایم مقام تیمم رواشوی په داسې حال کې چې دتېروامتونولپاره له اوبونه پرته جا یزنه ؤ

۹ : هغه ته په قیامت کې دلو ی شفا عت مقام ورکړ شو ی مگرنور پیغمبران به نفسي نفسي نارې وهي

۱۰ : هغه ته ستر او لوی امت ورکړشوی

۱۱:دهغه امت دگنا هو نو له امله ټول په عذاب نه اخته کېږ ي چې ټول له مینځه ولاړشي .

**۵-په امت باندې یې حقونه:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل امت ځیني حقوق لري چې مو ږ ورته په لاند ې تو گه کتنه کوؤ .

۱: په هغه ایمان درلودل:له شک نه پرته درسول الله په نبوت اقرار اوباور درلودل ضروري اولازمی خبره ده قران عظیم الشان فرمایي ﴿ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ﴿٧﴾ ﴾الحدید: ژباړه: ایمان راوړئ پرالله او دهغه پر پیغمبرباندې

۲: دهغه اطاعت: او پیروی کول چې په قراان عظیم الشان کې دد ې گڼ دلایل دي ﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَلَا تُبْطِلُوٓا۟ أَعْمَـٰلَكُمْ ﴿٣٣﴾ ﴾محمد.ژباړه: ای موءمنانو ! دالله اطاعت وکړئ او دپیغمبر اطاعت وکړئ او خپل عملونه مه بربادوئ .

۳: له هغه سره محبت کول :له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت دایمان بر خه ده

۴ : هغه ته نوم نه اخیستل :الله تعالی مسلمانان له دې څخه منعه کړي دي چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم په خپل نو م سره راو بولي

۵: په هغه باند ې درودویل: هر مسلمان ته لا زمه ده چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باند ې درود ووایي

۶ :دهغه تعظیم اوادب کول:درسول الله صلی الله علیه وسلم تعظیم ،ادب اواحترام په ټول امت فرض دی [1]

**داصحابوکرامومقام اوپه اړه یې داهل سنت عقیده**

موږبه ترهرڅه دمخه دصحابي پېژندنه ، مقام اومنزلت اوپه اړه به یې داهل سنت والجماعت عقیده ذکرکړو

**داصحابي پېژندنه** :هغه څوک چې درسول الله مبارک سره دایمان په حالت کې مخامخ شوی اوپرایمان وفات شوی وي له اصحابي څخه عبارت دی

[1] - خورشید احمد(۲۰۱۰م)اسلامی نظریه حیات ص ۲۴۷ شعبه تالیف جامعه کراچی پاکستان

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقام اومرتبه يې :اصحاب كرام داسلام غوره نسل ؤ له دوى سره محبت په هريومسلمان واجب اولازم اوبغض اوكينه ورسره كفراوبې ديني ده ، اصحاب كرام درسول الله مبارك شاگردان دي ددوى مقام اومرتبې دلايل په لاندې توگه دي .

الف : قران عظيم الشان : الله تعالى فرمايي ﴿ لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴿١٨﴾ ﴾ الفتح ژباړه: الله تعالى له مؤمنانو څخه خوشحاله شو كله چې هغوى له ونې لاندې له تا سره بيعت كاوه، دهغود زړونوحال هغه ته معلوم دى له دې امله يې پرهغو ډاډينه نازله كړه اوهغوته يې په انعام كې نيژدې فتحه وركړه.

په بل ځاى كې ارشاددى ﴿ وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿١٠٠﴾ ﴾ التوبة ژباړه: هغه مهاجرين اوانصارچې هغوى ترټولود مخه دايمان بلنې ته په لبيك ويلوكې وړاندې شول ، دغه راز هغه كسان چې وروسته له نيكۍ او ريښتينولۍ سره په هغو پسې راغلل، الله له هغو نه خوښ او هغوى له الله نه خوښ شول، الله د هغو له پاره داسې باغونه تيار كړيدي چې تر هغو لاندې به ويالې بهيږي او هغوى به په كې د تل له پاره اوسيږي، همدا ډير لوى برياليتوب دى.

ب : نبوي سنت: پيغمبرعليه السلام فرمايلي دي (خيرالقرون قرني ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم) يعنې غوره خلك زمادژوندانه داوسېدونكوپېړى ده بياورپسې هغه څوك غوره دي چې دوى پسې وي بياورپسې هغه څوك غوره دي چې دوى پسې وى يعنې دتابعينواوتبع تابعينوپېړى

**دوى ته دښكنځلوكولواوبدوردوويلوحكم**

پيغمبرصلى الله عليه وسلم اصحابوكراموته دښكنځلوكولوڅخه منعه فرمايلي ده هلته چې فرمايي ( لاتسبوااحدامن اصحابي ) يعنې تاسې زماديوه صحابي په اړه هم بدې ردې مه واياست .نوپردې اساس اصحابوكراموته بدې ردې ويل له اهل سنت والجماعت څخه وتل اودگمراه ډلوپه كتاركې درېدل دي

**ددوى په هكله داهل سنت والجماعت تگلاره**

داصحابوكراموپه اړه داهل سنت والجماعت منځنى كړنلاره دافراط اوتفريط ترمنځ ده ددوى ترمنځ چې كومې شخړې پېښې شوې موږپه كې بحث نه كوو په دې هكله دعمربن عبدالعزيزرحمة الله عليه ويناكافي بولوهلته چې وايي : دغه خلك هغه قوم دى چې الله تعالى ددوى دوينوڅخه زموږلاسونه پاك ساتلي دي نوموږته لازمه ده چې ددوى دابروتويولوڅخه خپلې ژبې پاكې وساتو¹

¹ دلته رتخصيص محمدابن عبدالرحمن : التوضيحات الجلية على العقيده الطحاوية اول ټوک ۱۲۰۹ مخ

PDF ترتيب كوونكى: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اووم څپرکی

## په اخرت، قضاء اوقدر ایمان

**پیلیزه**

ژوندخویوازي دهمدې د نیاژوندنه؛ بلکې له مرګه وروسته بیاهمېشه ژوند پیلېږي ،چې ترهغه وروسته به چاته هم مرګ په برخه نه شي دغه ژوندبه یادایمان اونېکواعمالوله املـه دعیش اوارام ژونداویابه دکفراوبدواعمالوله کبله دغمونواوکړاوونوژوندوي همدغه باوراویقین ته داخرت عقیده وایي داچې دنړۍ هرڅه دالهي تقدیراوپلان پربنسټ دي دلته هرڅه دقیق محاسبه شوي مرګ ،ژوند رنځ ،خوشالي ،غم اودردهرڅه ټول دالله تعالی له خوادي.

### لومړی بحث

### په اخرت ایمان

دنړۍ دموجوده نظام دورانېدوپیل به داسرافیل دشپیلۍ دپوکې څخه وکړای شي، ټول کاینات به ګډوډ،څمکه به ډېرسخت ټکانونه وخوري لمراوسپوږمی به په ټکر،ستوري به تت اوخپاره شي، غرونه به دډانډ س شویوړیوپه څېرشي اوبه به اورواخلي دځمکې ژوي به ټول مړه شي، بیابه دالله تعالی په حکم دویم ځل شپیلۍ پوکړای شي؛ قبرونه به وچوي اوټول مړه شوي انسانان به دادم علیه السلام له وخته تر قیامته دوباره راژوندي کړای شي اودخپلوقبرونوڅخه به را اوچت اودحشر ـ په میدان کې به راغونډاودالله جلت عظمته پروړاندې به ودرېږي ،داژوندبه همېشه ژوندوي، دابه ډېره وېرووونکې ورځ وي، دخلکوزړونه به له وېرې لړزېږي اوهریوبه خپل انجام ته منتظروي،ټول انسانان به دحشر ـ په میدان کې دالله جل جلاله پروړاندې راټول وي په دغه ورځ به یوازې دده حکومت وي، هېڅاته به دساه وېستلومجال نه وي، دهغه له اجازې پرته به چاته دخولې پرانستلوهمت نه وي .الله جل جلاله به دخپل علم ،حکمت اوانصاف پربنسټ له هرڅانه جلاجلا دټول ژوند حساب واخلي انسان ته به دخپلو عملونواسنادپه لاس ورکول کېږي دهغه ټول اعمال به ورته مجسم شي دهغه اندامونه به پرهغه ګواهي ورکوي اوحساب به ورسره وشي، له هېچاسره به ظلم ونه کړای شي نېکوخلکوته به په ښي لاس اومجرمانوته به په کیڼ لاس عملنامې ورکړای شي. ښـي لاسي به کامیاب اوکیڼ لاسي به ناکام اونامرادوي دبري مونـدونکوخبرې به له خوشـالۍ ځلېږي اونامراده خلک به تورمخي اوله غمه ډک وي نېکان به جنت ته اوبدخلک به دوزخ ته بیول کېږي ګنهګارمؤمنان به له دوزخ څخه ترټاکلې مودې وروسته راوېستل کېږي اوجنت ته به ځي

**۱- پېژند نه یې**

دغه دقیامت له ورځې څخه عبارت ده، هلته چې ترمړینې وروسته به انسانان دحساب اوجزاءلپاره له قبرونوراپاڅولی شي اودرب العالمین پروړاندې به دربرې دغې ورځې ته داخرت ورځ هم وایې؛ځکه چې دغه دقیامت له ورځې څخه عبارت ده. هلته چې ترمړ ینې وروسته به انسانان دحساب اوجز اء لپاره

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


له قبرونوراپاڅولی شي اودرب العالمین پروړاندې به دربړي دغې ورځې ته داخرت ورځ هم وايي ؛ځکه چې له دې نه وروسته بله ورځ نشته تردې وروسته به جنتیان جنت ته اودوزخیان به دوزخ ته ځي.[۱]

۲. دایمان مفهوم یې

په اخرت ایمان ددغې ورځې اړوندوچاروته شمولیت پیداکوي؛ لکه کو چنی اولویې نښې.دقبرعذاب او راحت.داسرافیل شپېلی،له قبرونودخلکوراوچتېدل،حساب اوجزا.دقیامت هیبتناکه منظر. دمحشرتفصیل ،دعملنامو خپرېدل،دمیزان دتلې ټېنګښت،دصراط پول ،دکوثرحوض.شفاعت.جنت ودوزخ.[۲]

۳. دایمان اهمیت یې

داخرت په ورځ باوردایمان دارکانو له جملې څخه دی داخرت په ورځ ایمان ستراهمیت لري دقران عظیم الشان په ډېروځایونوکې په الله جل جلاله دایمان ترڅنګ ذکرشوی، دایمان دشپږګونواساساتو له جملې څخه دی

۴. داخرت دورځې نومو نه

ځینوعلماؤداخرت دورځې ګڼ نومونه ذکرکړي دي ،موږدلته دقیا مت مشهورنومونه ذکرکوو:

۱ - الساعة : دقیامت دقایمېدووخت

۲ - یوم القیامة : دالله تعالی پروړاندې دودرېدلوورځ

۳ - یوم الوعید: دعذاب ورځ

٤ - یوم الدین :دجزاورځ

۵ : یوم الحسرة: دافسوس ورځ

٦ - الدارالا خرة : داخرت کور

۷ - یوم التناد:یوبل ته دچیغو ورځ

۸ : یوم الجمع :دجمعه کېدوورځ

۹ : یوم الفصل : دفیصلې ورځ

۱۰ - یوم الحساب :دحساب ورځ

۱۱ - یوم الخلود:دهمېشه والي ورځ

۱۲ - یوم الخروج : دراوتلوورځ

۱۳ یوم التغابن:دتاوان ورځ

۱٤ یوم التلاق:دملاقات ورځ

۱۵ یوم الازفة:نېژدې ورځ

---

۱. ابن کثیر (ب ت) النهایة لومړی ټوک ص ۲۵٦ لاهور پاکستان

۲. کیلاني اسعد(ب ت) داسلامي تحریک دویم کتاب ص ٦۹ لاهور پاکستان

ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶ – الواقعة : ستره پېښه

۱۷ – الحاقة :رېښتيني ورځ

۱۸ – القارعة :ټکوونکې ورځ

۱۹ – الطامةالکبرى :ستره هيبتناکه ورځ

۲۰ : الصاخة :کڼوونکې ورځ

۲۱ – يوم البعث :له قبرونودراپورته کېدوورځ

۲۲ – الغاشية : پټوونکې ورځ [1]

## ۵- درامېنځته کېدو دلايل يې

قران عظيم الشان يوازې دقيامت په امکان اکتفاء نه ده کړې؛ بلکې په ډېرواياتونوکې يې دهغې په وقوع تاکيدکړى دى اسلامي پو هانوددې بېلابېل دلايل بيان کړي دي.

### ۱- دحکمت دليل

داچې دالله تعالى څخه هېڅکله بېهوده اوبابېزه فعل نه صادرېږي ؛نودانسان پيدايښت ديوسترهدف لپاره دى دانســان دژوندنهائي هدف دادى چې خپل همېشــني کمال ته ورســېږي ددغه هدف تحقق داخرت دژونـدون نـه پرتـه امکان نـه درلودا وهغـه داچې هلتـه تـل ترتلـه واوســېږي قران عظيم الشــان دانســان دژوندحکمت ته داسـې اشــاره کوي ﴿ أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾ ﴾ المؤمنون: ژباړه:اياتاسې انګيرلې وه چې موږتاسې بابېزه پيداکړي ياست او زموږلوري ته ستاسې هيڅکله راګرځېدل نشته؟

په بل ځاى کې ارشـاددى ﴿ وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا لَاعِبِينَ ﴿٣٨﴾ ﴾ الدخان: ژباړه:دغه اسمانونه اوځمکه اوددوى ترمنځه شيان موږد لوبو لپاره نه دي پيداکړي [2]

### ۲- دعدالت دليل

الله تعالى عادل دى اوډظلم صـدوروړڅخه ممکن نه برېښـي. دالله تعالى عدالت ددې غوښتنه کوي چې نېکوکـارانواوبدکارانوته خپل ثواب اوعذاب ورکړي .داچې دنيوى ژونددثوابونواوعذابونولړظر فيت لري، ټول انسانان دخپلواعمالوسزاپه دې نړۍ کې نه ګوري ؛نوپرهمدې اساس الهي عدالت ددې غوښتنه کوي چې بله نړۍ دې اوسي اوهلته دې نېکوکارانواوبدکاروته خپله بدله ورکړاى شي قران عظيم الشــان فرمايي ﴿ أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ اجْتَرَحُوا السَّيِّئَاتِ أَن نَّجْعَلَهُمْ كَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَوَاءً مَّحْيَاهُمْ وَمَمَاتُهُمْ ۚ سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٢١﴾ ﴾ الجاثية: ژباړه: اياهغه کسانوچې هغوى دبدى مرتکب شوي .داانګېرلې ده چې

[1] [illegible] العقيدة الاسلامية واسسها ص ۶۲۸ دارالقلم بيروت لبنان

[2] [illegible] ص ۷۱ [illegible] ننګرهار افغانستان

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

ketabton.com: The Digital Library


موربه هغوی اوایمان راوړونکي اونیك عمل کوونکي سره برابرکړو،چې دهغوژوندا ومرګ یوشانته شي؟ډېره ناوړه فیصله ده چې دوی یې صادروي.[1]

## ۶.داخرت په هکله داسلام تصور

۱: انساني ژوندپه اصل کې داخروي ژوندیوه مقدمه اوسریزه ده دغه ژوندلږ اومؤ قتي ؛مګراخرت تل ترتله اوهمېشه دی دغه ژوندنیمګړی اوهغه کامل دی ،دېتولواعمالوبشپړنتایج په دې عارضي اولږ ژوندکې مېچاته نه په برخه کېږي ؛بلکې ددغه لږژوندحقیقي نتایجوثمرات به په اخروي ژوندکې څرګندېږي .

۲ ـ څرنګه چې په نړۍ کې هرشی عمرلري چې په نتیجه کې به له منځه ولاړشي ،په همدې توګه دغه ټول نظام هم عمرلري چې په پای ته رسېدلوسره به یې وروسته بل نظام اوبله نړۍ رامنځته شي چې د هغې طبیعي قوانین به ددې او سني نظام سره بشپړتفاوت ولري.

۳ ـ ددغه موجوده نظام تړنګېدواودانسان ددوباره ژوندنه وروسته به دانصاف اوعدل یوه ستره محکمه قایمه کړای شي چې هلته به دانسان دهرعمل محاسبه کېږي اودخپل څښتن پروړاندې به حاضرېږي اودښواوبدواعمالوسزابه هرچاته ورکول کېږي.[2]

## ۷. دماده پالوپه نظریاتوعلمي نیوکه

په انسانانوکې یوه دماډریالستانوډله ده هغوی نه دکایناتوخالق مني اونه داخرت نړۍ هغوی پردې باورلري چې ماده ازلي اوتل ترتله ده په مړینې سره دانسان هرڅه پای ته رسېږي، دوباره ژوندون له سره شتون نه لري. دوی یوازې په خپلوحواسواعتمادکوي اووايي چې داخرت نړۍ موږمحسوسه کړې نه ده ؛نوله سره نشته.دغه فکرسراسرناسم څکه دی چې ډېرشیان شته ؛مګرسترګې یې نه محسو سوي؛ دمثال په توګه دمادې الیکټرونیکي خوځښت،دځمکې جاذبه،مقناطیسي- قوه،دغه ارته لویه نړۍ چې دانسان له احاطې بیرون ده یوواقعیت دی په همدې توګه دمرګ اوژوندپه اړه په حواسواعتمادکول معقول کارنه بریښي څکه موږ سره داسې سترګې نشته چې دمرګ له پولې اخوا نړۍ پرې ووینوله دې وروسته دنړۍ په موجوده نظام دنه زوال حکم پردې اساس لګول چې موږیې ورانی نه دی لیدلی داخبره دې ته ورته ده، چې یوڅوک ووایې دغه تعمیربه تل ترتله وي څکه چې مایې ړنګېدل نه دي لیدلي ایادعقل پربنسټ دغه استدلال صحت لري؟نه هېڅکله نه.[3]

دله مرګه وروسته ژوندقضیه یوازې عقلي اوفلسفي مسئله نه ده؛ بلکې زموږله عملي ژوندسره یې ژوره اړیکه ده .زموږداخلاقي اوتمدني ژوندټول انحصارپه همدغې مسئلې پورې تړلی دی؛ څکه چې یوڅوک پردې باوري وي چې هرڅه دي په همدغه ژوندپورې اړونددي، له مرګه وروسته ژوندله سره شتون نه لري

---

۱. نذیر داده‌حما.(ب ت) عقاید اسلامی ص ۱۷۳ انتشارات رسالت کابل افغانستان
۲. قشیری مسلم بن الحجاج(ب ت) صحیح مسلم باب اثبات حوض النبی لاهور پاکستان
۳. خورشید احمد (۲۰۱۰م)اسلامي نظریه حیات ص ۸۱ شعبه تالیف وترجمه جامعة کراچي

Kitabton.com: The Digital Library

او سوال په داخرت چې یوځوک لري تفاوت څخه انسان هغه له کړنلاره عملي او اخلاقي شخص ددغسې.
ځرگندوو: کې ترڅ په ل دیومثا حقیقت دغه وي باوري خواب
به رسېدوسره په کندهارته چې دی باوري پردې شخص یو جوړوي، پروگرام دسفر ترکندهاره تنه دوه
دویم برعکس دده ازادیم څخه اومحکمې دپولیسو ځای دهغه بلکې ؛رسېږي ته پای یوازې زماسفرنه
ځای ددې چې یم روان ته سیمې داسې زه پراؤدی، دسفریو یوازې تلل ترکندهاره چې هېږي پو شخص
ست وایا وو خپله په تاسو موجوددی، وریکاردموجوددی دزمادټولوکړوو په دفترکې دهغه یودی، بادشاه ځای اودهغه
؟ موجودوي بېلتون لوی ومره ځ په اعمالوکې واشخاصوپه ددوا ددې چې
همته اوپست مایوسه انسان پرست ماده امتیازوي لوی اواخلاقوکې سیرت په انسان اومؤمن پال دماده
احساس په پالنې اوځان شهرت، دشهوت، رسوي ژوندسرته په ظالموانسانانو دشریرواو، وي شخص
وي کولوبوخت په تیاري لپاره اودخرت ژوندلري مسؤلانه انسان باوري اخرت په برعکس دده ژوندکوي
دژوندستره اسره یې بشرته خیررسول دالله تعالی رضاءاودجنت حصول وي.[1]

## ۱-دقیامت ساینسي او عقلي ثبوت

دلمرزیاته برخه دهیلیم اوهایدروجن غازونه دي اودواړه دهستوي تعاملاتو په نتیجه کې دخلااودلمردژوندلامل گرزېدلي دي. هیلیم په ډېرسرعت سره دلمرهستې ته داخلېږي، دلمرهسته چې له هایدروجن څخه ډکه ده په هماغه اندازه هایدروجن له هستې څخه وځي اوپه هیلیم بدلېږي، چې په پای کې نور،انرژي اوتودوخه تولیدوي لمرددوودلایلوپراساس تراوسه ځلاندي :

۱ -که چېرې په لمرکې هستوي ځواک اوجاذبه قوه شتون ونه لري لمربه دهایدروجن دبم په څېروچوي.

۲ - که چېرې په لمرکې اتومي تعاملات نه وي لمربه په داخل کې رنگ او پای ته به ورسېږي اتومي چاودني به ترهغه په لمرکې جاري وي چې هایدروجن دلمرپه هسته کې په بشپړه اندازه موجوداوسي، په داسې حال کې چې لمرپه هره ثانیه کې (۷۰۰ )ملیو نه ټنه هایدروجن له لاسه ورکوي چې په نتیجه کې نور،تودوخه اوانرژي تولیدوي ،داچې په یوه دقیقه،ساعت اوورځ کې دهایدروجن څومره اندازه ضایع کېږي ،تاسویې پخپله حساب وکړئ تراوسه (۳۷) برخې په سلوکې دلمرهایدروجن ضایع شوی، هرکله چې دهایدروجن زیاته برخه ضایع شي دلمریزنظام بربادي به پیل کړای شي.[2]

له یوې تاکلې اوږدې مودې وروسته به دلمردهستې دهایدروجن زیاته برخه په هیلیم بدله شي اودلمرپه هستوي تعاملاتوکې به ډېرلوی خلل رامینځته شي په دغه مهال لمردهایدروجن له کمبودسره مخامخ کېږي .هیلیم په ډېرسرعت سره دلمرهستې ته ننوځي اوپه ډېرسرعت سره به راؤزي ؛نورنوهیلیم له هایدروجن څخه پرته هستوي تعاملات له لاسه ورکوي.جاذبه قوه زیاتېږي لمرپه ډېرشدت اوسرعت دخپلې هستې په

---

[1] - همدغه ما خذ ص ۳۸۶

[2] - فیض خلیل الله (۱۳۸۷هـ ش)ساینس جدید وقران ازخلقت تا به عدم کاینات ص ۶۴ مؤسسة

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخل کې نړېږي ( solarcollaps)دلمرنړېدابه دومره قوي سريع انفجاروي. چې نورې سـياري به هم له تزلزل سره مخ کړې دلمرنورې سياري له خپل مدارڅخه بېځايه کېږي اوفراربه وکړي دهيليم سريع حرکت ددې باعث گرزي چې دلمرتودوخه زياته شي، دهرې شيبې په تېرېدوسره دلمرتودوخه زياتېږي اوپه ځمکه کې دژوندانه شرايط له منځه ځي دگرمۍ دزيا ت والي له کبله دجنو بي اوشـمالي قطب يخچالي برخه اوبه کېږي اوداوبوسطحه لوړېږي اووچې ته مخه کوي. دسمندرساحلي برخې اوبه لاندې کوي قران عظيم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي ﴿ وَإِذَا ٱلۡبِحَارُ فُجِّرَتۡ ﴿٣﴾ ﴾ الانفطار: ژباړه:اوکله چې سمندرونه وشليږي

په دغه مهال دلمرحجم زياتېږي اوسـوررنگ به لري،دځمکې فضـاء به هم سـوررنگ پيداکوي اودزياتې تودوخې له امله به چاودنې پيل شي. قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي

﴿ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ فَلَا تَنتَصِرَانِ ﴿٣٥﴾ ﴾الرحمن: ژباړه:که دتېښـتې هڅه وکړئ ،نوپرتاسې به داورشُغلې اولوگې خوشې کړاى شي چې تاسې به دهغومقابله ونکړاى شئ.

دزياتې تودوخې له امله دځمکې ترپوښ اوغرونولاندې اورغورځوونکې برخه دومره گرمېږي ،چې دهغې دبخارفشـارځمکه چوي اودېرې سـختې زلزلې پيلېږي قران عظيم الشـان دغه مطلب داسـې بيا نوي ﴿ إِذَا زُلۡزِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ زِلۡزَالَهَا ﴿١﴾ ﴾ الزلزلة: ژباړه:کله چې ځمکه په خپل ټول قوت سره وخوځول شي .

په دغه وخت کې دلمرجاذبه قوه زياتېږي، په سـمندونوکې دېرې لويې ځپې رامنځته کېږي دلمرتودوخه دومره لوړېږي چې دځمکې دمخ ټول ځنگلونـه سـوزي اودځمکې پـه هره برخـه کې چـاودنې رامينځته کېږي. قران عظيم الشـان دغه مطلب داسـې روښـا نه کوي ﴿ يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ وَكَانَتِ ٱلۡجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا ﴿١٤﴾ ﴾ المزمل: ژباړه:دابه هغه ورځ وي چې ځمکه اوغرونه ولړزيږي اودغرونو حالت داسـې شي لکه دشگودېرى چې خورېږي . په بل ځاى کې داسې ارشاد دى ﴿ ٱلۡقَارِعَةُ ﴿١﴾ ﴾ القارعة: ژباړه:هغه سـتره پېښـه ! اوس دلته داپوښـتنه راولاړېږي چې موږولې په ځمکه کې دلمردانفجاراتواوچاودونوغږنه اورو؟ځواب يې ځرگندى اوهغه داچې دفضاءهغه برخه چې له گازونوخالي ده له هغې څخه نور،تودوخه اوانرژي پـه دېرې اسـانتيـاسره ورڅخـه عبورکوي؛البتـه ددې پرعکس اوازلـه خلاڅخه نه تېرېږي دزمکې اولمرترمينځ دېره لويه فاصـله موجوده ده دلمردچاودنواوازونه همدلته توقف اوبېرته دلمرپه لوري ورگرزي که چېرې فضـاء نه واى دلمرهولناکه چاودنوبه ځمکه دومره لړزوله چې دغرونولوړې ځوکې به رانړېدلې واى .

هلته قيامت ته نېژدې دلمردانبساط اودزيات لمريزطوفان( solar wind )له امله به دغه خلاء له منځه ولاړه شي عطارد،لمرته نېژدې سياره به دلمرداخل ته ولاړه شي په پاى کې به سپوږمى هم دلمرخېتې ته ورننوزي قران عظيم الشـان دغه منظرداسـې بيا نوي ﴿ وَجُمِعَ ٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُ ﴿٩﴾ ﴾ القيامة: ژباړه: اوسـپوږمى بې نوره شي اولمراو سپوږمى يوځاى کړاى شي

The Digital Library


په دغه مهال به دځمکي اوبه اوروا خلي قران عظيم الشـــان فرمايي ﴿ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴿٦﴾ ﴾ التكوير :ژباړه: اوكله چې سمندرلمبه كړل شي

دتودوخې درجه به دوه زره خله زيات والى ومومي پدغسې تودوخه کې غرونه ويلې كېږي اودسيلاب په بڼه حركت كوي قران عظيم الشـــان دغه مطلب داسې بيانوى ﴿ وَإِذَا ٱلْجِبَالُ سُيِّرَتْ ﴿٣﴾ ﴾ التكوير: ژباړه:اوكله چې غرونه وخوځول شي

په دغه وخت كې لمردومره لوئيږي چې دځمكې دفضـازياته برخه نيسي-؛ نورنو هيليم دهستو ي تعاملاتو خواك له هايدروجن نه پرته له لاســه وركوي. جاذبه قوه زياتيږي اولمرپه دپرشــدت اوچټكتياسره دخپلې هستي په لورنږيږي ددغه سترانفجارنه وروسته نورې سياري له خپل مدارنه بېځايه كېږي. قران عظيم الشان دغه مطلب داسې بيانوى ﴿ وَإِذَا ٱلْكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتْ ﴿٢﴾ ﴾ الانفطار: ژباړه:اوكله چې ستوري خواره واره شي

لمرپه يوسپين دوله جسم بدلون مومي چې حجم به يې دځمكې سره برابرالبته كثا فت اوكتله به يې زياته وي ساينس پو هان يې( Black Dwarf )بولي دځينوساينس پوهانوله نظره به دلمرحجم دځمكې دحجم په اندول پاتې شي اوخپل پاتې نوراورڼابه له لاسه وركړي اوپه يوتورجسم بدل شي قران عظيم الشان په دې هكله داسې فرمايي ﴿ إِذَا ٱلشَّمْسُ كُوِّرَتْ ﴿١﴾ ﴾ التكوير: ژباړه: كله چې لمرونغښتل شي

ځيني ســاينس پوهان پردې باوردي چې دلمردهســتوي تعاملاتودنشــتوالي له كبله كوچنى كېږي خوكتله اوجاذبه به يې هماغه شان وي په پاى كې به لمردسپوږمۍ ځخه كوچنى اوبيابه د فوټبال دتوپ په اندول او په پاى كې به يې حجم له صــفرسره مســاوي شي؛ مګرجاذبه اوكتله به يې په خپل ځاى وي چې ســا ينس پوهان يې ( Black Hole )بولي[1]

**٢-په اخرت دايمان غوښتني**

١ – ددنياپـه مقابـل كې اخرت غوره كول :په اخرت دايمان لومړى غوښــتنه ددنيا په مقابل كې اخرت ته ترجيح وركول دي اخروي ژوندبـه يې ســتره موخـه اودې تـه بـه تيـاروي ،چې داخرت دبهبود لپاره بـه ددنياهررازســتونزې ګالي اومحروميتونه به مني دنياته به يې شــا اواخرت ته به يې مخه وي مومن مســلمان دنيااوددنياسامان وسيله اوداخرت توښه بولي په دنياكې به دمسافر په توګه ژوندترسره كوي دنيا به په اخرت خرځوي اوددنيا هرڅه به داخرت لپاره قربانوي. دنيايوه مؤقتي قرارګاه ده اوداســې مثال لري ،چې يوڅوك دمؤقت وخت لپاره د ونې سيوري لاندې توقف اودځوشيبولپاره ارام كوي ددنيا ژوند همداسې وګڼئ اصل هدف اومقصد اخرت ده .

٢ – له مرګ څخه نه ويرېدل :په اخرت باند ې دايمان بله غو ښــتنه له مرګه نه ويرېدل دي. داالله په لاركې مړينه به دهغه ترټولولوړه هيله وي. په هغه قام اوملت كې دشــهادت تلوسه اوهيله مري چې په اخرت ايمان ونه لري ګناه.فســاداو خيانت ددې باعث شي چې انســان له مرګه وويرېږي.مرګ دژوندپاى نه ؛بلكې دبل ژوند پيل دى مرګ له يوې نړۍ څخه بلې ته دورتګ وسيله ده.

[1] - فيض خليل الله (١٣٨٧هـ ش) ساينس جاذبه وقران ازخلقت تا به عدم كاينات ص ٦٦

PDF ترتيب كوونكى: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

۳ - ډاډ اواطمینان :په اخرت دایمان ځښښتن هېڅکله نه نااميده کېږي، ترسختو نه په سخت حالت کې مطمئن وي ؛ځکه هغه دخپل مستقبل له نتيجې نه ډاډه وي. انسان هغه مهال په نا اميدي‌ اخته کېږي، چې گومان وکړي عملو نه يې بې نتيجې پاتې شوه .دهغه کوښښ ضايع شو ؛خوچې انسان په دې باور وي چې دی دخپلو اعمالواوهلوځلوعوض ارومرو ترلاسه کوي ،هغه په هېڅ صورت کې نه مايوسه کېږي ،چې دغه په اخرت باندې دايمان نتيجه ،غو ښتنه اوتقاضاده[1]

**۳-په اخرت دايمان اغيزې**

په اخرت دايمان اغيزې په لاندې توگه وړاندې کېږي :

۱ - په انسان کې دعبادت ،طاعت او بندگي داحساس وده.

۲ - دغه تصور انسان دې ته هڅوي ،چې خپل ځان اومال دالله تعالى په لارکې ځارکړي .

۳ - دغه فکر په انسان کې دريښتينولي احساس رامنځته کوي هغه هېڅکله دروغجن نه وي .

٤ - دغه طرزفکرمظلوم انسان ته ډاډ‌په برخه کوي چې که چېرې نن موله ظالم نه غچ وانخيست سبا ته دقيامت به ورځ به انتقام ورځخه واخيستل شي.

۵ - په اخرت ايمان دانسان په ټولنيز ،سياسي اواقتصادي ژوندکې انضباط رامنځته کوي. همدغه دننه قلبي احساس مؤمن له کافره جلاکوي کفري ټولنه دمادي ځواکونو اودبرچې په زورامن ټينگوي ؛مگراسلام دخلکوپه زړونوحکومت کوي، له زراوزورنه پرته ورته ځان تسليموي هلته دستورمخابراتي وسايلواوپوليسوپه ذريعه ښارونه ساتل کېږي که دغه وسايل شنډکړای شي نواريانوونکي جرايم به په سترگو وليدل شي.دنيوپارک په ښارکې په يوه شپه کې دلږوخت لپاره دبر ښنبادنه شتون له امله ددوه لکه غلاگانو جرايم ثبت شول چې ددوه مليارده ډالرو په تناسب مال په کې چورشوی ؤ .

٦ -داخرت په ورځ ايمان په يو شخص کې داخرت دعذاب وېره اوالله جلت عظمته ته دهيلو اواميدونواحساس ورکوي، طاعت ته هڅاند اوله گناهونوخپل ځان ژغوري.

۷ -په اخرت دباورځښتن نعمتونه دطغيان اوسر کشي ترسرحد ه نه رسوي اوغمونه يې نه ناا ميده کوي؛ بلکې تل ترتله دتوازن په حال کې وي.

۸-په اخرت ايمان په انسان کې ښايسته اخلاق رامنځته کوي لکه سخاوت، شجاعت ،تواضع رحمت ،شفقت اوداسې نور ..

۹-مؤمن مسلمان دالله تعالى رضاء غواړي په دنياکې که چېرې ورځخه نعمتونه فوت شي ،داخرت هيله من وي .[1]

---

[1] - حکمتيار (ب ت) په اخرت ايمان ص ٦۹ خپرونکی دميثاق ايثار اداره

[1] تېر شوی ماخذ ص ۷۰

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دقیامت علامې**

دقیامت په راتلوکې هېڅ شـک اوشـبهه نشـته.قیامت نږدې دی اوعلم یې یوازې الله تعالی ته په برخه اوایمان پرې دمغیباتو له جملې څخه ده. دقیامت کوچنۍ اولویې نښې شته، چې په قران عظیم الشان اونبوي حدیثوکې بیان شوي دي قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمایي :﴿ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا ٱلسَّاعَةَ أَن تَأْتِيَهُم بَغْتَةً فَقَدْ جَآءَ أَشْرَاطُهَا فَأَنَّىٰ لَهُمْ إِذَا جَآءَتْهُمْ ذِكْرَىٰهُمْ ﴾ محمد: ژباړه:نوآیادوی فقط دقیامت انتظارباسي چې هغه په ناڅاپي ډول وربانديې راشي؟دهغه علامات (نښې نښانې )خوراغلي دي.کله چې هغه پخپله راشي نوایاددوی لپاره به دنصیحت قبلولوڅه فرصت باقي پاتې شي؟

په پورتنی ایات کریمه کې قیامت ته ساعت ویل شوی ،دلته له ساعت څخه هغه وخت مراددی چې قیامت به په کې قایمېږي. قیامت ناڅاپه راځي دقیامت له نښـوڅخه هدف دادی ،چې قیامت نیژدې اودنړۍ عمرنورپای ته رسېدونکی دی .

**۲-دقیامت اطلاق**

په شریعت کې په درې شیانودقیامت اطلاق کېږي:

**الف -کوچنی قیامت :** چې دانســان له مړینې څخه عبارت دی.څو ک چې په مړینه محکوم شي؛ نودده قیامت قایم شو؛ ځکه چې دغه شخص داخرت نړۍ ته انتقال وموند .

**ب -مینځنی قیامت** :چې هغه دیونسل مړینه ده

**ج - لوی قیامت :** چې هغه له قبرونودحساب اوسزالپاره دمړورا اوچتېدل دي .

**۳-دقیامت دنښانو حکمت**

له قیامت نه دمخه دنښانو حکمت دادی، چې خلک دغفلت له درانه خو به راپاڅېږي، توبه اوالله تعالی ته رجوع وکړي ،له دنیاڅخه ځان غوڅ اوداخرت لپاره په بشپړتیاري لاس پورې کړي[۱]

**۴-دقیامت دنښانو ډولونه**

**الف- دقیامت کو چنی علا مې**

دقیامت کوچنی نښـانې ډېرې دي. تفصیلي بحث یې زموږ موخه نه ده ،په اجمالي توګه به موږ ورته اشاره وکړو په دې کې ځینې واقع شوي اوځینې یې دواقع کېدوپه حال کې دي :

۱: درسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت اونبوت .

۲: درسول الله صلی الله علیه وسلم وفات .

۳: دبیت ا لمقدس سوبه .

٤:دعمواس وبا .

---

[۱] - الخمیس محمد عبدالرحمن (۱۴۲۹ هـ ق)التوضیحات الجلیة علی العقیدة الطحاویة ص ٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵: دمال زيات والى اوله خيرات څخه دخلكو بې پروايي .
۶: دفتنو خرګندېدل .
۷: دنبوت ددروغژنو مدعيانو خرګندېدل
۸: په حجازکې داورخرګندېدل دغه په( ۶۵۴ هـ کال رامنځته شوى)
۹: دترکانوسره جګړه.
۱۰: دعجموسره جګړه.
۱۱: دامانت ضايع کېدل.
۱۲: ددينې علم له مينځه تلل اودجهل خرګندېدل .
۱۳: دپوليسواودظالمانودمرستيالانو زياتوالى.
۱۴: په عامولاروکې دزناخرګندېدل،تردې پورې چې شريف شخص به وايې کاش ددېوال ترشاواى .
۱۵: دسود ترويج .
۱۶: دموسيقي او ښځينه سندرغاړواونڅاګرو زيات والى اوقانوني جواز.
۱۷: دشرابو څښلوزياتوالى اودشرابو حلال ګڼل .
۱۸: دجوماتونوښايست اوپرې وياړل .
۱۹: دلويواسمان څکوبلډنګونواوقصرونوجوړول.
۲۰: دوينځې باداره زېږول (دکورنى نظام ړنګېدل دمشراوکشر ددرناوي خاتمه) .
۲۱: دوژنواوشخړوزيات والى تردې چې قاتل به نه پوهېږي چې قتل يې دڅه په خاطر کړى دى اومقتول به نه پوهېږي چې دڅه په خاطر وژل شوى دى.
۲۲: دزمانې نېژدې کېدل .
۲۳: دښارونو نېژدې توب (دنويو وسايلو ايجاددسفردوسايلو زيات والى) .
۲۴: په اسلامي امت کې دشرک خرګندېدل .
۲۵: دبخل زيات والى.
۲۶: دمالونو زياتوالى اوپه سوداګرى کې دمېړه سره دمېرمن مرسته .
۲۷: دزلزلوزيات والى .
۲۸: دځمکې خسف (ننو تل ).
۲۹: دمسخه (دانساني جثې بدلون ).
۳۰: له فضاء څخه دکاڼواورښت .
۳۱: دسالحواونېکانو نخلکو مړينه
۳۲: دذليلو اوسپکو خلکو مشرتوب .
۳۳: دسلام اچول دپېژندګلوى اساس ګرځول .
۳۴: دبربنډو ښځو خرګندېدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۵ :دمؤمن دخوبونوربښتیاکېدل .
۳٦ :دلیک اولوست زیات والی اوخپرېدنه
۳۷ :داسلامي سنتوتوهین اوسپکاوی.
۳۸ : دسپوږمی پرسېدل .
۳۹ : ددرواغو زیات والی اوپه خبرونوکي عدم تثبت .
٤۰ : ددرواغو دگواهی زیات والی اودحق شهادت پټول .
٤۱ : دښخودشمېرزیات والی اودنارینه وکمبود .
٤۲ : دناڅاپه مړینوزیات والی .
٤۳ : دباران زیات والی اودحاصلاتوکمبود.
٤٤ : دفرات په سیند دسروزرو دغره څرگندېدل .
٤٥ : انسان سره دځناورو اوجامداتو خبري اتري .
٤٦ :دسختوازمېښتونوله امله دمرگ هیلي.
٤٧: درومیانوزیات والی اوله مسلمانانوسره جگړه.
٤۸ : دقسطنطیني (استانبول )فتحه .
٤۹ : له یهودوسره جگړه .
۵۰ : دمؤمنانوداروڅاگانودقبض په خاطر دښایسته هواگانوچلېدل.
۵۱دموراو پلار مخالفت او دخپلوليو غوڅېدل.
۵۲:دبیت الله دعزت اودرناوی پای ته رسېدل اودکعبې ړنگېدل [۱].

**ب-دقیامت لویي نښې**

دقیامت دسترونښوله جملې څخه چې په نبوي احادیثوکي ذکرشوي، یوه غیرمرتبه مجموعه ده دلته چې په روایاتوکي کوم ترتیب ذکرشــوی په وقوع کې داســې نه دي، له همدې امله دقیامت دنښــانوپه ترتیب کي اســلامي پوهانوبېلابېل نظریات وړاندې کړي دي،حافظ ابن حجررحمة الله علیه دغه روایات جمع کړي ،په دې کې یې ددجال راوتل اوله لویدیځه دلمرراختل یې په لومړیتوب کې راوســتي دي ،ددغوروایاتوله مجموعې څخه څرگندېږي چې ددجال راوتل تر ټولولویه نښــه ده چې دعیسی علیه السلام په لاس به وژل کېږي پــه همدې توگه لــه لویــدیځه دلمرراختــل دکایناتودســتربدلون نښــه ده چې پای یې دقیامت پ دادی چې له لویدېزه دلمرپه راختلوسره دتوبې دروازه بندېږي (دابة الارض) به هم دهمدغی ورځې په پیل کې راووځي حکمت یې ته به مؤمن اوکـافرتـه بـه کافرلیکي .دلویونښــودجملې څخه چې قیامت ته نېږدي رامنځته کېږي ددجال

---

[۱] - الا شقر سلیمان(ب ت)القیامة الصغری ص ۲۲۴ بیروت لبنان

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

خرګندېدل،دعیسی_ علیه السلام له اسمانه راکوزېدل،یاجوج اوماجوج اودځمکې خسف(ننوتل) لوی دود،له لویدیزه دلمرراختل،ددابة الا رض راوتل اواورچې خلک به دحشر په لوري راجمع کوي. ۱

## روح

روح دالله جلت عظمته په مخلوق کې دپټواسرارود جملې څخه دی چې دالله عزوجل نه پرته پرې هېڅوک نه پوهېږي .دانســان پوهه دالله عزوجل دلایتناهي علم په وړاندې ډېره لږه،کوچنۍ اومحدوده ده نـان تراوسه پورې دخپل چاپېریال په مادي حقایقو بشپړه پوهه نه ده حاصله کړې؛ نوبیاڅنګه کولای شي چې دروح په جوړښت چې دالهي مغیباتواوپټورازونوله جملې څخه دی پوهه ترلاسه کړي.

دروح په هکـلـه بـایـد دومـره پـوه شـــوچـې پـه ټـول بـدن کـې ځـای لـري اوهـغـه ته خوځښت،پوهه،فکر،ذکاوت،اراده،اختیار،محبت اوکینه وراپه برخه کوي چې کله هم له بدن څخه ووځي انساني بدن په هماغه جامدې اومړې مادې بدلون مومي پردې اساس روح دانســان دغوره والي یواځینی نښه ده ،دجسم اصـل حقیقت له خاورینو موادوڅخه دی انسـان چې کله په مړینه محکوم شي بدن يې تجزیه کېږي اوپه هماغولومړنیوتوکوبدلون مومي چې بدن ورڅخه جوړښت موندلی ؤ.

### ۱-دروح لغوي معنی

دلغت په اعتباردروح لفظ ګڼې معناوې لري په قران عظیم الشان کې وحی ته روح ویل شـوی ؛همدارنګه جبریل ته روح ویل شوی ؛البته ددغه لفظ اطلاق په زیاته اندازه په انساني روح کېږي.

### ۲-دنفس معنی

دنفس لفظ پـه عربي ژبـه کې پـه ډېرومعناووسره راغلی : وینې ته هم نفس ویل کېږي، بد نظر ته هم نفس وایي ؛همدارنګه نفس دذات په معنا سره راغلی دی ؛ البته په هغه صورت کې چې روح له جسم سره یوځای وي دنفس اطلاق په انساني روح کېږي

### ۳-اجمالي پېژندنه يې

دغه یونوراني. اسـماني (علوي )، لطیف ژوندی اوخوځنده غیرمادي جسم دی چې په خاورین جسد کې نفوذکوي او په بدن کې داسې جریان پیداکوي لکه دګلاب ګل او یا دزیتون دانې چې غوړيې په هره برخه کې شتون لري ،ترڅو چې انسـاني جسم اوغړي دروحاني لطیف غیر مادي شي اغېزې منلوته تیاروي. تر همدغه وخته لطیف جسـم په کثیف مادي جســم کې اوسـېږي . ؛لېکن هرکله چې خاورین جســم مخ په خرابېدوشي مړینه واقع کېږي؛ نو روح له بدن څخه وځي او عالم ارواح ته ورل کېږي همدغه خبره دقران کریم نبوي سنتو. داصحابو کرامو داجماع، عقل اوبشري فطرت سره برابره ده ۲

۴-**روح دقرانکریم پـه رڼا کې**:په قران عظیم الشــان کې دانســاني روح په هکله لاندې الهي فرمان دغور وړدی ،هلته چې فرمايي:﴿ وَيَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنْ أَمْـرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ إِلَّا قَلِيـلًا

---

۱ عمر یاسین(ب ت) الایمان ارکانه حقیقته نواقضه ص ۱۷۵ مکتبة الرسالة الحدیثه اردن عمان

۲ مولانا ... میں توحید، امر سنت قران اور حدیث کی روشنی میں ص ۸۰

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

نه ده ۲-ژباړه: دوی له تانه د روح په باب پوښتنه کوي، ووایه "دا روح زما درب په حکم راځي، خو تاسې له علم نه لږه برخه موندلې ده"

**دانسانیت اساس په روح دی**

البته دبشر دانسانیت، عقل، پوهې او روح مجموعې ته انسان ویل کیږي؛ په قران عظیم الشان کې دجسم او دنورو فضایلو اوخصوصیاتو دارومدارپه انساني روح دی دقران عظیم الشان په اتوایاتونو کې دانساني روح ذکرراغلی دی.

**۶-ایاروح قدیم دی؟**

ټول پیغمبران پردې متفق دي، چې دمادي اجسامو په شان روح هم مخلوق دی. کوم ازلي قدیم او غیرمخلوق شی نه دی. انسان دروح او جسد نوم دی. قران عظیم الشان همدغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمایي: ﴿ هَلْ أَتَىٰ عَلَى الْإِنسَانِ حِينٌ مِّنَ الدَّهْرِ لَمْ يَكُن شَيْئًا مَّذْكُورًا ﴾ (۱) الإنسان: ژباړه: ایا په انسان د زماني یو وخت داسې هم تېر شوی دی چې هغه کوم دیادوني وړشی نه وُ ؟۱

**دروح پیدایښت**

اوس پوښتنه داده چې روح له جسد نه مخکې پیداکړی شوی دی اوکه وروسته؟ په دې هکله اسلامي پوهان بېلابېل نظریات لري. ځینې وایي چې له جسد نه مخکې پیداشوې او ځینې وایي چې وروسته پیداشوی دی.۲

**انساني اوحیواني روح**

په انسان کې دوه ډوله روحونه موجوددي: یو حیواني روح (دویني جریان) او بل انساني، په حیواناتوکې انساني روح شتون نه لري اونه یې دروح دقبض لپاره ملک الموت راځي.

**دمخلوقاتوډولونه**

- چې عقل اوپوهه لري؛ مگرشهوت نه، لکه ملایکې
- چې له عقل څخه محروم دي؛ مگراراده اوشهوت لري، لکه حیوانات
- چې له عقل، ارادې اوشهوت نه خالي دي، لکه جامدات اونباتات
- چې عقل، اراده اوشهوت لري، لکه انسان

**دروح مرتبه**

په یومثال کې دجسم اوروح دېر ښه انځورداسې وړاندې شوی: جسم اوبادي دمملکت اوروح دحکمران، حواس او عقل یې فوځ، اندامونه اوغړي یې رعیت اوشهوت یې ددښمن حیثیت لري که چېرې حکمران اوواکمن په دواړو دښمنانو قابواوغلبه حاصله کړي؛ نودمملکت نظم به سم وي اوکه نه بربادي او

۱ تم شوي ماخذ
۲ همدا نه ماخذ

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

نباهي يې بقيني برېښي، دېورته مثال په رڼاکې دخاورين جسد اهميت اوارزښت په خپل ځاى کې يومنل شوى حقيقت دى ؛مگردانسانيت اصل جوهر روح دى.که چېرې مادي جسم هرڅومره پياوړى .روغ اوجوړوي؛ خوچې روحاني ځواک يې کمزورى اوسي ؛نودانسان امتيازي حيثيت پاى ته رسېږي اوانسان دعاموځناورو په شان يو ځناور شمېرل کېږي .

## ا-دروح مړينه

ايا روح په مړينه محکومېږي؟بېشکه روح مري ؛مگر په فنانه محکومېږي په همدې توگه بشري جسدمري البته په بشپړډول له مينځه نه ځي. دارواحو مرگ له اجسا دو څخه په وتلو سره سرته رسېږي ،چې دغه دمرگ په څکلوسره تعبيرشوى اوکه داسې مطلب ورڅخه واخلو،چې روح په بشپړه توگه فنا کېږي اوله مينځه ځي؛ داسې هېڅکله نه ده؛ بلکې له مرگه وروسته هم په عذاب اويا نعمتونوکې وي .

## دمرگ سبب

دټولو مخلو قاتو په نسبت دمرگ يواځېنى سبب دژوند دنېټې پاى ته رسېدل دي نه بل څه! الله جل جلاله دمخلوقاتولپاره اجل ا ودمړينې نېټه ټاکلې ده ،چې له هغې څخه نه وروسته کېږ ي اونه مخکې کېږي قران عظيم الشـان دغه مطلب ته داشـارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ فَإِذَا جَآءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَـْٔخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٦١﴾ النحل:ژباړه: بياکله چې هغه وخت راځي نوله هغه څخه پوره يوساعت هم وړاندې وروسته نه شي کېداى.

نوپردې اساس دمقتول مړينه دده داجل په پاى ته رسېدلوسره ده همدارنگه سوزول شوى اوپه اوبوکې غرق شـوى اورنځورهم درواخله ددې ټولومړينه داجل په رارسېدوسره سرته رسـېدلې الله تعالى دژونداومرگ دواړوخالق دى

## مرگ ناڅاپه راځي

ځينې خلک داسې وايي: زه به وروسته توبه وباسم داسمه خبره نه ده ځکه مرگ ناڅاپه ميلمه دى هېڅوک دسـترگې درپولوپـه انـدازه دژونـدمـالکان نه دي نوپردې اســاس مرگ دالله جل جلاله په واک کې دى .هېڅوک نه پوهېږي چې ده تـه بـه مرگ کله راځي نوعاقل اوهوښــيارانســان ته لازمه ده چې دمړينې نه مخکې نېکواوصالحواعمالوته مخه کړي .

## ملک الموت اودارواحواخيستل

دمرگ اوژوند دواړو ښښتن يوازې الله تعالى دى يواځې هماغه سپېڅلى ذات دمرگ پرېکړه صادروي او دغه ماموريت يې يوې ملايکې ته سپارلى چې په ملک الموت سره شهرت لري قران عظيم الشان فرمايي ﴿ قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ ﴿١١﴾ السـجدة ژباړه:دوى ته ووايه :دمرگ دغه پرښته چې پرتاسې موظفه کړاى شوې ده ستاسې روح به په پوره بشپړه توگه ترخپلې قبضې لاندې راولي.اوبيابه تاسې دخپل رب لوري ته وگرځول شئ.

**له مرګه وروسته دانسان حالت**

داسلام دسپېڅلي دين په رڼاکې له مړينې وروسته روح دوه پړاوونه وهي چې يوه ته يې دبرزخ نړۍ وايي چې په مرګ سره پيل اوترقيامته دوام پيداکوي اودويم پړاويې داخرت نړۍ ده چې په اخرت سره پيلېږي اوترابده دوام مومي. پردې اساس دانسان روح ترمړينې وروسته دبرزخ نړۍ ته انتقالېږي اوترقيامته هلته پاتې کېږي .

**دروح حالت**

هرکله چې روح له بدن څخه جلاشي مړينه واقع کېږي. په دغه حالت کې يې هوښ اوادراک باقي وي دهغوخلکواوازهم اوري چې دده دمړي ليدنې ته راغلي دي .دهغوی اوازپېژني ،دهغوی سلام ته ځواب ورکوي دجنت دنعمتونوخونداويادوزخ درداحساسوي.

**دقبرسوال اوځواب**

دقبر سوال اوځواب ددوو ملايکو منکراونکير په وسيله صورت نيسي اودرې پوښتنې به درب ،نبي او دين په هکله کوي څينې اسلامي پوهان په دې نظردي چې سوال اوځواب يواځې روح پورې اړه لري پرته له دې چې بدن ته وروګرځول شي ؛خونورعلماءبيا وايي له حديث څخه ثابته ده.روح دبدن څينوبرخوته ورګرځول کېږي، اهل سنت والجماعت ټول په دې نظردي چې هرڅوک له مړينې وروسته اګرکه په قبراوياهرځای کې چې وي ترپوښتنې لاندې نيول کېږي تردې پورې که چېرې ځناوروخوړلی اوياېې بدن سوځول شوی اوپه هواکې دګردونوپه څېرالوزول شوی اوياپه اوبوکې غرق اودکبانودخوراک وړګرځېدلی وي خوشالي اوعذاب روح اوبدن دواړوته شاملېږي

**دقبرپه عذاب اوثواب له کيفيته پرته ايمان**

موږدګنوودلايلوپه اعتباردقبرپه ثواب اوعذاب باورلرواودکيفيت په هکله يې خبرې نه کووداځکه چې هغه جلاژونددی ،حقيقت دادی چې اسلامي شريعت غيرمعقول شيان نه بيانوي ؛البته داسې شيان څرګندوي چې عقل ورته حيران وي داځکه چې هلته دروح اوجسداړيکه ددنياژوندپه څېرنه ؛بلکې هغه جلاژونددی چې هلته په ورتللوسره پرې يوشخص پوهېږي.

**دقبردعذاب شمول**

ښځ شويواوناښځ شويوټولوخلکوته دقبرعذاب شموليت پيداکوي که ځناورواويادسمندرکبانوخوړلی اوياسوځول شوی اوياپه ايروبدل شوی وي. عذاب اوراحت ورته دقبرپه شان رسېږي. که ديوشخص مړی هواته په ونه کې ځوړنداويايونښک انسان داورپه کنده کې ښخ کړای شي؛ نو دواړوته به دعذاب اوراحت څخه رسېږي حقيقت دادی چې خاورين موادالله تعالی پيداکړي دي اوالله تعالی ته تابع دي؛ ځکه چې الله تعالی يې خالق دی

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

**په روح اوبدن دقبرعذاب اوراحت:** داهل سنت والجماعت دټولوپوهانوپه اتفاق عذاب اوراحت روح اوبدن دواړوته په برخه کیږي په همدې توګه دقبرعذاب دايمي اومؤقت هم وي. په کافرانواومنافقانوبه ترقيامته وي؛البته ددې امت په ګناه ګاروچې ګناه اوجرم يې لږوي؛ دمؤقت وخت لپاره به وي.

**دقبردعذاب دمنکرينوشبهات**

ځيني ملحدين دقبرله عذاب څخه انکارکوي اووايي چې موږقبرپرانست نه موهلته ملايکې وليدلې. نه ماران اولړمان اونه داورلمبې ،نه مودقبرپراختيااوتنګستياوليدله په کوم حالت کې موچې مړی اېښی ووپه هماغه بڼه موموموند.دداريه تخته زوړندانسان ډېره موده زوړندوي نه موورڅخه سوال اوځواب وليده اونه بل څه؛همدارنګه دځناورو،کبانواومرغانوله خواخوړل شوي انسان څخه به څنګه پوښتنې صورت مومي اوهم بې قبرچېرته دی چې ددوزخ کنده اويادجنت باغچه شي؟

**درد دلايل يې**

داسلام دښمنوځواکونودغه بې ځايه پوښتنې اوشبهات دشريعت،حس اوعقل پربنسټ مردودې دي،داځکه چې دقبرعذاب په قراني څرګندواياتونواونبوي احاديثوسره ثابت دی .څرنګه چې دبرزخ نړۍ له غيبوسره اړيکه لري، دحسي ــ مادي عالم سره ارتباط نه پيداکوي .حقيقت دادی چې دبرزخ احکام په ارواحودي، بدنونه دارواحوتابع وي، دبرزخ نړۍ له دنياسره فرق لري،دقبرعذاب معقول هم دی، تاسوګورئ چې يوشخص دخوب په حال کې څومره لالهانده،ستړی ستومانه اوپه کړاوونواخته وي ؛مګربل لورته بل شخص هوسا،ارام اوخوشاله وي .په يوبستردوه تنه ويده وي ؛مګريوپه کړاواوبل په راحت کې وي. دقبرعذاب اونعمتونه ،پراختيااوتنګي يوازې مړی احساسولی شي نه نورڅوک؛ همدارنګه دقبراوردنيا داورپه شان نه دی؛ بلکې هغه جلااوردی. دانسان دادراک ساحه ډېره محدوده اولږ ه ده ،انسان نه هرشی ليدلی اونه هر څه اورېدلی شي واقعيت دادی چې له زنديقانواوملحدينوسره له تکذيب اوانکارنه پرته بل څه نه وي.

**مړوته دژونديو دګټې رسېدل**

له ګڼو رواياتو څخه څرګنديږي چې له مړينې وروسته دژونديو نېک کړه وړه، دعاګانې ،خيراتونه ، صالح اعمال، جاريه صدقه، نېک اولاداودعلم زده کړه او ښوونه مړوته ګټه رسوي

**دقبردعذاب اسباب اونجات**

دقبردعذاب اسباب: ناپوهي ، دالهي اوامرونافرماني ، دګناهونواوجرايموسرته رسول،چغلي اودتشومتيازوڅخه ځان نه ساتل دي

**دنجات اسباب يې:** له خوب نه دمخه له ځان سره محاسبه اوتوبه ده[1]

[1] نابير دادمحمد(ب ت) عقايد اسلامي ص ۱۳۰انتشارات رسالت کابل افغانستان

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

## دبرزخ نړۍ

**دبرزخ مفهوم**
برزخ دحایل اوفاصلې په معناسره دی، دبرزخ دنړۍ په هکله ګڼ دلایل موجود دي، قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمایي: ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَهُمُ ٱلۡمَوۡتُ قَالَ رَبِّ ٱرۡجِعُونِ ۝٩٩﴾ المؤمنون:
ژباړه: داخلك به له ځپلو کړو وړونه لاس وانخلي) تردې پورې چې کله له دوی نه کوم یوه ته مرګ راشي ؛نوبه وايي چې ای زماربه: ماهمغې دنیاته بیرته ولیګه چې زه ورنه راغلی یم.
له پورتني ایات څخه لاندې ټکي څرګندېږي :
**الف:** دانسان روح یومجردموجود دی، پردې اساس له مړینې وروسته له منځه نه ځي؛ بلکې موجودیت یې دوام پیداکوي .
**ب:** داچې تراوسه پورې دقیامت لویې علامې نه دي رامنځته شوي، پردې اساس داخرت نړۍ لاتراوسه نه ده پیل شوې له دې دواړوټکوڅخه داخبره معلومېږي، چې دانسان روح باید ترمړینې وروسته اوله قیامته مخکې په بله دنیاکې وي چې دې ته دبرزخ نړۍ وايي[1].

**برزخي ژونداوجنت**
الهي ارشاددی ﴿ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ ۝٤٦﴾ غافر: ژباړه: د دوزخ اور دی چې هغه ته سهاراوماښام (په عالم برزخ کې) هغوی ته وړاندې کولی شي ،اوکله چې دقیامت ساعت راشي نو امربه وشي چې آل فرعون ډېر سخت عذاب ته ورننباسئ .
الله تعالی په دغه ایات کې دغه مطلب څرګندوي چې دفرعونیانوتعذیب به دقیامت له راتلومخکې سرته رسېږي دلته برزخي دوزخ مراد دی. په همدې توګه ګڼ ایاتونه اونبوي احادیث دبرزخي عذاب په واقع کېدودلالت کوي .دقبرعذاب اوراحت هماغه برزخي منل شوی قطعي اوغوځ حقیقت دی ،چې هېڅ تردید شک اوشبهه په کې شتون نه لري .[2]

**دقبر دعذاب دوام**
په کافرانو اومنافقانو دقبر عذاب تر قیامته وي ؛البته دځینو ګنهګارانو عذاب مؤقتی وي اوله یوڅه وخته وروسته لېرې کېږي

**داروا ګانوځایونه**

- دپیغمبرانواروا ګانې په اعلی علیین دجنت په لوړمقام کې دي.
- ځینې اروا ګانې ؛ لکه دځینوشهیدانودشنومرغانوپه جوجورو په جنت کې الوتنې کوي .

---

[1] همدغه ماخذ، ص ۱۳۹
[2] رازي فخر الدین (۱۹۶۸م) کتاب النفس ج ۱۰ ص ۶۶۴ بیروت لبنان دار الکتاب العربی

وي .

- خينې نورې ارواګانې به دجنت په دروازه کې زنداني وي .
- خينې نورې ارواګانې به په ځمکه کې زنداني وي اوپورته نړۍ ته نه شي تللی. هغه د ځمکې ذليلې اوخوارې ارواګانې دي .ذليله اوخوارې ارواګانې اوسپېڅلې پاکې ارواګانې يوځای نه شي اوسېدلی
- خينې نورې ارواګانې لکه دزناکاروخلکوداورپه تنورونوکې سوځېږي اوځينې نورې بيادوزخيانو دوينوپه ويالوکې لامبووهي.

**دانسان دژوندپړاؤنه**

۱-دجنين په بڼه دمورخيټه ده چې ډيره تنګه اوپه درې تياروکې نغښتې دی.

۲-دځمکې پراخه نړۍ ده چې دلته رشدکوي اوپالنه مومي اودلته دخيراوشردنېکمرغۍ اوبدمرغۍ اسباب په خپله انتخابوي.

۳-دبرزخ نړۍ ده چې له دغې مادي نړۍ څخه ډېره پراخه اولويه ده ،مادي نړۍ ته يې دحجم نسبت داسې مثال لري؛ لکه دمورخيټه اوارته نړۍ.

۴-قيامت دی چې هغه له جنت اودوزخ څخه عبارت دی چې له هغه وروسته بيا بل پړاووجودنه لري .الله تعالی جل شانه ارواګانې له دغوپړاوونوڅخه يوبل ته انتقالوي. دغه پړاوونه هريوځانګړی شان اوحکم لري چې په بل پړاوکې متصورنه دی. [1]

**۶دمرګ يادولواغېزې**

څوک چې مرګ ډېريادوي، الله تعالی به درې شيان ورپه برخه کړي:

- ژرتوبه
- دزړه قناعت
- په عبادت کې نشاط اوفعاليت .

ددې برعکس چې څوک مرګ هېرکړي، په درې بدمرغيو به اخته کړای شي:

دتوبې ځنډېدل

- په کفاف(سراوبر ژوند) نه خوښي
- په عبادت کې تکاسل اوسستي

پردې اساس مؤمن مسـلمان له مرګ څخه عبرت اخلي ،دالهي احکاموپه تطبيق التزام کوي، په هره وړه اولويه خبره کې الله جل شانه خپل مراقب اوڅارندوی بو لي [2]

---

۱ ... رحمان(اب ت) توحيد اور سنت ص ۲۴۶مکتبه دارالعلوم تفهيم القران مردان پشاور

۲ ... دادمحمد(اب ت) عقايد اسلامي ص ۲۳۶انتشارات رسالت کابل افغانستان

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

## دقيامت ننداري

قران عظيم الشان اونبوي حديثوته په کتلوسره داخبره څرګندیږي چې دنړۍ دعمرپه پای ته رسيدلواودقيامت په پيلېدوسره دوه ستري حادثې چې له يو بل سره مشا به دي اودشپېلۍ په پوکي سره شهرت لري رامينځته کيږي دشپېلۍ وهل دخطردزنګ حيثيت لري داسرافيل دلومړۍ شپېلۍ پرمهال به دېريوهيبتناکه اووېروونکې غږ پورته کړی شي دابه دنړۍ دموجوده نظام دپای ته رسېد لو زنګ وي ددغې ستري پېښې له امله به دخلکو زړونه وچوي ځمکه به دېرسخت ټکانونه وخوري. اوبه به اورواخلي. غرونه به دڼاندس شويو وړيوپه څېروالوزي ،ددويمې شپېلۍ په وهلو سره به له قبرونوڅخه ټول انسانان لوڅ لپړ. سرتوراو پښې ابله دمحشرـ ميدان ته روانېږي ؛ترڅوداالله جلت عظمته په درباركې له خلكو سره حساب صورت وموميي ،موږ به په دغه برخه دنړۍ دنظام دبربا دېدلود لومړۍ اودويمې شپېلۍ ( دخطر زنګ ) داالله تعالی پروړاندې درېد ل . حساب او ميزان. دعملنا موخپرېدل ،دکوثرحوض ،دصراط پل. جنت اودوزخ ترڅېړنې لاندې ونيسو .

### ۱-په شپېلۍ کې پوکی

**پېژندنه يې:** داله هغه ښكر څخه عبارت ده، چې دقيامت نه مخکې به يې مقربه ملايكه اسرافيل عليه السلام داالله تعالی په امرغږوي اودابه دنړۍ دورانېد و دخطرزنګ وي .

**الف-دلايل يې** په شپېلۍ کې دپو کي دلا يل په قران عظيم الشان.نبو ی سنتواودامت په اتفاق سره ثابت دي.لومړی دليل يې قران عظيم الشان دی په قران کريم کې په دې هكله ګڼ شمېراياتونه دي ،مو ږ په يو اکتفا کوو، هلته چې فرمايي﴿ وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلۡأَجۡدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾ يس،ژباړه: بيا به يوه شپېلۍ پوکړای شي او په ناڅاپي ډول به دوی دخپل رب حضورته دوړاندې کېدولپاره له خپلو قبرونوڅخه راووځي .

**ب- شمېرېې** :اسرافيل عليه السلام به دخطر دوه شپېلۍ ( دخطر زنګونه ) ووهي. په لومړي ځل به ټول خلک بې هوښه اومړه شي .اوبه به اورواخلي اوغرونه به والوزي اوله يو بل سره به په ټکر شي دانفطا راوتکوير په سورتونوکې دغه انځوربيان شوی دی دغه پوکي ته دهيبت. ټکان او سختې چيغې نوم هم ورکړشوی په دويم ځل به ټول خلک له قبرونوڅخه راژوند ي کړای شي اودرب العالمين دحساب لپاره به وړاند ې کولی شي دويمې شپېلۍ ته رادفه هم وايي .

### ۲-بعث ( له قبرونو راپورته کېدل )

**الف-پېژند نه يې** :بعث په لغت کې راپا څېد لو ته وايي اوپه شرعي اصطلا ح کې له جسماني دوباره ژوند ون څخه عبارت دی. چې دقيامت په ورځ به روح له جسم سره دحساب اوفيصلې په خاطر بيوځای کېږي

**ب-دثبوت دلايل يې** :له مرګه وروسته دوباره ژوندون په قران کريم. نبوي سنتو،اجماع عقل اوسليم فطرت سره ثابت دی .د قران عظيم الشان کې په ګنوځايونوکې دغه مطلب ته اشاره شوې: ﴿ يَوۡمَ هُم

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب كوونكی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

بَٰرِزُونَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنۡهُمۡ شَيۡءٞۚ لِّمَنِ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَۖ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ ٱلۡقَهَّارِ ﴿١٦﴾ غافر: ژباړه :هغه ورځ چې خلك بې پردې وي، له الله نه به دهغو هېڅ خبره هم پټه نه وي( په هغه ورځ به په لوړاواز پوښتنه وشي )نن باچاهي دچاده ؟ ( ټول مخلوق به غبروکړي) ديوه قهار الله.

ددوباره ژوند ون دګټودلايلوله جملې څخه دالله جلت عظمته په قدرت او مطلق علم اتکاء درلودل دي. دقيامت دمنکرينودشبهاتو په ځواب کې چې يوځل انسان په خاورو بدلو ن ومو مي څنګه به د دويم ځل لپاره ژوند ی کړی شي ؟ داچې الله تعالى قادراودمطلق ځواک اودعلم څښتن دی. دمړودوباره ژوندي کول دهغه له واک نه بېرون نه دي قران عظيم الشان دقيامت دمنکرينودشبهاتودله منځه وړلو لپاره دهغوی لومړي پيدايښت ته پام رااړوي. قران عظيم الشان فرمايي﴿ أَوَلَيۡسَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخۡلُقَ مِثۡلَهُمۚ بَلَىٰ وَهُوَ ٱلۡخَلَّٰقُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٨١﴾ يس: ژباړه: ايا هغه ذات چې اسمانونه اوځمکه يې پيداکړل پردې باندې قادرنه دی چې ددوی په څېرپيداکړای شي ؟ ولې نه پداسې حال کې چې هغه ماهرخلاق دی

ددويم ځل ژوندون په هکله ستردليل په ځمکه کې دفصلونوشنه کېدل اووچېدل دي قران عظيم الشان دقيامت منکرينوته تاريخي حوادث هم مخې ته ږدي، هلته چې خلک په مړينه محکوم شوي اوبيا يې ددويم ځل لپاره ژوندي کړي. تر څو دقيامت په دوباره ژوند دليل شي.

**ج- مر تبه يې**:له قبرونودوباره راپا څېد ل داخرت په ورځ په ايمان کې شامل دي ددې اهميت او په دين کې سترمقام له هېڅا نه پټ نه دی.هلته چې الله جل جلا له ددې کارپه رامنځته کېدوسوګندخو ړلی اوويلي يې دي چې دايو ريښتيني اوارو مروپېښېدونکې خبردی .

**د-دانکارحکم يې**:له بعث بعد الموت څخه انکارپه الله جل جلا له.اسماني کتا بونواوپيغمبرانوکفرکول دي.

## قيامت

**الف-دنو مېدلو لا مل يې**:داچې خلک به له قبرونوراپا څېږي اودالله جلت عظمته په وړاندې به درېږي اويا داچې په دې ورځ به جبريل اوملا يکې دصفونوپه بڼه دالله جل جلا له پروړاندې ولا ړ ې وي .

**ب-دشا ن لوړ تيا يې** : دقيامت ورځ ډېره ستره او عظيم الشانه ورځ ده ،هلته چې قران عظيم الشان ددغې ورځې عظمت ته په لاندې تو ګه اشاره کوي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمۡۚ إِنَّ زَلۡزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَيۡءٌ عَظِيمٞ ﴿١﴾ يَوۡمَ تَرَوۡنَهَا تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ عَمَّآ أَرۡضَعَتۡ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمۡلٍ حَمۡلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٞ ﴿٢﴾ الحجرژباړه: ای خلکو !دخپل رب له غضب نه ځان وژغورئ.حقيقت دادی چې دقيامت زلزله لوی(هولناك)شی دی. هغه ورځ چط تاسې هغه ووينئ.حال به داوي چې هره تې ورکوونکې به له خپل تي رودي ماشوم څخه غافله شي،او هره حامله به

هغوی به نشه نه وي بلکې خپل حمل وغورځوي، اوخلك به تاته بېسده ښکاره شي، پداسې حال کې چې داالله عذاب به ډېر سخت وي.
ځینو علماوو ویلي دي که د قیامت دورځې په شـان اوس لمرراخېژي ؛نو ځمکې هرڅه به اورواخلي ، تبرې به ویلې اواوبه به ټولې په بخارتبد یلې شي

ج-دعرش تر سیوري لاند ې :هلته ډېراعمال دي چې الله تعالی به یې دقیامت دسختیو څخه دنجا ت وسیله وګرزوي، هغه خلک چې الله تعالی به یې دخپل عرش درحمت تر سیوري لاند ې ودروي په نبوی مبارک حدیث کی اوه ډوله خلک ښودل شوي دي.

۴-حساب:په عربي ژب دودکی حساب شمېرلوته وایي او په اصطلاح کې د قیامت په ورځ دبندګانوپه اعمالواوکړووړودالله تعالی خبرتیاته ویل کېږي.

**دحساب دلایل**

**الف - دقران کریم** : په دې هکله ډېر ګڼ دلا یل دي، هلته چې فرمايي ﴿ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾ الغاشية:
ژباړه: بیا د هغو حساب همدا زموږکاردي.

**ب-نبوي سنت**: پیغمبرصلی الله علیه وسلم به په خپلو ځینولمونځونوکې داسې دعاکوله ( اللهم حاسبنی یسیرا) ای الله له ما سره اسانه حساب وکړې.

**ب:دامت اجماع** :دټولو مسلمانانو په اتفاق سره دقیامت په ورځ حسا ب ثابت دی

**ج-حکمت یې**:حساب او کتاب دالهي حکمت غو ښتنه هم ده داځکه چې الله جلت عظمته خپل اسماني کتابونه نازل کړي دي او خپل استازي یې رالېږلي دي او په خلکو باند ې یې په هغه پیغام منل او عمل کول لا زم ګر زولي ،چې پیغمبرانوعلیهم السلامو خپلو ولسو نو ته له ځا ن سره راوړی ؤدهغوخلکو پرضد یې جګړه فرض ګرزولې وه چې څوک لـه دغه نظام سره په ټکر کې واقع دي، دهغوی مالو نه او دهغوی وینې یې رواګرزولې وې ؛نوکچېرته حساب او کتاب جزاوسزا نه وای؛ نو دا کارخو بیا عبث ګرزېد ؛ځکه چې مجرم اوغیر مجرم په یوردیف کی راتلل. الله تعالی خو له عبث کارڅخه منزه اوپاک دی قران عظیم الشـان دغه مطلب ته داشـارې په تر خ کې فرمايي ﴿ فَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلَّذِينَ أُرْسِلَ إِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٦﴾ فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِم بِعِلْمٍ وَمَا كُنَّا غَآئِبِينَ ﴾ الأعراف: ژباړه: نو دا کارارومروکیدونکی دی چې موږلـه هغو خلکو څخه حساب واخلو چې موږ هغوی تـه پیغمبران ورلیږلي دي اولـه پیغمبرانونه به هم پوښتنه وکړو(چې هغوی دپیغام رسولو فریضه ترکومه ځایه سرته ورسوله اوهغوته په مقابل کې څه ځواب ورکړشو)بیابه موږ په خپله په کامل علم سره ټوله ماجراد هغوی مخې ته وړاندې کړو.او موږ چېرته غائب نه وو

**د-دالهي محا سبې کیفیت** :داسلامي شریعت څر ګند دلایل دحساب په کیفیت او صفت ګواه دي ،په اجمالي توګه داسې ویلی شـو چې دقیامت په ورځ به الله تعالی خپل بنده په خپل مخکې ودروي، په

خپل جرم، اعما لو اووبناوو به یې قانع کړي،په دنیا کې ایمان و، که طاعت او استقامت اوکه کفر،عصیان اوانحراف ،په ټولوالله جل جلاله پوه ؤ؛ نوپردې اساس الهي محاسبه شمولي بڼه لري ؛دمثال په توګه دوی ته دالله تعالی وینا چې داسې موولې کړي دي،ددوی معذرتونه ،اوپردوی ددلا یلواقامه، دګواهانو شهادت ،تردې چې دانسان اندامونه به ګواهي ورکړي .داعمالو وزن اوداسې نوروټولو ته شامل دي

**هه-دحساب ډولونه** :دحساب څخه ځینې سخت ، ځینې اسانه او ځینې دبیان،عزت اودرناوي حساب دی ،ځینې درټلو ، مؤاخذې اوسزاحساب دی.

**و-بې حسابه وګړي**:حساب ټولوخلکو ته شامل دی ؛مګر هغه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مستثنی ګرزولي دي ؛البته له کافرانو سره حساب نه کېږی؛ څکه چې دوی نیک اعمال نه لري ،لېکن ددوی ناوړه اعمال شمارلی شي دوی به پرې اعتراف وکړي اوپرې شرمنده به کړی شي.

**ز-محاسبه شوی امت**: تر هرڅه دمخه به دمحمد صلی الله علیه وسلم له امت سره محا سبه کولای شي

**ح-دمحا سبې عمل** :ترهر څه دمخه به له مؤمن سره دلما نځه حساب کېږي ،که لمو نځ یې سم ؤ؛نو ټول اعمال به یې سمو ن ومومي او که لمو نځ یې فاسدؤ، ټول اعمال به یې فاسدوي .دبند ګانوپه حقونوکې به ترهر څه دمخه دوینوپه تویولوکې محاسبه کېږي .[1]

## ۵-تله

داخرت په ورځ داعمالو اوکړووړو په وزن کولو ایمان لازم دی مو ږ به په دې هکله په لاندې اموراتو بحث وکړو:

**الف-پېژ ندنه یې** :داهغه وسیله ده چې په دې سره دشیانو سپکوالی او دروند والی معلو مولی شي ،په شرعي اصطلاح کې له هغه څه نه عبارت دی ،چې الله تعالی به یې دبند ګانو داعمالو لپاره وټاکي

**ب-داثبات دلا یل یې**:دمیزان تله په قران کریم ، نبوي سنتو او دامت په اجماع سره ثابت دی.

**لومړی-قران عظیم الشان**:الله جلت عظمته دمیزان(تلې په هکله داسې فرمايي دی:﴿ وَٱلْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ ٱلْحَقُّ فَمَن ثَقُلَتْ مَوَٰزِينُهُۥ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٨﴾ لأعراف: ژباړه:اوپه هغه ورځ به تله کټ مټ حق وي دچا چې پله درنه وي هماغوی به خلاصون ومومي

**دويم دليل** :نبوي سنت او دامت اجماع : ټول امت داعمالو دتول اووزن په اعتبار متفق دي خواوس پوښتنه داده چې ایا دمیزان تله حسي-ده او که معنوي ؟ هغه تله چې دقیامت په ورځ به په کې اعمال تلل کېږي حسي اوحقیقي ده دوه پلې لري [2]

**ج-دتول شیان**: په دې کې دبند ګانواعمال تللی شي؛اګرکه دغه اعمال اعراض وي؛ مګرالله تعالی به ورته اجسام په برخه کړي. نیک اعمال به په یوه تله اوبداعمال به په بله تله کې واچول شي،ځینو

---

[1] -عثیمین(ب ت) لمعة الاعتقاد ،ص ۲۱۸دمام المملکة العربیة السعودیة

[2] -صدر الدین علی بن محمد ابن ابی العز (۱۹۹۳م)عقیدةالطحاوي ص ۴۱۲ مؤسسة اولی النهی بیروت لبنان

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

علماؤويلي دي چې داعمالوپانې به وتلل شي اوځينونوروويلي دي چې په خپله عامل شخص به وتلل شي ځينواسلامي پو هانوويلي دي :دملتونو،افرادواواعمالوپه اعتبار به تلې گڼې وي. په قران عظيم الشان کې موازين جمع راغلې ده

**د-دتلې دنصب حکمت:** دتلې په نصب کې حکمت دالهي عدل اظهاردی له همدې امله هېڅوک به عذر نه شي وړاندې کولی له همدې کبله الله تعالی انبیاء علیهم السلام رااستولي دي ترڅوخلکو ته بهانه پاتې نه شي

## ٦-دعملنا موخپرېدل

دعملنامود غوړېدلو څخه موخه هغه دفترونه دي چې ملايکو به په کې دانسان ټول اعمال شمېر لي اوساتلي وي.دقيا مت په ورځ به راځرگنداوخپلوڅښتنا نوته به ووېشل شي. مو منانو ته به په ښي لاس او کافرانواومنا فقينو ته به په کېڼ لاس ورکول کېږي.

**الف-دلايل يې:** دعملنا مودخپرېدادلايل قران عظيم الشان ، نبوي سنت اودامت اجماع ده.دمومنانو مورحضرت عايشه رضی الله عنها فرمايي چې ماد پيغمبرصلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه: ايا تاسوته به دقيامت په ورځ خپل اهل اوعيال درپه يادوي ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم په ځواب کې ورته ويلي ؤپه درې ځايونوکې به هېڅوک ته ځوک ورپه يادنه وي: يوداعمالودتول په مهال.ترڅوڅرگند ه شي چې درنه به شي اوکه سپکه اوبل هغه وخت چې عملنا مې خپرې شي. تر څوورته ځر گنده شي چې په ښي لاس به ورکول کېږي اوکه په کېڼ دشا له خوا.اوبل دصراط په پله چې ددوزخ په مينځ کې به پرې تېرېدل صورت ومومي.

**ب-دعملنا مو دړا نيو لو بڼه:** مؤمن مسلمان ته به عملنا مه په ښي لا س ورکول کېږي خو ښ اوخوشا له به وي.

## ٧-دکوثرحوض

**الف-پېژ ندنه يې:** دغه داوبو هغه حوض دی، چې دپيغمبرعليه السلام لپاره به دقيامت په ورځ دمحشر په ميد ان کې لگبدلی وي

**ب-دلا يل يې :** دکوثر حوض په قران عظيم الشان ،نبوي سنتواودامت په اجماع سره ثا بت دی په قران عظيم الشان کې پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته فرمايي ﴿إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ۝١﴾ الکوثر ژباړه: ( اي پيغمبره !) بيشکه موږ تاته کوثر درکړی دی

په نبوي احاديثو کې دکوثردحوض په هکله گڼ روايات راغلي دی چې دتوا تر حدته رسېږي او څه لپاسه دېرش اصحابوکرامو روايت کړي دي. له بلې خوادحوض کوثر په هکله ټول امت اتفاقي عقيده لر ي .

**ج-صفت يې :** دکوثردحوض په هکله گڼ روايات راغلي دي ،چې مو ږ يې لنډيز وړاندې کو و: دغه يوسترحوض دی. چې له جنت نه دکوثرله ويا لې رابهېږي اوبه يې له شېدواوسپينوزروسپيني اوله واورې يخې اوله شاتوخوږې اوله مشکوخوشبويه دي لو ښي يې داسمان دستوروپه شان پلن والي اواو ږ دوالی

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

Digital Library



بې دیوې میا شتې دمزل په اندازه ول دی يوځل چې چا ورڅخه او به وڅښلې. هيڅکله به تږی نه شي په منځ کې یې مشک شنه شوي اوځنډې یې په مرغلراودسروزرو په ټو ټواو جواهراتوښايسته شوي دي.

**د-اختصاص يې** :اوس پو ښتنه داده چې ایادغه حوض يواز ې رسول الله صلی الله عليه وسلم پورې مختص دی او که نورپيغمبران یې هم لري ؟ په ځینوروایاتو کې راغلي دي چې هر پيغمبرحوض لري لیکن زموږدپيغمبرمحمدصلی الله عليه وسلم حوض ترټولو ستر. لوی اوخو ږدی اوډېرمراجعين لري .

**هـ-شتون يې** :دکوثرحوض اوس هم شتون لري ،دليل پرې دعقبه بن عامر رضی الله عنه روايت دی چې يوه ورځ پيغمبرصلی الله عليه وسلم له خپل کوره راووت اوداحددشهيدانومزارته ورغی اوپرهغوی بې داسې دجنازې لمونځ وکړ؛لکه څنګه چې یې پر شخص په مړي ترسره کوي. بیاترستنبدوروسته منبرته وختو اوويې ويل: زه له تا سې نه مخکې تلونکی يم اوزه پرتا سې ګواه يم په الله سوګندچې زه خپل حوض ته هم دا اوس ګورم.

**و-ورڅخه شړل شوي خلک**:حوض ته راتلونکي ريښتيني مؤمنان دي اوورڅخه شړ ل شوي مرتد،بې دينه عناصراومبتدعين ددين بدلوونکي وګړي دي .څوک چې دمسلمانانوله جماعت نه مخالفت وکړي اوله هغوی څخه خپله لاره بېله کړي؛ لکه ددې وخت ګمراه ډلې ،ظا لمان اودلويې ګنا ه څښتنان .حقيقت دادی چې تل ترتله دوزخ دکافراومنکرلپاره ده چې په زړه کې یې يوه ذره ايمان هم نه وي.

## ۸-دصراط پول

**الف-پېژندنه يې**: داهغه اوږدپول دی چې د دوزخ لپاسه تېرشوی ،ترڅوپرې خلک جنت ته ورسېږي .

**ب-دثبوت دلايل يې**: قران عظيم الشـان،نبوي سـنت اودامت اجماع ده قران عظيم الشـان دغه مطلب ته داسې اشاره کوي: ﴿ وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ﴿٧١﴾ ﴾ مريم ژباړه:له تاسې نه هيڅوک داسې نشته ،چې دوزخ ته ورتلونکی نه وي،داخويوه فيصله شوې خبره ده چې دهغې اروموترسره کول ستادرب په ذمه دي.

ځينو مفسرينو له دې څخه دصراط په پله تېرېدل اخيستي دي او ځينو دوزخ ته ننو تل؛ لېکن له دې څخه به بيا نجات پيداکوی .

**ج-په پله دخلکوتېرېدل** :دصراط پول دجهنم لپاسه اېښودل شوی، دجنت اودوزخ ترمنځ حايل دی خلک به دخپل عمل په اندازه په تېزۍ سره پرې تېرېږي ځينې خلک به دسترګې درپ ،ځينې دتوږدسرعت په اندازه ول. ځينې؛ لکه باد،ځينې به دتيزاس ،ځينې داوښ ،ځينې به پيا ده روان وي اوځينې به دښيښې دکړ ناوپه وسيله راونيول شي اوپه دوزخ کې به غورزول شي لنډه داچې څوک دصراط په پله تېرشي جنت ته به داخل شي همدغه وينادنبوي احاديثو خلاصه ده .

**د-دصراط پول او کافر ان** :حقيقت دادی چې دصراط پول دمو منانو لپاره لګول شوی. په دوی کې منافقين او نيمګيا رمؤمنان هم دي ،دهمدوی لپاره دصراط پول نصبولی شي. خلک به په دووبرخو وېشلي

اينبو دلونه مخکښ په دوزخ کښ شي يومؤمن موحداوبل کافراومشرک مشرکان به دصراط په پله د پښي غورځول کيږي .

## جنت

په دې کې هيڅ شک نشته چې کله مومنان جنت ته په ډېرعزت اوويارسره داخل اوملايکې يې په سلام سره استقبال کړي، له دې نه پرته بله هيڅ خوشالي اوکاميا بي نشته .

**الف-پېژندنه يې** :جنت دگڼوونوشنه باغ ته ويل کيږي په شرعي اصطلاح کې دنعمتونواوخوشاليوهغه کوردی چې الله تعالی په اخرت کې دمخلصومؤمنانو لپاره تيارکړی دی

**ب-دجنت دنومېدو لا مل** :ده ته جنت دددنياله باغ سره دتشبيه پراساس وايي اويا څو جن هغه څه ته ويل کيږي چې له سترگو پټ وي دجنت نعمتو نه هم زموږ له سترگوپټ دي قران عظيم الشان دغه مطلب ته داسې اشاره کوي ﴿ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّآ أُخْفِىَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٧﴾ ﴾ السجدة: ژباړه: نو دسترگويخېدوکوم وسائل چې د هغو د عملونو په مکافات کې د هغولپاره پټ کړای شوي دي هيڅ نفس پرې خبرنه دی

**ج-دجنت درجې**: جنت بېلابېلې درجې اومرتبې لري جنتيان به دخپلواعمالو په برابر په کې اوسېږي .

**د-جنتيان څوک دی** ؟ جنتي هرپرهيزگارمؤمن دی قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ وَسَارِعُوٓا۟ إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا ٱلسَّمَـٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٣﴾ آل عمران ژباړه: پر هغه لاره په منډه منډه وخغلئ چې ستاسې دپروردگارد بخښني اود هغه جنت خواته تللې ده چې هغه لکه داسمانونو اوځمکې په شان پراخ دی،او هغه له الله وېرېدونکيو خلکو له پاره تيارکړای شوي دی

**هه- او سنی شتون يې** : جنتو نه هم داوس مو جو ددي په عربي ژبه کې اعداد تيا رولوته والي ټول اهل سنت دجنت په شتون اوپه اوسني وجو ديونظرلري .

**و-پناه کېدل اوزوال يې**:دجنت نعمتونه تل تر تله دی چې پناه کېدل نه لري دجنت په دوام دقران عظيم الشان گڼ اياتونه دليل دی ،نوپردې اساس جنت اودوزخ پناه نه لري؛بلکې هميشه دي

**ز-دجنتو نو ځای** : جنتو نه په اعلی عليين کې دي قران عظيم الشان فرمايي ﴿ كَلَّآ إِنَّ كِتَـٰبَ ٱلْأَبْرَارِ لَفِى عِلِّيِّينَ ﴿١٨﴾ ﴾ المطففين ژباړه: هيڅکله نه، اړومرو دنيکانو عملنامه دلوړ مقامه خلکو په دفترکې ده

**ح-په جنت دايمان مطلب**: په جنت دايمان معنا دادی چې يو شخص ټينگ باورولري چې جنت شته او نعمتونه يې تل تر تله او هميشه دي

**ط-لومړي ننوتو نکي** :جنت ته به تر ټولو دمخه رسول الله صلی الله عليه وسلم ننوزي اوپه ټولوامتونوکې به لومړی درسول الله صلی الله عليه وسلم امت ننوزي اوددې امت لومړی شخص به ابوبکرصديق رضی الله عنه جنت ته داخلېږي.

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتيب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

**ی-جنت ته بې حسابه** :دغه ددې امت په ایمان کې لوړمنزلته پرهیزگاره بادیا نته شخصیتونه دي چې جنت ته به دیو صف په توگه داخلېږي مخونه به یې دسپوږمی په شان ځلېږي ددې امت فقیران به دشتمنو څخه مخکې جنت ته ځي په دې هکله دوه ډوله روایات راغلي په یوه کې دځلوېښتوکلونودمخکې والي اوپه بل کې دپنځه سوه کلونودمخکې والي ذکرراغلی دی داچې فقیران اوشتمن دجلاجلاحالاتوڅښتنان دي په فقیرانوکې هم ځینې وگړي په ایمان اوتقوی کې سره جلا دي او شتمن هم همداسې درواخله هرکله چې حساب دلومړي فقیراوداخري شتمن جنتی څخه واخلې ؛نو پنځه سوه کاله کېږي اوکه چېرې په فقیرانوکې وروستی فقیرجنت ته په داخلېدوکې اولومړی شتمن جنت ته په داخلېدوکې محا سبه کړی شي نوڅلوېښت کاله عمرجوړېږي

**ک-تل تر تله او همېشه** :جنت همېشه او فنا نه لري او جنتیان تل تر تله خلک مړینه نه لري قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترځ کې فرمایي ﴿ لَا يَذُوقُونَ فِيهَا ٱلْمَوْتَ إِلَّا ٱلْمَوْتَةَ ٱلْأُولَىٰ وَوَقَىٰهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿٥٦﴾ ﴾ الدخان: ژباړه: هلته به دمرگ خوند هغوی هیڅکله ونه څکي . فقط په دنیاکې چې کوم مرگ راغی خوراغی اوالله به هغوی د دوزخ له عذاب نه وژغوري

## دوزخ

**۱-پېژندنه یې**:هغه تا وجن گرم کور دمجرمانو زندان او ستر ه رسوایي چې الله جل شانه کافرانو منا فقینو .سر ښانو او دپیغمبرانو دښمنا نو ته تیارکړی دی

**۲-ددوزخ پوړونه** :دوزخ ددوزخیانو دبدو اعمالو په اعتبار بېلا بېل پوړونه لري دوزخي .هر یوکافر بدبخته ملحد او بې دینه انسان دی قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په تر ځ کې فرمایي ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُوا۟ فَفِى ٱلنَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾ ﴾ هود ژباړه: څوك چې بدمرغه وي هغوی به دوزخ ته لاړ شي ( چې هلته به د گرمی او تندي له ډیرې سختی نه ) د هغوی ستمهاراو پشهار وي.

**۳-شتون یې** : داهل سنت والجماعت دټولو علماءو په اتفاق جنت اودوزخ همدا اوس مو جود دي پنا ه کبدل او له مینځه تلل نه لري قران عظیم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترځ کې داسې فرمایي ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمْ سَعِيرًا ﴿٦٤﴾ خَـٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيًّا وَلَا ﴿٦٥﴾ ﴾الأحزاب ژباړه: په هر حال دایقیني خبره ده چې الله پرکافرانو لعنت کړی دی او دهغولپاره یې لمبه شوی اور تیار کړی دی .چې په هغه کې به هغوی دتل لپاره اوسیږي . کوم ملاتړ اومرستندوی به ونه مومي

**۴-ددوزخ ځای**:په اسفل سافلین دځمکې لا ندې برخه کې موقعیت لري قران عظیم الشان دغه مطلب ته دانسارې په ترځ کې داسې فرمایي ﴿ كَلَّآ إِنَّ كِتَـٰبَ ٱلْفُجَّارِ لَفِى سِجِّينٍ ﴿٧﴾ ﴾ المطففین : ژباړه: هېڅکله نه،بلکه د بدکارانو عملنامې دسجین په دفترکې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغه ایات په تفسیرکې دبراء بن عازب رضی الله عنه څخه دقبردعذاب په هکله مشهورروایت دی الل
تعالی به ووایي چې زمادبنده داعمالو دفتر په سجین کې داووځمکو لاندې ولیکئ ځینو نوربیا وایي چې
دوزخ پورته اسمان کی دی ځینې نوربیاپه دې هکله څه نه وایي ؛بلکې دځای علم یې الله تعالی ته سپارې
اووایي چې موږ ته دالله تعالی په مخلوقاتوداحاطې علم نشته

**۵-په دوزخ دایمان معنا** :پردې ټینګ باورچې همدااوس مو جوداو پنا ه کېدل نه لري په دې کې ددوزخ
په عذابونو باورهم شا مل دی

## دویم بحث
## په قضااو قد رایمان

### پیلیزه

په قضا اوقدرایمان داسلامي عقیدې شپږم رکن دی، څوک چې په قضا اوقدر باوري نه وي هغه کافرګڼل
کېږي،پردې اساس هر مسلمان ته لازمه ده چې په تقدیر ایمان ولري [۱].

تقدیرالله جل جلاله ازلي علم دی، چې دهرشي اندازه او دهرشي داندازې لپاره یې حد ټاکلی
،دټولومخلوقاتوداندازې اومقدارترمنځ یې دقیق تناسب غوره کړی ،هرڅه ته یې دخوځېدولپاره مسیرټاکلی
دپیدایښت،دوام اوفنا لپاره یې معینه نېټه انتخاب کړې هرشي په خپل معین او ټاکلي وخت اوهرڅه
دټاکلوظوابطواوقواعدوسره سم ترسره کېږ ي.حرکت ،سرعت،دنور سرعت، دصوت سرعت ،دعناصرو ترمنځ
ترکیب دموادواو مرکباتو پیدایښت،اوبېرته تجزیه ټول دثابتواوبدلون نه منونکوقواعدوسره سم سرته رسېږي
دځمکې له پېدایښت نه ترقیامته پورې چې کومې پېښې ترسره کېږي ټول یې په کامل اومفصل ډول په لوح
محفوظ کې ثبت کړي دي ، نن ورځ ساینس دغه قواعد دفورمولونو په بڼه توضیح کوي.په لوح محفوظ
کې دراتلونکوپېښواودانسان دکړووړوپه هکله لیکنه دانسان اختیارات نه سلبوي اوهغه په یوه مجبورمحکوم
اوبې واکه موجودنه بدلوي اونه دهغه په اراده کومه اغیزه پرې باسي .

موږ بایددقضااوقدرپه مفهوم ځان پوه کړو. موږ ددغو الفاظوپه معنی اومفاهیموباندې په ایمان اوباور
درلودلومکلف یو،که ددغوالفاظو په مفهوم اومعناپوه نه شواوحقیقت یې مورته څرګند نه شي؛ نویواځې په
الفاظوبه دایمان معنی به څه حیثیت ولري په قضاءاوقدر ایمان داایجابوي چې په همدې موضوع پورې
مربوط مفاهیم توضیح کړو

### قدر

**۱-لغوي معنایې**:قدر په عربي ژبه کې اند ازې ،توان اوحدته ویل کېږي. په قران عظیم الشان کې زیاتره
داندازې په معنااستعمال شوی

---

[۱] - یاسین نعیم( ۱۹۸۷ م)الایمان ارکانه. حقیقته . نوا قضه . ص۱۷۷مکتبه الرسالة الحدیثه

(c) ... library



**۲-اصطلا حي معنى يې:** قدرله هغه ټينګ، پاخه اومحکم نظام څخه عبارت دی چې الله تعالی جل جلاله دکايناتو دتنظيم لپاره وضعه کړی دی.[۱]

ځينې علماء قضاء اوقدريوشان ګڼي؛ مګرځينې نوربياتقديرالهي ازلي پربکړې ته وايي چې تراوسه لاعملي شوې نه ده او قضا ديوکاروواقع کېدل بولي

**۳-دقدرمفهوم دالهي کلام په رڼا کې:**همدغه پورتني مفاهيم دقران عظيم الشان په ګڼو ځايونو کې راغلي دي، هلته چې فرمايي :﴿ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ ﴾ القمر.ژباړه:اوموږهرڅه له يوتقديرسره پيدا کړي دي

**۴-دقدرمفهوم دنبوي احاديثو په رڼاکې** :دايوڅرګندحقيقت دی چې دپيغمبرصــلى الله عليه وســلم دملګرو په زړونوکې ددغې عقيدې ســتره اغېزه پرته وه په څمکه کې خپاره شــول ؛خوله ځان سره يې په تقديردايمان عقيده درلوده له ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې يوه ورځ په يوې سپرلی رسـول الله پسـې سـپوروم، راته يې وويل: ای زلميه دالله جل شـانه ددين سـاتندوی اوسـه ،الله تعالی به ستاساتنه وکړي دالله تعالی ددين ساتندوی اوسه دالله مرسته اوتائيدبه په خپل مخکې وګورې کله چې څه غواړې دالله تعالى څخه يې غواړه اوچې مرسـته غواړې ،دالله تعالى څخه يې غواړه پردې پوه شـه چې که چېرې ټوله نړی ستا پرخلاف سره يوځای شي چې تاته څه ګټه ورسوي تاته ګټه نه شي رسولای؛ مګرهغه چې الله جل شــانه تاته ليکلي وي اوکه دوی ټول ســتاپرخلاف سره يوځای شي ،چې تاته دځه شي زيان ورسـوي، تاته زيان نه شي رسـو لای ؛مګرهغه چې تاته الله تعالی مقررکړی وي قلمونه پورته کړی شــوې اوپاڼې وچې شوي دي[۲]

**۵-په تقدير دايمان راوړو اهميت:**تقديرداســلامي عقيدې دارکانو دجملې څخه دی دغه باوردســړي په زړه کې په الله تعالی توکل،ډاډ اوسکون زياتوي

**٦-په تقديردايمان معنى** : په تقدير دايمان مفهوم دالله جل شــانه په قديم علم او په الهي شــامل ځواک ايمان درلودل دي.

**۷-دتقــدير مراتــب:**پــه تقديرايمان څلورمراتب لري :۱- علم ۲- ليکل ۳- مشــيت ۴- پيداکول موږ به هريو تربشپړې څېړنې ونيسو:

**الف-دعلم مرتبه** : پردې ټينګ باورچې الله جل جلاله په ټولوکايناتوازلي اوابدي علم لري په ټولوشــيانو دالله تعالی علم محيط دی، هيڅ شــی ورڅخه پټ نه دي قران عظيم الشــان فرمايي ﴿ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِى ٱلْأَرْضِ وَلَآ أَصْغَرُ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرُ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ ﴾[۳] ســبأ: ژباړه: ووايه! قســم دی زماپه عالم الغيب الله،هغه به پرتاســې راشي.له هغه نه ديوه بخري په

---

[۱] سيد سابق (۱۹۸۷م) العقايد الاسلامية ص ۹۵دار الكتاب العربي بيروت لبنان

[۲] بغا مصطفى (۱۹۸٦م)الوافي في شرح الاربعين النووية ص ۱۲۱ دار ابن كثير بيروت

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه کوم شی نه په اسمانونوکې پټ دی اونه په ځمکه کې نه له بخري نه غټ اونه له هغه نه کوچنی،هرڅه په يوڅرګنددفترکې درج دي .

**ب-دليکلو مرحله :** معنی دا چې الله تعالی دټولو شيانواندازه ترقيامته په لوح محفوظ کې ليکلې ده قران عظيم الشان همدغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې فرمايي ﴿ قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوْلَىٰنَا وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ ﴾ توبه ژباړه: دوی ته ووايه " موږ ته هيڅکله خطر ( ضرر يابنېګڼه ) نه رسيږي ،مګرهغه چې الله راته ليکلې دي هماغه الله زموږمولادی ، او مؤمنان بايد په هماغه توکل وکړي ."

له دغه ايات څخه څرګنديږي چې په ځمکه کې مصيبتونه ،زلزلې،توپانونه ،رنځونه،غم او خوشالۍ ټولې دالهي تقدير نتيجه ده .

**ج- دمشيت مرتبه :**معنی داچې الهي اراده اوتصميم په هرشي کې جاري دی هيڅوک يې دمخنيوي صلاحيت نه لري ،داسمان اوځمکې کوچنی اولوی شی دالهي فعل نتيجه او ټول يې مخلوق دي قران عظيم الشان دغه مطلب ته داشارې په ترڅ کې داسې فرمايي ﴿ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴿٣٠﴾ ﴾ الإنسان: ژباړه:اوستاسې په خوښی سره څه نه کيږی ،ترڅو پورې چې دالله خوښه نه وي په باوري توګه الله د علم او حکمت خاوند دي.

دالله تعالی مشيت اواراده په دوه ډوله د: يوه تکويني اوبله تشريعي په تکويني اراده کې انسان اختيارنه لري؛ البته په شرعي اراده کې انسان دواک او اختيار څښتن دی .

**د - دتخليق مرتبه:** ددې مرتبې مطلب دادی چې الله تعالی دهرشي خالق دی له الله تعالی نه پرته ټول شيان مخلوق دي ،همدغه دټولواسماني پيغامونواودپيغمبرانواتفاقي مسئله ده، قران عظيم الشان دغه مطلب داسې روښانه کوي ﴿ ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ وَكِيلٌ ﴿٦٢﴾ ﴾ ژباړه :الله دهرشي هستوونکی او هماغه دهر شي ساتونکی دی.

پردې اساس دانسان فعل هم دالله تعالی مخلوق دی

## قضاء

**۱-دقضا لغوي معنی :**قضاءپه لغت کې پريکړې اوفيصلې صادرولوته وايي.

**۲-اصطلاحي معنی:** په اصطلاح کې په ازل کې دالهي تقديرپه برابردکايناتوايجاد ته ويل کيږي.[1]

**۳-قضاء دقرانکريم په رڼاکې:**په قران عظيم الشان کې قضاء زياتره وخت دفيصلې کولو ،امرصادرولواو پای ته رسولوپه معنی راغلې: هلته چې فرمايي ﴿ بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَإِذَا قَضَىٰٓ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن

[1] خطيب محمد احمد ( ۱۹۹۰م )دراسات في العقيدة الاسلامية ص ۱۹۷ دار عمار للنشر عمان اردن

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

فَيَكُونُ ﴿١١٧﴾ البقرة: ژباړه هغه د اسمانونو او ځمکې هستوونکی دی او د کومې خبرې چې فیصله صادروي ، صرف دومره امر ورته کوي چې "شئ "نوهغسې کیږي

دپرېکړو اوفیصلوصادرولو اختیارات اوواګي ټولې دالله جل جلا له سره دي او په دې کې هېڅوک له هغه سره شریک نه دي

۴-دقضاءاوقدرترمینځ فرق : دابادیواوتعمیراتودجوړښت لپاره ترهرڅه دمخه یوانجینرنقشه او پلان ترتیبوي ضروري مواد،دروازې ، کړکی،دتعمیراندازه هرڅه دده په لاس کې وي اومعمارېې تطبیقوي انجنیرحق لري اوکولای شي چې په نقشه اوخپل تصمیم کې بدلون راولي له همدې کبله دالهي رحمت له جملې څخه په خپلوبندګانو باندې داهم دی چې دصالحواونېکواعمالوپه وسیله په تقدیرکې بدلون راځي له همدې امله موږ ته ددعاءاهمیت اوګټه څرګندېږي داځکه که چېرې په چاروکی بدلون نه وای؛ نوددعاء به هېڅ ګټه موږته نه رسېدله[1].

## ۵-دقضاءډولونه

قضاء په دوه ډوله دی تکویني اوتشریعي

### الف-تکویني قضاء

کوم ظوابط اومقررات چې په کایناتواو عالم کې وضعه شوي، ټول کاینات دهغه مطابق عیارشوي اوهرڅه دهغه مطابق ترسره کېږي دېته تکویني قضـاءوایي داثابت قوانین دي چې بدلون نه مومي اوالله جل شانه دهغه دبدلون اوتغیرواک هېچاته نه دی ورکړی له اتوم نه واخله ترلویوکهکشانونو،بیاله حجرې نه ترلویوحیواني اونباتي اجساموپورې ټول دیودقیق نظام،قوانینواویوسیستم لاندې دي،مثلاًداتوم جوړښت اوڅارچونه یې، دعناصروجوړښت اودهرعنصرجلامداړونه اوله نوروعناصروسره یې ترکیب ،دنورسرعت ،دصوت سرعت، دوړانګوبېلابېل ډولونه، دځمکې قطر،دلمراوځمکې ترمینځ واټن، دځمکې محوري اوانتقالي حرکت،دځمکې طبقات، دفضاطبقات، په هواکې داکسیجن سلنه ،داوبودقیق جوړښت ،په همدې توګه په ځمکه کې یې اندازه ،داوبوسایکل، دتسخین، انجماد،مایع اوګازدرجې، داوسپنې دتسخین اومایع حالت درجه ،له ځمکې دسپوږمی فاصله ،په فضاکې یې دسرعت اندازه ،داوزون طبقه اودنده یې ،دلمرډنده ،دلمردشعاعواندازه ځمکې ته دراروانوشعاعګانوتخمین، په همدې توګه حجره اودحجرې ساختمان او فعالیت یې ،حیواني اونباتي حجره ،دهرحیوان کروموزمونه ،دانسان دعصبي حجراتوتشکیل ،جنسي- حجرې ،دسپرم ساختمان ،داوم جوړښت ،دبدن دسروکرویاتوشمېراودندې، دسپینوکرویاتوشمېراودنده یې، دانسان ساختمان دزړه،ځیګر،دماغ، باصرې، سامعې اودانسان اوحیوان دهاضمې،دوکونفرتي سیستم، دهرحیوان جلاجوړښت ،دنباتاتوبېلابېل صنفونه،دندې،ترکیب،تنفس،زوجي تکثر،دانسان ژوند،مړینه رنګ،صحت صورت اوشکل، طول،عرض ښایست اوبدرنګي، توروالی اوسپینوالی،ذکاوت اوپوهه، تارينتوب اوښځينه توب ، شپه اوورځ،ګرمي اويخني، بربښنااوباران اوداسې

[1] طنطاوي علي( ۱۹۸۵) تعریف عام بدین الاسلام ص۱۵۲دارالفرقان عمان اردن

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه داچې تکویني تقدیریومنظم نور..ټول دتکویني تقدیربرخه ده دانسان ارادې ته په کې دخل نشته لنډه داچې تکویني تقدیریومنظم پلان دی چې هېڅکله بدلون نه مومي اوانسان ته په کې دخل په برخه نه دی پردې لحاظ دځمکې اواسمان هرڅه دالله عزوجل په وړاندې منقاددي.

**ب-تشریعي قضاء**

هغه احکام چې دانسان په ارادي برخه کې وضعه شوي او انسان وربانديې مکلف شوی .چې هغه مراعات اوخپل ژوند دهغې مطابق عیارکړي؛ دېته تشریعي قضـاء وايي .دتشریعي قضاالحکام اوقوانین دانسان دژونددهغوبرخودتنظیم لپاره وضعه شوي. چې هلته انسان ازادي اواختیارلري هلته انسان کولا شي له دوو لارو یوه په خپله خوښه انتخاب کړي.په تشریعي قضاکې دانسان اراده او عزم دخل لري .انسان دواک او اختیار څښتن دی پخپله خوښه اواراده ښه اوبدپخپله انتخابوي تشریعي تقدیرانسان ته خیراوشر ښه اوبدورښيي دده دعقیدې بنسټونه .دده دخالق حقونه .د عبادت لارې چارې. ښه اوبد اخلاق. د جنسي-غریزې سمه اشباع اوموخه يې. دشمنی لاس ته راوړل اوسم لګښت يې. حکومتي سیستم اود حکومت دمسـؤلینو صـفات. ددوی مسـؤلیت اوپه ملت يې حقوق . دحکومت دجوړېدو موخه .له نورو ملتونو اودولتونو سره ددولت اړیکې. دمسلمانانوخپل منځي اړیکې. جرایم او دسـزا نوعیت یې. دجګړې اصـول اوداسې نور...[1]

لنډه داچې لـه زانګو نـه ترلحـده اولـه سرنـه ترنوکـه دټول ژونـددمـادي اوروحـاني. ددنیوي اواخروي ژونددسمون لپاره اصـولواوقوانینوته تشریعي تقدیروايي .انسان دژوند تېرولولپاره نظام او قانون ته اړتیالري دژوند تېرولولپاره لاندې صورتونه دي:

- دپلاراو نیکه رسم اورواج ،دود اوکلتورمنل.
- دخپل نفس غوښتنې منل.
- دنورومِلتونوڅخه دنظام او قانون واردول.
- دکایناتو درب لارښوونو(وحی) ته غاړه ایښودل اوورته ځان تسلیمول

اوس مهال یوازې قران عظیم الشان او نبوي سـنت تشریعي تقدیر ګڼل کېږي .دتشریعي تقدیر لپاره الله تعالی پیغمبران لېږي. هغوی ولسـونو تـه دعوت ورکوي او پـه روزلویې لاس پورې کوي بیا ددغورولزل شوواقرادو په وسیله په ټولنه کې یوسرتاسري هراړخیزبدلون راولي دپیغمبري انقلاب او بدلون موخه دبشرله اسارته دانسان ازادي اودجبراواستبداد.جهل اوناپوهی دنظام ړنګول دي پاتې شوه اسلام راوړل دغه دزوراو جبرکارنـه دی او نه دجبراو زوراسـلام دمنلووړګڼل کېږي اسـلام او کفراودښـواو بدو انتخاب دانسـان داختیارنتیجه ده.په اختیاري برخه کې الله تعالی انسـان ته دوه لارې ښـودلي دي .چې یوه دهدایت اوبله دضـلالت اوګمراهی لاره ده قران عظیم الشـان همدغه مطلب ته داشـارې په ترڅ کې فرمایي ﴿وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ﴾ ۱۰: ژباړه: او دوه څرګندې لارې مو هغه ته و (نه) ښودلې ؟

[1] حکمت ... [illegible] ۲۷ [illegible] دميثاق ايثار اداره

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

...ton.com: The Digital Library



دبشريت دخلاصون يواځېنى لارالهي اسماني پيغام ته ځان سپارل اوتسليمول دي.په دې سره به نړۍ واله سوله دعدل اوانصاف نظام يقيني شي انسان به له ځناورتوبه راووزي اوځمکه به دامن زانګوجوړه شي

**۱-دالله تعالی اراده اوډولونه يې**

دارادې معنی قصداوديوه کاردسرته رسولوعزم ته ويل کېږي اوپه دوه ډوله ده تکويني اوتشريعي اراده. په تکويني اراده کې تغيراوبدلون نه رامنځته کېږي ددې موجوداتوهرکاردقضـــاءاوقدرسره ســم دالله تعالی په اراده ترسره کېږي داسې نه ده چې دکايناتوترپيداکولواوهغوته دظوابطواومقرراتودټاکلونه وروسته يې خپل سرته پرېښـي اوچارې په خپل سرپه تسلسل سره رواني دي ؛بلکې هرکاردالله تعالی په اراده پيلېږي اودهغه په اراده پای ته رسېږي اوهغه وربانديې نتايج مرتب ګرځوي . الله تعالی فرمايي ﴿ إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾ ﴾ يس ژبـاړه:هغـه خوچې کله ديوشي اراده کوي.نودهغه کار همدومره دی چې ورته حکم وکړي چې شه اوهغه کېږي

البته شرعي اراده دامراوالهي فرمـان په معنی ده الله تعالی جلت عظمته شرعي اراده دزوراوجبرله لارې نه جاري کوي؛ بلکې انسان دخپلې خوښې پراساس يې عمل ته اقدام کوي اوياېې نه کوي

**۲-دالله تعالی اراده اورضاءاودبنده اراده**

دانسان اراده،عزم،غوښتنه اوتصـميم دالله تعالی دارادې اومشيت تابع ده قران عظيم الشـان دغه مطلب ته داشـارې په ترڅ کې داسـې فرمايي ﴿ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمٗا ﴿٣٠﴾ ﴾ الإنسان: ژباړه:اوستاسې په خوښې سره څه نه کېږی ،ترڅو پورې چې دالله خوښه نه وي په باوري توګه الله د علم او حکمت خاوند دي.

دپورتني ايـات څخـه څرګنـدېږي چې دالـلـه جـل جلالـه اراده دانســان په اختياراوارادې مقدمه ده .ځکه دايږهرانســان چې څـه کوي دالله تعالی په اراده يې کوي هغه ورته دپرېکړې عزم اوبياداقدام صــلاحيت ورکوي .دغه مطلب ديومثال په ترڅ کې توضــيح کوو: ته دخراب موټر څښـتن يې. تاخپل موټرپوجوړ موټرپسې وتړلو.ترڅوحرکت وکړي په دغه صورت کې دموټر سوق اواداره ستا په خپل لاس کې ده که ته اشترنګ تاووې ا وله ګړنګه يې غورزوې مسؤليت ستا خپل دی

بل مثال درواخله: ته دباغ څښتن يې چې سترسترديوالونه لري. پوره حفاظت يې شوی ستاداجازې نه پرته دېځوک نه شي ورننوتلی ته خپل دوست ته اجازه ورکوې اوباغ ته يې داخلوې ورته وايې هره مېوه خوښې شي ،خودباغ کينې لورې ته ونې داسې دي چې رنګ اوخونديې ښه نه برېښي دګټې پرځای تاوان لري که ته يې څخه خوراک ونه کړې تاته به هم ښــه وي اوزه به هم خوشحاله شم ستادوست باغ ته ځي ،دغه چې په باغ کې هرڅه کوي ستاپه اجازه يې کوي تاواک ورکړی دخرابې مېوې دخوراک په نتيجه کې مسئوليت دده په راجع دی دباغ خاوندبه ناراضه وي ،مګرکه اطاعت يې وکړښه مېوه يې وخوړه دباغ څښتن به خوښاله شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ســـتادوســـت له تانه کیلي واخلي باغ ته ننوزي ؛نورنوســـتاله کنتروله وځي ؛مګردالله تعالی معامله دانســان سره داسې نه ده الله جل شانه هره شیبه انسان څاري اوپالنه يې کوي دښو اوبدوداړوتوفيق ورکوي الله تعالی په ښـــوکارونوراضي کېږي په بدوچارو ،نه قران عظيم الشـــان فرمايې ﴿ إِن تَكْفُرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمْ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلْكُفْرَ وَإِن تَشْكُرُواْ يَرْضَهُ لَكُمْ ﴿٧﴾ ﴾ الزمر: ژباړه:که تاسې کافرشئ ؛نوالله له تاسې نه بې نيازه دی،خوهغه دخپلو بندګانولپاره کفرنه خوښوي،اوکه تاسې شـکر وباسـئ نوهغه داشکر ستاسې لپاره خوښوي[1]

**۳-دانسان خپلواکي**

په انســـان دالله تعالی دوه ډوله قوانين حاکم دی چې يوېې تکويني او بل يې تشرـيعي. په تکويني برخه کې انسان نه خپلواکی لري او نه اراده اوا ختيار؛ لکه ژوند او مړ ينه روغتيااورنځ ،دبدن دزړه،کو لمو اودماغ دوينې جريان ،دهاضـمې سيسـتم او داسې نور؛البته دانسـان ارادي برخه چې څه وخوري څه وڅښي څه واوري څه ووايي او څه وکړي دادده په واک کې دي په ده کوم جبراوزرنه دی شوی په خپله خوښه ښه او بد انتخابوي ؛مګر انســـان دښـــو او بدوچارو په پېژندنه کې خطاء کېږي .له همدې امله الله تعالی ښـــه اوبد داسما ني وحی په ترڅ کی دپيغمبرانو په وسيله انسان ته ښودلي دي، دښواوبدوپه انتخاب کې يې انسان ته ازادي ورکړې اوددواړوپه انتخاب کې يې پرې زورنه دی کړی. سره له دې يې انســان مکلف اومسؤل هم ګرځولی اوپه ازميښـــت کې يې اچولی ؛البته پرده يې زوراو جبر نه دی کړی، که چېرې يې په زور هدايت پرې منلی وای ؛نو بيابه کفر او شرک له سره شـتون نه درلودحقيقت دادی چې دالله تعالی تشرـيعي احکام دپيغمبرانو په وسـيله انسان ته رسېدلي دي دغه دالله تعالی دتکويني احکامو په شان نه دي تشريعي قوانين الزامي اوجبري بڼه نه لري؛ بلکې انسان په ابتلاء او ازميښت کې قرار لري[2]

الـلـه تعـالی کـايـنـات پيداکړي اودکايناتوله پيدايښـــت نه مخکې يې ددوی دتنظيم اوترتيب لپاره يو پلان اوتنظيم جوړکړی. اللـه تعـالی يې په ټولو حوادثو پوه ؤ انســـان هم دکايناتوکوچنی برخه ده چې ازادي او خپلواکي لري الله تعالی پرې عالم ؤ، چې دغه شخص به څه شی انتخابوي پورتنی مطلب موږديو مثال په ترڅ کې روښانه کوو:

کـه چېرې يو ښــوونکی او يـادمـاشــوم پلارپردې خبره پوه شي ،چې شـــاګرداو يـازوی يې دليـاقـت او استعدادڅښتن دی هغه يې له څا ن سره نوټ کړي چې له ازمويني وروسته به دغه مقام ترلاسه کوي او يا به دومره نمرې ګټي اوبياداټکل سره سم همداغه شان شي ؛نواياد استاد او پلاردغه پوهه دخپل شاګرداواولاد په پوهه اولياقت څه اغېزه پرې باسـې؟نه هېڅکله نه! کله چې انسـان سـمه لاره انتخابوي ؛نوالهي توفيق ورپه برخه کېږي.

---

[1] - حکمتيار ګلبدين (ب ت) په تقدير ايمان ص ۳۷ ناشر دميثاق ايثار اداره
[2] - سيد سابق (۱۹۸۷م) العقايد الاسلامية ص ۱۰۱دار الکتاب العربي بيروت لبنان

c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- دانسان د ارادي کړو وړو حيثيت**

دانسان ارادي کړه وړه په ځينو قيوداتو پورې تړلي دي ،چې له هغې نه وتلی نه شي کله چې يوڅوک ليکل کوي اويادد‌ښمن په وژلو لاس پورې کوي داټول په داسې لاسونو ترسره کيږي چې نه يې په تخليق کې دده رول ؤاونه دقتل اوليکلوپه الاتواواسبابوکې ده دغه صفات رامنځته کړي دي دحوادثو اوپيښو په کوچنۍ حلقه کې چې هغه دده دکسب اواختيارڅخه عبارت دي، له دې نه پرته نورنه دده صنع اونه تخليق دی له همدې کبله ده ته دکاردکسب نسبت کيږي نه دکارتخليق.له همدې کبله داخبر ه سمه نه ده چې يوڅوک ووايي :انسان دخپلواعمالوخالق دی داځکه چې تخليق خوله نشت نه ديوشي رامنځته کول دي .حقيقت دادی چې انسان ديو موجودشي رابطه له يو بل موجودسره ټينګوي، چې په هغه کې هم دده دتخليق څه رول له سره نشته له همدې امله الهي اراده دبنده په ارادې اومشيت باندې احاطه لري .پرهمدې اساس موږوايو چې يومقتول په خپل هغه مرګ مري چې الله تعالی ورته ټاکلی ؛البته دقتل عمليه دقاتل په کسب سره ده او په همدغه کسب سره دغه شخص نيول کيږي هغه څه چې دانسان دکسب اودالهي قضاءاوقدر ترمنځ يې تنسيق رامينځته کړی هغه دالله تعالی پخوانی علم دی موږ به دغه مسئله ديومثال په توګه نوره هم روښانه کړو.

تادخپلې کوټې دبرښنايي ګروپ سوچ په يو پټ ځای کې ځای پرځای کړی چې ستاکوچنې زوی ته ترې معلومات نشته دغه سوچ په داسې پټ ځای کې قرار لري چې ته کولی شې ،ګروپ پرې رڼا اويا تياره کړې .تاوغوښتل چې دخپل ماشوم زوی اراده او تصميم ځان ته معلو م کړې چې اياستاخبره مني اوکنه ؟تاورته ووېل پام کوه چې داګروپ ګل نه کړې چې تياره به شي که زماخبره دې و منله دومره انعام به درکړم اوکه سرغړونه دې وکړه سزابه درکړم .له دې نه وروسته تادخپل ماشوم ځارنه کو له چې په کومه کړنه لاس پورې کوي ؛لېکن دغه ماشوم په خپلې ازادې ارادې سره دنافرماني‌اوسرغړونې لاره انتخاب کړه دګروپ په لوري يې ورمنډه کړه ترڅو يې ګل کړي په دغه مهال تاپه پټه توګه دګروپ په بټن فشار واردکړ او ګروپ ګل شو ماشوم اورمرو احساسوي چې ګروپ يې په خپل پوکې سره په تياره بدل کړ ؛ لېکن دګروپ دتياره کېدواصلي اوحقيقي سبب خوته پخپله وې دغه تقريبي مثال په ظلم اوتېرې سره ديوانسان دقتل اووژنې له جر يمې سره مشابه دی قاتل خودقتل په عمليه کې هغه شکلي سبب برابر کړ؛لېکن مقتول خو په خپل اجل او ټاکلې نېټې سره دالله تعالی دقضاء اوقدر پراساس په مرينه محکوم شوی دی ؛البته قاتل خودالله تعالی جلت عظمته د هغه امرپه مخالفت لاس پورې کړی چې هغه يې حرام اوناروا ګر ځولی دو[1]

**۵-دانسان داختيارساحه**

انسان ددوودايروپه ضمن کې قرارلري يوه لو يه دايره چې دده کسب اواختيارته په کې دخل نشته او بله کوچنۍ دايره چې دده داختياراوواک ساحه ده. دده مثال هغه قفس ته ورته دی چې دننه په کې مرغان

---

[1] سيد سابق (۱۹۸۷م) العقايد الاسلامية ص ۱۱۲دار الکتاب العربي بيروت لبنان

PDF ترتيب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايسار شوي ،مارغه دننه ازادي لري چې څه وخوري اويا يې وڅښي اوياله خپلې جوړې سره يو ځاى شي ؛البته كه مارغه دخوراک اوڅښاک دلو ښو په ماتولولاس پورې كړاويا يې خپلې ښكې ووېستلې اويايې نورو مارغانوته اذيت ورسـولواوله هغوى سره په شـخړه اومنگولو لگولواخته شـو ؛نوپه دغه صـورت كى دقفس څښتن به دغه مارغه ته سزاوركوي اوله قفس څخه به يې راوباسي ؛البته كه ددې پر عكس دقفس څښتن يې يخې هواته كښېږدي اويايې قفس په اوبوكې غوپه كړ،په دغه صورت كې مار غان مسؤليت نه لري ،دقفس خاوند پوهېږي چې مارغان يې ملامت نه دي [1]

**٦- دانسان مسؤ ليت**

څه وخت چې مؤمن مسلمان دقضاء اوقدرصحيح مفهوم دصالحواونېكوسلفواواهل سنت والجماعت دمسلک په برابر ترلاسه كړي؛ نو دتكويني اوتشريعي قضاء ترمنځ بېلتون پېژني په تكويني قضاء كې ځان غيرمسؤل بولي او دالله تعالى پرېكړې ته ځان سپاري ؛البته تشريعي قضاء چې دانسان ارادي بر خه تنظيموي په دې كې خپل ځان مسؤل گڼي اوخپل ځان په خپله دبربادۍ كندې ته نه غورځوي ؛بلكې اسبابو اووسايلوته لاس اچوي اوددښمن مكرونه اودسيسې شنډوي څكه چې دوسې سره سم دځواک برابرول دمسلمانانودمسؤليتونوپه حدودوكې دي دي.

دالله جل جلا له سپېڅلي پيغمبراوملگروېې كولى شول دپستواوذليلوخلكو په څېر ژوندسرته ورسوي خودخپل مسؤليت پربنسټ يې ځان ذلت ته ونه سپارلو .دالهي تشريعي تقدير له ستر ځواک څخه يې دخپل ماموريت اورسالت په چاروكې مرسته حاصله كړه دفقر مقابله يې په كار، دجهل يې په لوست، درنځ يې په دوا، دكفر او شرک يې په جهاد سره وكړه له غم ،سستي ،فقر ،ناتوانى اوبخل څخه يې الله تعالى ته پناه وړله په جهادونو اوخونړيوجگړوكې يې ونډه واخيسته اودسترې ارادې او عزم څښتن ؤ

**دتقديرپه اړه د بېلابېلو ډلو افكار**

دتقدير په اړه داهل سنت والجماعت اونورو بېلاروډلو نظريات په لنډ ډول ذكركوو

- **قدريه ډله** : دوى دبندگانودكړووړوپه هكله دالله تعالى دازلي تقديرڅخه انكاركوي .
- **جبريه ډله** :البته جبريه ډله هغوى وايي چې انسان هېڅ داختيارڅښتن نه دى په كفراواسلام انسان دالله تعالى له خوامجبوردى چې كوم شى الله تعالى ورته ليكلي دي هماغه كېږي دانسان مثال په فضاء كې دپاڼي دى چې له اختياره پرته يې بادخوځوي .
- **اهل سنت والجماعت**:اهل سنت والجماعت وايي: چې انسان الله تعالى ترمشيت اوارادې لاندې دى.په تكويني اراده كې مجبوراوپه تشريعي اراده كې دخپلواک څښتن اوالله تعالى پرې له پخوانه عالم ؤداهل سنتوله نظره په ايمان اوكفردواړوكې دالله تعالى اراده داخله ده؛ مگركفرالله تعالى نه خوښوي اونه پرې خوشالېږي قران عظيم الشان فرمايي ﴿ وَلَا يَرْضَىٰ لِعِبَادِهِ ٱلْكُفْرَ وَإِن تَشْكُرُواْ يَرْضَهُ لَكُمْ ﴿٧﴾ ﴾

---

[1] - جبنكه عبدالرحمن حسن (ب ت)العقيدة الاسلاميه واسسها ص ۹۴دارالقلم دمشق سورية

الزمر.زباړه:خوهغه دخپلو بندګانولپاره کفرنه خوښوي،اوکه تاسې شکر وباسئ نوهغه داشکر ستاسې لپاره خوښوي.

دبندګانودافعالواوکړنوپه هکله داهل سنت والجماعت مسلک دادی چې دبندګانواعمال اوکړه وړه دالله تعالی مخلوق اودبنده کسب دی ؛ البته جبریه ګمراه ډله په سرکې ددوی مشرجهم بن صفوان په دې نظردی چې دبنده دافعالوخالق اوکاسب الله تعالی دی بنده هېڅ اختیارنه لري بل لورته معتزله بې لارې ډله وايي:اختیاري افعال دحیواناتوالله تعالی پورې هېڅ تعلق نه لري

## دالهي ارادې په هکله داهل سنت والجماعت اودمخالفینونظریات

اهل سنت والجماعت دالهي ارادې په هکله چې کوم دلایل راغلي هغه یې راټول کړي اوالهي اراده یې په دووبرخووېشلې ده. ۱ ـ تکوینی اراده ۲ ـ دیني اوتشریعي اراده

تکویني اراده چې دمشیت مرادفه ده ټولوطبیعي پېښوته شاملېږي لکه مرګ اوژوند، طوفان ، زلزله ، شپه اوورځ اوداسې نور...په دې کې دانسان اراده دخل نه لري؛ البته دالله تعالی تشریعي اراده اومشیت په دې کې انسان ازاداوداختیارخښتن دی جنت اودوزخ دهمدغه اختیارله امله دی په دې کې انسان مجبورنه دی په خپله خوښه ښه اوبدانتخابوي ؛البته ګمراه معتزله قدریه ډله دالله تعالی له تکویني ارادې څخه انکارکوي یوازې په شرعي ارادې اعتراف کوي اوله سمې لارې دانحراف لاره غوره کوي ؛مګرجبریه اوجهمیه ډله دالله تعالی تکویني اراده ثابتوي اودتشریعي ارادې څخه انکارکوي .

### ۷-په قضاءاوقدردایمان غوښتنې

- دقضااوقدرپه مفهوم ځان پوه کول که ددغو الفاظو په معنااومفهوم پوه نه شونویوازې په الفاظو دایمان معنی به څه وي؟
- په غمونو اوکړاوونو صبراو دمصیبتونو پرمهال استقامت غوره کول .

### ۸-دقضااوقدردعقیدې اغېزې

دمسلمان پرژوندد قضااوقدردعقیدې اغېزې په لاندې ټکوکې خلاصه کوو: ۱-هلې ځلې اوکوښښ ۲- شجاعت اومېړانه ۳-صبراوزغم ۴-دالله جل شانه په هره فیصله خوښي ۵-دبندګانوله بنده ګی ازادي ، سکون اوداډ

PDF ترتیب کوونکی: Sayed Hassan Agha Drukhshan
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتم څپرکی

## دایمان نواقض( له مینځه وړونکي )اهل قبله اواحکام يې

**پیلیزه**

الله تعالی اسلام ته دننوتلو لپاره په شهادتینو (لااله الله محمد رسول الله )اقراراوتصدیق ننووت لاره گرزولې ده یوشخص له اسلامه هلته وځي چې له ده څخه داسي وینا.عمل اویا اعتقاد څرگند شي چې تېر اقرار او باور له مینځه یوسي په دې توگه چې یا دالله تعالی په ربوبیت یا په الوهیت یا په اسماؤاو صفاتو اویا په رسالت کې په طعن اوعیب لگولولاس پورې کړي په دغه صورت کې ددغه شخص اقرارمات او دالله تعالی له دین څخه وؤت له اسلامه دیو شخص وتل له دلیل اوثبوت څخه پرته صحت نه لري دغه ډېره خطرناکه مسئله ده بې ځایه او له دلیله پرته په خلکو دکفر فتوی صادرول هېڅکله جواز نه لري په دغه برخه کې کې به درانه لوستونکي په لاندې مطالبو پوهه حاصله کړي.

## لومړی بحث

**د نواقضو معنی**

نقض په لغت کې ماتولوته وايي اوپه اصطلاح کې خینو اعتقاداتو،ویناءواوافعالوته ویل کېږي چې ایمان له مینځه وړي دېته نواقض ځکه وايي چې کله يې انسان مرتکب وگرزي له اسلامه خارجېږي او په کفر کې داخلېږي دایمان نواقض ډېر زيات دي مورېې په درې ډولونوکې خلاصه کوو

## دایمان دنواقضو ډولونه

دایمان له منځه وړونکي شيان په درې برخو وېشل کېږی لکه اعتقاد ي ، فعلي اوقولي

**لومړی:دایمان اعتقادي نواقض**

دایمان اعتقادي نواقض لاندې شیانوته شاملېږي

**الف:په ذات اوصفاتوکې**

- دالله تعالی دسپېڅلي ذات څخه انکار
- دالله تعالی دصفاتوله جملې له یوه څخه انکار لکه علم ، سمع ، قدرت اوبصر قدرت ، قیومیت ، کلام اواراده
- دالله تعالی صفات دمخلوق دصفاتو سره مشابه گرزول په دې توگه چې ووايي الله تعالی هم دانسان په بڼه سترگې ، غوږ ونه، لاسونه اوپښې لري اوربدل يې دمخلوق داوربدلو اوقوت يې دمخلوق دقوت په شان دی
- الله تعالی ته مور ، پلار ،زوی ، لوراومېرمن ثابتو ل
- په تثلیث باوردرلودل په دی توگه چې الله تعالی ، عیسی علیه السلام اوموريې مریم په الوهیت کې شریک وکنې

Pashtoon.com: The Digital Library



ب : په ربوبيت کې
دالله تعالی دربوبيت دانکارشکلونه په لاندې توګه دي:

- له الله تعالی څخه انکار
- تخليق، ژوند،روزي ، مړينه ګټه اوتاوان له مخلوق څخه ګڼل اوبل چاته دکمال صفت ثابتول
- دمادې په ازليت باور
- په تصادف اوطبيعت يقين اوباور
- له الله تعالی سره په ملکيت کې بل څوک شريکان بلل اوستوروته دبارانونو نسبت کول
- دغه باورچې الله تعالی دکايناتو خالق دی ؛مګرپه کايناتوکې دتصرف اوتدبيرحق نه لري
- خپل ځان اويابل چاته دمطلق واکمن ، متصرف اوحاکم په توګه کتل
- الله تعالی ته دخوب اوغفلت نسبت کول
- خپل ځان اويابل چاته دالله تعالی دعلم اوحکمت په اندازه علم اوپوهه ثابتول

ج -په الوهيت کې
دالله تعالی په الوهيت کې دايمان له منځه وړونکي شيان لاندې شکلونه غوره کوي

- دالله تعالی منل ؛مګر له عبادت اوحاکميت څخه يې سرغړول
- دالله تعالی له بندګانوڅخه يوچاته په بندګی اوواکمنی قايلېدل لکه پيغمبرانو ،اولياؤ،ستوروته
- له اسلامي شريعته پرته بل قانون اونظام ته دزړه په خوښه سرټيټول.
- دغيرشرعي قوانينو وضعه کول لکه دزنا ، سود،قمار،لاټري اوبربنډ توب دجواز امرصادرول
- دجرايمو سزاګانې چې په قرانکريم اونبوي سنتوکې ذکر شوي لغوه ګرزول.
- له الله تعالی نه پرته بل چاته دعبادت استحقاق ثابتول
- پردې خبره خوشالي چې بل څوک ورته سجده اويا په رکوع لاس پورې کړي.
- له قبرونو طواف اوتاوېدل ، قبر ته سجده ،نذر اونياز ،فرياد اوژړاا و ورڅخه مرسته غوښتل
- په غايبانه توګه مافوق الا سباب دنفعې اوزيان رسولو ځواک يوچا ته ثابتول لکه داولاداوصحت غوښتنه. البته ماتحت الا سـباب مرسـته له يوچا څخه غوښـتل جوازلري دمثال په توګه له يوتن څخه دپيسوغوښتنه.

د - په نبوت اورسالت کې
په نبوت اورسالت کې دايمان نواقض لاندې صورتونه غوره کوي :

- دغو پيغمبرانوڅخه انکارچې په قاطع اوغوځ دليل سره يې دنوم په يادولو سره نبوت ثابت وي
- دځينو پيغمبرانو منل اودځنو نه منل
- درسول الله صلی الله عليه وسلم درسالت دعموم څخه منکرېدل

...om.com: The Digital Library



شيخ الاسلام ابن تيمية رحمة الله عليه په دغه مبارک حديث دتعليق په سلسله کې داسې ويلي دي دغه پورته داميرالمؤمنين حضرت علي کرم الله وجهه دتعامل بيان ؤهريوزنديق چې خپل زنديقيت يې پټ کړاوگواهان پرې تېرشول ودې وژل شي اودتوبې غوښتنه دې ورڅخه نه کېږي؛ نودزنديق حکم دکفردی

**دزنديق دتوبې قبولتيا**:دزنديق دتوبې دوه حالتونه دي

دزنديق دتوبې قبولتيا په دې هکله دعلماءدوه ډوله رايه ده

۱ـ چې له توبې نه دمخه يې اسلامي حکومت په حبس محکوم کړي په دې

- قتل اووژل .
- دتوبې داظهارپه صورت کې يې عفوه .

۲ ـ داسلامی حکومت دنيولواوحبس نه دمخه يې په اتفاق سره توبه دقبول وړده .

## تکفير

**پېژندنه** : تکفيردلغت په اعتبارپه يوچادکفرفتوی ورکول اوپه اصطلاح کې په يوشخص دکفرحکم کول په دې توگه چې له اسلامه خارج شوی اوپه شرعي اوقانوني ډول يې کافرگڼل دي ،تکفيرخطرناکه عواقب لري له دليله پرته په يوچادکفرټاپه لگول لوی جرم دی په يومعين شخص دکفرفتوی سترخطرناکه کارگڼل کېږي په دغه کارسره په دنيااواخرت دواړوکې ځينې امورمرتب کېږي اوهغه داچې:

- په دنياکې يې ددينې وروړگلوی پای
- دمېرمن سره يې دنکاح له منځه تلل
- له موراوپلاره ميراث نه وړل
- دمرتدکېدلوله امله يې قتل اووژنه
- په اخرت کې دالله تعالی درحمت څخه محرومېدل
- په دوزخ کې همېشه اوسېدل
- درسول الله مبارک دشفاعت څخه بې برخې کېدل په کې شامل دي

## دتکفيرپه هکله دپخوانيوعلماؤويناوې

امام احمدبن حنبل رحمة الله عليه فرمايي :ديوکاروجوب ،حراموالی ، ثواب اوعذاب اوپه يوچادکفراوفسق حکم کول دالله تعالی اورسول الله مبارک صلاحيت دی هېڅوک په دې اړه دواک څښتنان نه دي . تکفيردشرعي اوقانوني احکاموجملې څخه دی قران عظيم الشان اونبوي احاديثوته به وړاندې کېږي . دغه نه اجتهادي قضيه ده اونه دعقل صلاحيت دی .

## دتکفيرډولونه

اهل سنت والجماعت تکفيرپه دووډولونووېشي

**۱- تکفير معين** :په دې توگه چې يوشخص ته ديوکار ، ويناواعتقادله امله دکفرنسبت وشي دغه خپل شرايط اوقواعدلري .

(c) ketabton.com



۲ـ تکفیرمطلق : دغه په یوفعل ، وینااواعتقاددکفرفتوی لګول دي لکه چې یوڅوک ، کمونستان ، لیننستان ،لیبرالان ، سیکولران ،نشنلستان ،سودخواره اومحتکرین ملعون وګڼي اوداسې نور...[1]

کفراوپه یوچادکفرحکم کول دایمان اواسلام په شان یوشرعي اوقانوني اصل دی هغه څوک به مؤمن مسلمان اویاکافروي چې شریعت مستحق ګرځولی وي څوک چې له الله تعالی اودمحمدرسول الله درسالت څخه منکروي هغه کافردی ؛مګرهغه څوک چې الله تعالی اورسول الله مبارک ( قران اونبوي سنتو) کافرنه وي ګرزولی ؛نوهغه کافرنه ګرځي .

**دیوچادکافرګرځولوشرطونه**

اسلامي علماؤ دشرعي نصوصوڅخه دتکفیرشرطونه راوېستلي دي ،څنې وخت یومسلمان په یوکفري فعل .وینا، اویااعتقادکې پرېوځي دلاندې شرایطوپه نظرکې نیولوسره موږپرې دکفرحکم کوو.

- چې په وینااوعمل سره ورڅخه کفرڅرګندشي
- چې حجت اودلیل پرې قایم چې شک اوشبهه په کې له منځه لاړه شي .
- چې دغه شخص عاقل اوبالغ وي.
- داچې معذوراواسلام راوړل یې ډېرنېژدې نه وي.
- چې کفریې دزوراواکراه په حالت کې ونه ا وسي.
- چې جاهل نه؛ بلکې پوه وي .

**دتکفیرموانع اوخنډونه**

- داچې حجت اودلیل پرې قایم شوی نه وي په زړه کې شبهه اوشک ولري اویاورته دلیل څرګندنه وي
- ناپوهي اودده پروړاندې ددلیل نه ثبوت
- ماشوم توب ، لېونتوب اوبېړاتوب
- دمسلمانانوله هېواده یې لېرې والی اوورته داسلامي دعوت نه رسېدل
- ددلیل په اړه ناپوهي اوجهالت اوپه بېدیاکې اوسېدل
- زوراواکراه

## دویم بحث

## اهل قبله او احکام یې

چې څوک کلیمه طیبه ووایي قبلې ته لمونځ وکړي اوپه هغه څه اقرار وکړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له خان سره راوړی اګرکه څنې لوی ګناهونه له شرک نه پرته ورڅخه صادرشي په دې شرط چې

[1] دوکتورخمیس محمدبن عبدالرحمن ـ التوضیحات الجلیة علی العقیدة الطحاویة دویم توک ۷۵۰ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګناه په حرمت قایل وي موږيې له اسلامه بېرون نه بولواګرکه دغه شخص يوکمزوري اونيمګړی مسلمان ګڼل کېږي موږېږي دکفرحکم نه کوو؛البته فاسق يې ګڼواوله اسلامي ملت څخه يې بېرون نه ګرځوو

**دمسلکونواومذهبونوترمنځ فرق**

داسلامي څلورومذهبونوپیروان اوغیرمقلدین سلفي حضرات په اهل سنت والجماعت کې شامل دي ،کوم مهال چې اسلام دعربودجزيرې نه بېرون دعجموهېوادونوته خپورشوپه عجموکې څنې لوی علمي شخصیتونه راپیداشوه مغوی په جزيي اوفرعي مسایلوکې اجتهادکړی اوامت ته يې دين اسانه ګرزولی دی دهريومذهب امام پسې چې چااقتداء وکړه صحت لري ؛البته اوس مهال چې نړی ديوکلي بڼه غوره کړې ده اودنبوي احاديثومجموعي په تدوين شوې بڼه شتون لري دعلماؤتېراجتهادځای پرځای ؛مګردنويوقضاياؤدپېښېدوپه صورت کې بايدحقيقي اومجازي ( انلاين ) جلسات صورت ونيسي دمجتهدينواجتهاداتوته بايدياځلي کتنه وشي چې دکوموموسايلودلايل ضعيف دي دقوي دلايلوپلټنه دې ترسره شي هريوملکت پوه شه اوخپل يې مذهب دمذهبي اختلافاتوپرځای بايدعلماؤترمنځ داتحاداواتفاق هڅه صورت ونيسي ـ ددينې اوعصري مدارسواومکاتبوپه نصاب دې تجديدنظرصورت ونيسي اودغه واټن ته دې دپای ټکی کېښودل شي .

**دلويوګناهونودځښتنانوپه اړه داهل سنت والجماعت اونوروګمراه ډلوباورونه**

خوارج ګناه کفراومعتزله يې نه کفرنه اسلام ګڼي دواړه يې په اتفاق همېشه دوزخي ګڼي دمعتزله ؤ په نېزدخلک په دنياکې په درې ډوله دي مسلمان ، کافراو فاسق خوارج يې په مسلمان اوپه کافرويشي

**دتکفير په قضيه کې داهل سنت تګلاره**

اهل سنت والجماعت هغه چاته دکفرنسبت نه کوي چې دوی ته کافروايي داځکه چې دکفرفتوی ورکول يوشرعي حکم دی ،دورنبوت ته نږدې اصحابوکرامودرسول الله مبارک په لاس روزل شوي نسل هم خوارجواوروافضو( شيعه ګانو) ته دکفرنسبت نه دی کړی سره له دې چې دخوارجوګمراه ډلې اصحابوکراماوڅلورم راشدخليفه حضرت علی رضی الله عنه ته دکفرنسبت کاوه اودهغه مبارک دوژلواقدام يې وکړ.

**داهل سنت والجماعت دمخالفينوتګلاره**

دخوارجو، معتزله ؤ اومرجئه ؤګمراه ډلې دتکفيريه مسئله کې ډېرګرندي دي دخوارجوګمراه ډله دلويوګناهونومرتکبين له اسلامه بېرون اوپه دوزخ کې يې تل ترتله اوسېدونکي بولي .[1]

البته معتزله ګمراه ډله يې چې ديوې ګناه څخه يې توبه نه وي وبستلي نه کافراونه مسلمان اوتل ترتله يې په دوزخ کې بنديوان ګڼي . مرجئه ګمراه ډله :لکه چې له کفرسره طاعت بې فايدې شي دی دوی وايي : ايمان ته ګناه زيات نه رسوي[2]

والحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات وصلى الله على نبيه
محمد صلى الله عليه وعلى اله وصحبه وسلم

---

[1] - تبرشوي ماخذ ۷۵۲ مخ
[2] - باقلاني ، تمهيد ۳۹۴ مخ

Sayed Hassan Agha Drukhshan ترتیب کوونکی: PDF
Kandahar University Faculty of Computer Science 2024

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library